# سیګار

د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی
عمومي پلټونکی

د جولای ۳۰
۲۰۱۱









درې میاشتنی راپور د متحده ایالاتو کانګرس ته

3

سیګار | د متحده ایالاتو کانګرس ته درې میاشتنی راپور | د جولای ۳۰مه۲۰۱۱


سیګار
ځانګړی عمومي پلټونکی
د افغانستان د بیارغونې لپاره

400 Army Navy Drive
Arlington, VA  22202-4704



افغان میرمنې په زابل ولایت کې د مې په ۸ مه د یوه وړکتون په انګړ کې کرهنیز تخمونه کري، د دې ربع په ترڅ کې USAID افغان کروندګرو ته یو زیات شمیر تخمونه او کیمیاوي کودونه ویشلي دي ترڅو د افغان کروندګرو کرهنیز حاصلات زیات شي. (د ایساف انځور، ستر ډلګۍ مشر براین فریګسن)

**د سرپاڼې انځورونه (د بره چپ نه ښي لور ته):**

**وړتیا لرونکي افغان کارکوونکي** د پنچشیر سیند څخه د ترلاسه شوې برښنا په مرسته د دستي ریوات په کلي کې د برښنا د وړې پروژې د بشپړولو په برخه کې مرسته او همکاري کوي. نوموړې اسانتیا د د امریکا د انجینرانو د قطعې چه د CERP د فنډ څخه ګټه اخلي او په ۷ ولایتونو کې د برښنا د اسانتیا د پروژې له ډله څخه یوازې یوه ده. وروستۍ واحد به د اټکل سره سم د پروان په ولایت کې د دې درو میاشتو په ترڅ کې بشپړ شي. (ایساف انځور، ډلګۍ ستر مشر مایکل اوکونر)

**یو افغان ماشوم** د امریکا د روغتیایی کارکوونکو لخوا د روغتیایی پروګرام د عملیاتو په ترڅ کې چه د ارزګان په ولایت کې د مې د میاشتې په ۲۸ ترسره شوو مرسته او پاملرنه ترلاسه کړه. د امریکا د ځاګړو عملیاتو ځواک د ایتلاف د ښځینه درملنیز ډلې سره چارې همغږې او په لاره اچولې، ترڅو افغان کومنډو او ځایی ډاکټران وکولای شي روغتیایی خدمتونه وړاندي او چارې په ګډه پرمخ یوسي. (د امریکایی پوځ انځور، ستر ډلګۍ مشر کیلي براون)

د مې د میاشتې په ۲۱مه د سرک **جوړولو افغان کارکوونکو** د پنجشیر د سیند سره ورته سرک بیارغولي او تقویه کړ. نوموړې چارې د امریکا په مرسته ترسره کیږي. نوموړې پروژه به د افغانستان د اسلامي دولت سره مرسته وکړي ترڅو د خپلو تولیداتو له لارې د داخلي او بهرنۍ سوداګریزو بازارونه سره اړیکې ټینګې کړي. (ایساف انځور، ډلګۍ مشر مایکل اوکونر)

**د افغان ملي اردو سرتیري** د کندهار په لومړني نظامي روزنیز مرکز کې د مې د میاشتې په ۱۰مه جبهیی جنګي زده کړې ترلاسه کوي. پدې ربع کې د افغان امنیتي پوځ د مرستو څخه تمویل کیدونکو د افغان ملي اردو ۲۶۰۰۰ سرتیري د روزنیزو پروګرامونه څخه فارغ شوي دي – چه د تیرې ربع په پرتله ۴۴۰۰ زیاتوالی ښایی. (د امریکا د هوایی ځواک انځور، تخنیکي ډلګۍ مشر اډرین برامر)

# سیګار

د افغانستان د بیا رغونې لپاره
ځانګړی عمومي پلټونکی

د جولای ۳۰،
۲۰۱۱

## د(P.L. 110-181) د ۲۰۰۸ مالي کال لپاره د ملي دفاع د واک قانون د افغانستان د بیارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی (SIGAR) تاسیس کړ.

د سیګار د نظارت مشن، لکه چې د قانون په جوړولو کې تعریف شوی، په خپلواک او مقصدي ډول لاره برابرول دي لپاره

- د هغو پلټنو او معاینو ترسره کول او نظارت چې د هغو پروګرامونو او عملیاتو سره تړلي وي چې د پیسو بودیجې ورته د افغانستان د بیا رغونې لپاره اختصاص شوې او یا په بل ډول په لاس ورکړل شوې وي.
- په هغو تګلارو کې مشرتابه او انسجام، او سپارښتنې، چې د پروګرامونو او عملیاتو په اداره کې اقتصاد، استعداد، او اغېزمنتیا ته د ودې ورکولو لپاره جوړې شوې وي؛ او په داسې پروګرامونو او عملیاتو کې د ضیاع، دوکې او ناسم استعمال مخنیوی وکړي او معلوم یې کړي.
- د داسې پروګرامونو او عملیاتو د ادارې سره تړلیو ستونځو او بې کفایتیو په اړه او د پرمختګ او اصلاحي اقدام د ضرورت لپاره د بهرنیو چارو د سکرتر او د دفاع د سکرتر د بشپړ او تازه معلوماتو څخه د خبر ساتلو ذریعې.

د افغانستان په بیا رغونه کې هر هغه ستر قرارداد، مبلغ، تړون، او یا د بودیجې هر هغه میکانزم شامل دی چې د متحده ایالاتو د حکومت د کوم داسې ریاست یا ادارې لخوا ورکړل شوی وي چې د هغو پیسو په استعمال کې ګډون لري چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره اختصاص شوې او یا په بل ډول په لاس کې ورکړل شوې وي؛ د افغانستان سیاسي یا ټولنیزې ادارې تاسیس او یا یې بیا رغوي؛ او د افغانستان خلکو ته تولیدات یا خدمتونه برابروي.

سرچینه: P.L. 110-181، "د مالي کال ۲۰۰۸ لپاره د ملي دفاع د صلاحیت ورکولو قانون،" ۲۰۰۸\۲۸\۱.

# د افغانستان د بیارغونې ځانګړی عمومي پلټونکی په نیته برابرې پایلې

## پلټنې

- د پلټنې د ریاست لخوا ۴۵ راپورنه خپاره شوي او ۱۴ نور روان دي
- ۱۳۶ وړاندیزونه چه د هغه ډلې  څخه۶۴ د ۲۰۱۱ کال په ترڅ کې
- د قراردادونو د بیاورکړې په ترڅ کې ۵۸،۵ میلیون ډالر د امریکا حکومت ته بیرته نه دی ورکړل شوي
- د DoS، DoD او USAID لخوا د بیارغونې په برخه کې د ۳۹ ملیارډ ډالرو اداره شوو مرستو په اړه عدلي پلټنې

## پلټنې

- ۸۹ روان تحقیقات، چه د نوموړې ډلې څخه ۵۲ د خریداری او د قراردادنو د فساد په اړه دي
- د محکومیت ۵ پیښې چه پدې ډله کې د امریکا د پوځ یو سرتیري هم شامل دي چه د بیارغونې په اړه یی د قرارداد د ترلاسه کولو لپاره د ۱ میلیون ډالرو غوښتنه کړې وه.
- د بډې او رشوت په تور د دوو افغان وګړو د نیولو په برخه کې مرسته او ملاتړ
- د دندې د ځنډولو او منع کولو په اړه ۳۲ پیښې
- ۶۳۷ ترلاسه شوي شکایتونه؛ ۲۶۹ د سیګار او نور ادارو لخوا د پلټنې په مقصد لیږدول شوي




د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی اوسني دفترونه

په هغه ولایتو کښې چې د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی څیړنې تر سره کړی

د افغانستان د بیا رغونې لپاره

ځانګړی عمومي پلټونکی

جولای ۳۰، ۲۰۱۱

خوښحاله یم چه د اړوند قانون د 1229 of P.L. 110-181 برخې د غوښتنې سره سم د افغانستان د بیارغونې د هڅو په اړه د امریکا کانګرس ته درېِ میاشتنی راپور وړاندې کوم. دا سند د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي چارې رانغاړي او زمونږ د ۲۰۱۱ کال د اپریل د ۳۰مې راپدېخوا د افغانستان د بیارغونې د پروګرام وضعیت او نوې حالت بیانوي.

د امریکا کانګرس د ۲۰۰۲ کال راپدیخوا د افغانستان د بیارغونې لپاره ۷۲،۷ ملیارډ ډالره ورکړي دي، سیګار د نوموړو مرستو څخه د څار او د یاد شوو مرستو په اړه د جدي پلټنې د ترسره کولو لپاره خپلې پلټنې او د تحقیقاتي پلان چمتو او په منظم ډول د هغه پرمخ وړلو لپاره ټول تدابیر نیولي دي. په همدې دلیل سیګار کولای شي پدې ربع کې د زیات شمیر لاس ته راوړنو او ګرفتاری د پیښنو په اړه راپور ورکړي:

- د قرارداونود بیاورکړې په ترڅ کې ۵۸،۵ میلیون ډالر د امریکا حکومت ته د بیرته نه ورکولو پیرندل
- د ۱،۶ میلیون انقضاً، نا کارول شوو مرستو پیرندل چه اوس د امریکا خزانې ته بیرته لیږدول شوې دي
- د ګرفتاری د ۵ پیښنو په اړه مرسته او همکاري چه پدې ډله کې د امریکا د پوځ یو سرتیري هم شامل دي چه د بیارغونې په اړه یې د قرارداد د ترلاسه کولو لپاره د ۱ میلیون ډالرو غوښتنه کړې وه.
- د شپږو کسو او یا هم قراردادیانو د دندو تعلیق یا د لیري کولو لپاره لیږدول

د دې درو میاشتو په ترڅ کې سیګار پنځه د پلټنې او د کانګرس لخوا د حکم شوي یو راپور خپور کړی دي دا پلټنې د سیګار د هغه عزم ښکارندوی کوي چه غواړي د پروګرامونو او قراردادنو د ضیاع، فساد، او ناوړې ګټې اخیستنې او د اقتصاد د پرمختګ، اغیزمنتیا او د مرستو د لا ښه تنظیم او ادارې په اړه د پلټنو ترمنځ توازن مراعات کړي. د امریکایی پوځ د انجینرانود قطعې او د هغه کمپنی په اړه چه باید کارکوونکو ته یې د هغوی غرامت ورکړي وایی ۵۸،۵ میلیون هغه ډالره په ګوته کړل چه د امریکا حکومت ته نه وو ورکول شوي. د پلټنې پدې لړۍ که سیګار ته معلومه شوه چه د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا د ځانګړو شوو مرستو ناسم کنټرول او اداره سبب شوې چه د امریکا هغه هڅې ترسیورې لاندې راولې چه غواړي د افغانستان مالي سکتور تقویه ومومي. سیګار ته همدا ډول معلومه شوه چه افغان دولت د امریکا د متحده ایالاتو سره د هغو مرستو په اړه چه غواړي نوموړي سکتور تقویه او پرمختګ وکړي په منظم او پرلپسې ډول همکاري نه ده کړې. د افغانستان د بیارغونې باوري فنډ (ARTF) – چه د افغانستان سره د امریکا او نورو نړیوالو مرسته کوونکو لپاره د مستقیمو مرستو تر ټولو ستره سرچینه ده - د سیګار پلټنې یو شمیر ننګونې په ګوته کړې چه د نوموړو مرستو څخه د دقیق او کره څار لپاره باید پاملرنه ورته وشي.

پدې ربع کې د سیګار څارنوالانو ۲۹ قضیې پرانیستلې، د هغه تحقیقاتو سره مرسته وکړه چه د ۳ امریکایی وګړو او ۲ افغان وګړو د ګرفتاري لامل شول، ۶ کمپنی او یا هم کسانو د دندو ځنډولو لپاره راجع شوي دي. په یوه پیښه کې، د امریکا د ذخیره افسرانو له ډلې یو کس د ۴۰۰۰۰۰ ډالرو په بډو ترلاسه کولو مجرم وپیژندل شوو نوموړي کس د یو قرارداد د ورکولو لپاره د ۱ میلیون ډالرو د ترلاسه کولو هڅه کړې وه. د افغان قانون پلي کوونکو ادارو سره د سیګار پرلپسې مرستې سبب شوې چه دوه افغان وګړي ګرفتار شي – د دې دوو افغانانو له ډلې یوه د بډې د ترلاسه کولو او بل د بډې د وړاندیز کولو په تور محکوم پیژندل شوي دي. د امریکا د متحده ایالاتو لخوا د افغانستان د بیارغونې په برخه کې افغان کمپنیو ته د بیارغونې قراردادنو ته په کتو د افغان قانون پلي کوونکو ادارو سره د سیګار مرسته او همکاري د خورا زیات ارزښت څخه برخمنه ده. بلاخره سیګار د هغه قراردادیانو د چارو څخه د منع او لیري کولو په اړه خپلې هڅې پراخه کوي چه په بده کې ښکیل پیژندل شوي او یا یې هم خپلې اړوندې چارې په ناوړه توګه پرمخ وړې او ترسره کړې دي.

د فساد د پیژندنې لپاره د ټولو اړینو چارو د ترسره کولو، د هغو کمپنیو په اړه د قضیو چمتو کول چه په جرمي واقعاتو کې ښکیل دي، د ټیکس ورکولو د بیرته ورکولو ترلاسه کول او د بیارغونې لپاره د امریکا د مرستو لا اغزمنتیا لپاره د وړاندیزونو په اړه په خپل هوډ او عزم کې مسمم دي.

په دیر درناوي

هاربرټ ریچرډسن

د افغانستان د بیارغونې لپاره سرپرست ځانګړي عمومي پلټونکي

# د سيګار د ۲۰۱۱ مالي کال د ۳ ربعې فعاليتونه

**د دې درو مياشتو په ترڅ کې سيګار پنځه پلټنې بشپړې کړې چه د بيارغونې د قراردادونو، د دولتدارى او د پرمختګ او همدا ډول د افغانستان د امنيت په برخه کې ګټور تمام شوي دي. سيګار همدا ډول د قراردادیانو څخه د بياکتنې په اړه خپلې کړنې د امريکا کانګرس ته تسليم کړې او څلور نورې پلټنې اعلان کړې دي. سيګار ۲۹ نوې پلټنې پرانيځلې چه پدې سره د روانو پلټنو شمير ۸۹ ته ورسيد.**

د دې دريو مياشتو په ترڅ د سيګار لاس ته راوړنې په لاندې ډول دي:

- د قراردادي د تاديه د هغو ۵۸،۵ ميليون ډالرو پيژندل چه د امريکا حکومت ته بيرته نه دي ورکړل شوي.
- د هغه ۱،۶ ميليون انقضآ او ناکارول شوو ډالرو پيژندل چه اوس د امريکا خزانې ته سپارل شوي دي
- د امريکا د پوځ د هغه ذخيره افسر چه غوښتل يې د يو قرارداد د ورکولو په بدل کې د ۱ ميليون ډالرو په ارزښت بډې ترلاسه کړي د ګرفتياري په چارو کې مرسته او همکاري.
- د افغان دولت سره د هغه دوو افغانانو د ګرفتيارى په چارو کې مرسته چه د بيارغونې د يو قرارداد د ترلاسه کولو لپاره د بډې په ورکولو او ترلاسه کولو مجرم پيژندل شوي وو. ۵۸،۵ ميليون ډالره تاديه د امريکا دولت ته بيرته ورنکړل شي او يو شمير نورې ستونځې رامنځ ته کړي.

## بشپړې شوي پلټنې

د پلټنو د هغه پنځو پايلو په ترڅ کې چه سيګار اعلان کړې د قراردادنو د تنظيم او پرمخ وړلو په برخه کې يو شمير ننګونې او ستونزې وپيژندلې او د مرستو د بيرته ترلاسه کولو، د حساب ورکولو کچه لوړول، د پروګرام د تنظيم تقويه او د ادارو ترمنځ د لا ښه اړيکو ټنګولو په اړه ۲۱ وړانديزونه وکړل.

- په کابل کې د USAID د ټولنې د پرمختيايي پروګرام تر ډيره حده توانيدلی چه خپلې موخې ترلاسه کړي اما د سترو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره بايد چارې لا ښې پرمخ يوړل او تعقيب کړل شي.
- امريکايي ادارو د افغانستان د سترو جرمونو پروړاندې د مبارزې وړاندې پوځ ته روزنه ورکړې، اما بايد د مرستو او لګښتونو په اړه بايد بياکتنه وشي.
- د ادارو ترمنځ نيګړې اړيکې او د افغانستان لپاره د امريکا پر مرستو ناسم څار د افغانستان د مالي سکتور سره د امريکا مرستې او د امرکايی نقدي پيسو خونديتوب تر پوښتنې لاندې راوستي دي.
- نړيوال بانک او افغان داسې ميکانيزمونو ترلاس لاندې نيولې ترڅو د افغانستان د بيارغونې لپاره د اعتباري فنډ سره ترسره کيدونکې مرستې ترڅار او ليد لاندې ونيسي، البته يو شمير نيمګړتياوې او ستونزې بايد حل او په اړه يې بياکتنه وشي.
- د امريکا د USACE دفاعي قانون کې نيمګړتيا سبب شوه چه نږدې

## د کانګرس لپاره ځانګړی راپور

پدې ربع کې سيګار د امريکا کانګرس ته د قراردادیانو د کړنو په اړه د څار او نظار او همدا شان د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره د ملي دفاع د قانون د 1219 برخې سره سم پر خصوصي امنيتي کمپنيو (PSCs) باندې د امريکا د اتکا د کموالي په اړه راپور تسليم کړ. په دې بياکتنه کې معلومه شوه چه د ۲۰۰۸ کال اکتوبر د څخه بيا د ۲۰۱۱ کال د مارچ ترمياشتې پورې د امريکا د دفاع وزارت، د کورنيو چارو د وزارت، امريکا د پراختيايي ادارې، امريکا د حساب ورکولو د ادارې او د سيګار د پلټونکو لخوا ټول ټال ۶۵ راپورونه خپاره شوي او ۲۹۷ وړانديزونه وړاندې شوي ترڅو چارې په سمه توګه پرمخ يوړل شي. سيګار ته همدا ډول معلومه شوه چه که څه هم امريکايی تطبيق کوونکي ادارې د کاري سيمو، کاروانونو او د کارکوونکو د محافظت په برخه کې اوس هم تر ډيره حده پر خصوصي امنيتي کمپنيو اتکا کوي خو د دې کمپنيو لخوا د ملکي تلفاتو د رامنځ ته کيدو په اړه واقعات تر پوښتنې لاندې نه راولې او د هغه څخه د رامنځ ته شوې مرګ ژوبلې په اړه هيڅ ډول سر نه خوږوي.

## نوې پلټنې

پدې ربع کې سيګار څلور نوې پلټنې پيل کړې:

- د افغانستان د ثبات د نوښت د ملاتړ په اړه د USAID قرارداد
- د USAID د همکاري هغه هوکړه چه د کرهنې د پروګرام د ملاتړ په اړه ترسره شوې دي
- د افغانستان د بيارغونې په اړه د امريکا د مرکزي قومندې د قرارداد کولو د ګډې قومندې (C-JTSCC) د سترو بايع په اړه د مرستو او د معلوماتو د راټولو د اعتبار قابليت
- د امريکا يی پوځ د انجينرانو د عملياتو قطعه او د افغان ملي امنيتي ځواک د اسانتياو لپاره د ITT د حفظ او مراقبت قراردادونه

## تحقيقات

د راپور ورکولو په دې لړۍ کې سيګار ۲۹ قضيې پرانيستې او د يو شمير

تحقیقاتو سره مرسته کړې چه د پنځو کسانو د ګرفتاری لامل شوه، چه پدې کسانو کې د امریکایی پوځ د ذخیره سرتیرو یو کس د قرارداد د ورکولو لپاره د ۱ میلیون بډې د ترلاسه کولو په تور محکم شوی او ۲ نور امریکایی وګړي د هیروینو د قاچاق په تور محکم شوي هم شامل دي. سیګار د قانون پلي کوونکو د افغان مسولینو سره خپل ملاتړ ته دوام ورکوي چه غواړي د افغان متخلفو چارواکو چه د بیارغونې په برخه کې په فساد تورن دي دوام ورکوي. سیګار دغه کار ته ځکه ډېر ارزښت قایل دي چه د امریکا لخوا یو زیات شمیر قراردادنو افغان کمپنیو ته ورکول کیږي. پدې ربع کې د سیګار د هڅې په لړ کې دوه افغان وګړي ګرفتار شول.

### د امریکا پوځ افسر د بډې په تور مجرم وپیژندل شو

د ۲۰۱۱ کال د جون په میاشت کې د امریکایی پوځ د ذخیره سرتیرو له ډلې یو سرتیری د فدرالي محکمې لخوا د بډې په ترلاسه کولو او د هیرینو د توزیع په توګه تورن وپیژندل شو. نوموړي سرتیري اعتراف وکړ چه د ۲۳ میلیون ډالرو په ارزښت د یو قرارداد د ورکولو په بدل کې ۴۰۰۰۰۰ ډالر ترلاسه کړي او د ۱ میلیون نورو ډالرو ترلاسه کولو وعده ورسره شوې وه. د نړیوالو قراردادونو په اړه د فساد پر وړاندې د عملیاتي ځواک (ICCTF)، د مخدره توکو پر وړاندې اداري او د کورني امنیت د ریاست په ګډون ترسره شوې پدې پلټنه کې ۲ نور کسان د مخدره توکو د قاچاق په چارو کې د رول لرولو په تور نیول شوي دي.

### سیګار د هغو پلټنو سره چه د نوموړو دوو افغانانو د نیولو سبب شوه مرسته او همکاري کړې ده

د ۲۰۱۱ کال د مې په میاشت کې د افغان شفافیت د تحقیقاتي واحد(ASIU)، ICCTF او د سیګار د استازو لخوا د ګډو عملیاتو په پایله کې یو افغان وګړی چه د بل افغان قراردادي چه په کابل هوایی ډګر کې د امریکایی پوځ د انجینرانو قطعې لپاره خدمتونو وړاندی کوي د ۱۵۰۰۰۰ میلیون ډالرو د بډې د غوښتلو په تور ونیول شو. دا د ASIU او د امریکایی قانون پلي کوونکو ادارو ترمنځ د خپل ډول لومړی تحقیق وو چه د یو افغان وګړي په ګرفتاری تمامه شوه.

د ۲۰۱۱ کال د جون په میاشت کې د سیګار، ICCTF، د افغان ملي پولیسو د جرایمو تحقیقاتي څانګې او افغان محقیقینو لخوا ترسره شوي تحقیقاتو کې جوته شوه چه یو افغان قراردادي د قندهار په هوایی ډګر کې د USACE یوه کارپوه ته د ۴۰۰۰۰۰ ډالرو بډو وړاندیز کړی وو.

### د دندو څخه د لیرې کولو او تعلیق پروګرام

پدې ربع کې سیګار د اشخاصو او یا هم د کمپنیو د چارو د ځنډولو او یا هم د لیرې کولو په اړه ۶ پیښنې درلودې، چه پدې سره د ۲۰۰۹ کال راپدېخوا د ارجاع شوو پیښو شمیر ۳۲ ته رسیږي. سیګار هوډ لري چه د چارو څخه د لیرې کولو او د دندو د ځنډولو له لارې د قراردادیانو د حساب ورکولو د چارو د لا شفافیت لپاره جدي هڅې وکړي. سیګار د دنده څخه لیرې کول او د دندو ځنډول د خپلو تحقیقاتي او پلټنیزو مسولیتو په لړ کې یوه مهمه وسیله ګڼي په ځانګړې توګه کله چه غیر امریکایی وګړي مطرح وي. سیګار (۱) د هغه قراردادیانو د پیژندنه چه د بډې په اخیستلو او فساد تورن وي او یا یې د پوښتنې وړ چارې پرمخ وړې وي، (۲) د دندو څخه د لیرې کولو او ځنډولو لپاره د وړاندیزونو ترسره کول او (۳) او د پلټونکو لپاره د روزنیزو زده کړو د پروګرامونو ترسره کول ترڅو هغوی د ککړو مسولینو د دندو څخه د لیرې کولو او یا هم د هغوی د دندې د ځنډولو لپاره د اړینو معلوماتو د راټولو لپاره اړینې لارې چارې په ګوته کولو باندې ډېر تمرکز کوي.



د سیګار پلټونکو د افغانستان د دفاع وزارت او په کابل کې د CSTC-A د مسولینو سره د مې په ۱۹مه لیدنه ترسره کړه ترڅو د امریکا د حکومت لخوا افغان ملي اردو ته ورکړل شوی موټرونو د حساب ورکولو د څرنګوالي په اړه بحث وکړي (سیګار انځور)

# د محتویاتو جدول



## لومړۍ برخه
### د سیګار نظارت


3 پلټنې
19 څېړنې
24 د سیګار بودیجه
25 د سیګار کارکوونکي




## دوییمه برخه
### د افغانستان عمومي کتنه


29 د مسولیت د انتقال لړۍ پیل شوه
30 نوی ملکي او نظامي مشرتابه
31 د ۲۰۱۲ ملي دفاع د صلاحیتونو قانون (NDAA)
32 سنا د افغانستان سره د امریکا د بهرنیو مرستو په اړه راپور
34 د بهرنیو چارو وزیره د کانګرس په وړاندې پوښتنې ځواب کړې
34 د سنا فرعي کمیټې د بیارغونې د قراردادنو په اړه استماعیه غونډه ترسره کړه
35 د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د موکلفیت اسناد توزیع کړل د بیارغونې فنډ
35 د وړاندې په لور




## دریمه برخه
### د بیا رغونې تازه حال


39 عمومي کتنه
43 د بودیجو حالت
55 امنیت
75 حکومتداري
97 اقتصادي او ټولنیز پرمختګ

# د محتویاتو جدول



## څلورمه برخه
## د نورو ادارو نظارت


113 د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه
118 د نظارت روان فعالیتونه
131 څېړني
131 پلټني


## ضمیمې او پایلیکونه


134 ضمیمه ا: قانوني شرایطو سره د راپور د حوالو کتنه
138 ضمیمه ب: د متحده ایالاتو د دولت اختصاص شوي بودیجې
140 ضمیمه ت: د سیګار پلټنې
142 ضمیمه ث: د سیګار څېړنې او د تماس شمېره
143 ضمیمه ج: مخففات او لنډیزونه
146 پایلیکونه

**د څار او یا نظارت ترسره کول**

د درو میاشتو په لړ کې د سیګار پلټونکو په کابل کې د ملي اردو د مرکز څخه د پلټنې د دوام په موخه خپلې لیدنې ته دوام ورکړ. سیګار د CSTC-A او ANSF د هغه وړتیاو په اړه تمرکز کوي چه ترکومې کچې کولای شي د هغه په لسګونه زره موټرو په اړه چه د امریکا لخوا نوموړې ادارو ته ورکړل شوي حساب ورکړي او د هغه څخه ساتنه وکړي. (د سیګار انځور)

# 1

# د سیګار
# نظارت



“دا اړینه ده ترڅو د امریکا لخوا ورکړل شوي ډالر
د فساد او د بدوکارانو د منګولو څخه د لیري ساتلو
په موخه د ټولو شته امکاناتو څخه ګټه واخیستل شي.
مونږ باید همدا ډول ډاډه شو چه د افغانستان د مالي
سکتور په خپلو پښو د درولو په برخه کې د افغانستان
د حکومت هراړخیز ملاتړ د ځان سره لرو. ”

— هاربرټ ریچرډسن،
د افغانستان د بیارغونې لپاره سرپرست ځانګړي
عمومي پلټونکي

سرچینه: سیګار، مطبوعاتي اعلامیه،“ د سیګار پلټنې د امریکا ډالرو ته وړپیښ خطرونه په ګوته کوي، د افغان باثباته مالي سکتور پراختیا”، 7/20/2011

# د سیګار نظارت

د امریکا د متحده ایالاتو کانګرس د افغانستان دبیارغوني لپاره ځانګړی عمومي پلټونکي د امریکا د مرستو په اړه د مستقلو او اغزمنو څارنې او یا هم د افغانستان د بیارغوې لپاره د چمتو کیدلو په موخه رامنځ ته کړ. د حقوقي مقررې سره سم سیګار دنده لري ترڅو د (۱) بیارغونې د مرستو څخه د ګټې اخیستلو د پروګرامونو د چارو د سمبالښت د اغزمنتیا، مؤثریت او د اقتصادي تمامیدلو (۲) د مرستو د ضیاع، ناوړې ګټې اخیستنې او په نوموړو پروګرامونو او فعالیتونو کې د فساد څخه د مخ نیوې په موخه د پالیسی جوړولو په برخه کې د وړاندیزونو د وړاندې کولو په موخه پلټنې او تحقیقات ترسره کړي. نوموړي قانوني مواد همدا ډول د سیګار موکلف ګرځوي ترڅو د امریکا د بهرنیو چارو وزیره او همدارنګه د دفاع وزیر د بیارغونې د پروګرامونو په برخه کې د موجوده ستونزو په اړه خبر او نوموړي ستونزې د هغوی سره شریکې کړي، سیګار همدا ډول موکلف دي چه د هری مالي ربعي څخه حد اکثر په ۳۰ ورځو کې په افغانستان کې د امریکا د بیارغونې د څار په اړه د امریکا کانګرس ته خپل راپور وړاندې کړي.

دغه برخه د ۲۰۱۱ کال د اپریل د ۳۰مې راپېڅوا د سیګار فعالیتونو بیانوي. ۲ او ۳مه برخه د افغانستان د بیا ابادولو په اړه د امریکا د پروګرامونو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي. د سیګار د دې دریو میاشتو په ترڅ کې په لاندې فعالیتونو رڼا اچوي:

- د پلټنې پنځه راپوره خپاره کړي او یو اړوند راپور کانګرس ته وړاندې شوی دي
- د قراردادونو د بیاورکړې په ترڅ کې ۵۸،۵ میلیون ډالر د امریکا حکومت ته د بیرته نه ورکولو پیرندل
- 1،6 میلیون ډالر د نامصرف شوو اوتر وخت تیرو پحیث پیرندلی او اوس یی د امریکا خزانې ته بیرته لیږدولی دی
- څلور نوې څیړنې اعلان شوې
- ۲۹ نوی پلټنې پرانیستي او ۱۵ نوری یی تړلي دي
- د امریکایی پوځ د ذخیره افسر چه د بیارغونې د یوه قرارداد په برخه کی د 1 میلیون ډالرو په ارزښت د بډو او رشوت د غوښتنې په تور د نیولو او ګرفتاری په برخه کی مرسته کړی ده
- دافغان چاروکو سره یی د هغه افغانانو په نیولو کی مرسته کړی چه د بیارغونې د قراردادونو په برخه کی یی د رشوت او بډی په ورکولو او یا هم اخیستلو تورن وو
- د دندې څخه د کوښه کولو او یا هم د دندې د تعلیق په اړه یی د ۶ کسانو یا قراردادیانو قضیې ارجاع کړې دي

## پلټنې

د راپور ورکولو په دې موده کې سیګار د بیارغونې د ارزونې، د دولتداری په اړه د پروګرامونو او قراردادونو، د فساد پر وړاندې د مبارزې، پراختیا او د امنیت په اړه د پلټنې پنځه راپوره خپاره کړي دي. د دې پلټنې په ترڅ

## بشپړې شوې پلټنې

- 11-11 پلټنه: د USAID د کابل د تولنې پراختیایی پروګرام (دولتداري/ اقتصادي پرمختګ)
- 11-12 پلټنه: د MCTF ملاتړ (د قانون ملاتړ/ فساد)
- 11-13 پلټنه: د مالي سکتور پراختیا (مالي سکتور)
- 11-14 پلټنه: د ARTF څخه څار(مستقیمي مرستې/ د
- 11-15 پلټنه: د DBA د بیمه پروګرام (امنیت/قرارداد)
- 11-1SP پلټنه: د قرارداد کولو په اړه د وړاندیزونو تحلیل او څیړنه (د NDAA په اساس د امریکا کانګرس ته ځانګړی راپور)

## نوې پلټنې

- د افغانستان د ثبات د نوښت د ملاتړ په موخه د USAID قراردادونه
- د کرهنې د پروګرام د ملاتړ په موخه د USAID د همکارۍ هوکړې
- د سترو رغونیز بایعو په اړه راټولو شوو معلوماتو باندې اتکا
- د افغان ملي امنیتي پوځ (ANSF) د اسانتیاو لپاره د USACE O&M قراردادونه

## رواني پلټنې

- د LGCD د پروژو لپاره د USAID قراردادونه
- د کابل په نظامي روزنیز مرکز کې د رغونې چارې
- په افغان ملي حربي پوهنتون کې د بیارغونې چارې
- خصوصي امنیتي حمایتي خدمتونه (I)
- خصوصي امنیتي حمایتي خدمتونه(II)
- د ANSF د موټرونو په اړه حساب ورکول
- د کرهنې د سکتور پرمختیا
- په افغانستان کې د ملکي وګړو د ژوند د سطحې لوړول لګښت
- د تحمیل شوو لګښتونو په اړه د USAID د مالي پلټنې پوښښ
- د لومړي افغان نوښت تطبیق

## عدلي پلټنې

- د بیارغونې په اړه د دفاع وزارت د معاملاتو په اړه معلومات
- د بیارغونې په اړه د دفاع وزارت د معاملاتو په اړه معلومات
- د بیارغونې په اړه د دفاع وزارت د معاملاتو په اړه معلومات

کې د پروګرامونو د تنظيم او ادارې په اړه يو زيات شمير موضوعات روښانه او په ګوته شول او د مرستو د بيرته ستنولو، د حساب ورکولو د تقويې، د پروګرام د تنظيم د چارو سمون او ښوالی او د ادارو تر منځ ته لا ښه همغږۍ د رامنځ ته کولو په اړه ۲۱ وړانديزونو وړاندي کړل برسيره پردې، سيګار د ملي دفاع د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره د صلاحيتونو د قانون (NDAA, P.L. 111-383) په اساس د قراردادنو د څار په اړه د امريکا کانګرس ته يو راپور تسليم کړ. سيګار همدا ډول د پلټنو پر ۴ نويو قضيو هم کار پيل کړ، چه پدې سره د راونو پلټنو شمير ۱۴ ته رسيږي. دا پداسي حال کې ده چه سيګار د بيارغونې لپاره د ځانګړې شوو مرستو په اړه ۳ عدلي څيړنې هم ترسره کوي.

## د پلټنو بشپړ شوي راپورونه

د دې دريو مياشتو په ترڅ کې په خپارو شوو راپورونو کې د امريکا د پراختيايی ادارې (USAID) د همکارۍ د هوکړې، د افغانستان د مالي سکتور د تقويې په موخه د ادارو د خپل منځي اړيکو د تقويې، د افغانستان د اقصاد د لارې د امريکا د مالي نقدې مرستو د جريان د خونديتوب، د نړيوالو مرستو په اړه د افغان دولت د حساب ورکولو ظرفيت او توان، د افغانستان د سترو جرمونو پر وړاندي د مبارزې د ادارې سره د امريکا ترسره شوو مرستو او امريکايی پوځ د انجينرانو قطعې د دفاعي بيمې د پروګرام(USACE) په اړه ارزونې ترسره شوې دي.

### پلټنه 11-11: حکومتي او اقتصادي پرمختګ

**د USAID د کابل ټولنې د پرمختګ پروګرام تر ډيره يې خپل ټرون موده پای ته ورسوله، مګر د طويل المدت موخو د پرمخ تللو لپاره يو لوري او مسير ته اړتيا ده.**

د ۲۰۰۹ کال د مارچ په مياشت کې USAID د ۲۵ ميليون ډالرو په ارزښت يو کلن قرارداد د غير رقابتي شرايطو په اساس د پاملرنې يا د CARE د نړيوالې موسسې سره ترسره کړ تر څو د کابل د ټولنې پراختيايی پروګرام (CDP-K) تاسيس او رامنځ ته کړي. د CDP-K د پروګرام په اساس په کابل ښار کې د کار په بدل کې ۵۰۰۰۰ افغان کارکوونکو ته نقدي پيسې ورکول کيږي. د ۲۰۱۰ کال د مارچ په مياشت کې USAID د پاملرنې د موسسې سره نوموړۍ قرارداد د ۱۸ مياشتو لپاره وغزاوه. د قرارداد د دويمې مرحلې سره سم USAID د نوموړي پروګرام لپاره مرستې ۶۰ ميليون ډالرو ته پداسي حال کې اوچتې کړي چه د افغان کارکوونکو شميره د پخواني شمير په پرتله ۷۸۰۰۰ ته اوچته او د اړوندو ټولنو د ژوند د سطحې د لوړولو په موخه بايد په اوږد مهالو پروژه باندي نوموړې پيسې وګلول شي.

#### اهداف

سيګار دغه پلټنه ځکه ترسره کړې چه د افغانستان د بيارغونې لپاره د کار موندل د امريکا د ستراتيژۍ يو مهم عنصر دي او د نقدو پيسو په بدل کې کار د فساد، ضياع او د مرستو څخه د ناوړې ګټې اخيستلو امکانات راکموي.
دغه پلټنې درې موخې يا اهداف درلودل:

- د نوموړي قرارداد په ورکولو کې د USAID لخوا د ترسره شوې پروسې او طرزالعملونو ارزونه
- جوته کړي ايا نوموړي پروګرام د ټاکلي لګښت، تقسيم اوقات او په هوکړه کې د ذکر شوو موخو ته د رسيدو لپاره چارې په سمه توګه ترسره کړې
- د نقدو پيسو د مصرف په اړه ترسره شوي د داخلي کنټرول چارې وارزوي

#### موندنې

1. USAID د يوې غيررقابتي پروسې په لړ کې د CDP-K د پلي کولو لپاره د پاملرنې د نړيوالې موسسې سره په ترسره شوي ټرون کې ټول اړوند مقررات مراعات او د طرزالعمل سره يې چارې په مطابقت کې

### بشپړې شوې پلټنې

- ۱۱-۱۱ پلټنه: د کابل لپاره د USAID د ټولنې پراختيايی پروګرام تر ډير حده توانيدلی د هوکړې د شرايطو سره سمون ولري، البته اوږد مهالو موخو ته د رسيدو لپاره بايد چارې په لا ښه توګه تعقيب شي.
- ۱۱12- پلټنه: امريکايی ادارو د افغانستان د سترو جرمونو پر وړاندي ځواک سره مرسته کړې او د هغه څخه يې ملاتړ کړی دي، البته د فنډ ورکولو او لګښتونو څرنګوالي ته بايد اشاره وشي.
- ۱۱13- پلټنه: د ادارو ترمنځ نيګړې اړيکې او د افغانستان لپاره د امريکا پر مرستو ناسم څار د افغانستان د مالي سکتور سره د امريکا مرستې او د امرکايی نقدي پيسو خونديتوب تر پوښتنې لاندي راوستي دي.
- ۱۱14- پلټنه: نړيوال بانک او افغان داسې ميکانيزمونو ترلاس لاندي نيولې ترڅو د افغانستان د بيارغونې لپاره د اعتباري فنډ سره ترسره کيدونکې مرستې ترڅار او ليد لاندي ونيسي، البته يو شمير نيمګړتياوې او ستونزې بايد حل او په اړه يې بياکتنه وشي.
- ۱۱15- پلټنه: د امريکا د USACE دفاعي قانون کې نيمګړتيا سبب شوه چه نږدې ۵۸،۵ ميليون ډالره تاديه د امريکا دولت ته بيرته ورنکړل شي او يو شمير نورې ستونځې رامنځ ته کړي.
- 11-1SP پلټنه: په افغانستان کې د قرارداد کولو په اړه د وړانديزونو څيړنه او تحليل، لکه څرنګه چه د NDAA د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره د ۱۲۱۹ برخې غوښتنه ده( د کانګرس لپاره ځانګړی راپور)

پرمخ ورېږ دي. USAID همدا ډول د نقدو پيسو د مصرف په برخه کې د پيسو د ضياع، فساد او ناوړه گټې اخيستنې په برخه کې اضافي څار او نظارت هم ترسره کړی دی. برسيره پردې، USAID د پروګرام د غزولو لپاره د اسنادو ټولې اړينې غوښتنې هم پوره کړې دي.

2. د پاملرنې نړيوالې موسسې په خپل وار سره تر ډېر حده پورې په هوکړه شوې موده کې د ټاکلې تقسيم اوقات، لګښت سره چارې سمې پرمخ وړې دي او د داسې معلوميږي چه د دويمې مرحلې د چارو په سم ډول د پرمخ وړلو لپاره په سم او دقيق جهت باندې روان دي. البته د پاملرنې موسسه د ځانګړو اړينو مطالعاتو په ترسره کولو کې پاتې راغلې ده، لکه د محلي خوارکي توکو پر بيو باندې د نوموړي پروګرام اغيزې، که چيرې دغه مطالعات ترسره شوی وای نو ممکن د پروګرام د دقيق تطبيق او د اړينو اغيزو په برخه کې ګټور تمام شوی وای. همدا ډول USAID نه دی توانيدلی چه په رسمي ډول د تړون په دويمه مرحله کې د پروګرام يو شمير اهداف شامل کړي، لکه د اوږد مهالو اغيزو ته په کتو د پروژې جوړول او پرمختګ. په پای کې پدې اړه چه ايا نوموړي پروګرام خپلې اوږد مهالې موخې ترلاسه کوي هيڅ معلومات نشـــــــــته.

3. د پاملـــــــــــرنې نړيوالې موسسې د نقدو پيسو د ناوړه لګښت د مخ نيوي په موخه زيات شمير ارزونې او کتنې ترسره کړې دي. همدا ډول بايد يادونه وشي چه ای اف فرګوسن (A.F. Ferguson) چه يوه خپلواکه کمپنی ده او د پاملرنې د موسسې د داخلي کنترول د څرنګوالي لپاره په دنده ګمارل شوی وه زياتوي چه بايد د پاملرنې موسسه خپل داخلي کنترول بهتره او يو شمير محدودې نيمګړتياوې ليرې کړي.

**سپارښتنې**

پدې موخه چه CDP-K خپلو موخې ترلاسه او د مرستو څخه په سمه توګه څارنه وشي، سيګار د امريکا د پراختيايي اداري د ماموريت مشر ته سپارښتنه يا وړانديز کوي تر څو:

1. د امريکا پراختيايي اداره او د پاملرنې نړيوالې موسسې مسولين بايد د CDP-K د دغه غزول شوو اهدافو او يا هم په راتلونکي کې د پروګرام د بيا اوږدولو په اړه ټول اړين اسناد چمتو او برابر کړي.
2. د پاملرنې نړيواله موسسه بايد د امريکا پراختيايي اداري ته په خپل هغه راپور کې چه اټکل کيږي د روان کال په اخر کې تسليم شي بايد څرګنده کړي چه ترکومه حده د پاملرنې موسسه توانيدلې چه خپل ټاکل شوي اهداف ترلاسه کړي، او که چيرې اوږد مهالې اهداف نه وی ترلاسه شوي د دې کار د لاملونو او د تجربو يادونه پکې وشي.
3. د امريکا پراختيايي اداره او د پاملرنې موسسه بايد په ګډه دا معلومه کړي چه د شتون پصورت کې، بايد د پاملرنې موسسه د هغه مطالعاتو لپاره چه د پاملرنې لخوا نه وي ترسره شوې څومره پيسې بيرته د امريکا پراختيايي اداري يا USAID ورکړي.
4. پاملرنه او USAID بايد په ګډه د هغه داخلي کنترول د نمګړتياو په اړه چه د ای اف فرګوسن (A.F. Ferguson) لخوا ورته اشاره شوې ژر تر ژره ټول اړين ګامونه اوچت کړي.

**د اداري تبصري**

USAID د سيګار د ټولو څلورو سپارښتونو سره موافقت کړی دی. USAID پدې باور ده چه بايد د پاملرنې د موسسې د کارکوونکو سره په ګډه کار وکړي ترڅو د نوموړي پروګرام د دويمې مرحلې په ترڅ کې د پروګرام د اوږد مهالو موخو په اړه ټول اړين اسناد چمتو کړي او همدا ډول بايد د پاملرنې موسسه USAID ته په خپل راپور کې اړوند سپارښتنې او تجربې شاملې او ذکر کړي. USAID همدا ډول ويلې چه د پاملرنې د موسسې سره به په ګډه کار وکړي ترڅو د هغه پيسو په اړه چه د پاملرنې موسسې يی د اړوندو مطالعاتو د نه ترسره کولو په بدل کې بيرته د امريکا پراختيايي اداري يا USAID ته بيرته ورکړي. USAID همدا شان ويلې چه د پاملرنه د موسسې

سره به د پیسو د لګښت د څرنګوالي په اړه د یادې شوې موسسې تګ لارو او طرزالعل په اړه بیاکتنه وکړي او پدې اړه ټولو ستونزو ته د حل لارې پیدا او هغه رفع کړي.

### پلټنه 12-11: د قانون حاکمیت/ فساد

**د مریکا متحده ایالاتو د افغانستان د لویو جرایمو پرصد خاصو کاري ځواک ته مرسته او روزنه چمتو کړې ده، مګر ددې مالي مرستې اخستنه او بېرته ورکړه پایله یې باید په یو لوړې پورې څرګنده او وښودل شي.**

افغان دولت په کال ۲۰۰۹ کې د سترو جرمونو پر وړاندې د مبارزې ځواک (MCTF) د فساد په اړه د سترو قضیو، د تیښتوني او د سازمان شوو جرمونو پر وړاندې د مبارزې د اصلي اداري پحیث تاسیس کړه. ځکه د فساد او سازمان شوو جرمونو شتون د افغان دولت اعتبار او مشروعیت تر پوښتنې لاندې راولي، د سرمایه ګذارۍ او د اقتصاد د پرمختګ پر وړاندې ستر خنډونه رامنځ ته کوي او د مخالیفینو کړنو ته قوت ورکوي، د امریکا حکومت زیات شمیر اداری د MCTF سره مرسته او د هغه د کړنو څخه ملاتړ کوي.

#### اهداف

سیګار دغه پلټنې د هغه هڅو په لړ کې ترسره کړې چه د امریکا دولت غواړي د افغان ادارو سره د فساد د پېرندې او د منځه وړلو په برخه کې مرسته او همکاري وکړي. دا مالي پلټنې دو موخې درلودې:

- د MCTF سره د امریکا د مرستو او همکارۍ د نوعیت او کچې پیږندنه.
- معلومه کړي چه ایا د امریکا لخوا ترسره شوې مرستې د اړوندو او عملي قوانینو او مقرراتو سره سمې ترسره شوې.

#### موندني

1. د امریکا حکومت د ۲۰۱۰ مالي کال په ترڅ کې د MCTF سره نږدې ۱۵،۳ میلیون ډالره مرسته کړې ده. دغه مرستې د MCTF د محقیقنو د روزنې او څار او همدا ډول د MCTF د اسانتیاو څخه د ساتنې په موخه لګول شوې دي. امریکایی مسولین اټکل کوي چه د ۲۰۱۱ مالي کال په ترڅ کې د MCTF سره ۲۴ میلیون ډالره نورې مرستې ترسره کړي. د امریکا دفاع وزارت د MCTF سره د ترسره شوو مرستو ډیرې برخه ورکړې ده. د دفاع وزارت دغه مرستې د افغانستان لپاره د امنیت د انتقال د ګډې قومندې (CSTC-A) له لارې اداره کوي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت (DoS) د قانون د تطبیق او نړیوالو مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې اداری(INL)، د امریکا فدرال تحقیقاتي اداري (FBI) او د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د تطبیق اداري هم د MCTF سره مساعدت کړی دي.
2. د امریکا دفاع وزارت د بین الاداري هوکړې پر اساس د FBI او INL له لارې د MCTF سره مرستې ترسره کوي. د دفاع وزارت د مرستو د منلو او ترلاسه کولو په موخه FBI او INL د دفاع وزیر د همغږۍ د اداري (DSCA) سره تفاهم لیک لاس لیک کړی دي. سیګار د MCTF سره د امریکا لخوا د ترسره کیدونکو مرستو په اړه درې موضوعګانې په ګوته کړې دي. لومړی، DSCA او FBI هغه ۱،۶ میلیون ناکارول شوي ډالر چه د ۲۰۱۰ کال د سپټمبر په میاشت کې انقضأ مومي نه دي بیرته ستني کړې. د پلټنې په ترڅ کې ادارو ۱،۶ میلیون ډالره د امریکا خزانې ته بیرته ورکړل. دویم، INL د امریکا د دفاع وزارت لخوا د ورکړل شوو مرستو په اړه په کوم کې چه د MCTF د عملیاتو او حفظ او مراقبت لپاره ۶،۲ میلیون مصرف شوي ډالر هم شامل دي درې میاشتنی مالي راپور نه دي تسلیم کړی. دریم، CSTC-A او INL د هغو نړیوالو همکارانو په د پیسو د بیرته ورکولو د حساب او ترلاسه کولو په اړه هیڅ ډول سیستم نلري کوم چه د MCTF په اسانتیاو کې خدمتونه ترلاسه کوي.

**سپارښتنې**

سیګار د مرستو په اړه د غوره حساب ورکولو او د MCTF سره د امریکا لخوا د ترسره شوو مرستو په اړه د یو شمیر پیسو د بیرته ورکړې د لا ښه سمون لپاره دوې سپارښتنې کړې دي.

د MCTF سره د امریکا لخوا د ترسره شوو مرستو په اړه د لا ښه حساب ورکولو لپاره، سیګار وړاندیز کوي چه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د نړیوالو مخدره توکو پروړاندې د مبارزې او د قانون د حاکمیت د چارو مرستیال وزیر دې لاندې ګامونه اوچت کړي:

1. د MCTF د شاهي کمپ د اسانتیاو او د عملیاتو د ترسره کولو په موخه د INL سره د ترسره شوو ۶،۲ میلیون ډالرو په اړه حساب ورکړل شي، دغه غوښتنې د هغه تفاهمنامې په اساس ترسره کیږي کوم چه د امریکا د دفاع وزارت او INL ترمنځ لاس لیک شوی دي.

د دې لپاره چه د امریکا حکومت ته د اړتیا سره سمې د MCTF سره د ترسره شوومرستو یوه برخه بیرته ورکړل شي سیګار سپارښتنه کوي ترڅو د نړیوالو مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې او د قانون د حاکمیت مرستیال وزیر دې د CSTC-A د عمومي مشر سره لاندې ګامونه اوچت کړي:

2. د MCTF په شاهي کمپ کې د اسانتیاو څخه د غیر امریکایي نړیوالو پرسونل لخوا د فنډ د ترلاسه کیدو، بیل ورکولو او راټولو لپاره یو کره سیستم جوړ او عملي شي.

**د ادارې تبصرې**

د دې راپور په یوه غیر نهایي بڼه کې وړاندیز شوی وو چه FBI باید د MCTF د ناکارول شوې فنډ برخه بیرته ستنه کړې. لکه څرنګه چه FBI دقیقاً همدا ډول کړې دي په همدې دلیل سیګار خپل وړاندیز بیرته واخیست. د امریکا د سفارت او د INL لخوا په تبصره کې راغلي چه INL لومړی وړاندیز عملي کړی دي په کوم که چې د عملیاتو او د حفظ او مراقبت لپاره د لګښتونو په اړه د حساب ورکول شامل وو. البته د اسنادو د ملاحظې په وخت کې سیګار ته معلومه شوه چه INL هغه ډول چه په لاس لیک شوي تفاهم لیک کې بیان شوي دي د ۶،۲ میلیون ډالرو څخه په ګټې اخیستلو د توکو د پیرودلو او یا هم د مرستو د خانګړي کولو په اړه هیڅ ډول معلومات نه دي ورکړل شوي. د امریکا سفارت او د INL تبصرې هم د دویم وړاندیز ملاتړ کوي په کوم چه راغلي وو چه INL او CSTC-A د ستونزې د هوارې په موخه لیږ اقدامات کړي دي. برسیره پردې، CSTC-A د دې وړاندیز سره موافقه کړې او ویلي دي چه په شاهي کمپ کې به د عملیاتو او د حفظ او مراقبت د ټولو چارو ټول مسولیت د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په غاړه واخلي.

## پلټنه 13-11: مالي سکتور

**په افغانستان کی د امریکا د مرستو په برخه کی د ادارو تر منځ محدود همغږی او د کافی کنترول نشتون سبب شوی چه د امریکا هغه هڅی چه غواړی د افغان ملی سکتور پرمختګ وکړی او د امریکا نقدی مرستی خوندی وی د ستونزو او ننګونو سره مخامخ دی**

د ۲۰۰۲ کال راپدیخوا د امریکا ګانګرس د افغانستان د امنیت، دولتداری او اقتصادي سکتور د بیارغونې او پیاوړتیا لپاره تر ۷۰ میلیارډ ډالرو ډیر تخصیص کړي دي. د دې مرستو یوه برخه د نقدو پیسو په حیث باندې تبدیل او د افغانستان په اقتصاد کې ګټه ورڅخه اخیستل شوې. د دې لپاره چه یقیني شي چه د افغانستان مالي سکتور د دې مرستو د جذب توان پیدا او د یو قوي اقتصادي بازار د ثبات په برخه کې د افغان حکومت وړتیاوې تقویه او لوړې شي امریکایي ادارو پروګرامونه پلي کړي ترڅو (۱) د هیواد د مالي ادارو د چارو د تنظیم او کنترول په موخه د افغانستان د مرکزي بانک – د افغانستان بانک – وړتیاوې او ظرفیتونه لوړ کړي او (۲) او امریکا لخوا

# د سیګار نظارت

د افغانستان په اقتصاد کې کارول کیدونکو مرستو په اړه د کنترول او څارل په موخه د امریکایی او افغان قانون تطبیق کوونکو ادارو د ظرفیت او وړتیاو لوړول شامل دي.

**اهداف**

د ۲۰۱۰ کال په سپتمبر کې د کابل بانک تقریبي سقوط د افغانستان د نورو بانکو د ثبات په اړه اندیښتني او پوښتني راپورته کړې. د کابل هوایی ډګر له لارې د زیات شمیر نقدو پیسو لیږد سیګار دې ته اړویست ترڅو د افغانستان د مالي سکتور سره د امریکا لخوا د ترسره کیدونکو مرستو د کنترول او څار په اړه پلټنه ترسره کړي. دې پلټنې دوې موخې درلودې:

- د امریکا د هغو هڅو ارزونه چه غواړي د افغان دولت مالي سکتور تقویه کړي، په نوموړي سکتور کې د افغانستان مرکزي بانک، ۱۷ تجارتي بانکونه او د حوالي اسانتیاوې شاملې دي.
- د افغان اقتصاد له لارې د امریکا د مرستو د کنترول په موخه د امریکایی ادارو د چارو ارزونه

**موندنې**

که څه هم د امریکا مرستو د افغان دولت سره د خپل مالي سکتور د چارو د سمون او تنظیم په برخه کې مرسته کړې ده، اما د امریکا د مرستو د اغیزمنتیا پر وړاندې دوه محدودیتونو پراته دي:

- امریکایي ادارو د مالي سکتور پراختیایی پروګرامونه په سمه او اړینه توګه نه دي همغږي او منظم کړي.
- افغان وزارتخانو په دوامداره توګه د امریکا د متحده ایالاتو سره همکاري نه ده کړې، چه د امریکا لخوا د ترسره کیدونکو پرګرامونو د ممانعت او یا هم د کامیابیدو مخ نیوی کړی دی.

که څه هم د امریکایي ادارو د افغانستان د اقتصاد له لارې د امریکایي مرستو څخه د څار په برخه کې یو شمیر ګامونه اوچت کړي دي، خو بیا هم د امریکا دولت د دې مرستو د ځای او لګولو په اړه محدود معلومات لري، کوم چه په خپل وار سره دغه مرستې د فساد او مخالیفینو ته د هغه د لیږد خطر زیاتوي.

**سپارښتنې**

سیګار وړاندیز وکړ چه د مالي سکتور په برخه کې باید د ادارو ترمنځ همغږي او همکاري زیاته او بهتره شي او د افغان اقتصاد له لارې د مرستو په اړه خپل څار او نظارت زیات او تقویه کړي.

د موجود امکاناتو د سم جهت او کاروني او په مالي سکتور کې د ادارو د چارو د تکرار او ټکر څخه د مخ نیوي په موخه سیګار سپارښتنه کوي چه په افغانستان کې د امریکا سفیر په مالي سکتور کې د کارکوونکو ډلو ته هدایت وکړي تر څو:

1. چه اداري په خپل منځ کې داسي یوه ستراتیژي رامنځ ته کړي چه د افغان بانکونو سره مرسته وکړي ترڅو نوموړي بانکونه د برښنایی مرستو د لیږد (EFT)، داخلي پروسو او د پیسو د انتقال په برخه کې د حساب ورکولو په برخه کې خپلې وړتیاوې او ظرفیتونه اوچت کړي.

د افغانستان د اقتصاد له لارې د امریکا د مرستو د جریان څخه د څار او په مجموعي توګه په افغانستان کې د امریکا د بیارغوني د هڅو د ملاتړ لپاره سیګار وړاندیز کوي چه د امریکا د بهرنیو او دفاع وزیر خپلو قرارداد کوونکو او مالي مسولینو ته هدایت وکړي ترڅو:

2. قراردادیانو ته د ورکول کیدونکو پیسو د مسلسل نمبر د ثبت لپاره اړین ګامونه اوچت کړل شي او هغه د قانون تطبیق کوونکو امریکایی چاراواکو سره شریک کړل شي ( د افغان مالي خطر د خون په ګډون) همدا ډول باید دغه معلومات د FinTRACA او یا هم بلې افغان مربوطه اداري سره شریک کړل شي.

3. باید داسي پلان طرحه شي ترڅو هغه افغان بانکونه چه د U.S. EFT حاصلوونکو ته پیسي ورکوي وکولای شي د عمده صرافیو د غرفو څخه په ګټي اخیستلو د ورکړل شوو لوټونو مسلسل نمبر ثبت کړي او هغه د قانون تطبیق کوونکو امریکایی چاروکو سره شریک کړل شي ( د افغان مالي خطر د خون په ګډون) همدا ډول باید دغه معلومات د FinTRACA او یا هم بلي افغان مربوطه اداري سره شریک کړل شي.
4. په افغانستان کي د فعالیت کوونکو ادارو او کمپنیو سره د امریکایی قراردادونو، قرضو او د همکاری په تړونونو کي یو معیاري ماده ذکر شي ترڅو د هغه قراردادیانو څخه چه دویم لاس قراردادي ته پیسي ورکوي وغوښتل شي چه یا خو نومړي پیسي د EFT د اسانتیا لرونکي بانک او یا هم د امکان تر حده د مجوز لرونکي حوالي له لاري دغه پیسي ورکړي. که چیري جوته شوه چه د موجود مقرراتو په رڼا کي د داسي یوي مادي زیاتول شوني نه دي، پدي صورت کي په رسمي ډول په حقوقي بڼه د امریکا د کانګرس څخه غوښتنه وشي ترڅو د یادي شوي مادي د زیاتولو حقوقي ستونزه له منځه لاړه شي.

**د اداري تبصري**

د دي راپور په غیر نهایی بڼه کي وړاندیز شوی وو چه په افغانستان کي د امریکا سفیر د نومړي سفارت د مالي سکتور کاري ډلو ته لارښونه وکړي چه د پلان جوړولو په غونډو کي د کورني امنیت ریاست (DHS) ته هم د ګډون اجازه ورکړل شي او یقیني شي چه د مالي سکتور د کاري ډلو په بحثونو کي هغه ټولو امریکایی ادارو ته چه د مالي سکتور د پیاوړتیا او پرمختګ په برخه کي کار کوي د ګډون موقع ورکړل شي. د کومه ځایه چه DHS په یاد شوي ګروپ کي زیاته شوي وه سیګار خپل وړاندیز بیرته واخیست. د دي راپور د غیر نهایی بڼه په ځواب کي په افغانستان کي د امریکا سفارت په عمومي ډول د نومړو وړاندیزونو سره موافق وو اما د یادو وړاندیزونو د تطبیق په اړه یی د یو شمیر ننګونه یادونه کړي ده. د بیلګي په توګه، د سیګار د هغه وړاندیز په اړه چه ویلي یی وو امریکایی اداري په خپل منځ کي داسي یوه ستراتیژي رامنځ ته کړي چه د افغان بانکونو سره مرسته وکړي ترڅو نومړي بانکونه د پیسو د برښنایی لیږد (EFT)، داخلي پروسو او د پیسو د انتقال په برخه کي د حساب ورکولو په برخه کي خپلي وړتیاوي او ظرفیتونه اوچت کړي، سفارت ویلي چه د دي کار د ترسره کولو لپاره باید افغان وزارتخاني، د امریکا حکومت او په افغانستان کي د بیارغوني او پراختیایی پروژو کي دنده ترسره کوونکي اداري اړین ګامونه او عمل ترسره کړي. سفارت د وروستي وړاندیز سره چه ویل شوي وو هغوی به په خپلو مقرراتو کي داسي ماده زیاتي کړي چه د ټولو پروژو پلي کوونکو ادارو څخه غواړي یوازي د پیسو د برښنایی لیږد یا EFT او یا هم د جواز لرونکي حوالي له لاري پیسي ورکړي. د دفاع وزارت پدي اړه د څه ویلو څخه ډډه وکړه

## پلټنه 14-11: مستقیمي مرستي/ ملټي ډونر ټرسټ فنډ

**نړیوال بانک او د افغانستان دولت داسی میکانیزمونه رامنځ ته کړی چه د افغانستان د بیارغونی فنډ څخه څارنه وکړی او د هغه په اړه حساب ورکړی اما پدی میکانیزمونو کی یو شمیر محدودیتونه موجود دی**

په ۲۰۱۰ کال کي د امریکا متحده ایالاتو او نورو مرسته کوونکو هوکړه وکړه چه د راتلونکو دوو کلونو په ترڅ کي به نومړي مرسته کوونکي هیوادونه خپلي ۵۰ سلنه مرستي د افغانستان د ملي بودجي له لاري ترسره کړي. د افغانستان د بیارغوني باوري فنډ (ARTF) چه د نړیوال بانک لخوا پرمخ وړل کیږي هغه اصلي او اساسي مرجعه ده چه نړیوال مرسته کوونکي د افغان دولت سره خپلي مستقیمي مرستي ترسره کوي. د ۲۰۰۲ کال راپدیخوا ۳۲ نړیوالو مرسته کوونکو د ARTF سره نږدي ۴،۳ ملیارډ ډالره مرسته کړي ده، د نومړي فنډ څخه د افغانستان د غیر امنیتي عملیاتو د لګښتونو او د پرمختیایی پروژو د پرمخ وړلو لپاره ګټه اخیستل کیږي. د امریکا متحده ایالات په یوازي ډول د نومړي فنډ سره د ۹۷۲ میلیون ډالرو مرستو په ورکولو تر ټولو لوی ونډه اخیستونکی دي.

# د سیګار نظارت

**اهداف**

د تیرو ۹ کالو راپدیخوا د ARTF سره د امریکا لخوا د ۱ ملیارډ ترسره شوو مرستو ته په کتو سیګار دغه پلټنه ترسره کړه. برسیره پردې په مستقیم ډول د مرستو د ترسره کیدو غوښتني ته په پام سره باید معلومه شي چه نړیوال بانک د ARTF سره د ترسره کیدونکو مرستو څخه څه ډول څارنه ترسره کوي او همدا ډول معلومه کړي ایا افغان دولت د ARTF فنډ له طریقه د ترلاسه شوو مرستو په اړه حساب ورکولای شي. دا څیړنه دوی موخی لري:

- د هغي کچي ارزونه چه افغان دولت او نړیوال بانک د ARTF سره د نړیوالو مرستو کوونکو لخوا د ترسره شوو مرستو څخه د څار په موخه رامنځ ته شوي میکانیزمونه په مستقیم ډول د ډاډ وړ دي.
- معلومه کړي چه ترکومه حده افغان دولت د ARTF د مرستو څخه د ګټي اخیستلو په اړه د څار په برخه کي خپلي وړتیاوې او ظرفیتونه لوړ کړي دي.

**موندني**

1. نړیوال بانک او افغان دولت د ARTF فنډ د ګټي اخیستلو د څرنګوالي د څار او حساب ورکولو په اړه دري لاري رامنځ ته کړي، البته دغه میکانیزمونه یو شمیر نیمګړتیاوې لري. د څار او نظارت پدي لړ کي د نړیوال بانک هغه معیاري طرزالعمل چه د نړیوال بانک لخوا د تمویل کیدونکو لپاره دي شامل دي، د نوموړي تګ لارې په اساس یو خپلواک څارنیز مامور د افغان دولت د غیر امنتیي عملیاتو په اړه چه د اوسني لګښتونو په پام کي نیولو سره د ARTF څخه تمویلیږي ترسره کیږي او همدا ډول د افغانستان د کنترول او تحقیق د اداري لخوا ورته چارې ترسره کیږي. دغه څار هغومره کره او قوي چه کیدای شوای نه دي ځکه پدي څار کي یوازې د غیر امنیتي عملیاتي لګښتونو په اړه یوازي مالي بیاکتني او پلټني شاملي دي. برسیره پردې د ARTF د مرستو څخه د ګټي د اخیستلو د څرنګوالي په اړه ډیرې پلټني او چارې د کابل څخه بهر ترسره کیږي، او نړیوال بانک د ARTF په اړه د راپور پایلي او نتیجي د ARTF سره د مرسته کوونکو اړوندو ادارو او مسولینو سره نه دي شریکي کړې.
2. افغان وزارتخانو په عمومي ډول د ARTF په ګډون د مرستو د تنظیم، اداري او حساب ورکولو په برخه کي خپلي وړتیاوې او ظرفیتونه اوچت کړي دي. باید دا هم زیاته شي چه افغان دولت د ARTF مرستو په اړه د تنظیم او حساب ورکولو لپاره د اړینو ملکي وړتیا لرونکو کارکوونکو او کدرونو په برخه کي د ستونزو او ننګونو سره مخامخ دي. د ظرفیت د ستونزې له کبله افغان دولت اوس هم د نوموړو چارو د سمون په موخه په هغه افغان قراردادیانو او یا هم نړیوالو شرکتونو باندي متکي دي چه د ARTF د فنډ څخه یوه برخه د مزد په شکل ورکول کیږي.

**سپارښتني**

سیګار د ARTF د فنډ څخه د دقیق او سم څار او د افغان وزارتخانو د وړتیاو او ظرفیتونو د ارتقا په موخه دري سپارښتني کړي دي.

د ARTF د فنډ څخه د څار د تقویې په موخه سیګار وړاندیز کوي چه په کابل کي د امریکا سفیر او د نوموړي فنډ سره نور مرسته کوونکي چاروکي دې نړیوال بانک اړباسي ترڅو:

1. د یاد شوي خپلواک څارګر مامور په قرارداد کي د ړنه او کره لهجه وکاروي ترڅو نوموړي چاروکي موکلف وګرځول شي چه د افغان حکومت د عملیاتي لګښتونو د معلوموولو لپاره په نمونه یی ډول په کابل او نورو ولایتونو کي د کار د سیمو څخه د نږدي لیدنه وکړي.

2. د پروژو د پایلو او پرمختګ په اړه دې د خپل درې میاشتني راپور او یا هم د مرستو کوونکو لپاره په سیستماتیک ډول د څارنیز ماموریتي راپور د ویش او تقسیم له لارې ټولو اړوندو ادارو ته د پروژو په اړه د معلوماتو د شریکولو په برخه کې ډیر څه وکړي.

د پرمختیایی مرستو په ځانګړې ډول د ARTF د مرستو د تنظیم او د هغه په اړه د حساب ورکولو په برخه کې افغان وزارتخانو ته د اړینو ملکي کدرونو د وړتیاو او ظرفیتونو د لوړولو په موخه سیګار سپارښتنه وکړه ترڅو په افغانستان کې د امریکا سفیر د نړیوال بانک او نورو مرستو کوونکو سره په ګډه:

3. د ظرفیت د لوړولو په برخه کې د افغان دولت سره مرسته او همکاري وکړي، د چارو د بشپړ مسولیت د لیرد په اړه د پلانونو جوړول او افغان ملکي کارکوونکو په برخه کې د معاشاتو او رتبو د اصلاحاتو تطبیق او عملي کول چه کولای شي د تکړه او وړتیا لرونکو په راجلبولو کې د افغان دولت توان لوړ او هڅې بریالی کړي.

**د اداري تبصرې**

د امریکا سفارت زیات شمیر داسې هڅې ترسترګو شوې چه نړیوال بانک د لومړنیو دوو سپارښتنو په اړه د ځواب ویلو لپاره یو شمیر ګامونه اخلي او د دریمې سپارښتني د چه د پراختیایی او پرمختیایی مرستو په اړه د افغان دولت د وړتیاو او ظرفیتونو د لوړولو په برخه کې وه د ځواب ویلو یو زیات شمیر هڅې ترسترګو شوې دي.

نړیوال بانک په خپل ځواک د هغه ګامونو په اړه چه د دریو سپارښتنو د ځواب په اړه یې ترلاسه لاندې دي بحث او خبرې اترې وکړې. د بیلګې په توګه، نړیوال بانک څرګنده کړه چه پلان لري د خپلواک څارګر مامور د دندې په لایحه کې د ولایتي کاري سیمو څخه د لیدنې موضوع او اړتیا زیاته کړي.

## پلټنه 15-11: امنیت/ د قراردادونو پلټنه

**د امریکا د USACE بنسټیز دفاعي قانون کې نیمګړتیا سبب شوه چه نږدې**
**۵۸،۵ میلیون ډالره تادیه د امریکا دولت ته بیرته ورنکړل شي او یو شمیر نورې ستونځې رامنځ ته کړي.**

د امریکا بنسټیز دفاعي قانون (DBA) د فدرال حکومت سترو قراردادي او دویم لاس قراردادیانو څخه غواړي چه د هیواد څخه بهر د دندو ترسره کوونکو کارکوونکو ته د غرامت بیمه ومني. کانګرس DBA پدې موخه جاري کړ چه که چیرې د هیواد څخه بهر امریکایی کارکوونکي د کار په ترڅ کې ټپي او یا هم مړه شي د نوموړې بیمې د اسانتیاو څخه برخمن او ګټه واخلي. د ۲۰۰۸ کال راپدیخوا د امریکایی پوځ د انجینرانو قطعي (USACE) او (C-JTSCC) یوازې د بیمې د کانتیننټل کمپنی(CNA) سره د DBA د اسانتیاو د ترلاسه کولو په اړه قرارداد کړی دي. د هغه وخت څخه تراوسه پورې CNA د بیمې د حق په توګه ۲۲۵ میلیون ډالره ترلاسه کړي دي.

**اهداف**

او ځکه چه قراردادیانو ته د DBA لګښتونه بیرته ورکول کیږي، دې کار د وړو قرارداد کوونکو لپاره د هغه لګښتونو زغمل اسانه کړي دي کوم چه د فدرال قرارداد کولو په ترڅ کې متحمل کیږي. د DBA اسانیتا په ځانګړې توګه په افغانستان کې ځکه خورا مهمه ده چه د یوې خوا د کار شرایط ډیر ناوړه دي او د بلې خوا دویم لاس قراردادي اداري او کمپنیاني لیږد امکانات په اختیار کې لري په ځانګړې توګه افغان کمپنی. دا څیړنه درې موخې لرې:

- معلومه کړي چه د DBA لخوا د بیمه د حق د اخیستلو کچه ترکومه حده مناسبه او قانوني وه.
- د USACE او د C-JTSCC د داخلي کنټرول سره مرسته وکړي ترڅو یقیني شي چه د سترو قراردادیانو

او دویم لاس قراردادیانو لخوا د بیمي خدمتونه د DBA د شرایطو او اوصلو سره سمي پرمخ وړل شوي دي.

- د DBA د لګښتونو په اړه قراردادیانو ته د پیسو د بیرته ورکړې او بیل ورکولو د پروسې ارزونه

**موندني**

1. سیګار ته معلومه شوه چه USACE ترهغه څه چه په قرارداد کې ذکر شوي زیاتې پیسې د بیمې د حق په توګه منلي دي او د قرارداد سره سم یی د CNA چارې او کړنې په سمه توګه نه دي څارلي او د هغه څخه یی دقیق نظارت نه دي ترسره کړی. د بیلګه په توګه، USACE د قرارداد د شرایطو سره سم CNA د راپور ورکولو د غوښتنو په اړه مسوله نه ده پیرندلي. سیګار ته معلومه شوه چه دا ډول څارنه څکه اړینه وه چه د CNA معلومات نل بشپړ، دقیق او کره نه وو. د بیلګي په توګه، CAN د زیانونو تر نامه لاندي د قضیو په اړه پداسي حال کي راپور ورکړي چه لا د وړاندي ورته ویل شوي وو چه د کار د وزارت لخوا به جنګي خطر د غرامت د قانون (WHCA) پراساس پیسي بیرته ورکړل شي.
2. د USACE او JTSCC لخوا ترسره شوي د داخلي کنترول چارې د سترو او دویم لاس قراردادیانو لخوا د بیمې د دقیق شمیر پیسو د رانیولو او ساتلو په برخه کي پاتي راغلي او نه دي توانیدلي چه دغه چارې په سمه توګه ترسره کړي.
3. سیګار همدا ډول د DBA د لګښتونو د بیل جوړولو او قراردادیانو ته د بیرته پیسو ورکولو په برخه کي د CNA د اوسني پروسي په اړه یو شمیر ستونزې په ګوته کړي دي. لومړی، د مختلفو منابعو له لارې د CNA مخلوط شوي فنډ چه د امریکا د مرسته کوونکو د محدودیتونو، ان د اداري د اساسنامي او د نمګړتیا ضد قانون سره په ټکر کي دي. دویم، دا چه د USACE او JTSCC قراردادي مسولین د DBA پر لګښتونو کم څار او دید لري. د دې کار په پایله کي یو شمیر قراردادیانو د قرارداد د شرایطو خلاف لیز بیمي رانیولي ده. برسیره پردې سیګار ته معلومه شوه چه CNA د ۲۰۰۵ کال راپدیخوا د DBA د بیمي په موخه قراردادیانو ته د تادیه په موخه ۵۸،۵ میلیون ډالره ورکړي دي.

**سپارښتني**

سیګار اته سپارښتني کړي دي – د هغه جمله څخه څلور وړاندیزونه د USACE سرپرست عمومي مسول ته د DBA د بیمي د قراردادنو د تقویه په اړه وو، او څلور نور یی د USACE سرپرست عمومي مسول او د C-JTSCC قومندان ته د DBA د بیمي د پروګرام د تقویې او د لازم الاجرا په صورت کي د امریکا دولت ته د تادیه مرستو د بیرته ورګرځول په اړه اړین ګامونه اوچت کړي. سیګار سپارښتنه وکړه چه د USACE سرپرست عمومي مسول باید:

1. د CNA سره د ترسره شوي موجود قرارداد په اړه غوښتنه وشي چه هر قراردادي ته یو بیجک (انوایس) ورکړل شي او په هغه کي د اړوند قرارداد لپاره DBA ته د بیمي په موخه د ورکړل شوو پیسو اصلي او وروستی شمیر ذکر شي. دا چارې باید د اداري د اساسنامي په اړه د هغه سرغړوني ته په کتو حل شي کوم چه وړاندي سیګار په ګوته کړې او اشاره ورته کړې وه.
2. معلومه کړي چه د اداري د اساسنامي څخه هغه سرغړونه چه سیګار په ګوته کړې د نیمګړتیا ضد قانون هم نقض شوی، که چیرې دا کار شوی وي باید په نوموړي قانون کي د راپور ورکولو په اړه مقررات او شرایط مراعات او د دفتر د اداري او بودجې لپاره وړاندي شوي لاربنوني او توصیې په پام کي ونیل شي.
3. د CNA سره د ترسره شوي اوسني قرارداد په اړه د هغو شرایطو د وضاحت او مشخصوالي په اړه د بیاکتني غوښتنه وشي چه توان یا خصارات ګالي او د WHCA سره په مطابقت کي د پیسو د بیرته ورکولو

لپاره غوښتنې او ادعاوې مشخصې کړي. په مشخصه توګه په قرارداد کې باید ذکر شوي وي چه څوک د پیسو د بیرته ترلاسه کولو لپاره هغه وختغوښتنه او یا ادعا کولای شي چه د تاوان یا زیان ګالولو د راپور څخه حذف شوې وي، او همدا ډول باید د هغه مدعي په اړه چه د امریکا بهر ژوند کوي د چارو د پرمخ وړولو څرنګوالي بیان او وضاحت ولري.

4. د CNA سره ترسره شوی اوسنی قرارداد د بیمې د بیې د ارزونې په موخه د یو خپلوکې اداري لخوا بیاوکتل شي په ځانګړې توګه هغه غوښتنې چه د USACE سره د هوکړې په پایله کې ترسره کیږي او همدا ډول USACE ته په کلنې ډول د راپور ورکولو غوښتنه مطرح شي.

د DBA د بیمې د پروګرام د تقویې او د موجودیت په صورت کې د امریکا حکومت ته د تادیې د بیرته ورګرځولو په موخه سیګار سپارښتنه کوي چه د USACE سرپرست عمومي مسول او د C-JTSCC مسؤل باید:

5. د DBA د بیمې څخه د قوي څار او نظارت په موخه باید قراردادي مسولینو ته لارښونه او هدایت ورکړل شي. پدې لارښونو کې باید قراردادي مسولینو ته د کارکوونکو لخوا د قرارداد د ترسره کولو په موخه د DBA CLIN د تناسب او تطبیق د اهمیت په اړه لارښونې شاملې وي. یادې شوې لارښونې باید همدا ډول د قراردادي مسولینو څخه وغواړې چه د وړاندې ترډې چه د هر قرارداد لپاره قراردادي ته اړوندې پیسې بیرته ورکړل شي باید د هر بیمې ترلاسه کوونکي څخه وروستی انوایس یا بیجک ترلاسه کړي.

6. د دویم لاس یا فرعي قراردادیانو ته د DBA د بیمې د ترلاسه کولو د غوښتنو او اهمیت د بیانولو په اړه ټول اړین ګامونه اوچت کړي. په یاد شوو ګامونو کې ممکن د DBA د بیمې د پالیسیو په اړه د یاداښت خپرول او یا هم د دویم لاس قراردادیانو سره د سترو قراردادیانو د طرزالعملونو شریکول شامل وي.

7. باید جوته او معلومه کړي چه د ۵۸،۵ میلیون تادیه پیسو څومره برخه د USACE او C-JTSCC لخوا بیرته ترلاسه کیدای شي.

8. کله چه د C-JTSCC او USACE لخوا د بیرته ترلاسه کیدونکو پیسو شمیره معلومه شوو د نوموړي کار د عملي کولو لپاره باید ټول اړین ګامونه ژر ترژره اوچت کړل شي.

**د اداري تبصرې**

د دې راپور د غیرنهایي بڼه په اړه اړوندو ادارو په خپل وار سره د سیګار د سپارښتنو سره موافقت کړي او د نوموړو وړاندیزونو د تطبیق او عملي کولو په لاره کې یې یو شمیر تدابیر او ګامونه اوچت کړي دي.

## 11-1SP پلټنه: کانګرس لپاره ځانګړی راپور

### د NDAA د ۲۰۱۱ مالي کال د ۱۲۱۹مې برخې په اساس، په افغانستان کې د قرارداد کولو په اړه د سپارښتنو او وړاندیزونو تحلیل او ارزونه

پدې ربع کې، سیګار د امریکا کانګرس ته په افغانستان کې پر خصوصي امنیتي کمپنیو د امریکا د اتکا د کمولو د څرنګوالي په اړه د قراردادنو او پلانونو په اړه د ترسره شوې نظارت او څار په اړه خپل راپور وړاندې کړ، دا چارې د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره د ملي دفاع د صلاحیتونو د قانون د ۱۲۱۹مې برخې (NDAA) سره ترسره شوې دي. د کانګرس د غړو سره ترخبرو اترو او بحث وروسته سیګار هوکړه وکړه چه (۱) د امریکا دفاع وزارت، د بهرنیو چارو وزارت او د امریکا پراختیایي اداري یا USAID ته په افغانستان کې د قراردادونو په اړه د ۲۰۰۸ مالي کال څخه بیا د ۲۰۱۱ مالي کال د مارچ تر میاشتې پورې د وړاندې شوو سپارښتنو په اړه ارزونه او تحلیل ترسره کړي، او (۲) د افغان ملکي وګړو د وژنو په ګډون په افغانستان کې د خصوصي امنیتي کمپنیو د استثناو څخه د اوسني ګټې اخیستلو په اړه ارزونه وړاندې کړي.

د ۲۰۰۸ کال د اکتوبر څخه بیا د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر میاشتې پورې د دفاع وزارت، بهرنیو چارو وزیر، د امریکا د پراختیایی ادارې او د امریکا حکومت د حساب ورکونې د ادارې او سیګار عمومي پلټونکو په ټولیزه توګه د ۶۵ راپورونو په خپرولو سره په افغانستان کې د قرارداد کولو د چارو د بهتروالي په موخه ۲۹۷ سپارښتنې کړې دي. د سیګار ارزونې د قرارداد کولو په اړه ۱۴ موضوګانې په ګوته کړې د ټولو ۲۹۷ سپارښتنو د ډلې څخه ۱۷۷ (نږدې ٪۶۰) یې په پنځو لویو کټګوریو کې راځي.

- د عدم تطابق، د پوښتنې وړ لګښتونو او د اضافي پلټنو په اړه خپرې شوې موضوګانې
- د قرارداد په اړه څار او نظارت
- د قرارداد د ورکولو ورسته اقدامات
- د امریکا حکومت د کارکوونکو کیفیت او کمیت
- د پروژې تقسیم اوقات او د کړنو او فعالیت کچه

امریکایی تطبیق کوونکي اداري او بنسټونو تر ډېره حده د پروژو د سیمو، د اکمالاتو د انتقال او د کارکوونکو د خوندیتوب او محافظت لپاره پر افغان خصوصي امنیتي کمپنیو اتکا لري. د خصوصي امنیتي کمپنیو په اړه اندیښنې د افغان دولت ترمنځ لوړې کچې ته رسیدلې او دا کار لامل شوی ترڅو افغان دولت تر خپلې مشرۍ لاندې ډېرې امنیتي چارې د عامه خوندیتوب افغان ځواک (APPF) ته د لیږد په اړه ستراتیژي طرحه او رامنځ ته کړي. نوموړې ستراتیژي چه د ۲۰۱۱ کال د مارچ د میاشتې په ۲۲مه پلې شوې اجازه ورکوي چه افغان خصوصي امنیتي کمپنۍ د بیارغونې د پروژو لپاره د راتلونکي یوه کال او د ایساف لپاره تر راتلونکو دوو کالونو پورې خپلو خدمتونو ته دوام ورکړي ترڅو د عامه خونیتوب افغان ځواک تر هغه وخته پورې د نوموړو مسولیتونو د اخیستلو جوګه شي.

سیګار ته معلومه شوه چه د افغان خصوصي امنیتي کمپنیو لخوا د افغان ملکي وګړو د وژلو معلومات په دقیقه توګه نه دي ثبت او تعقیب شوي او ممکن نیمګړې وي. د بیلګې په توګه، که څه هم د امریکا پراختیایی اداره د خپلو تطبیق کوونکو پرسونل د وژنې پیښې تعقیب کوي او د نوموړو پیښو په اړه امنیتي معلومات راټولوي اما د خصوصي امنیتي افغان کمپنیو لخوا د ملکي وګړو د وژلو په اړه هیڅ ډول راپور نه ورکوي. په افغانستان کې د امریکایی پوځ مسولینو (USFOR-A) د ۲۰۰۹ کال د اګست د میاشتې راپدیخوا د هغه ملکي وژنو په اړه چه د امریکا د دفاع وزارت لخوا د قراردادي خصوصي امنیتي کمپنیو د غړو لخوا رامنځ ته شوي هیڅ ډول راپور نه دي ورکړي.

## د سیګار د سپارښتنو وضعیت

د ۲۰۱۱ کال په لومړیو ۶ میاشتو کې سیګار د قراردادنو څخه د څار د غوراوي، د بیارغونې په برخه کې د مصرف کیدونکو مرستو د اغیزمنتیا، د اقتصاد د ودې او د عملیاتو د غوره تنظیم او بهتره اداري په موخه ۶۴ سپارښتنې کړې دي. پدې سره د ۲۰۰۸ کال چه سیګار تاسیس شوو د وړاندې شوو سپارښتنو شمیره دوه برابره شوه. د سیګار لخوا د ۱۳۶ ترسره شوو سپارښتنو له ډلې د امریکا حکومتي ادارو لا د وړاندې ۵۴ سپارښتنې عملي کړې دي.

## په دې درې میاشتنۍ کې اعلان شوې نوې پلټنې

د راپور ورکولو پدې مرحله کې سیګار څلور نوې پلټنې په لاره واچولې – یو د USAID د پراختیایی قرارداد په اړه، یو د USAID د همکارۍ د هوکړې په اړه، یو د C-JTSCC لخوا د مرستو د ترسره کیدو او د قرارداد د ټولو اړینو معلوماتو د مشرعیت او د اطمینان د کچې د ارزونې په اړه او یوه بله هم د افغان ملي امنیتي ځواک د

### نوې پلټنې

- د افغانستان د ثبات د نوښت د ملاتړ په موخه د USAID قرارادونه
- د کرهنې د پروګرام د ملاتړ په موخه د USAID د همکارۍ هوکړې
- د افغانستان د بیارغونې په اړه د امریکا د مرکزي قومندې د قرارداد کولو د ګډې قومندې (C-JTSCC) د سترو بایع په اړه د مرستو او د معلوماتو د راټولو د اعتبار قابلیت
- د امریکا یې پوځ د انجنیرانو د عملیاتو قطعه او د افغان ملي امنیتي ځواک د اسانتیاو لپاره د ITT د حفظ او مراقبت قراردادونه

فعاليتونو او اسانتياو د حفظ او مراقبت په اړه د USACE د قرارداد په اړه ده.

## د افغانستان د ثبات د نوښت د ملاتړ په برخه کې د USAID قراردادونه

د ۲۰۰۹ کال د جولای په میاشت کې USAID د افغانستان په جنوب او شرقي سيمو کې افغانستان د ثبات د نوښت (ASI) د ملاتړ په موخه دوه دري کلن قراردادونو لاس ليک کړ، د دې دواړو پروژو عمومي لګښت ۳۰۰ ميليون ډالرو ډير دي. د ايساف سره په همکاری ASI هڅه کوي چه د کوچنيو ټولينزو تسهيلاتي پروژو له لارې د افغانستان د اقتصادي او ټولنيز پراختيا په برخه کې هڅې کوي.

## د کرهنې د پروګرام د ملاتړ په موخه د USAID د ملاتړ هوکړه ليک

د ۲۰۰۸ کال د سپتمبر په مياشت کې، USAID د نړيوال ملاتړ او پرمختيايي اداري سره د افغانستان د کرهنيزو حاصلاتو د زياتوالي په موخه د (AVIPA) سره د همکاري تړون لاس ليک کړی دی. USAID نوموړی پروګرام چه مجموعي لګښت يې ۴۵۰ ميليون ډالره کيږي د ۲۰۱۱ کال د جون تر مياشتې وغزاوه. د پروګرام اصلي برخه د کرهنيزو تخمونو او کود ويش دي، د کار په بدل کې نقدي مزد ترڅو سيميزې ټولنې وهڅول شي، د کرهنيزو تجهيزاتو په موخه د کوچنيو قرضو ورکول، روزنه او د ظرفيت او وړتياو د لوړولو پروګرامونه دي.

## (C-JTSCC) د امريکا متحده ايالاتو مرکزي قوماندې د ګډې ناستې د مرستې قراردادي قومانده،د لمړنيو د خرڅون په توکو باندې د افغانستان د بيا جوړلو د ليو تړنونو لپاره

دغه پلټنه به د سيګار په راتلونو پلټنو کې تعقيب کړل شي، " امريکا دفاع وزارت، د بهرنيو چارو وزارت او USAID د افغانستان د بيارغوني په برخه کې د ۲۰۰۷ مالي کال څخه بيا تر ۲۰۰۹ مالي کال پورې د ۷۰۰۰ قراردادیانو او نورو ادارو له لارې ۱۷،۷ ميليارډ ډالره منلي دي،" کوم چه د افغانستان د بيارغوني سره د تطبيق کوونکو ادارو او قراردادیانو د پيرندلو لامل ګرځي. د راپور په اړه C-JTSCC په خپلو تبصرو کې ويلي دي چه نوموړې اداره به د قراردادونو په اړه د اړينو معلوماتو د ساتلو او د ستونزو د حل او نيمګړتياو د راکمولو لپاره زيات شمير ګامونه اوچتوي. وروسته، سيګار په اړه نور اضافي معلومات ترلاسه کړل چه په هغه کې د C-JTSCC د معلوماتو د اطمينان او ډاډ په اړه پوښتنه غوښتنه شوې وه. په ځانګړې توګه ممکن C-JTSCC د منل شوو مرستو په اړه داسې راپور ورکړی وي چه په قرارداد کې د ذکر شوي مجموعي ارزښت سره توپير ولري. د جون په مياشت کې، د کورني امنيت او حکومتي چارو په اړه د سنا کميټې، او قراردادونو څخه د څار په اړه فرعي کميټې د هغه معلوماتو د اعتبار او دقيقوالي په اړه خپلې اندېښنې بيان کړې کوم چه C-JTSCC سيګار ته ورکړې وو. دا پلټنې به نوموړو اختلافاتو لامل معلوم کړې، همدا ډول به هغه اقدامات په ګوته کړې چه C-JTSCC د دې توپيرونو د حل په موخه اخيستې، او همدا ډول به هغه ممکنه اړينو ګامونه ته چه د معلوماتو د مشرعيت او باورمنتوب لپاره يې بايد C-JTSCC ترسره کړې هم بيان شي.

## د امريکايی پوځ د انجينرانو قطعي د هغه عملياتو او حفظ او مراقبت قرارداد چه د ITT د شرکت سره يې د افغان ملي امنيتي پوځ د اسانتياو د وړاندې کولو په موخه ترسره کړی دي.

د ۲۰۱۰ کال د جولای په مياشت کې USACE د ITT شرکت ته د ۸۰۰ ميليون ډالرو په ارزښت دوه قراردادونو ورکړل ترڅو د افغان ملي امنيتي پوځ د تسهيلاتو يا اسانتياو لپاره اړوند فعاليتونو او د حفظ او مراقبت خدمتونه وړاندې کړې. دغه قرارداد په شمال او جنوب کې د افغان ملي اردو او پوليسو تسهيلاتو تر پوښښ لاندې راولي. قراردادونه د يوه اساسي کال او څلورو اختياري کالونو په اساس رامنځ ته شوي دي. د پروګرام د مدير په وينا، ممکن دغه قرارداد ۶۶۰ کاري سيمې تر پوښښ لاندې راولي. د دغه قرارداد په اساس قراردادي موکلف دي چه

د عملیاتو او حفظ او مراقبت په ټولو برخو کې افغان کارکوونکي وروزي. اوس مهال د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر د قراردادونو د روزنې په اړه ځانګړې پلټنې پرمخ وړي.

## رواني څېړنې: قرارداد

سیګار اوس مهال د قراردادونو په اړه پنځه رواني پلټنې لري. نوموړې پلټنې په افغانستان کې د دولتدارۍ د ښوالي، د افغان ملي امنیتي پوځ لپاره د زیربنا د جوړولو او امریکا لخوا د تمویل کېدونکو بیارغونیزو سیمو لپاره د امنیت او خوندیتوب د وړاندې کولو په اړه دي.

### د ځای حکومتدارۍ او د ټولنو د پرمختیایي پروژو په اړه د USAID قراردادونه

د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي د هغه قراردادنو چه د USAID لخوا د محلي یا ځایي حکومتدارۍ او د کلیو د پرمختیا په برخه کې ترسره شوي دي ارزونې ترسره کوي.

### د کابل په نظامي روزنیز مرکز کې د رغونې چارې

سیګار په کابل نظامي روزنیز مرکز کې د زیربنا د رغونیزو چارو په اړه ارزونې ترسره کوي. د ۲۰۰۷ مالي کال څخه بیا تر ۲۰۱۰ مالي کال پورې، د انجینرۍ او چاپیریال لپاره هوایي ځواک (AFCEE) په نوموړي مرکز کې د دریو غیرمحدود ارایې/ او غیر محدود کمیت قراردادنو په اساس د پنځو ځانګړو چارو د پرمخ وړلو لپاره ۱۶۱ میلیون ډالره منلي دي. د دغه قراردادونو لاندې، AFCEE د لګښت-جمع – تعین شوی – فیس، شرکت- تعین شوې – قیمت، او د وخت او توکو د دندو سپارښتنه. دپلان جوړونه ، رغونې او نظارتي دندو په ګډون د دغو کارې سپرښتنو په اساس، کار د بشپړیدو مختلفو نیتو ته اړتیا لرې.

### د افغانستان په ملي امنیتي پوهنتون کې د رغونې چارې

سیګار د افغان ملي امنیتي پوهنتون (چه پخوا حربي پوهنتون) په نامه یادیدلو د رغونې په اړه د قراردادونو ارزونه ترسره کوي. AFCEE ترتمام شوې بیې برسیره- ثابت فیس د غیرمحدود ارایې/ او غیر محدود کمیت قراردادنو په اساس د کابل ولایت د قرغې په سیمې کې د افغان ملي امنیتي پوهنتون د رغونې قرارداد ورکړی دی. د قرارداد د ورکولو په وخت کې د نوموړې پروژې مجموعي لګښت ۷۰ میلیون ډالره سنجش شوی وو او پروژه باید د ۲۰۱۰ کال د جون په میاشت کې بشپړه شوې وای. د هغه وخت څخه راپدیخوا AFCEE د پروژې په اړه پنځه اصلاحات رامنځ ته کړي دي، چه په هغه کې د شرایطو زیاتول او کمول، د منل شوو پیسو شمیره ۸۳ میلیون ډالرو ته اوچتول او د پروژې د بشپړولو نیټه د ۲۰۱۱ کال د جون ترمیاشتي پورې غزول شامل دي.

### خصوصي امنیتي ملاتړیز خدمتونه (I)

سیګار غواړی چه معلومه کړي چه یا USACE د خصوصي امنیتي قراردادي لخوا د قرارداد سره سمې ټول امنیتي خدمتونه او په قرارداد کې رامنځ ته شوي اصلاحات ترلاسه کړي دي.

### خصوصي امنیتي ملاتړیز خدمتونه(II)

سیګار د هغه خصوصي امنیتي قراردادي په اړه چه USAID ته یو د سترو امنیتي خدمتونو وړاندي کوونکی قراردادي پلټنه ترسره کوي. نوموړې پلټنه، د مصارفو، تقسم اوقات او د فرعي قرارداد د پایلو په اړه او همدارنګه د قرارداد څخه د څار او نظار په اړه تمرکز کوي.

## رواني پلټنې

**قرارداد**

- د محلي حکومتداري او د ټولنې د پرمختیا لپاره د USAID قراردادونه
- د کابل په نظامي روزنیز مرکز کې د رغونې چارې
- په افغان ملي حربي پوهنتون کې د بیارغونې چارې
- خصوصي امنیتي حمایتي خدمتونه (I)
- خصوصي امنیتي حمایتي خدمتونه(II)

**د بیارغونې پروګرامونه او عملیات**

- د ANSF د موټرونو په اړه حساب ورکول
- د افغانستان د کرهنې سکتور د ظرفیت د لوړولو په برخه کې د امریکا د متحده ایالاتو مرستې او همکاري
- په افغانستان کې د ملکي وګړو د ژوند د سطحې لوړولو لګښت
- د USAID د مالي پلټنو په لړ کې د قراردادنو، د همکارۍ د تړونونو او د افغانستان د بیارغونې لپاره د ورکړل شوو پورونو په برخه کې د تحمیل شوو لګښتونو تر پوښښ لاندې راوستل
- د قرارداد کولو په اړه د افغان لومړني ابتکار تطبیق

## رواني ځيرنې: پروګرامونه او عمليات

سيګار د هغه پروګرامونو او عملياتو په اړه چه د افغان ملي امنيتي پوځ د جوړښت، د دولتدارۍ د پرمختګ، او د افغانستان د اقتصادي اساس د اېښودلو له کبله د امريکا لپاره مهمې دي پلټنه ترسره کوي.

### د افغانستان د ملي امنيت قواوو د وسايطو حساب ورکونه

د امريکا متحده ايالاتو تراوسه پورې د افغان ملي امنيتي پوځ ته په لسګونه زره موټر ورکړي او پلان لري چه د ۲۰۱۲ تر وروستيو پورې زرګونه نور موټر ورکړي. د دې موټرو زياته برخه د بهرنی نظامي خريداري د پروګرام (FMS) له طريقه چه د DSCA لخوا پرمخ وړل کيږي رانيول شوي دي. دغه پلټنه چه د موټرو په اړه ترسره کيږي، به د CSTC-A او د افغان ملي امنيتي پوځ هغه وړتياوې او قابليتونه چه د نوموړو موټرو په اړه يې د حساب ورکولو او د هغه څخه د ساتنې په برخه کې لري ډير تمرکز وکړي.

### د افغانستان د کرهنيزو ظرفيتونو د لوړولو په برخه کې د امريکا مرستې

د امريکا متحده ايالاتو د افغانستان د کرهنې د سکتور د پراختيا په موخه ۱،۴ مليارډ ډالره سرمايه ګذاري کړې ده. د امريکا د مرستو د اوږد مهال ثبات په موخه امريکايي ادارو د ظرفيتونو د لوړولو اړوندو فعاليتونو لپاره ۱۰۰ ميليون ډالره ورکړي دي، پدې هڅو کې د افغانستان د کرهنې د وزارت سره د کروندګرو لپاره د غوره خدمتونو د وړاندې کولو او د کرهنې د خصوصي سکتور د ودې په موخه د ظرفيتونو لوړول هم شامل دي. دغه پلټنه د کرهنې په سکتور کې د ظرفيتونو د لوړولو په هڅو باندې متمرکزه شوې ده.

### په افغانستان کې د امريکايي ملکي وګړو د ژوند د سطحې د لوړولو په برخه باندې لګښتونه او پايښت

په افغانستان کښې د امريکا د ستراتيژۍ يوه برخه په هغو ملکی هڅو پورې تړلې ده چې کولای شي د غوره حکمت جوړ او په هيواد کښې اقتصادی پرمختيا را منځ ته کړی. د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د ۲۰۱۱ کال د مې تر ۳۱ نيټې پورې ۱۲۲۳ ملکيانو ته جواز ورکړې. د بهرنيو چارو د عمومي پلټونکي د دفتر سره په ګډه ترسره کيدونکي دغه پلټنې د ملکي ژوند د سطحې د لوړولو په اړه د ترسره شوې پلټنې ادامه ده، او همدا شان په افغانستان کې د ملکي حضور د تقويې او بقا په موخه ترسره کيږي.

### د USAID د لګښتونو په اړه د مالي پلټنې پوښښ د قرارداد، د همکارۍ د هوکړې او د افغانستان د بيارغونې لپاره د قرضو سره سمون لري.

د USAID د ځانګړي عمومي پلټونکي په وينا، د ۲۰۰۲ څخه بيا تر ۲۰۱۰ مالي کال پورې د افغانستان د بيارغونې لپاره د USAID لخوا منل شوې مرستې حدوداً ۱۱،۷ مليارډ ډالرو ته رسيږي. USAID د دې شمير مرستو ډيرۍ برخه د قراردادونو، د همکارۍ د هوکړو او د قرضو په بڼه د قرارداديانو او د غيردولتي ادارو له لارې لګولې دي. د لګښتونو مالي پلټنې د دې مالي ميکانيزمونو سره د مرستو د ځانګړو اختصاصاتو چه په مستقيم او يا هم غير مستقيم ډول ځانګړې شوې د مرستو څخه د ځار په اړه ستر کمک کوي او ډيرې ګټورې تماميږي، همدا شان په داخلي کنترول کې نيمګړتياو په ګوته کوي او د اړوندو مقرراتو او قوانينو سره د چارو د تطابق په اړه معلومات وړاندې کوي. دغه پلټنه به د USAID د هغو هڅو سره مرسته وکړي چه غوړاې په قرارداد ورکړل شوو پروژو په اړه اړينې مالي پلټنې ترسره کړي.

### د قرارداد کولو په اړه د افغان لوموړني ابتکار تطبيق

په افغانستان کې امريکايي پوځ (USFOR-A) او په افغانستان کې د امريکا سفارت د اقتصاد د پياوړتيا، ظرفيت د لوړولو په موخه د قرارداد کولو په برخه کې افغانونو ته لومړيتوب ورکړی او مخاليفينو ته د مرستو ليږد د مخ نيوي په موخه يې د نوموړو افغان کمپنيو څخه د خدمتونو او وسيالو په برخه کې د امريکا د شرايطو سره د تطابق غوښتنه کړې ده. دغه پلټنه د افغان لومړي نوښت سره مرسته کوي

## عدلی څيړنې

د تعديل سره سم 181-110 عامه قانون په اساس سيګار ورانديز تر دې چه کاري موده يې پای ته ورسيږي موکلف ګرځوي چه د افغانستان د بيارغوني لپاره تخصيص شوي او يا هم ورکړل شوو مرستو او د هغه پروګرامونو او يا عملياتو په اړه چه دغه مرستې پکې لګول شوي کانګرس ته اړوند راپور وړاندي کړي. سيګار د افغانستان د بيارغوني لپاره د دريو سترو فندونو په اړه پلټنې ترسره کوي – د افغانستان د امنيتي ځواک فنډ (ASFF)، چه د امريکا د دفاع وزارت لخوا پرمخ وړل کيږي؛ د اقتصادي ملاتړ فنډ (ESF) چه د USAID لخوا پرمخ وړل کيږي؛ د مخدره توکو سره د نړيوالي مبارزي او د قانون د حاکميت حساب (INCLE) چه د امريکا د بهرنيو چارو د وزارت لخوا اداره کيږي سيګار به د دغه پلټنه په ترڅ کې د فساد، د مرستو څخه د ناوړې ګټې اخيستنې او د ټيکس ورکونکو د ډالرو څخه د ګټې اخيستلو په برخه کې د سرغړونو د معلومولو لپاره نوموړې پلټنې ترسره کوي.

### د DoD د عدلی څيړنو په ترڅ کښی د افغانستان د بيارغونو په اړه د معالوماتو انتقال او ليږدونه

د ۲۰۱۰ کال د مارچ په مياشت کې سيګار د افغان امنيتي پوځ فنډ په اړه د دفاع وزارت د تخصيص، مثل شوو او لګښتونو د انتقال د معلوماتو د ځرنګوالي د معلومولو لپاره بياکتنه په لاره واچوله. کانګرس د ۲۰۰۵ مالي کال راپديخوا چه نوموړي فنډ يعني ASFF رامنځ ته شوو تراوسه پوري نږدې ۳۹،۵ مليارډ ډالره تخصيص کړي دي. او د ۲۰۱۰ مالي کال تر پايه پوري نږدې ۱۲،۹ مليارډ ډالره يی مصرف شوي دي.

د ارزوني او ازمويني لپاره د اړينو معلوماتو راټول يوه ستره ننګونه ده ځکه هرکله چه د دفاع وزارت د ASFF لپاره پيسي په ومني، سمدلاسه يو زيات شمير پيسي د FMS د باوري فنډ حساب ته د مصرف په موخه حواله کيږي.

د ۲۰۱۱ کال د جون تر ۲۸مي نيټي پوري د دفاع مالي او حسابداری خدمتونو (DFAS) سيګار ته د ۵،۸ مليارډ ډالرو د لګښت په اړه دوسيي ورکړي دي کوم چه د FMS د حساب له لاري پروسس شوي دي. د دغه دوسيو په اساس يوازي محدود عدلي بياکتني ترسره کيدای شي ځکه په هغوی که يو شمير اړين معلومات نشته. سيګار اوس مهال د پاتې معلوماتو په لټه کې دي. همدا ډول د سيګار عدلي ټيم د موجودو معلوماتو په اړه کار کوي ترڅو د ځانګړو پلورونکو پيرندني په ګوته او معلومه کړي او د ټولو بايعو يا پلورونکو يو داسي ليست جوړ کړي چه د ټولو ادارو په کچه مربوطه معلومات پکې ذکر شوی وي سيګار به د دغه ليست څخه د اړوندو ادارو په اړه د عدلي پلټنې په ترڅ کې ګټه واخلي.

سيګار د ASFF اړوند د ۱،۷ مليارډ مصرف شوو هغه ډالرو په اړه عدلي بياکتننه ترسره کړي چه د USACE لخوا د ۲۰۰۵ مالي کال څخه بيا تر ۲۰۰۹ کال پوري لګول شوي وي( هغه مرستې چه د FMS له لاري نه دي ترسره شوي). دغه ازمويني د غيرعادي کړنو د پيرندني په موخه ترسره شوي وي، لکه د د دوګونو پيسو ورکولو پيښي او خارج شوو ډلو د لسيت په اړه د پلورونکو يا بايع په اړه. سيګار د انجينرانو د قطعي د مالي

### عدلي پلټنې

- د بيارغوني په اړه د دفاع وزارت د معاملاتو په اړه معلومات
- د بيارغوني په اړه د USAID د معاملاتو په اړه معلومات
- د بيارغوني په اړه د بهرنيو چارو وزارت د معاملاتو په اړه معلومات

مدیریتي سیستم (CEFMS) د لګښتونو د سند یا واوچرو په اړه د معلوماتو ته د لاس رسۍ په تمه دي ترڅو دغه استثنات او د اسناد راټولو منابعو په اړه بیاکتنه ترسره کړي.

## په افغانستان پورې اړوندو د انتقالی معالوماتو عدلی څیړنه او بیا کتنه

سیګار د ۲۰۰۲ مالي کال څخه بیا د ۲۰۱۱ کال د جولای تر میاشتې د هغه ۷،۴ ملیارډ ډالرو په اړه چه د ۷۳۰۰۰ انتقالاتو په لړ کې مصرف شوي دي د نومړو لګښتونو د استثناتو او اسناد راټولو د منابعو په اړه د USAID څخه د لا زیاتو معلوماتو غوښتنه کړې ده. د دغه اسنادو ډیری برخه په سیمه کې ځای پر ځای شوې ده چه د ځنډ اصلي لامل هم همدغه دي. سیګار همدا اوس د ۲۰۱۱ کال د مارچ د میاشتې سره سم د انتقال په اړه تازه معلومات ترلاسه کړي دي. دغه معلومات د نورو افاقي معلومات سره د سمون او کره والي په موخه پرتله او تصدیق کیږي. هرکله چه دغه چاري بشپړې شي، عدلي ډله به د ازموینو بله دوره پیل کړي. سیګار په هر درې میاشتني ډول د تازه معلوماتو په راټولو اقدام کوي او د USAID د انتقالاتو په اړه به دوامداره او مسلسل څار ته دوام ورکړي.

## د افغانستان د بیارغونې په اړه د امریکا د دفاع وزارت د معاملو معلومات

د ۲۰۱۰ کال د جون په میاشت کې سیګار د INCLE د حساب اړوند د انتقلاتو په اړه ارزونه په لاره واچوله، نوموړي ماموریت د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مې نیټې پورې ۲،۸۶ ملیارډ ډالره ترلاسه کړي دي. د ۲۰۱۱ کال د جولای په ۱۹مه سیګار معلومات ترلاسه کړل چه د ۲۰۰۲ مالي څخه بیا د ۲۰۱۱ کال د جون ترمیاشتې پورې ټول لګښتونه ۲،۴ ملیارډ ډالره ښایي. سیګار د معلوماتو د دقت او شفافیت په اړه بیاکتنه او د انتقال د معلوماتو په اړه عدلي ارزونه په لاره اچوي.

# تحقیقات

د راپور ورکولو په دې دوره کې، سیګار ۲۹ نوې قضیې پرانیستې او د هغه تحقیقاتو سره یې مرسته وکړه چه د پنځو تنو چه د هغه ډلې څخه د امریکایي پوځ د ذخیره افسرانو څخه یو تن د قرارداد د ورکولو په بدل کې د ۱ میلیون ډالرو د بډې یا رشوت د اخیستلو او دوه تنه نور امریکایان د هیروینو د ویش په برخه کې د دسیسې د جوړولو په تور د ګرفتارۍ په بیه تمام شول. سیګار هغه پر لیسې هڅې چه د افغان قانون تطبیق کوونکو ادارو سره یې ترسره کړې د دوو افغان وګړو د ګرفتارۍ په بیه تمامې شوې. سیګار همدا اوس د دندو څخه د ککړو چاراواکو د کوښکولو او د هغوی د دندو ځنډولو ته پراختیا ورکړې، دا کار لامل شوی چه امریکایي، افغان او یا هم د دریم هیواد اداري د خپلو کړنو په اړه کره حساب ورکړي. د دې پروګرام څخه د سیګار مقصد دادې چه هغه قراردادیان چه په فساد کې ښکیل پیژندل شوي او یا یې هم خپلې چارې په سمه توګه پرمخ نه دي وړې د بیارغونې په برخه کې د نورو قراردادونو د ترلاسه کولو څخه محروم او بې برخه کړل شي. پدې درو میاشتو کې سیګار د دندو څخه د لیرې کولو او یا هم ځنډولو په اړه ۶ پیښې ارجاع کړې دي.

## رواني قضیې

پدې درو میاشتو کې سیګار ۲۹ نوې تحقیقات پیل او ۱۵ یې وتړل، چه پدې سره د روانو تحقیقاتو شمیر ۸۹ ته رسیږي. د دې شمیر ډیری قضیې د خریدارۍ په برخه کې د فساد او بډې اخیستلو په اړه دي، او نوموړي حالات د سیګار د لومړیتونو څخه دي. د نویو قضیو د ډلې څخه ۱۴ یې د خریدارۍ په برخه کې د تقلب په اړه دي او ۱۰ نورې یې د ادعا سره سم د فساد او یا هم د بډو په اړه دي. پاتې پنځه نورې قضیې د دولتي اماکنو د غلا، د دندو د تعلیق او لیرې کولو او ملکي تحقیقاتو په اړه دي. ۱.۱ شمیره انځور د کټګورۍ په اساس د سیګار لخوا د روانو قضیو ښکارندوی کوي.

1.1 انځور

د سیګار تحقیقات: روان تحقیقات د 2011 کال د جون د میاشتې تر 30 نیټې پورې

ټول: 89




سرچینه: د سیګار تحقیقاتي ریاست، 7/1/2011

پدې درو میاشتو کې سیګار ۱۵ قضیې وتړلې. چه د یادو شوو پنځو له ډلې څخه څلور یې د قانوني اقدام په اخیستلو یعني یا خو د دندې څنډول او یا هم لیرې کول، د ګرفتارۍ معطل شوې پیښې او یا هم د حکومت سره د منصفانه تصفیه په پایله تمامې شوې دي. شپږ قضیو په کافي اندازه شواهد او ثبوته نه درلودل، او پنځه نورې قضیې د تحقیقاتي معیارونو د نه درلودلو په اساس وتړل شوې.

### د امریکایی پوځ ذخیر افسر د بډې په اخیستلو محکوم وپیږندل شو؛ او دوې نورې ګرفتارۍ هم ترسره شوې.

د ۲۰۱۱ کال د جون په میاشت کې د امریکایی پوځ د ذخیره افسرانو له ډلې څخه یو کس په فدراله محکمه کې د بډې په ترلاسه کولو او د هیروینو د ویش په برخه کې د دسیسې په جوړولو محکوم وپیږندل شوو. نوموړی افسر چه سیګار یې د روانو تحقیقاتو د خوندیتوب په خاطر د نوم اخیستلو څخه ډډه کوي اعتراف وکړ چه د ۲۳ میلیون ډالروپه ارزښت د یوه قرارداد د ورکولو په برخه کې د مرستې په بدل کې یې ۴۰۰۰۰۰ ډالره ترلاسه او د وعدې سره سم یې باید ۱ میلیون نور ډالر د بډې په شکل ترلاسه کول. دغه ګډ تحقیقات د سیګار لخوا په لاره واچول شول او په هغه کې د قراردادونو په اړه د فساد سره د مبارزې نړیوالې اداری(ICCTF)، د مخدره توکو پر وړاندې د قانون د حاکمیت اداره (DEA)، او د کورني امنیت د مهاجرت او ګمرکاتو ریاست (DHS-ICE) استازو ګډون درلود. تحقیقات د DEA د هیرینو او د مخدره توکو د قاچاق په اړه د دسیسو د جوړولو په تور د ګرفتارۍ لامل شوو، دا هرڅه د پورته یاد شوي د محکومیت څخه شپږ ورځې وړاندې ترسره شول.

فدرال مسولینو د امریکایی پوځ پورته یاد شوی کس د ۲۰۱۱ کال د ویرجنیا په ایالت کې پداسې حال کې ګرفتار کړ چه غوښتل یې بډو په شکل د هوکړه شوې پیسو د شمیر څخه ۵۰۰۰۰۰ نقدې پیسې ترلاسه کړي. د بډې اخیستلو برسیره فدرال ادارو هغه د هیروینو د ویش او د مخدره توکو د قاچاق په موخه د دسیسې د جوړولو په تور هم تورن کړ.

دغه تحقیق د ۲۰۱۰ کال د اپریل په میاشت کې وروسته ترهغه پیل شوو چه سیګار معلومات ترلاسه کړل چه د ذخیره افسرانو له ډله یو کس غواړي چه د ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کالو ترمنځ د بیارغونې د یوه قرارداد د ورکولو په برخه کې د خپل صلاحیت او نفوذ په بدل کې رشوت ترلاسه کړی دي. سیګار ته همدا ډول معلومه شوه چه نوموړي کس چه لا د پخوا یې افغانستان پرېښی وو د هوکړې سره سم یو زیات شمیر پیسې لا د قراردادي څخه



**د پلټونکو یوې ډلې**د جون په میاشت کې په کندهار ولایت کې د بډو او رشوت د اخیستلو په تور د یو افغان قراردادي د نیولو لپاره چمتو کیږي. نوموړې ګرفتاري د سیګار، د ICCTF د نورو غړو، افغان ملي پولیسو څارنوالانو او د افغان محققینو لخوا تر یو ګډې پلټنې وروسته ترسره کیږي. (د سیګار انځور)

نه دي ترلاسه کړې او د هغه په تمه دي. د ICCTF د استازو سره په همغږۍ، سیګار د یوې جرمي پیښې په اړه تحقیق پیل کړ او داسي یو پلان یی جوړ کړ چه د رشوت د دغه ستړې پیښې په اړه نوموړۍ تورن کس خبرو اترو ته راکیکاږي. د ۲۰۱۰ کال په دوبي او منې کې سیګار د نوموي افسر د برښنالیک اړیکه ټینګه کړه، او هغه ولیکل چه هغه د ځانګړي قراردادي د یو قرارداد د جهت ورکولو په بدل کې د هوکړو شوو پیسو زیاته برخه په راتلونکي کې ترلاسه کوونکی دي.

د سیګار اجینټ د ICCTF د استازي سره په ګډه د ۲۰۱۰ کال په نیمایی او د ۲۰۱۱ کال په لومړیو کې د نوموړي افسار سره زیات شمیر لیدنې ترسره کړې. د ملاقاتو په دغه لړۍ کې چه په الکترونیکي ډول څارل کیدلې یادشوې افسر جوته کړه چه په څه ډول یی د قرارداد د ورکولو په برخه کې د خپل نفوذ څخه کار اخیستی دي، ځانګړي قراردادیان او ټول شامل قرادادیان یی په ګوته کړل، او د هغه شمیر پیسو په اړه چه د نوموړي افسر د بډې په شکل ترلاسه کړي وو مفصل معلومات ورکړل او د همدا ډول یی د هغه شمیر پیسو په اړه چه د وعدې سره سم باید په راتلونکي کې دی ترلاسه کړي معلومات ورکړل. همدا ډول نوموړي افسر پدې اړه هم معلومات ورکړل چه په څه ډول هغه د افغانستان څخه امریکا ته دغه پیسې انتقال کړې دي. نوموړي افسر په خپلو بیانیاتو کې دا هم وویل چه د افغان قراردادي څخه د زیات رشوت په راټولو کې یو افغان جنګ سالار ورسره مرسته کړې ده.

د فدرالي ادارې د یو مخفي مامور سره په لیدنه کې نوموړي افسر د جنوبي لویدیځې اسیا څخه امریکا ته هیروینو د قاچاق په اړه هم خپل نیت او علاقه څرګنده کړه. پدغه مرحله کې سیګار د DEA څخه غوښتنه وکړه چه په تحقیقاتو کې ورګډ شي. وروسته دغه افسر د سیګار سره مرسته کوونکي منبع د هیروینو د قاچاق په برخه کې کارکوونکو ته ورمعرفي کړه، هغوی په خپل وار سره د جنوب ختیځې اسیا د هیروینو په رانیولو کې خپله علاقه بیان کړه. DEA د دغه کسانو په اړه لا د پخوا معلومات درلودل.

## سیګار د افغان ادارو سره د تحقیقاتو او ګرفتاریو په ترسره کولو کې مرسته او ملاتړ کوي.

د ۲۰۱۱ کال د جون په میاشت کې د افغانستان د شفافیتتحقیقاتي ادارې (ICCTF ،(ASIU او د سیګار ترمنځ



**د سیګار پلټوونکو** د جون په میاشت کې د هغه افغان وګړی په نیولو کې ونډه درلوده کوم چه د امریکا لخوا د تمویل کیدونکې بیارغونیز قراردادي څخه د بډو غوښتنه کړې وه. دا د یو افغان وګړي د نیولو لومړنی پېښه وه چه د امریکا د قانون پلي کوونکو ادارو او د افغان شفافیت د تحقیقاتي واحد لخوا د ګډ کار او همکاري په نتیجه کې ترسره شوه. (د سیګار انځور)

د ګډې همکارۍ په پایله کې یو افغان وګړی چه په کابل هوایي ډګر کې د USACE لپاره د خدمتونو د وړاندي کوونکي قراردادي څخه یې د ۱۵۰۰۰۰ ډالرو د رشوت غوښتنه کړې وه په ګرفتارۍ او نیولو تمامه شوه. دغه قضیه په خپل نوعیت کې لومړۍ ده چه د امریکا د قانون د تطبیق کوونکو او د ASIU ترمنځ ته ګډ کار په ترڅ کې یو افغان وګړی ګرفتار شي. دغه قضیې د امریکایي نظامي او افغان مشرتابه ترمنځ ته لوړه کچه د ګډې همکارۍ او کار په اړه علاقه رامنځ ته کړه.

دغه یاده شوې پلټنه سمدلاسه وروسته ترهغه پیل شوو چه ICCTF یو شکایت ترلاسه کړ په کوم چه ویل شوي وو چه د محمد ادریس قاسیمي په نامه یو افغان ژباړن د امریکا لخوا د تمویل کیدونکي یوه قراردادي څخه د رشوت غوښتنه کړې ده. د ASIU سره د رامنځ ته شوو اړیکو له لارې، د سیګار اجینټ د افغان لوی څارنوالي سره د ګډې پلټنې او تحقیقاتو د ترسره کولو په اړه غوښتنه مطرح کړه. د لوی څارنوالي د مرستیال ښاغلي ډاکټر رحمت الله نظري تر مشرۍ لاندې د ASIU دوو تحقیقاتي څارنوالانو د پلټنو چارې تنظیم کړې. سیګار ۲۰۰۰۰ ډالر د پیشکي په ډول قاسمي ته د ورکولو په موخه ورکړل. افغان مسولینو سمدلاسه وروسته ترهغه چه قاسمي پیسې واخیستلې هغه ګرفتار کړ، او د افغان ملي پولیسو د ۱۰ حوزې پلیسو هغه ونیو. د سیګار او ICCTF کارکوونکو د قاسمي د ګرفتارۍ او د افغان ملي پولیسو د وروستیو کړنو د پیښو څخه نظارت کاوه هغه ۲۰۰۰۰ ډالره بیرته سیګار ته ورکړل شول.

### د بډو د ورکولو په تور افغان قراردادي ونیول شو

د ۲۰۱۱ کال د جون په میاشت کې د سیګار او د ICCTF د غړو ترمنځ د هغه ګډ کار په پایله کې چه په قندهار

ولایت کې د افغان ملي پولیسو د جرمي تحقیقاتي ریاست (CID) او افغان څارنوالانو سره په همغږۍ ترسره شول د هغه افغان قراردادي په ګرفتارۍ تمامه شوه چه د قندهار په هوايي ډګر کې میشت د USACE د قرارادادنو کارپوه ته یې دوه ځلې د بډې د ورکول هڅه کړې وه. د USACE د قراردادونو کارپوه ته د یو ناغوښتل شوي برښنالیک په ترڅ کې چه د ۲۰۱۱ کال په اپریل میاشت کې لیږل شوی وو معلومه شوه چه قراردادي د پولیسو د یوې سرحدې پوستې د رغولو د قرارداد د ترلاسه کولو په موخه نوموړي کارپوه ته د بډې وړاندیز کړی وو. د USACE کارپوه سمدلاسه سیګار او ICCTF ته پدې اړه خبر وکړ. د ۲۰۱۱ کال د جون په میاشت کې نوموړي قراردادي د ۵ څخه تر ۱۰ میلیون ډالرو په ارزښت د اطفایې یا اور ګولو هغه دوو نویو پروژو د قرارداد د ترلاسه کولو په موخه چه د افغان ملي پولیسو لپاره نوې رغول کیدې او ټول ارزښت یې د ۵ څخه تر ۱۰ میلیون ډالرو اټکل شوی وو په منظم برخو کې د ۴۰۰۰۰۰ ډالرو بډو د ورکوو په اړه دویم برښنالیک واستاوه. د نوموړي قراردادي د نیولو ترڅنګ افغان ملي پولیسو د جرمي تحقیقاتي ریاست (CID) د نوموړي قرادادي موټر او هغه پیسې چه هغه لیږدولې ضبط کړې.

## سیګار د دندو د ځنډولو او د دندو څخه د لیرې کولو په درشل کې

پدې ربع کې سیګار د بیارغونې چارې پرمخ وړونکو امریکایي ادارو ته د اشخاصو او یا هم قراردادیانو د دندو د ځنډولو او یا هم د دندې څخه د لیرې کولو شپږ موارد ارجاع شوي دي، چه پدې سره د ۲۰۰۹ کال راپدیخوا د نوړو پیښو شمیره ۳۲ ته رسیږي. د پیښو د ارجاع دغه پیښې د بشپړو شوو تحقیقاتو او د اړوندو ادارو لپاره د نوموړو پیښو د لازمه اقداماتو د اخیستلو لپاره د ټولو اړینو اسناد د پوره کولو په پایله کې رامنځ ته شوې دي. سیګار همدا ډول د قراردادي لخوا د حساب ورکولو په اړه د چارو د لا ښه سمون او د هڅو د ګړیندیتوب په موخه پخوانی او با تجربه وکیل په دنده ګمارلی ترڅو لاندې درې ګامونه اوچت کړي:

- هغه قراردادیان چه ګمان کیږي په فساد کې ښکیل او یا یې هم د پوښتنې وړ چارې پرمخ وړي دي په ګوته او مشخص کړي
- د دندو څخه د ګکړو مسولینو د کوښه کولو او د هغوی د دندو د ځنډولو په اړه اړینې سپارښتنې وکړي.
- د دندو د ځنډولو او یا هم د دندو څخه د لیرې کولو د پیښو په اړه د محققینو او پلټونکو لپاره د روزنیز پروګرامونه په لاره واچوي ترڅو د نوموړو روزنو څخه په ګټه اخیستلو نوموړي مسول کسان د پیښو په اړه د پریکړو کولو لپاره ټول اړین معلومات او اسناد په لازم شکل چمتو او د دغه شان معلوماتو د راټولو لارې چارې زده کړي.

د دندو څخه لیرې کول او یا هم د دندو ځنډول قراردادي ټولنې ته په زغرده پیغام رسوي چه د افغانستان د بیارغونې په برخه کې فساد او تر پوښتنې لاندې کړنو ته په هیڅ ډول اجازه نه ورکول کیږي او داسې چارې د زغمولو وړ نه دي. د هغه قراردادیانو د چارو بندول او د هغه په کړونو باندې بندیز لګول چه نه دي توانیدلي مربوطه چارې په سم او لازم ډول پرمخ یوسي امریکایي ادارو ته داډ او اطمینان ورکوي چه په قراردادونو کې مصرف کیدونکې ډالر په مشروع ډول په افغانستان کې په اړوندو برخو کې لګول کیږي. دغه کړنې به د انحصار د قدرت د راکمولو، د واسطې د سیستم د ضعیفولو، او د مخالیفینو د شبکو څخه د پیسو د منع کولو له لارې د بیارغونې په برخه کې د امریکا د ستراتیژیکو موخو د ترلاسه کولو په برخه کې ستر کمک وکړي.

د تحقیقات لپاره د سیګار لوړ پوړی وکیل به په هره قضیه کې د هغه د پیل سره سم په قضیه کې دخیل وي. د هر تحقیق په جریان کې به سیګار د دندو څخه کوښه کول او د دندو ځنډول او د قضیو جدیت او اهمیت ته په کتو د ملکي او جرمي کړنو لپاره عدلي ریاست ته د هغه د ارجاع کولو به د اړینو اصلاحي ګامونه په توګه وکاروي.

د دندو د ځنډولو او یا هم د دندو څخه د لیرې کولو د نوښت د یوې برخې په توګه سیګار یو داسې پروګرام

رامنځ ته کوي چه په هغه کې د سیګار او یا هم د نورو ادارو لخوا د فساد او یا تر پوښتني لاندي فعالیتونو کې ښکیلې اداري په ګوته او هغه وپیژني او پدې اړه ترسره شوی وي تحقیقات د ځان سره ثبت او ریکورډ کړي. سیګار به دا ډول پیښې اړوندې اداري ته د دندې څخه د کوښه کولو او یا هم د مربوطه کس یا قراردادي د دندې د ځنډولو لپاره مربوطه اداري ته ولیږدوي. سیګار پلان لري چه د نورو جرمي تحقیقاتي ادارو څخه د نوموړي پروګرام د بشپړولو لپاره معلومات ترلاسه کړي. په ۲۰۱۰ کال کې د امریکایی پوځ د سترو خریداریو په برخه کې د فساد سره د مبارزې واحد څخه د لوی کمک او مرستي په ترلاسه کولو سره اوس سیګار توانیدلای دي چه په فساد او یا هم په ناوړو کړونو کې د ښکیلو کسانو د دندو د ځنډولو او یا هم د دندې څخه د هغوی د لیري کولو په اړه په غوره ډول چلند وکړي. پدې ربع کې د دې هڅو په پایله کې سیګار شپږ کسان د پوځ ادارو ته د چارو څخه د لیري کولو په موخه لیږدولي دي. د ۲۰۱۱ کال د جون تر ۳۰مې پورې د سیګار لخوا وړاندي شوي سپارښتني د دندو څخه د ۳ کسانو د کوښه کولو په بیه تمامي شوي دي. د دې دریو میاشتو په ترڅ کې د شپږو موارد په ګډون سیګار د دندو څخه د لیري کولو اویا هم د دندو د ځنډولو په اړه ۳۲ موارده ارجاع اویا هم اړوندو ادارو ته لیږدولي دي.

## سیګار په افغانستان کې خپل تحقیقاتي کارکونکي زیاتوي

د دې دریو میاشتو په ترڅ کې سیګار په کابل کې په خپل تحقیقاتي ریاست کې د بهرنیو خدمتونو د دوو ملي محقیقنو بستونه زیات کړل. دغه محقیقانین په افغانستان کې د امریکا سفارت د سمیز امنیتي دفتر لخوا ازمویل او ارزول شوي او د سختو امنیتي او سابقي معیارات او شرایطو سره سم او اړتیاوې یې پوره کړي دي. هغوی هغه ژبني او فرهنګي وړتیاوې او تجربې د ځانه سره لري کوم چه د سیګار د کړنو لپاره د افغان حکومتي مسولینو او افغان وګړو سره د اړوندو چارو د پرمخ وړلو لپاره اړین پوره کوي. په دندو ګمارل شوي دواړه نوي افغان محقیقاین په امریکایی قانون تطبیق کوونکو ادارو او نظامي ځانګو کې د کلنو تجربه او سابقه لري.

دواړه محقیقین به په مستقیم ډول په سیمه کې د سیګار د ځانګړي مسول سره د مرکو په ترسره کولو، شواهدو راټولو او د اسناد د بیاکتنو په اړه چارې پرمخ یوسي. هغوی به په افغانستان کې د سیګار کاري سیمو ته سفرونه وکړي ترڅو د سیګار د وکیل سره د قضیو د پرمخ وړولو، د معلوماتو د راټولو او د اطلاعاتو د انکشاف، او د ولایتي بیارغوني د ډلو سره د فساد پر وړاندې د عامه پوهاوي په برخه کې کار وکړي.

## د سیګار د شکایتونو د تنظم سیستم او تک لاره

د درو میاشتو په ترڅ کې سیګار د شکایتونو ځانګې ۷۱ شکایتونه ترلاسه کړي دي. د دې ډلې څخه سیګار ۶ موارده د لا زیاتو تحقیقاتو په موخه خپلو وکیلانو(اجینټ) ته سپارلي، ۶ نور یې نورو ادارو ته لیږدولي، د ۱۴ قضیو په اړه بیاکتني ترسره کوي، د ۱۶ په اړه ارزوني ترسره کوي او ۲۹ نور یې تړلي دي. د سیګار محقیقین ۳۰ ورځې وخت لري ترڅو معلومه کړي چه شکایتونه د لا زیاتو تحقیقاتو شرایط پوره کړي او یا هم نورو ادارو ته د لیږد د معیارونو سره سم دي او که څنګه. د سیګار د شکایتونو ځانګې د ۲۰۰۹ کال راپدیخوا تراوسه پورې ۶۳۷ شکایتونه ترلاسه کړي دي.

## د سیګار بودیجه

د ۲۰۰۸ کال راپدیخوا چه د سیګار د تاسیس کال دي بیا تر ۲۰۱۱ مالي کال پورې د امریکا کانګرس د سیګار د عملیاتو د ترسره کولو په موخه ۷۱،۶ میلیون ډالره تخصیص کړي دي. د ۲۰۱۲ مالي کال لپاره د سیګار لخوا درخواست شوی د ۴۴،۴ میلیون ډالره په ارزښت بودجه به سیګار ته اجازه ورکړي چه د ۲۰۱۲ کال لپاره چه



**سرپرست ځانګړی عمومي پلټونکی** ښاغلی هاربرټ ریچارډ به د نویو پلټونکو او محقیقینو د لوړې مراسم  د جون په میاشتې کې ترسره کړی. پدې درو میاشتو کې د بیارغونې په برخه کې مرستو زیاتوالی موندلې، او سیګار هم د فساد، ناوړې ګټې اخیستلو او د مرستو ضیاع څخه د مخ نیوي او پیرندنې په موخه خپلې هڅې ګړندی کړیدي. (د سیګار انځور)

د بارک اوباما لخوا د افغانستان د بیارغونې هڅې به ۱۷،۳ ملیارډ ډالرو ته اوچتې شي د پلټونکو او محقیقینو په ګمارولو سره اړوندې چارې په سمه توګه پرمخ یوسي.

## د سیګار کارکوونکي

د سیګار کاري ډله د ۱۲۱ فدرال کارکوونکو څخه جوړه شوې ده. په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ کال کې د بیارغونې په برخه کې د مرستو زیاتوالي ته په پام سره سیګار هوډ لري چه د ۲۰۱۲ مالي کال لپاره د خپلو کارکوونکو شمیره ۱۸۰ کارکوونکو ته اوچته کړي.

په کابل کې د امریکا د سفارت او د USFOR-A سره د ترسره شوې هوکړې له مخې سیګار کولای شي خپل ۳۳ کارکوونکي په امریکایی سفارت او ۱۲ په نظامي مرکزونو کې ځای پر ځای کړي. د سیګار پلټونکي او محقیقین اوس مهال د افغانستان په زیات شمیر برخو کې کار کوی. د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی همدارنګه د خدماتو لپاره دوه د خارجې تابعت لرونکې هم خپل د کابل په دفتر کې په دنده ګمارلې دي. برسیره پردې سیګار د لنډ وخت لپاره د نیمه ورځې کارکوونکو سره چه په افغانستان کې ځای پر ځای شوي دي خپلو مرستو ته دوام ورکوي.

**د پولیسو روزنه**

په کندهار ولایت کې د جون په شپږمه د امریکایی ځواکونو سلاکاران په کندهار ولایت کې د افغان ملي اردو لپاره په یو سمیز روزنیز مرکز کې د توپ خانې د تمریناتو څخه کتنه کوي. امریکایی کارپوهان د سمیز لوژیستکي مرکز سره په پرلپسې توګه په تماس دي او د پولیسو د روزنې په برخه کې د پرمختګ څخه څارنه کوي.

( د امریکایی د هوایی ځواک انځور، ستردلګۍ مشر ستیفن ډي.سچیسټر)

# 2

# افغانستان عمومي کتنه



“مونږ به د [افغانستان] په ټولو کوڅو کې پولیسو ځای پر ځای او یا د دې هیواد غرونه په غیر محدود ټول تر پوښښ لاندې را نه ولو. دا د افغانستان د حکومت مسولیت دي.... هغه څه چه مونږ یی کولای او و به یی کړو هغه دا دي چه د افغان وګړو سره خپلو همکاریو ته دوام ورکړو او د تروریستانو په نښه کولو او د یوي قوي او باثباته افغان حکومت د رامنځ ته کولو په موخه به خپلو هڅو ته دوام ورکړو“.

—د متحده ایالاتو ولسمشر باراک اوباما

سرچینه: د امریکا ولسمشر باراک اوباما، “ په افغانستان کې د وړاندي پرمختګ په اړه د ولسمشر څرګندونې”، ۶/۲۲/۲۰۱۱.

# د افغانستان عمومي کتنه

د دې دریو میاشتو په لړ کې سیګار یو شمیر داسي کړني او ګامونه ولیدل چه په افغانستان کې به د بیارغوني هڅې اغیزمني کړي. تر ټولو مهم، امریکا او د هغه نړیوالو ملګرو افغان ملي امنیتي ځواک یا ANSF ته د امنیتي چارو د لیږد لړی پیل کړه. ولسمشر باراک اوباما اعلان وکړ چه باید امریکا د افغانستان څخه د خپلو سرتیرو د وتلو لړی پیل او افغان حکومت باید د هیواد په ۷ برخو کې د امنیت د چارو مسولیت پر غاړه واخلي.

یو زیات شمیر نور پرمختګونه به هم د افغانستان د بیارغوني پر هڅو اغیزه وکړي.

- په کابل کې د امریکا نوی سفیر او د نړیوالې قوې نوی قوماندان کابل ته راورسیدل.
- د استازو خوني(ولسي جرګې) په خپل وار سره د ۲۰۱۲ مالي کال د ملي دفاع د تخصیصاتو قانون تصویب کړ، د نوموړي طرحي په اساس به د افغانستان د بیارغوني د پروګرام په موخه به د امریکا د دفاع وزارت (DoD) ته ۱۴ ملیارډ ډالره ورکړي.
- د سنا د بهرنیو چارو کمیټې د افغانستان سره د ترسره شوو بهرنیو مرستو په اړه یو راپور خپور کړ.
- کانګرس د افغانستان په اړه زیات شمیر استماعیه غونډې درلودې.
- د امریکا بهرنیو چارو وزارت (DoS) هغه اسناد چه د بیارغوني د فنډ څخه د ګټې اخیستلو لپاره اړین دي تقسیم کړل.

## د امنیت انتقال پیل شوو

د ۲۰۱۱ کال د جون په ۲۲مه، ولسمشر باراک اوباما اعلان وکړ چه د ۲۰۱۱ کال تر پایه پورې به د افغانستان څخه ۱۰۰۰۰ سرتیري وباسي او د ۲۰۱۲ کال تر دوبي پورې به ۲۳۰۰۰ نور سرتیري د افغانستان څخه ویستل شي. دغه سرتیري د هغه نظامي ماموریت برخه وو چه په کال ۲۰۰۹ کې یې خپلې چارې پیل کړې وې. ولسمشر زیاته کړه د القاعده شکست ته په کتو، د طالبانو د روحیې کمزورتیا او افغانستان څخه د افغان ملي امنیتي ځواک وړتیاو ته په کتلو اوس د دې وخت رارسیدلی چه امریکا نوموړې شمیر سرتیري د افغانستان څخه وباسي.

د روان کال د جولای میاشتې په پای کې یو شمیر امریکایي سرتیري د کابل ښار د نسبتاً ارامو سیمو څخه وتل پیل کړل. په عین وخت کې افغان ملي امنیتي ځواک (ANSF) په ۷ برخو کې لومړني امنیتي مسولیتونه پر غاړه واخیستل، پدې سیمو کې د پنجشیر، بامیان او د کابل ډیری سیمې شاملې دي. ANSF په څلورو مهمو ښارونو کې د امنیتي چارو مسولیت پرغاړې اخلي: هرات، مزار شریف، مهترلام او لشکرګاه. امریکایي مسولین اټکل کوي چه د افغانستان ۲۵٪ وګړي پدې برخو کې هستوګنه کوي.[1]

ولسمشر د سرتیرو په شمیر کې دغه کموالې د امنیتي چارو د انتقال د لړی یوازې پیل وباله او تاکید یې وکړ چه باید د تیرو لسو کلونو لاس ته راوړني حفظ شي. ولسمشر باور لري چه په افغانستان کې د سولې او ټیکاو په موخه سیاسي روغه جوړه اړینه ده، د امریکا متحده ایالات به د افغانستان د سولې له نوښت څخه ملاتړ وکړي او په سیاسي ډګر کې دهغه طالبانو سره چه د القاعده سره خپلې اړیکې پرې، د تاوتریخوالې څخه لاس په سر او د افغانستان اساسي قانون ته درنښت ولري د افغان دولت د سولې د خبرو او نوښت څخه ملاتړ وکړي.

د ناټو په مشري ایساف او امنیت د انتقال د همغږۍ افغان کمیسیون په ګډه د انتقال د پروسې د مناسب پرمختګ په موخه یو دوه مرحله یې پروسي پلان طرحه او چمتو کړې ده. په لومړۍ مرحله کې، چارواکي په هغه سیمو کې چه د انتقال پروسه پکې تطبیق کیږي د حالاتو په اړه ارزوني او سلامشورو ته ځانګړي شوي؛ په دويمه مرحله کې به چارواکي د انتقال د بشپړېدو په موخه اړين ګامونه اوچت کړي. د ارزوني په مرحله کې به د امنيتي چارو د پوره کولو په برخه کې د افغان ملي امنيتي ځواک وړتياوې او همدا ډول د افغان حکومت د وړتياوو جاج واخيستل شي. سيګار د افغانستان د ملي امنيتي ځواک د چمتو کولو په اړه درې رواني پلټني لري. دوې د مهمو زيربنايي پروژو د قراردادونو په اړه، او يو بل تحقيق ANSF سره د امريکا لخوا د موټرونو د مرستې په اړه دي. د پلان جوړوني د يوې برخې په توګه، افغان حکومت د نړيوالې ټولنې څخه غوښتنه کړې چه د حکومت سره موازي تشکيلات د منځه يوسي – د بېلګې په ډول د ولايتي بيارغوني ډلې (PRTs) ترڅو د افغان ادارو وړتياوې او ظرفيتونه لوړ، اړين خدمتونه وړاندې او پرمختايي پروژو د مديريت چارې په سمه او اړينه توګه پرمخ يوړل شي.[2]

## نوي ملکي او نظامي مشرتابه

د افغانستان لپاره د امريکا نوی سفير، ښاغلی راين کروکر او د په افغانستان کې د ميشتو ايساف او امريکايی سرتيرو نوی قومندان ښاغلی جنرال جان الن د جولای د مياشتې په اخر کې کابل ته راورسيدل.

سنا ته په خپله تاييدي غونډه کې ښاغلي سفير راين کروکر وويل چه په افغانستان کې د يو باثباته انتقال لپاره حالات او شرايط مناسب او رامنځ ته شوي خو هغه په عين وخت کې زياته کړه چه په افغانستان کې حالات اوس هم نازک او منځه تلو د خطر سره مخامخ دي. هغه همدا شان زياته کړه چه افغانستان اوس هم د دولتدارۍ، د قانون د حاکميت، د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې او د اقتصادي پرمختګ په برخه کې د سترو ننګونو سره

### د سيګار پلټني

سيګار د افغان ملي امنيتي ځواک(ANSF) د موټرو د اړتيا، د امريکا د مرستو له طريقه د رانيول شوو موټرو په اړه د CSTC-A او ANSF د حساب ورکولو د ظرفيت او د CSTC-A د هغه پروسو په اړه چه د ANSF لخوا د موټرو د تنظيم په اړه دي يوه پلټنه ترسره کوي. د لا زياتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړي ١ برخې، ١٧ پاڼې ته ستانه شي.

مهم عناصر، اکتوبر -2001 جولای 2011

**2002 مالي کال**
کانګرس د افغانستان د بيارغوني په موخه 1،06 مليارډ ډالره تخصيص کړل د ESF او د INCLE د چارو د پيل په موخه تخصيصات پيل شول.په هيواد کې سرتيري: امريکايی 5200؛ ايتلاف – 4700

**2003 مالي کال**
کانګرس د بيارغوني د چارو لپاره 1،01 مليارډ ډالره تخصيص کړي (مجموعه: 2،08 مليارډ ډالر) په هيواد کې سرتيري: امريکايی 10400؛ ايتلاف – 5000

10/2001: د عملياتو دوام ازادي پيل شوه.

12/2001: د بن په غونډه کې د حامد کرزي په مشرۍ انتقالي اداره رامنځ ته شوه. ايساف د ملګرو ملتونو د امنيت شورا لخوا رامنځ ته شوه.

1/2002: د ټوکيو کانفرانس داير شوو؛ امريکا د 297 ميليون ډالرو تعهد وکړ.

3/2002: يونما تاسيس شوه.

6/2002: د حامد کرزي په مشرۍ افغان موقته اداره د بيړنۍ لويې جرګې په ترڅ کې رامنځ ته شوه.

8/2003:
د ناټو لخوا د ايساف لومړنۍ ماموريت ترسره شوو.

يادونه: د دغه فعاليتونو څخه د اغيزمنو شميره.

مخامخ دي.[3] ښاغلي سفير وويل چه په افغانستان کې د نوموړي يو مهم مسوليت د ترسره شوو مرستو د اغيزمنتيا او د هغه په اړه د حساب ورکولو يقيني کول دي.[4]

د بيارغوني په برخه کې، په افغانستان کې د ايساف او امريکايی سرتيرو(USFOR-A) نوي قومندان، جنرال الن لومړيتوب د افغان ملي امنيتي ځواکونو جوړول دي. USFOR-A همدا ډول د بيارغوني د فنډ څخه د افغان محلي پوليسو (ALP) ، د افغانانو په مشرۍ د ملکي ژوند ته د مخالفينو د بيرته راستنولو او زيات شمير حکومتي او پرمختيايی پروژو د ترسره کولو لپاره هم ګټه اخلي. ولسمشر باراک اوباما د ۲۰۱۲ مالي کال لپاره د کانګرس څخه د نوموړو پروګرامونو د ترسره کولو لپاره د ۱۴ مليارډ ډالرو مرستو غوښتنه کړې ده. د دغه شمير مرستو ډيرۍ برخه تقريبا ۱۲،۸ مليارډ ډالره به د افغان ملي امنيتي پوځ د وړتياو او توان په تقويې او پراختيا باندي ولګول شي.

“ بې له شکه که چيري افغانستان غواړي چه د خپل راتلونکي تقدير پاڼه په خپله واړوي او غواړي چه پرمخ ولاړ شي بايد د دولتدارۍ، د قانون حاکميت او د فساد پر وړاندي د مبارزې په شان موضوعاتو ته جدي پاملرنه وکړي. ”

—— د امريکا سفير راين کروکر

سرچينه: د سنا د بهرنيو اړيکو د کميټې د پوښتنو پر وړاندي د راين کروکر څرګندونې، ۶/۸/۲۰۱۱.

## د ۲۰۱۲ مالي کال لپاره د ملي دفاع وزارت د صلاحيتونو قانون (NDAA)

د ۲۰۱۲ کال د (NDAA) چه د امريکا د دفاع وزارت د پروګرامونو لپاره نوي حقوقي/قانوني صلاحيتونو رامنځ ته او يا نوي کوي پدې ربع کې د کانګرس څخه تير شوو. د مې د مياشتي په ۲۶ د امريکا د استازو خونې( ولسي جرګې) خپله طرحه تصويب کړه، او د جون په ۲۱مه د سنا د نظامي خدمتونو کميټې هغه منظوره او نوموړې طرحه د عمومي سنا ته وليږدوله.

دواړي طرحې به د امريکا د ولسمشر د غوښتني سره سمې د افغان ملي امنيتي ځواک د روزنې، تجهيز او د نوموړي ځواک د ځای پر ځای کولو لپاره ۱۲،۸ مليارډ ډالره ورکړي. برسيره پردې به نوموړې دواړې طرحې د قومندان د عاجل عکس العمل پروګرام (CERP) ته ۴۰۰ ميليون ډالره او په افغانستان کې د عملياتو د ثبات او سوداګرۍ د قوې (TFBSO) لپاره ۱۵۰ ميليون ډالره ځانګړي کړي. که څه هم جرګې د افغانستان د زيربنايی

### FY 2004

کانګرس د بيارغوني لپاره 2،60 مليارډ ډالره تخصيص کړل (مجموعه: 4،68 مليارډ ډالره)CERP او DoD CN فنډ سره مرستې پيل شوې. په هيواد کې سرتيري: امريکايی - 15200 ايتلاف – 8000

1/2004: لويه جرګې اساسي قانون تصويب کړ.

10/2004: لومړي ولسمشريزي ټاکني ترسره شوې. ولسمشر د يوې پنځه کلنې دورې لپاره وټاکل شوو.

12/2004: افغانستان د افغانستان په اسلامي جمهوري دولت بدل شوو.

### FY 2005

کانګرس د بيارغوني لپاره 4،85 مليارډ ډالره تخصيص کړل (مجموعه: 9،53 مليارډ ډالره) ASFF تاسيس شوو. په هيواد کې سرتيري : امريکايی 19100؛ ايتلاف – 10500

5/2005: ډګر جنرال کارل ايکنبيري په افغانستان کې د ګډې قومندې مشر وټاکل شوو

9/2005: په ديرشو کالو کې د لومړي ځل لپاره پارلماني او د ولايتي شورا ټاکني ترسره شوې.

### FY 2006

کانګرس د بيارغوني لپاره 3،48 مليارډ ډالره تخصيص کړل (مجموعه: 13،01 مليارډ ډالره). په هيواد کې سرتيري: امريکايی سرتيري – 20400 ايتلاف – 18000

2/2006: د لندن په لومړني کانفرانس کې د افغانستان لپاره د ( پنځه کلن پلان) بسته تصويب شوله. په ANDS باندي کار پيل شو.

10/2006: ناټو د ټول هيواد د امنيتي چارو مسوليت پر غاړه واخيست.

په راتلونکي پاڼه کې دوام لري...

فنډ (AIF) لپاره ۴۷۵ میلیون ډالره ځانګړي کړي وو اما د سنا د نظامي خدمتونو کمیټه به نوموړي شمیر ۴۰۰ میلیون ډالرو ته راټیټ کړي. د سنا د کمیټې طرحه همداډول د ولسمشر څخه غواړي چه تر ۲۰۱۴ کال تر پایه پورې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د امنیت د چارو د سپارلو د څار او ارزونې په اړه کره او بشپړ معیارونه رامنځ ته کړي.

## د افغانستان سره د بهرنیو مرستو په اړه د سنا راپور

پدې ربع کې د خپاره شوي راپور په اساس، د سنا د بهرنیو اړیکو کمیټې پریکړه وکړه چه د امریکا متحده ایالات کولای شي په افغانستان کې ملي امنیتي اهدافو ته د رسیدلو په موخه د پراختیایی مرستو څخه په اغیزمنه توګه ګټه واخلي. راپور "د افغانستان لپاره د بهرنیو مرستو ارزونه" سپارښتنه کړې چه د امریکا مرستې باید یوازې د هغو پروژوه په اړه وکارول شي چه اړیني، ترلاسه کیدونکي او بقا ولري.[5] په هغه کې د سیګار لخوا د یو زیات شمیر پلټنو غوښتنه شوې او د ۲۰۱۴ کال څخه وروسته د پروژو د ثبات په اړه زیات شمیر اندیښني چه سیګار یې هم په خپل وار سره په اړه اندیښنه لري اشاره کړې ده.

تر کومه ځایه چه د سنا د بهرنیو اړیکو کمیټه یوازي د ملکي ادارو لپاره د ځانګړو شوو مرستو په اړه صلاحیت لري چه په هغه کې د امریکا پراختیایی اداره یا (USAID) او د امریکا د بهرنیو چارو وزارت راځي، پدې راپور کې د افغانستان د بیارغوني په برخه کې د پراختیایی مرستو څخه د ګټې اخیستلو د څرنګوالي په اړه ارزونه ترسره شوې. کمیټې د ملکي ادارو لخوا د هغو امریکایی مرستو چه د بیارغوني په برخه کې ګټه ورڅخه اخیستل کیږي د لا زیات څار او نظارت غوښتنه کړې، د امریکا لخوا د بیارغوني په برخه کې ترسره کیدونکو مرستو پروړاندې د ننګونو د لیرې کولو په برخه کې زیات شمیر وړاندیزونه او د امریکا لخوا د پراختیایی مرستو د لا ښه لګښت او مصرف په اړه یو شمیر سپارښتنې شریکه کړې دي.[6]

په راپورکې راغلي چه کمیټې ته معلومه شوې چه د امریکا متحده ایالات د پروژو د تطبیق په برخه کې په

مهم عناصر، اکتوبر -2001 جولای 2011 ( دوام)

### 2007 مالي کال
کانګرس د بیارغوني لپاره 10،03 ملیارډ ډالره تخصیص کړل
(مجموعه: 23،04 ملیارډ ډالره) په هیواد کې سرتیري : امریکایی
23700؛ ایتلاف – 26043

1/2007: د ایساف ځواکونه: 35460
د 37 هیوادونو څخه (14000 امریکایی)

### 2008 مالي کال
کانګرس د بیارغوني لپاره 6،19 ملیارډ ډالره تخصیص کړل
(مجموعه: 29،23 ملیارډ ډالره) په هیواد کې سرتیري : امریکایی
30100؛ ایتلاف – 29810

2/2008: د ایساف ځواکونه: 43250
د 37 هیوادونو څخه (15000 امریکایی)

4/2008: حامد کرزی په رسمي توګه ANDS
( څوکلن پلان) تصویب کړ

6/2008: د پاریس د مرستو کوونکو کانفرانس
ترسره شوو؛ مرسته کوونکو تر 20 ملیاردو ډیرو
مرستو تعهد وکړ. جنرال ډیویډ مکن د ایساف
د قومندان په توګه وټاکل شوو.

10/2008: د ایساف قومندان جنران مکن د نوي تاسیس شوي
USFOR-A د قومندان په توګه وټاکل شوو.

### 2009 مالي کال
کانګرس د بیارغوني لپاره 10،37 ملیارډ ډالره تخصیص کړل
(مجموعه: 39،70 ملیارډ ډالره) په هیواد کې سرتیري : امریکایی
33000؛ ایتلاف – 36230

1/2009: ایساف ځواکونه: 55100
د 41 هیوادونو څخه (23220 امریکایی)

3/2009: ولسمشر بارک اوباما د امنیت
د خوندیتوب په موخه 17000 نور سرتیري
په ماموریت وګمارل.

4/2009: کارل ایکن بیري د امریکا د
نوي سفیر په توګه وګمارل شوو،

6/2009: جنرال میک کریسټل د
ایساف او USFOR-A د قومندان په
توګه غوره شوو.

قراردادیانو باندي خپله اتکار راکمه کړي او د افغان ملي بودجې له لارې د خپلو مرستو ته مصرفولو په برخه کې زیاتوالي راغلی، ترڅو د دولتدارۍ په برخه کې وړتیاوې لوړې، د بیځایه او اضافي لګښتونو راکم او د پروژو ثبات وهڅوي. که څه هم کمیټې په عمومي ډول د مستقیمو مرستو د ترسره کولو څخه ملاتړ وکړ، په عین وخت کې یې تاکید وکړ چه" د مرستو څخه د ګټې اخیستلو د څرنګوالي په اړه د حساب ورکولو لپاره باید اړین او لا زیات ګامونه او اقدامات ترسره شي".[7]

دې اصل ته په پام سره چه په مستقیم ډول ترسره شوې مرستې یوازې هغه وخت اغیزمنې کیدای چه دولت د نوموړو مرستو په اړه د ځواب ورکولو وړتیا او ظرفیت ولري، سیګار یو زیات شمیر پلټنې په لاره اچولې ترڅو (۱) د افغان دولت سره د پراختیایی مرستو په اړه د حساب ورکولو په برخه کې د وړتیاو اوچتولو سره کمک وکړي او (۲) معلومه کړي چه افغان ادارې د نوموړو مرستو په اړه د حساب ورکولو په موخه اړین سیستمونه رامنځ ته کړي او که څنګه. د دې ربع په ترڅ کې سیګار د افغانستان د بیارغونې د باوري فنډ(ARTF) په اړه پلټنه ترسره کړه، نوموړی فنډ د نړیوالې ټولنې لخوا د افغانستان سره د مستقیمو ترسره کیدونکو مرستو اصلي چینل دی سیګار ته معلومه شوه چه نړیوال بانک چه نوموړی مرستې اداره کوي او افغان حکومت د نوموړو مرستو څخه د ګټې اخیستلو په اړه په مستقل ډول د حساب ورکولو لپاره یو شمیر ګامونه اوچت کړي اما دغه ګامونه یو شمیر محدودیتونه لري. برسیره پردې، که څه هم افغان وزیرانو د مرستو څخه د ګټې اخیستلو او حساب ورکولو په برخه کې خپل مهارتونه او وړتیاوې اوچتې کړې، افغان حکومت د ARTF فنډ د تنظیم او د هغه څخه د مناسبې ګټې اخیستلو لپاره د اړینو او مهمو کاري کدرونو او وړتیا لرونکو کارکوونکو په برخه کې د ننګونو سره مخامخ دي. د دې محدودیتونو په پایله کې افغان حکومت اوس هم د ARTF فنډ څخه د څار او نظارت په موخه په افغان قراردادیانو او نړیوالو شرکتونو باندي اتکا کوي. دغه قراردادیانو ته د وړاندي شوو خدمتونو په بدل کې د ARTF د فنډ څخه مزد ورکول کیږي.

د سنا راپور په افغانستان کې د امریکایی مرستو د اغیزمنتیا په موخه درې سترې سپارښتنې کړې دي:

- د افغانستان سره د مرستو لپاره د اوږد مهالې (د زیاتو کلونو لپاره) د ستراتیژۍ په رامنځ ته کولو غور.

## د سیګار پلټنې

د دې دریو میاشتو په ترڅ کې سیګار د افغانستان د بیارغونې باوري فنډ (ARTF) چه د افغانستان سره د نړیوالې ټولنې لخوا د افغانستان سره د مستقیمو مرستو اصلي چینل ګڼل کیږي د پلټنې یو راپور خپور کړ. سیګار ته معلومه شوې چه هغه میکانیزمونه چه د دې فنډ څخه د مستقل څار او نظارت په اړه رامنځ ته شوي یو شمیر محدودیتونه لري. د لا زیاتو معلوماتو لپاره ۱۵ پاڼې ته ستانه شي.

### 2010 مالي کال

کانګرس د بیارغونې لپاره 16،59 ملیارډ ډالره تخصیص کړل
(مجموعه: 56،22 ملیارډ ډالره) په هیواد کې سرتیري : امریکایی
87000؛ ایتلاف – 41389

### 2011 مالي کال

کانګرس د بیارغونې لپاره 16،47 ملیارډ ډالره تخصیص کړل
(مجموعه: 72،67 ملیارډ ډالره) په هیواد کې سرتیري : امریکایی
110325 ؛ ایتلاف – 42457

12/2009: ولسمشر بارک اوباما د امنیت د خوندیتوب په موخه 30000 نور سرتیري په ماموریت وګمارل. ("څپه")

1/2010: د لندن په دویم کانفرانس کې هوکړه وشوه چه افغان امنیتي ځواکونو ته به د امنیت د انتقال لړۍ پیل شي.

2/2010: د ایساف سرتیري: 85795
د 43 هیوادونو څخه (47085 امریکایی)

7/2010: د کابل د کانفرانس په پای کې د افغان دولت لخوا د پروژو د تطبیق او لمړیتوبو د پلان په اړه هوکړه وشوه. جنرال پټریوس د ایساف او USFOR-A ځواکونو د قومندان په توګه وګمارل شوو.

11/2010: د لیزبون په غونډه کې هوکړه وشوه چه نړیوال امنیتي ځواکونو به د افغانستان څخه د 2014 کال په پای کې ووځي او امنیتي مسولیت به افغان ملي امنیتي ځواکونو ته وسپارل شي.

6/2011: د ایساف سرتیري: 132381
د 43 هیوادونو څخه (90000 امریکایی)
ولسمشر اوباما د افغانستان څخه د 2011 کال تر پایه د 10000 امریکایی سرتیرو او د 2012 کال تر دوبې پورې د 33000 سرتیرو د راکمولو پریکړه وکړه

- په ستونزمنو برخو کې د پروګرامونو د ثبات او پاېښت په اړه د چارو بیا ارزونه.
- د چارو په ثبات او پاېښت باندې تمرکز.

راپور وړاندیز کړی چه اړونده اداره او کانګرس د صلاحیتونو په یو اوږد مهاله طرحه باندي چه په هغه کې لاندي موارد شامل وي رامنځ ته کړي:

- د مرستو په اړه رڼه او کره ستراتیژی
- د یوې بریالی تګ لارې لپاره د اړینو توکو، وسایلو او مسولینو د اړتیا پیژندل او په ګوته کول.
- د افغان ملي پولیسو سره د ګډ کار، د خصوصي مالي سکتور، د د نړیوال بانک، د اسیا پراختیایی بانک او د اسلامي پراختیایی بانک څو اړخیزو هڅو او مرستو په اړه د امریکا لخوا د ترسره کیدونکو مرستو د تطبیق په اړه د یو پلان رامنځ ته کول.
- د امنیت د انتقال او د نظامي حضور د کموالي په موخه اړیني او مهمي ملکي منابع
- د حساب ورکولو، څار او د اغیزمنتیا په موخه اړین ګامونه
- هغه معیارونه چه د چارو څرنګوالی ارزوي او د پایلو او لاس ته راوړنو په اړه پریکړه کوي

د سنا راپور په ستونزمنو برخو او د افغانستان په کړکیچنو سیمو کې د پروګرامونو د پاېښت او بقا په اړه پوښتني راپورته کړي او په پایله کې یی ویلي چه که چیري افغانان نه شي کولای د نوموړو پروژو بقا او ثبات خوندي کړي باید هلته نوموړي پروګرامونه پلي او تطبیق نشي. په راپور کې راغلي " په افغانستان کې به پراختیا او پرمختیا هڅې یوازي هغه وخت بریالی شي چه افغانستان د چارو په ترسره کولو کې یو رېښتنی او مشروع ملګری وي او د ثبات او بقا په لوري لاس ته راوړني ولري. "افغان حکومت باید د پروژو د بشپړتیا وروسته د عملیاتو او د هغه د حفظ او مراقبت په موخه په کافي اندازه تخنیکي وړتیاوې او مالي امکانات ولری. "

## د بهرنیو چارو وزیره د کانګرس پر وړاندي وینا وکړه

د جون په ۲۳ مه نیته د بهرنیو چارو وزیره اغلي هیلري کلنټن د کانګرس د بهرنیو اړیکو د کمیټې پر وړاندي حاضره شوه. د بهرنیو چارو وزیرې د هغه ملکي هڅو په اړه چه د بیارغوني د کړنو سره ملاتړ او د افغانانو په مشرۍ د هغه سیاسي او ډیپلوماتیکو هڅو په اړه چه اصلي موخه یی " د طالبانو او القاعده ترمنځ ته اړیکو پریکول، د تاوتریخوالي او مخالفتونو د منځه وړل او د لا زیات با ثباته او خوندي سیمي د وړاندي کولو په برخه کې ترسره کیږی بحث او خبري اترې وکړې. "[8] وزیرې همدا ډول زیاته کړه چه د ۲۰۰۹ کال په پرتله په افغانستان کې د ملکي کارکوونکو، ډیپلوماټانو، پرمختیایی کارپوهانو او نورو متخصیصنو شمیره درې برابره زیاته شوې ده. هغې همدا ډول د دولتداری په برخه کې د پرمختګ، د اقتصادي فرصتونو د رامنځ ته کولو، او د مسولیت د انتقال په موخه د ملکي ټولنو د رامنځ ته کولو له کبله د امریکا د نظامي اهدافو او سیاسي موخو ته د رسیدلو په برخه کې نوموړې هڅې اغیزمني وګڼلي او هغه یی وستایلې. د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې وویل چه د مسولیت د انتقال د پروسې سره سم، د امریکا د متحده ایالاتو ملکي هڅې به " د لنډ مهالو پروژو څخه د اوږد مهالو باثباته پروژو په بڼه بدلون ومومي، د نوموړو پروژو موخه به د سویلي مرکزي اسیا د یو اقتصادي هیواد په شکل د افغانستان راڅرګندول او په تبدیلول وي. "[9] سیګار او د بهرنیو چارو وزارت د عمومي پلټونکي به د ملکي ژوند د کچې د لوړولو په برخه کې د هڅو په اړه یوه ګډه پلټنه ترسره کوي.

## د سنا فرعي کمیته د بیارغوني د قراردادونو په اړه استماعیه غونډه ترسره کړه

د جون په ۳۰مه، د سنا د کورني امنیت فرعي کمیټې او حکومتي چارو کمیټې په افغانستان کې د ترلاسه شوو تجربو او د افغانستان کې د بیارغوني په قراردادونو کې د ستونزو په اړه استماعیه غونډه ترسره کړه. په

### د سیګار پلټنې

د بهرنیو چارو وزارت د عمومي پلټونکي سره په ګډه سیګار د ملکي ژوند د سطحې د لوړولو په برخه کې خپلو پلټنو تعقیبي کړنې ترسره کوي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړې ۱ برخې، ۱۷ پاڼې ته ستانه شي.

نوموړو پېښو کې د USAID، دفاع وزارت او د انجینرانو د نظامي قطعې لخوا ورکړل شوي قراردادونه او د دفاع وزارت او د USAID هغه مسولین چه په افغانستان کې د بیارغوني د قراردادونو په اړه د څار او نظارت مسولیت لري. فرعي کمیټې په ۲۰۱۰ کال کې د امریکا د مرکزي قومندې – د قرارداد کولو د صحنې د ملاتړ ګډه قومندې (C-JTSCC) لخوا سیګار ته د پلټنې په موخه وړاندې شوو معلوماتو په اړه خپلې اندیښنه بیان کړه، په دغه معلوماتو کې د بیارغوني د کار په برخه کې د قراردادیانو او د تطبیق کوونکو ادارو په اړه معلومات شامل دي. پدې ربع کې سیګار د نوموړو تغیراتو او اختلافاتو د لاملونو د پېژندنې، د نوموړو اختلافاتو د حل په موخه د (C-JTSCC) لخوا د ترسره شوو ګامونو د پېژندنې او که چېرې د (C-JTSCC) لخوا د ستونزې د حال او د معلوماتو د کره والي په موخه د اضافي ترسره شوو اقداماتو د پېژندلو لپاره پلټنه په لاره اچولې ده.

## د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د بیارغونې د فنډ د تعهد په موخه اړین تصدیق نامې توزیع کړې

د ۲۰۱۱ مالي کال بودجه د USAID د مسول سره په همکارۍ او سلامشورې د امریکا د بهرنیو چارو د وزیرې څخه غواړي چه دغه مرستو په اړه چه د افغان حکومت سره د امریکا لخوا د دولتدارۍ په برخه کې د پرمختګ، د فساد د مخنیوي او د ښځو د حالاتو د ښوالي په برخه کې د پرمختګونو او پورته شوو ګامونو په اړه کانګرس ته د دې فعالیتونو تصدیق او په اړه یې راپور ورکړي. د جولای په ۷مه، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په تصدیق نامې چه د اقتصادي ملاتړ فنډ څخه د مخدره توکو پر وړاندې د نړیوالې مبارزې او د قانون د حاکمیت حساب ته د مرستو د لیږد لپاره اړینې وې وویشلې. د منابعو او د بیارغونې د مرستو څخه د ګټې اخیستلو د څرنګوالي په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره ۳ برخې ته ستانه شي)

## وړاندې کتنه

د راتلونکو څو میاشتو لپاره، کانګرس به پریکړه وکړي چه د افغان امنیتي ځواکونو د پیاوړتیا، د افغان جمهوري د دولتدارۍ وړتیاوې او ظرفیتونه لوړول او د یو قوي اقتصادي ثبات د اساس ایږدولو لپاره څومره مرستو ته اړتیا ده. د مسولیتونو د انتقال د ستراتیژۍ د ملاتړ په موخه د امریکا ولسمشر د کانګرس څخه د بیارغونې د فنډ لپاره د ۱۸ ملیارډ ډالرو څخه د زیاتو مرستو غوښتنه کړې ده – دغه شمیر مرستې په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو د رانسکورولو وروسته د یوه کال په ترڅ کې د ترسره شوو مرستو تر ټولو ستره برخه ده.

سیګار به د بیارغونې د دغو پیچلو هڅو څخه د څار او نظارت په موخه د پلټې او تحقیقاتو د یو پلان د تطبیق په درشل کې دي. سیګار په سترو قراردادونو کې د فساد، د مرستو د ضایعه کولو او ناوړه ګټې اخیستلو په اړه پلټنې ترسره کوي او همدا ډول غواړي چه معلومه د بیارغونې پروګرامونه خپلو ټاکلو موخه ته رسیږي. د سیګار محقیقین د امریکایی وګړو او هغه کمپنیو په ضد د قضیو په جوړولو بوخت دي کوم چه د قراردادونو په برخه کې په تقلب او فساد کې ښکیل دي. هغوی همدا ډول د افغان قانون تطبیق کوونکي ادارو سره د هغو افغان وګړو او کمپنیانو پر وړاندې د قضیې چمتو کړي چه د قراردادونو په فساد او تقلب کې دخیل دي. برسیره پردې سیګار د هغه چاراواکو/قراردادیان د دندو څخه د کوښه کولو او یا هم د هغوی د دندو ځنډولو ته پراختیا ورکوي کوم چه په فساد کې ښکیل دي او یا یې هم د پوښتنې وړ فعالیتونه ترسره کړي دي تر څو هغوي په راتلونکي د نورو قراردادنو د ترلاسه کولو څخه محروم شي. سیګار د نورو عمومي پلټونکو او د قانون تطبیق کوونکو نورو فدرال ادارو سره ګډ کارکوي ترڅو د چارو او فعالیتونو د تکرار څخه مخ نیوی وشي او امریکایی ډالر په هوښیارۍ او ریښتینوالی سره مصرف کړل شي.

### د سیګار پلټنې

پدې ربع کې سیګار د ۲۰۱۰ کال د بیارغونې اړوند د قراردادونو په اړه خپلو پلټنو دوام ورکوي اختلافاتو د لاملونو د پېژندنې، د نوموړو اختلافاتو د حل په موخه د (C-JTSCC) لخوا د ترسره شوو ګامونو د پېژندنې او که چېرې د (C-JTSCC) لخوا د ستونزې د حال او د معلوماتو د کره والي په موخه د اضافي ترسره شوو اقداماتو د پېژندلو لپاره پلټنه په لاره اچولې ده. د لا زیاتو معلوماتو لپاره ۱۵ پاڼې ته ستانه شي.

### د سیګار نظارت

سیګار په سترو قراردادونو کې د فساد، د مرستو د ضایعه کولو او د هغه څخه د ناوړو ګټو اخیستلو په اړه تمرکز کوي او معلومه کړي چه ایا نوموړي پروګرامونه خپلو ټاکلو موخې ترلاسه کوي. سیګار په قراردادونو کې دفساد او تقلب د شتون په اړه جرمي قضیې ترتیبوي، او د افغان قانون تطبیق کوونکو ادارو سره د ورته چارو د ترسره کولو په برخه کې مرسته کوي. سیګار همدا ډول د دندو څخه د کړکړو کارکوونکو د لیرې کولو او د هغوی د ندو ځنډولو ته هم وسعت ورکړي دي. سیګار د نورو عمومي پلټونکو او د قانون تطبیق کوونکو نورو فدرال ادارو سره ګډ کارکوي ترڅو د چارو او فعالیتونو د تکرار څخه مخ نیوی وشي او امریکایی ډالر په هوښیارۍ او ریښتینوالی سره مصرف کړل شي. د دې درېو میاشتو په ترڅ کې د سیګار د څار او نظارت په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړي ۱ برخې ته ستانه شي.

**د افغان کروندګرو سره مرسته**

د افغانستان لپاره د امریکا پخوانۍ سفیر کارل ایکن بیري د جون د میاشتې په ۲۳مه د ننګرهار د بهسودو ولسوالۍ د کرهنیز مرکز د بیارغونې د چارو څخه لیدنه وکړه. د امریکا د بیارغونې د هڅو یوه مهمه موخه د نویو تګ لارو سره د افغان کروندګرو د اشنایی، د هغوی د تجهیز او د هغوی په اختیار کې د اړینو وسایلو د ورکولو له لارې د حاصلاتو لوړول دي. (د بهرنیو چارو وزارت، ایس. کې ویمر)

# 3

# د بیا رغونې
# تازه حال



**“امریکایی مرستې وړاندې تردې چه مصرف کړل شي باید درې معیارونه پوره کړي:
زمونږ پروژې باید مهمې، ترلاسه کیدونکې وي او بقا ولري. ”**

- د امریکا سنا د بهرنیو اړیکو کمیټه

سرچینه: د امریکا سنا د بهرنیو اړیکو کمیټه، د اکثریت کارکوونکو راپور، “د افغانستان سره د ترسره شوو بهرنیو مرستو ارزونه،” د ۲۰۱۱ کال د جون ۸ مه

# عمومي کتنه

۳ مه برخه د دغې راپورد جوړولو تر مودې پورې، د افغانستان د بیارغونې د هڅو په اړه هراړخیزه کتنه وړاندې کوي. د بشپړتیا، ننګونو او ځایي ادارو کوم چې د بیارغونې هڅوته د نظارت لپاره اړینه فضا چمتو کوي، په هکله تازه معلومات. د افغانستان د بیارغونې ځانګړې عمومي پلټونکي د بشپړ شویو او روانو مالي پلټنو د پړندنې د برخې فرعی ستون ـــ دغو هڅو ته ځانګړې شوې دی؛ د روانو مالي پلټنو په هکله د زیاتو معلومات لپاره فهرست ( کراس ـ رفرینس) به لوستونکي ۱برخې ته هدایت کړي.

۳ برخه په خپل وار سره په ۴ فرعي برخو ویشل شوې ده: د مرستو حالت، امنیت، حکومتداري او اقتصادي او تولنیزه پراختیا. د امنیت، حکومتداري، اقتصادی او تولنیز پراختیا فرعی برخې د لمړیتوب او تطبیق پلان کوم چې په کال ۲۰۱۰ کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت لخوا اعلان کړی شوي دي، درې اساسي پایو منعکس کوي. او د افغانستان د ۲۰۰۸ کال ملي پراختیاي ستراتیژی کې ځاي لري .

## موضوعات

۳مه برخه دا څلور پراخ موضوعات بحث کوي: د مرستو ورکولو، امنیتي وضعیت، د دولتداری په اړه فعالیتونه او د اقتصادي او ټولنیزو پرمختیایی پروګرامونو په اړه پخواني او اوسني معلومات. همدا ډول نوموړې برخه د فساد په وړاندې د مبارزې او د مخدر توکو د قاچاق په وړاندې د مبارزې د هڅو په اړه هم معلومات ذکر شوي دي.

د مالي منابعو د وضعیت فرعی برخه د افغانستان د بیارغونې لپاره د تخصیص شویو، وعده شویو او مصرف شویو پیسو هراړخیزه بحث له ځانه سره لري. دا برخه د متحده ایالاتو لخوا د اکثرو تمویل شوي پیسو او د نړیوالو اعانې په هکله مشخص معلومات لري.

د امنیت فرعي برخه د امریکا د هغو هڅو په اړه رڼا اچوي کوم چه امریکا د افغان ملي امنیتي پوځ د تقویې په اړه ترسره کړې دي او په هیواد کې د امینتي پرمختګونو په اړه رڼا اچوي. دغه فرعي برخه د افغان ملي اردو او افغان ملي پولیسو د وړتیاو او ظرفیتونو د اوچتولو په موخه د طرحو او پروګرامونو پر جوړولو تمرکز کوي. همدا شان د خصوصي امنیتي قراردادیانو د حالت په اړه هم رڼا اچوي. همدا شان په افغانستان کې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزو هڅو ته اشاره پکې شوې ده.

حکومتی فرعی څانګه د افغانستان د هغو لاس ته راوړنو په اړه نوی معلومات ورکوی چی د افغانستان دولت په حکومتی پرمختایی ډګر کښی ترلاسه کړی دی. دغه فرعي برخه د ولسي جرګې د شخړو څخه ډک روان کړکیچ او د افغان دولت د سولې د پروګرام سره د مخالیفینو د یوځای کیدو په اړه ده. همدا شان د هیواد په ختیځو او سویلي ولایتونو کې د افغان دولت د کنترول د کچې په اړه هم بیاکتنه پکې شامله ده. په هغه کې د ظرفیتونو د ارتقا د هڅو، د قانون د حاکمیت په برخه کې نوښتونو او د بشري حقوقو په برخه کې پرمختګونو په اړه هم بحث او تبصرې شاملې دي. همدا ډول د فساد او بډو پر وړاندې د افغان دولت او امریکایی هڅو ته اشاره شوې ده.

د اقتصادي او ټولنیزو پرمختګ فرعي برخه د سکتور په اساس د بیارغونې فعالیتونه چه د کرهنې د سکتور

څخه نیولې بیا د برښنا په برخه کې ترلاسه شوو پرمختګونو ته کتنه کوي. او د اقتصادی حالت او په مالی مقرارتو کښې د پرمختیا، په هر مالی کال کښی د تر لاسه شوی پایښت او ثبات او د ضروری چوپړیزو خدماتو په وړاندی کولو کښی د تر لاسه شوو پرمختیاو په اړه کار او ډیری تمرکز کوی.

## د کار طریقه

دریمه برخه د هغو معلومات په اساس چی د ازادو منابعو او د امریکایی اجنسیانو لخوا تر لاسه شوی وو چمتو شوی ده. د معلوماتو سره سم د هغه سازمان یا ټولنې نوم او نور اړوند اړین معلومات بیان شوی دی ترڅو د هر ډول غلط فهمی څخه مخ نیوی شوی وی. د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړی عمومی پلټونکی د تحقیقاتو او څیړنود معلوماتو څخه پرته چی په ماخذ کښی بیان شوی دی نور معلومات د سیګار لخوا نه دی تایید شوی او د افغانستان دبیارغونې لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی د نظریاتو ښکارندویی نه کوی. د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړی عمومی پلټونکی لخوا تر سره شویو ټولو څیړنو او تحقیقاتو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره لومړی برخې ته ستانه شی.

## د معلوماتو پوښتنې

د معلوماتو پوښتنې د پوښتنو یوه لړۍ ده چې د متحده ایالاتو د ادارو څخه د بیا رغونې په پروګرامونو، او د افغانستان په چارو کې د هغوی د ګډون یا ورکړو په اړه ترې شوې دي. د متحده ایالاتو په هغو ادارو کې چې د دې درې میاشتنې راپور د معلوماتو په پوښتنو کې یې ګډون کړی دا لاندې شامل دي:

- د امریکا د کورنیو چارو وزارت
- د امریکا د دفاع وزارت
- د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو اداره (USAID)
- د امریکا د مالیی (خزانې) وزارت

د راپور غیر نهایی طرحه اړوندو ادارو ته ولیږدول شوه ترڅو هغوی هم د راپور محتویات په پرتله او د هغه په اړه خپل ډاډ ترلاسه کړي.

## د پرانستې-سرچینې تحقیق

د پرانستې-سرچینې تحقیق د اتباري سرچینو څخه ترلاسه شوې ډېره تازه، او په عامه ډول ترلاسه کېدونکې ډاټا اتکاء کوي. د هغو سرچینو چې په دې درې میاشتنې راپور کې کارول شوې په یوه نماینده لیست کې لاندې سرچینې شامل دي:

- د متحده ایالاتو هغه اداره چې د معلوماتو په پوښتنه کې ورکړل شوې
- د امنیت نړیوال مرستندویه ځواک (ایساف)
- ملګري ملتونه (او اړوندې څانګې)
- د پیسو نړیوال صندوق
- نړیوال بانک
- د افغان دولت وزارتونه او د افغان دولت نور سازمانونه

د پرانستې-سرچینې زیاتره تحقیق د دې راپور په ابتدایي مسوده کې شامل کړای شوی و کومه چې د معلوماتو د پوښتنې ادارو ته د کتنې لپاره له خپرېدو مخکې ورکړای شوې وه.

# په ګرافونو پوهېدنه

ټول انځورونه او چوکاټونه د دې درې مياشتنۍ لپاره د معلوماتو راپور ورکوي، په استثنا د هغو ځايونو چې په سرليکونو او يادونو کې پېژندل شوي.

## د مليارډونو او مليونونو جلا کول

لدې امله چې دا راپور د بوديجو جزييات په مليارډونو او مليونونو ډالرو کې ښيي، دا د پيمانې د دواړو يونټونو د جلا کولو لپاره يوه کتنيزه اشاره کاروي. هغه ډالر چې په مليارډونو کې راپور شوي په ابي رنګ کې وړاندې کېږي، او هغه ډالر چې په مليونونو کې راپور شوي په شنه رنګ کې انځورېږي.



د مليارډ ډالرو په اساس کلچه يی چارټ



د میلیون ډالرو په اساس کلچه یی چارټ

## د پټې چارټونه

دا راپور ډېرې بوديجې او پروژې چې د ډالرو ارزښت يې د مليونونو څخه تر مليارډونو رسېږي بحث کوي. د دې شمېرو په ګرافونو کې د دقيق استازيتوب د وړاندې کولو لپاره، د ګرافونو ځينې پټې ماتې ښکاري (د يوې کرښې وړې کربښې سره) چې د صفر او يوې جيګې شمېرې ترمنځ توپ ښيي.




په کچو کې د ماتيدو
پرته بار چارټ




په کچو کې د ماتيدو
سره بار چارټ

## بوديجې ښودونکي

بوديجې ښودونکي هغه انفرادي بوديجې ښيي چې په متن کې بحث شوي وي.  د دغې بوديجې د انتظام مسووليت لرونکي اداره د بوديجې د نوم نه لاندې په خړ بکس ليست شوي وي.




## مهال ويش

مهال ويشونه فعاليتونه د عمومي مراحلو په اساس ښکاره کوي. په لين کې وقفې ممکن د جنترۍ په اساس د مياشتې او يا هم د دريو څخه تر څلورو مياشتو فاصلې ښکارندوی وکړي، هغه په زماني وقفه پورې اړه لري. د تير څخه لوړ پرمختګونه په وصفي توګه د لين څخه پورته ښودل شوي؛ او ځانګړي چارې په وصفي توګه د لين د لاندې ښودل شوي دي.



# د بودیجو حالت

د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړی عمومي پلټونکی لپاره په قانون کښی د رامنځ ته شوو تعدیلاتو د پلی کولو په موخه، دا برخه د امریکا د ځانګړو شوو، تعهد شوو مرستو او د افغانستان د بیاروغوني د مرستو په اړه توضیح ورکوی. د ۲۰۱۱ کال د اپریل په ۱۵مه، ولسمشر باراک اوباما د دفاع وزارت او د ۲۰۱۱ کال د بشپړ کال د جاري تخصیصاتو قانون لاس لیک کړ، پدې سره د پاتي مالي کال په ترڅ کي د حکومت لپاره د عملیاتو د ترسره کولو په موخه اړین فنډ ځانګړی شوو. د ۲۰۰۲ مالي کال څخه بیا د ۲۰۱۱ کال د جون تر ۳۰مي نیټي پورې د امریکا متحده ایالاتو د افغانستان د سوکالی او بیارغوني لپاره تقریبآ ۷۲،۶۷ ملیارډ ډالره تخصیص کړي دي. مجموعه په لاندي ډول ځانګړي شوي:

- 40.97 ملیارډ ډالره د امنیت لپاره
- 19.12 ملیارډ ډالره د حکمتداري او پراختیا لپاره
- 5.23 ملیارډ ډالره د مخدره توکو پر وړاندي د مبارزي لپاره
- 2.20 ملیارډ ډالره د بشري حقوقو لپاره
- 5.15 ملیارډ ډالره د عمومي کتني(څار) او عملیاتو لپاره

۳.۱ شمیره انځور د دغو برخو سره د امریکا لخوا د ترسره شوو مرستو ښکارندوی کوي.

3.1 انځور

د افغانستان د بیارغوني د هڅو د ملاتړ په موخه د امریکا مرستې (د ملیارډ ډالرو په اساس)




یادونه: د چارو څخه د اغیزمنو شمیره.
a. زیات شمیر ادارو کې د امریکا د دفاع وزارت، عدلیې وزارت، USAID، دامریکا د خزانې اداره او USDA شاملي دي.

سرچینه: د سیګار د 7/15/2011 ,7/14/2011 ,6/29/2011 ,10/14/2009 او10/1/2009 معلوماتي پوښتنو ته د امریکا د دفاع وزارت ځواب؛ د سیګار د 7/13/2011 ,7/8/2011 او 4/14/2011 معلوماتي پوښتنو ته د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت ځواب؛ د سیګار د 7/8/2011 معلوماتي پوښتني ته د خزانې د چارواکو ځواب؛ د سیګار د 7/19/2011 او 4/19/2011 معلوماتي پوښتنو ته د OMB ځواب؛ د سیګار د 7/13/2011 ,10/15/2010 ,1/15/2010 او 10/9/2009 معلوماتي پوښتنو ته د USAID ځواب؛ د سیګار د 7/7/2009 معلوماتي پوښتني ته د امریکا د عدلیې وزارت ځواب؛ د سیګار د /2009; P.L. 111-212 ,P.L. 112-10, 4/15/2011; 10/29/2010; 12/19/2009 .P.L. 111-118 معلوماتي پوښتنو ته د USDA ځواب؛ د 2010 کال د دفاع توضیحي اعلامیه.

**ASFF:** د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیجه

**CERP:** د قوماندان د بیړني ځواب پروګرام

**DoD CN:** د دفاع وزارت د مخدره موادو د مخنیوو او مخدره موادو سره د مبارزي فعالیتونه

**ESF:** د اقتصادي ملاتړ بودیجه

**INCLE:** د نړیوالو مخدره موادو کنټرول او د قانون تنفیذ

**نور:** نوري بودیجي

## د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا مرستې

د ۲۰۱۱ کال د جون د میاشتې د ۳۰ نیټې سره سم د افغانستان د سوکالۍ او بیارغونې لپاره د مرستو کچه حدوداً ۷۲،۶۷ ملیارډ ډالرو ته رسیږي. دا ټولې پیسې د بیا رغونې د بودیجو په دې پنځو غټو درجو ویشل کېدای شي: امنیت، دولتداري او پرمختیا، د مخدره موادو ضد مبارزه، بشري، او نظارت او فعالیتونه. د متحده ایالاتو د بشپړو اختصاصونو لپاره، وګورئ ضمیمه ب.

د ۲۰۱۰ مالي کال لپاره د ځانګړو شوو مرستو په پرتله د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره د ځانګړو شوو مرستو مجموعه ٪۲۹،۳ زیاته شوې ده، دا زیاتوالی په ۳.۲ شمیره انځور کې ښودل شوی دي. . د ۲۰۰۲ کال راپدیخوا د بیارغونې لپاره د ځانګړو شوو مرستو ډیری برخه د افغان ملي امنیتي ځواک د رغولو او روزنې لپاره ځانګړې شوې ده. د امریکا د بیارغونې د مرستو نږدې ۵۶،۴ سلنه برخه چه تر (۴۰،۹۷ ملیارډ ډالرو) ډیر کیږي د امنیت لپاره د تخصیص شوو مرستو مجموعه جوړوي.

۳.۳ شمیره انځور د ۲۰۰۲ مالي کال څخه بیا تر ۲۰۱۱ مالي کال پورې په کلني ډول د تخصیص شوو مرستو ښکارندوی کوي. ستونونه تخصیص شوې مرستې د ډالرو په اساس بیانوي، او کلچه یی چارټ د کتګورۍ په اساس د مجموعي تخصیصاتو څخه د ځانګړو شوو تخصیصاتو ښکارندوی کوي. دغه ارقام د اړوندو ادارو لخوا




د امریکا د پنځو سترو فنډونو سره ترسره شوي مرستې په افغانستان کې د بیارغونې په برخه کې د ۲۰۰۲ کال راپدیخوا د مرستو تر ٪۸۳،۴ (تر ۶۰،۶۱ ملیارډ ډالرو) څخه زیاته برخه جوړوي.د دې شمیر مرستو نږدې ٪۷۸ (تر ۴۷،۲۶ ملیارډ ډالرو ډیر) منل شوي، نږدې ٪۶۷،۳ (تر ۴۰،۷۸ ملیارډ ډالرو زیات) مصرف شوي دي.
د دې مرستو په اړه لا زیات معلومات په لاندي صفحو کې تر لاسه کولای شي.

انځور 3.2

د 2011 کال د جون د دیرشمي سره سم د فنډ ورکولو د کټګوري په اساس مجموعي تخصیصات ( د ملیارډ ډالرو په اساس)




یادونه: د چارو څخه د اغیزمنو شمیره. تازه معلومات د تیرې ربعي د معلوماتو په پرتله کوچني توپیرونه ښایي.

سرچینه: د سیګار د 7/15/2011, 7/14/2011, 6/29/2011, 10/14/2009 او10/1/2009 معلوماتي پوښتنو ته د امریکا د دفاع وزارت ځواب؛ د سیګار د 7/13/2011, 7/8/2011 او 4/14/2011 معلوماتي پوښتنو ته د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت ځواب؛ د سیګار د 7/8/2011 معلوماتي پوښتني ته د خزانې د چاراوکو ځواب؛ د سیګار د 7/19/2011 او 4/19/2011 معلوماتي پوښتنو ته د OMB ځواب؛ د سیګار د 7/13/2011, 10/15/2010, 1/15/2010 او 10/9/2009 معلوماتي پوښتنو ته د USAID ځواب؛ د سیګار د 7/7/2009 معلوماتي پوښتني ته د امریکا د عدلیې وزارت ځواب؛ د سیګار د /2009; 12/19/2009 .P.L. 111-118, 10/29/2010; P.L. 111-212, 4/15/2011; P.L. 112-10 معلوماتي پوښتنو ته د USDA ځواب؛ د 2010 کال د دفاع توضیحي اعلامیه.

د راپور ورکړل شوو ارقامو او په قانون کې د ځانګړو شوو ارقامو ښکاندوي کوي او د هغه په اساس ترتیب شوي دي.

د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره د تخصیصاتو شمیره چه د نوموړي کال د جون تر ۳۰ پورې ۱۶،۴۷ ملیارډ ډالرو ته رسیږي چه د ۲۰۱۰ مالي کال په نسبت د ۱۱۲،۴۷ میلیون ډالرو کموالی ښکاره کوي. که څه هم د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره د عمومي تخصیصاتو کچه راټیټه شوې خو د ۲۰۱۰ مالي کال په نسبت د امنیت په برخه کې د ځانګړو شوو مرستو کې ۲۶،۷٪ زیاتوالی راغلي دي. په نورو برخو کې دمرستې کچه هغه شان چه په ۳.۳ شمیره انځور کې ښودل شوې راټیټه شوې ده.۳.۳ شمیره انځور. د دولتداری او پراختیا لپاره د ځانګړو شوو مرستو په برخه کې چه د ۲۰۱۰ مالي کال لپاره ۴،۵۰ ملیارډ ډالره وه ۳۲٪ سلنه چه د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره یوازې ۳،۰۶ ملیارډ ډالره کیږي راټیټه شوې.

3.3 انځور

د مالي کال په اساس تخصیصات، د مرستو شمیره او فیصدي ( د ملیارډ ډالرو په اساس)




یادونه: د چارو څخه د اغیزمنو شمیره. تازه معلومات د تیرې ربعې د معلوماتو په پرتله کوچني توپیرونه ښایی.

سرچینه: د سیګار د 7/15/2011 ,7/14/2011 ,6/29/2011 ,10/14/2009 او10/1/2009 معلوماتي پوښتنو ته د امریکا د دفاع وزارت ځواب؛ د سیګار د 7/13/2011 ,7/8/2011 او 4/14/2011 معلوماتي پوښتنو ته د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت ځواب؛ د سیګار د 7/8/2011 معلوماتي پوښتني ته د خزانې د چارواکو ځواب؛ د سیګار د 7/19/2011 او 4/19/2011 معلوماتي پوښتنو ته د OMB ځواب؛ د سیګار د 7/13/2011 ,10/15/2010 ,1/15/2010 او 10/9/2009 معلوماتي پوښتنو ته د USAID ځواب؛ د سیګار د 7/7/2009 معلوماتي پوښتني ته د امریکا د عدلیې وزارت ځواب؛ د سیګار د /2009; 12/19/2009 .P.L. 111-118; P.L. 111-212, 10/29/2010; P.L. 112-10, 4/15/2011 معلوماتي پوښتنو ته د USDA ځواب؛ د 2010 کال د دفاع توضیحي اعلامیه.

# د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیجه

کانګرس د افغانستان د امنیتي ځواک فنډ(ASFF) د افغان ملی امنیتي ځواک(ANSF) د تجهیز، وسایلو، خدمتونو، روني او همدارنګه د وسایلو او توکو د ترمیم، بیا جوړونه په موخه جوړ کړی دي.[10] په لومړی ګام کښی د افغان ملی امنیتي ځواک د جوړوني مسول د ناټو یا د شمالی اتلانتیک هوکړې سازمان د افغانستان لپاره د روزنې څانګه- افغانستان / د ګډ امنیتي فرمان د انتقال-څانګه ده.[11]

د امریکا د دفاع وزارت راپور ورکړی چه د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره د بشپړ کال د جاري تخصیصاتو قانون د ASFF لپاره ۱۱،۶۲ ملیارډ ډالره تخصیص کړي دي، چه پدي سره د نوموړي فنډ سره د مرستو شوو شمیره ۳۹،۴۵ ملیارډ ډالرو ته رسیږي.[12] د نوموړي شمیر مرستو څخه ۳۱،۲۱ ملیارډ ډالره یی منل شوي او ۲۷،۵۸ ملیارډ ډالره یی مصرف شوي دي[13] ۳.۴ شمیره انځور د ASFF لپاره د مالي کال په اساس د ځانګړو شوو مرستو کچه بیانوي.

سیګار همدا شان راپور ورکړی چه د ۲۰۱۱ کال د مارچ د میاشتي د ۳۰نیټي په نسبت د ۲۰۱۱ کال د جون د میاشتي د ۳۰میي نیټي سره سم د منل شوو مرستو کچه نږدي ۳،۱۵ ملیارډ ډالره زیاتوالی موندلی او د همدی نیټي په ترڅ کي د لګول شوو مرستو په کچه کي د ۲،۷۶ ملیارډ ډالره زیاتوالی راغلي دي.[14] ۳.۵ شمیره انځور په پرتلیز ډول د منل شوو، موجودو او لګول شوو مرستو ښکارندوی کوي.[14] ۳.۵ شمیره انځور په پرتلیز ډول د منل شوو، موجودو او لګول شوو مرستو ښکارندوی کوي.




**د افغان امنیتي ځواک د فنډ( ASFF ) اړوند ترمینالوژي**

د دفاع وزارت د ASFF بودیجي د موجودي، منل شوي، یا لګول شوي مرستو پر اساس راپوروړکړي.

**موجودي**: د ژمنتیاو لپاره موجودي ټولي پیسي
**تعهد یا منل شوي**: د پیسو د ورکولو ژمنتیاوي
**لګول یا مصرف شوي**: هغه پیسي چي لګول شوي دي

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتني ته د دفاع وزارت ځواب، ۲۰۱۰|۱۳|۴.

3.5 انځور

د ASFF فنډ، عمومي پرتله
(د ملیارډ ډالرو په اساس)




یاوده: د چارو څخه د اغیزمنو شمیره.

سرچینه: د سیګار 7/14/2011; P.L. 112-10, 4/15/2011, معلوماتي پوښتنو ته د امریکا د دفاع وزارت ځواب

3.4 انځور

د مالي کال په اساس د ASFF موجودي مرستي
(د ملیارډ ډالرو په اساس)




یاودنه: د چارو څخه د اغیزمنو شمیره.

سرچینه: د سیګار 7/14/2011; P.L. 112-10, 4/15/2011, معلوماتي پوښتنو ته د امریکا د دفاع وزارت ځواب

## د ASFF د بودیجې فعالیتونه

د دفاع وزارت په ASFF کې **د بودیجې د فعالیت ډلې** لپاره بودجه ځانګړې کوي.[15]

- دفاعی ځواک (د افغانستان ملی اردو)
- کورنیو چارو ځواک ( د افغانستان ملی پولیس)
- اړوند فعالیتونه (د بندیانو اړوند مقدماتي فعالیتونه)

د هر فعالیتي ګروپ لپاره ځانګړې شوې مرستې په خپل وار سره په څلورو نورو **د ضمني-فعالیت ډلې** باندې ویشل کیږي: زیربنا، تجهیزات او ترانسپورت، روزنې او عملیات، او پایښت.[16]

د ۲۰۱۱ کال د جون تر ۳۰ نیټې پورې د امریکا د دفاع وزارت د افغان ملي امنیتي پوځ د پیاوړتیا په نوښت باندې تر ۲۷،۵۸ ملیارډ ډالرو ډیر پیسې لګولي دي. د دې شمیر پیسو څخه تر ۱۷،۶۲ ملیارډ ډالرو ډیرې په افغان ملي اردو او تر ۹.۸۰ ملیارډ ډالرو زیاتې په افغان ملي پولیسو باندې لګول شوې دي؛ او پاتې نږدې ۰،۱۶ ملیارډ ډالره په اړوندو نورو کوچنیو فعالیتونو باندې لګول شوې دي.[17]

لکه څرنګه چې په ۳.۶ شمیره انځور کې هم ښودل شویېه افغان ملي اردو باندې د لګول شوو پیسو ډیرې برخه نږدې ۸،۳۳ ملیارډ ډالره د نومړي اردو په تجهزاتو او ترانسپورټیشن باندې لګول شوې دي. پیه افغان ملی پولیسو باندی د لګول شوو مرستو ډیرې برخه چې 3.21 میلیارډ ډالره ده د اردو په شان د توکو به سمبالښت او ترانسپورټ باندی لګول شوی ده، دا ټول په 3.7 انځورکښی ښودل شوی دی.[18]

**د بودیجې د فعالیت ډلې:** د اختصاص یا بودیجې د هر حساب دننه هغه درجې چې د هغو فعالیتونو اهداف، پروژې او ډولونه پیژني چې د اختصاص یا بودیجې لخوا یې مالي ملاتړ کیږي.

**د ضمني-فعالیت ډلې:** هغه حسابي ډلې چې د قوماندې لګښتونه په فعالیتي برخو کې ویشي.

سرچینې: د دفاع وزارت، " 7110.1-M منول د دفاع وزارت د بودجې په اړه د لاربښونې منول،" په 9/28/2009 تاریخ ورته لاس رسی شوی؛ د بحري قوې ځانګه، " د طبې اسانتیاو د مدیر لاسي کتاب،" ۵ پاڼه،چه پدې نیټه 10/2/2009 ورته لاس رسی شوی دي.

3.6 انځور

د افغان ملي اردو لپاره د ASFF لګښتونه
د فرعي کاري فعالیتي ګروپ په اساس
2005 مالي کال – د 2011 کال د جون 30مه
( د ملیارډ ډالرو په اساس)

مجموعي لګښت : 17،62 ملیارډ ډالره




یادونه: د چارو څخه د اغیزمنو شمیره.

سرچینه: د سیګار د 1/14/2011 معلوماتي پوښتنې ته د امریکا د دفاع وزارت ځواب

3.7 انځور

د افغان ملي پولیسو لپاره د ASFF لګښتونه
د فرعي کاري فعالیتي ګروپ په اساس
2005 مالي کال – د 2011 کال د جون 30مه
( د ملیارډ ډالرو په اساس)

مجموعي لګښت: 9،80 ملیارډ ډالره




یادونه: د چارو څخه د اغیزمنو شمیره.

سرچینه: د سیګار د 7/15/2011 معلوماتي پوښتنې ته د امریکا د دفاع وزارت ځواب

## د قوماندان د بيړني ځواب پروګرام

د قوماندان د عاجل عکس العمل پروګرام (CERP) په افغانستان کي امريکايی قوماندانانو ته اجازه ورکوي ترڅو په د بيارغوني او عام المنفعه فعاليتونو له لاری د اړو سميزو خلکو سره د مرستي له طريقه په عاجلو بشري او اضطراري حالاتو کي د اړو خلکو او ټولنو مرستي ته ورودانګي.[19] د دې فنډ تر څتر لاندي مرستي د وړو پروژو چه د هري يو لګښت په يوازي ډول تر ۵۰۰۰۰۰ ډالرو زياته نه وي ځانګړي شوي دي.[20] د هغه پروژو لپاره چه د نوموړي حدود نه زياتو مرسته ته اړيتا ولري په همدې نږدې وخت کي کانګرس د افغانستان د زيربنا فنډ – په نامه باندي تاسيس کړي.[21]

د امريکا د دفاع وزارت راپور ورکړ چه د ۲۰۱۱ کال د جون تر ۳۰ نيټي پوري د CERP سره تر ۳،۰۴ مليارډ ډالرو زياتي پيسي ځانګړي شوي دي.[22] د دفاع وزارت همدا ډول ويلي چه د دغه شمير پيسو څخه يی ۲،۰۸ مليارډ ډالره يی منل شوي، چه د منل شوو څخه بيا ۱،۷۴ مليارډ ډالره مصرف شوي دي.[23] ۳.۸ شميره انځور د مالي کال په اساس د CERP لپاره د ځانګړو شوو مرستو ښکارندوی کوي.

د دفاع وزارت ويلي چه د ۲۰۱۱ کال د مارچ د ۳۱مي نيټي په نسبت د ۲۰۱۱ کال د جون د ۳۰ سره سم د نوموړي فنډ سره د مجموعي مرستو په کچه کي د ۵۸،۳۲ ميليوڼ ډالرو زياتوالي راغلي دي. په همدې موده کي د مصرف شوو مرسته په اندازه کي د ۱۲۷،۷۷ ميليون ډالرو په ارزښت زياتوالی راغلي دي.[24] ۳.۹ شميره انځور د CERP سره په کلني ډول د ځانګړو شوو، منل شوو او مصرف شوو مرستو او پيسو ښکارندوی کوي.




**د قوماندان د عاجل عکس العمل پروګرام CERP**
**د فنډ اړوند ترمينالوژي**

OMB د CERP بوديجي د اختصاص شويو په توګه راپور کړي.

**اختصاص شوي:** د ژمنتياو لپاره موجودي ټولي پيسي د دفاع وزارت د CERP بوديجي د اختصاص شوي، منل شوي، يا لګول شوي په توګه راپور کړي.
**اختصاص شوي:** د ژمنتياو لپاره موجودي ټولي پيسي
**منل شوي:** د پيسو د ورکولو ژمنتياوي
**لګول شوي:** هغه پيسي چي لګول شوي دي

سرچيني: د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د OMB ځواب، ۲۰۱۰\۱۹\٤ ؛ ، د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د دفاع وزارت ځواب، ۲۰۱۰\۱٤\٤.

**د افغانستان د زيربناو فنډ (AIF):** د امريکا د ملي دفاع وزارت د ۲۰۱۱ مالي کال د صلاحيتونو د قانون پر بنا د لوړ اهميت لرونکو-سترو زيربنايي پروژو لپاره، د امريکا د ملکي-نظامي موخو ته په کتو رامنځ ته شوی دي. د دفاع وزارت او د ټول کال او د ۲۰۱۱ کال د جاري تخصيصاتو قانون د AIF لپاره ۴۰۰ ميليون ډالره تخصيص کړي دي، دا پداسي حال کي ده چه د امريکا د دفاع وزارت راپور ورکړی چه د ۲۰۱۱ کال د جون تر ۳۰مي نيټي پوري د نوموړو ځانګړو شوو مرستو يو ډالر هم نه منل شوی او نه هم مصرف شوی دي.

سرچيني: د امريکا د سنا د نظامي خدمتونو کميټه، مطبوعاتي اعلاميه، " سنا د Ike Skelton۲۰۱۱ مالي کال لپاره د ملي دفاع د صلاحيتونو قانون تصويب کړ، " 12/22/2010؛ د سيګار د 7/18/2011; P.L. 112-10, 4/15/2011 معلوماتي پوښتنو ته د دفاع وزارت ځواب

3.9 انځور

**د CERP فنډونه، مجموعي پرتله**
**(دمليارډ ډالرو په اساس)**




يادونه: پدې معلوماتو کې ممکن د ادارو ترمنځ انتقالات هم شامل وي. د چارو څخه د اغيزمنو شميره

سرچينه: د سيګار 7/15/2011 معلوماتي پوښتني ته د امريکا د دفاع وزارت ځواب؛ د سيګار د 7/15/2011. 4/15/2011 .P.L. 112-10 معلوماتي پوښتني ته د OMB ځواب

3.8 انځور

**د مالي کال په اساس د CERP تخصيصات**
**(د ميليون ډالرو په اساس)**




يادونه: پدې معلوماتو کې ممکن د ادارو ترمنځ انتقالات هم شامل وي. د چارو څخه د اغيزمنو شميره

سرچينه: د سيګار 7/15/2011 معلوماتي پوښتني ته د امريکا د دفاع وزارت ځواب؛ د سيګار د 7/15/2011. 4/15/2011 .P.L. 112-10 معلوماتي پوښتني ته د OMB ځواب

## د DOD د مخدره موادو د مخنيوي او مخدره موادو سره د مبارزې فعليتونه

د DoD د مخدره موادو د مخنيوي او مخدره موادو سره د مبارزې فعاليتونه د امريکا د دفاع وزارت د مخدره توکو دمحوی او مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې فنډ يا DoD CN د هغه هڅو سره د ملاتړ په موخه رامنځ ته شوی چه غواړی د مخدره توکو د منځه وړلو او د هغه د قاچاق د مخ نيوي له لارې د افغانستان د ټيکاو او ثبات په برخه کې اغيزمن رول ولوبوي[25] DoD CN د مخدره توکو د قاچاق پر وړاندې د نظامي ملاتړ، مخدره توکو د کرکيلې د منځه وړلو او د افغان سرحدي پوليسو د ځانګړې روزنې،تجهيز او سمبالښت په ګډون افغان قانون تطبيق کوونکو[26]

۳.۱۰ شميره انځور د مالي کال په اساس د DoD CN لپاره د ځانګړو شوو مرستو ښکارندوی کوي. د امريکا د دفاع وزارت راپور ورکړی چه د ۲۰۱۱ کال د مارچ د ۳۱مې په نسبت د ۲۰۱۱ کال د جون تر ۳۰ مې پورې د نومورې فنډ په مجموعې منل شوو، تخصيص شوو او مصرف شوو مرستو کې ۳۰۱،۱۳ ميليون ډالره زياتوالی راغلی دی. [27] ۳.۱۱ شميره انځور د DoD CN لپاره د تخصيص شوو، منل شوو او مصرف شوو مرستو مجموعي پرتليز معلومات ښکاره کوي.




**د دفاع وزارت د مخدره موادو سره د مبارزې د بوديجو اصطلاحات**

د دفاع وزارت د DoD CN بوديجې د اختصاص شوي، منل شوي، يا لګول شوي په توګه راپور کړې.
**اختصاص شوي**: د ژمنتياو لپاره موجودې ټولې پيسې
**منل شوي**: د پيسو د ورکولو ژمنتياوې
**لګول شوي**: هغه پيسې چې لګول شوې دي

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب، ۲۰۱۰\۱۳\۱۴.

3.11 انځور

د DoD CN فنډ، مجموعي پرتله
( د مليارد ډالرو په اساس)




يادونه: د چارو څخه د اغيزمنو شميره. د دريو مياشتو بشپړ شوي معلومات موجود نه وو.

سرچينې: د سيګار د 6/29/2011 نيټې معلوماتي پوښتنې ته د امريکا د دفاع وزارت ځواب؛ د سيګار د 3/15/2011 معلوماتي پوښتنې ته د OMB ځواب.

3.10 انځور

د مالي کال په اساس د DoD CN تخصيصات
( د ميليون ډالرو په اساس)




يادونه: د چارو څخه د اغيزمنو شميره. تازه معلومات د تيرې ربعې د معلوماتو په پرتله کوچني توپيرونه ښايي.

سرچينې: د سيګار د 6/29/2011 نيټې معلوماتي پوښتنې ته د امريکا د دفاع وزارت ځواب؛ د سيګار د 3/15/2011 معلوماتي پوښتنې ته د OMB ځواب.

## د اقتصادي ملاتړ بوديجه

د اقتصادی ملاتړ د مرستو پروګرام د امريکا هغه علاقه او ليوالتيا ښايي چی غواړی د اړو او نياز لرونکی هيوادو سره په لنډ او اوږد مهاله سياسی، اقتصادی او امنيتی اړتياوی پوره کړی. د ESF پروګرام د تروريزم پر وړاندې د مبارزې، د ملي اقتصاد د پياوړتيا او د يو پرمختللي، اغيزمن، د لاس رسي وړ او خپلواک حقوقي سيستم له لارې د يو مشروع او حساب دهې حکومت د رامنځ ته کولو په برخه کې ګټه اخيستل کيږي.[28] P.L. 112-10 د امريکا پراختيايي اداره د افغان حکومت لخوا د " فساد د منځه د ۲۰۱۱ مالي کال لپار د ESF په فنډ يو شمير محدوديتونه ولګول، چه د هغه په اساس بايد د امريکا د بهرنيو چارو وزارت او وړلو او د دولتداری د ښوالي په برخه کې د شوو تعهداتو په اړه " د امريکا د سنا کميټيو ته د نوړو هڅو تصديق او د هغه په اړه راپور ورکړي[29] د ۲۰۱۱ کال د جولای په اوومه، د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د هغه لاس ليک شوی سند چه ESF ته د مرستو د منظوري اجازه ورکوي د امريکا کانګرس ته انتقال وړاندي کړ.[30]

USAID راپور ورکړ چه د ۲۰۱۱ کال د جون تر ديرشمې نيټې پورې د ESF لپاره د مجموعي ځانګړو شوو مرستو مجموعه ۱۳،۰۲ مليارډ ډالرو ته رسيږي.[31] د دغه شمير مرستو نږدې ۹،۵۷ مليارډ ډالره منل شوي چه د منل شوو مرستو ۷،۷۷ مليارډ ډالره مصرف شوي دي[32] ۳.۱۲ شميره انځور د ESF لپاره د مالي کال په اساس د ځانګړو شوو مرستو ښکارندوی کوي.

USAID راپور ورکړی چه د ۲۰۱۱ کال د مارچ د ۳۱مې په نسبت د ۲۰۱۱ کال د جون د مياشتې په ۳۰مه د منل شوو مرستو په اندازه کې د ۴،۴۷ ميليون ډالرو کموالی راغلي دي او په همدغه موده کې د مجموعي لګښتونو

3.13 انځور

د ESF فنډونه، مجموعي پرتله
( د مليارډ ډالرو په اساس)




يادونه: پدې معلوماتو کې ممکن د ادارو ترمنځ انتقالات هم شامل وي. د چارو څخه د اغيزمنو شميره

سرچينه: د سيګار د 7/13/2011 معلوماتي پوښتنې ته د USAID ځواب؛ د سيګار د 7/15/2011 معلوماتي پوښتنې ته د OMB ځواب

3.12 انځور

د مالي کال په اساس د ESF تخصيصات
( د مليارډ ډالرو په اساس)




يادونه: پدې معلوماتو کې ممکن د ادارو ترمنځ انتقالات هم شامل وي. د چارو څخه د اغيزمنو شميره. د USAID لخوا د تازه ورکړلو شوو معلوماتو په اساس د 2004، 2005 او د 2009 کال په تخصيصاتو کې لږ کموالی راغلي دي.

سرچينه: د سيګار د 7/13/2011 معلوماتي پوښتنې ته د USAID ځواب؛ د سيګار د 7/15/2011 معلوماتي پوښتنې ته د OMB ځواب




### د ESF د بوديجو اصطلاحات

USAID د ESF بوديجې د اختصاص شوي، منل شوې، يا لګول شوې په توګه راپور کړي.

**اختصاص شوي:** د ژمنتياو لپاره موجودې تولې پيسې

**منل شوې:** د پيسو د ورکولو ژمنتياوې

**لګول شوي:** هغه پيسې چې لګول شوې دي

سرچينې: OMB، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۱۹\٤؛ USAID، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۱۵\٤.

په اندازه کې د ۳۹۰،۰۲ میلیون ډالرو په ارزښت زیاتوالی راغلي دي. [33] ۳.۱۳ شمیره انځور په مجموعي ډول د منل شوو، تخصیص شوو او لګول شوو مرستو پرتله ښایي.

## د نړیوالو مخدره موادو کنټرول او د قانون نفاذ

د نړیوالو مخدره موادو او د قانون د تنفیذ (INL) لپاره د متحده ایالاتو دفتر یو داسي حساب سمبالوي چې د قانون حاکمیت پیاوړی کړي او د مخدره موادو د تولید او قاچاق پر وړاندې مبارزه وکړي – د نړیوالو مخدره موادو د کنټرول او د قانون د تنفیذ (INCLE) حساب. INCLE د پولیسو، د مخدره توکو پر وړاندې مبارزې او د قانون د حاکمیت او د عدالت په ګډون د INL د یو زیات شمیر پروګرامونو څخه ملاتړ کوي.[34] P.L. 112-10 د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره پر INCLE یو شمیر محدودیتونه ولګول، چه د هغه په اساس باید د امریکا پراختیایی اداره د افغان حکومت لخوا د " فساد د منځه د ۲۰۱۱ مالي کال لپار د INCLE په فنډ یو شمیر محدودیتونه ولګول، چه د هغه په اساس باید د امریکا د بهرنیو چارو وزارت او وړلو او د دولتداری د ښوالي په برخه کې د شوو تعهداتو په اړه " [35] د امریکا د سنا کمیټیو ته د نوړو څخو تصدیق او د هغه په اړه راپور ورکړي. د ۲۰۱۱ کال د جولای په اوومه، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د هغه لاس لیک شوی سند چه INCLE ته د مرستو د منظوري اجازه ورکوي د امریکا کانګرس ته انتقال وړاندي کړ.[36]

INL راپور ورکړ چه د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره د INCLE لپاره ۴۰۰ میلیون ډالره تخصیص شوي دي، چه پدي سره د INCLE د تخصیص شوو مرستو اندازه ۳،۲۵ ملیارډ ډالرو ته رسیږي.[37] ۳.۱۴ شمیره انځور د مالي کال په اساس د INCLE لپاره د ځانګړو شوو مرستو ښکارندوی کوي. د دغه شمیره مرستو نږدې ۲،۵۶ ملیارډ




**د INL د بودیجو اصطلاحات**

NL د INCLE او نورو INL د بودیجو راپور د ټاکل شویو، منل شویو او مصرف شویو په توګه ورکړی.

**ټاکل شوي:** د ژمنتیاو لپاره موجودي تولي پیسي.

**منل شوي:** د پیسو د ورکولو ژمنتیاوي

**مصرف شوي:** هغه پیسي چي لګول شوي دي

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتني ته د دفاع د محکمي ځواب، ۲۰۱۰۱۹۱۴.

3.14 انځور

د مالي کال په اساس د INCLE تخصیصات
(د میلیون ډالرو په اساس)




یادونه: پدي معلوماتو کي ممکن د ادارو ترمنځ انتقالات هم شامل وي. د چارو څخه د اغیزمنو شمیره

سرچینه: د سیګار د 7/13/2011 معلوماتي پوښتني ته د بهرنیو چارو وزارت ځواب؛ د سیګار د 7/15/2011 معلوماتي پوښتني ته د OMB ځواب.

3.15 انځور

د INCLE فندونه، مجموعي پرتله
(د ملیارډ ډالرو په اساس)




یادونه: پدي معلوماتو کي ممکن د ادارو ترمنځ انتقالات هم شامل وي. د چارو څخه د اغیزمنو شمیره

سرچینه: د سیګار د 7/15/2011 معلوماتي پوښتني ته د بهرنیو چارو وزارت ځواب؛ د سیګار د 7/15/2011 معلوماتي پوښتني ته د OMB ځواب.

ډالره منل شوي او د منل شوو پيسو ۱،۸۵ ملیارډ ډالره مصرف شوي دي.[38]

INL راپور ورکړی چه د ۲۰۱۱ کال د مارچ د ۳۱مې په نسبت د ۲۰۱۱ کال د جون د ۳۰ نيټې سره سم د ټولو منل شوو مرستو په اندازه کې د ۱۲،۶۳ میلیون ډالرو په اندازه زیاتوالی راغلي دي. او په همدې موده کې د لګول شوو مرستو په اندازه کې د ۵۶،۹۴ میلیون ډالرو په اندازه زیاتوالی راغلي دي.[39] ۳.۱۵ شمیره انځور د INCLE لپاره د منل شوو، تخصیص شوو او مصرف شوو مجموعې پرتلیز معلومات بیانوي.

## د افغانستان د بیارغونې لپاره نړیوالې مرستې

د امریکا د متحده ایالاتو د مرستو برسیره، نړیواله ټولنه د افغانستان د بیارغونې او هوساینې په برخه کې په پراخه کچه د پام وړ مرستې ترسره کړي دي. لکه څرنګه چه د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي په تیرو راپورونه کې هم راغلي وو، د افغانستان سره د ترسره کیدونکي ډیری نړیوالې مرستې د باوري فنډونو له لارې سمبال او اداره کیږي. د باوري فنډ له لارې ترسره شوې مرستې باید لومړی د نوموړي فنډ څخه راویستل او بیا د بیارغونې د هڅو لپاره ولګول شي. د باوري فنډ د ډلې څخه دوه لوی فنډونه د افغانستان د بیارغونې باوري فنډ (ARTF) او د افغانستان لپاره د قانون او نظم باوري فنډ (LOTFA) دي.[40]

## د افغانستان د بیا رغونې د باوري فنډ سره ترسره شوې بسپنه

ARTF د افغانستان د انکشافي او عملیاتي بودجې سره تر ټولو غټ مرسته کوونکي دي. د ۲۰۱۱ کال د جون د ۲۱ سر سم، نړیوال بانک راپور ورکړی چه د ۲۰۰۲ کال راپدیخوا ۳۲ مرستو کوونکو نږدې ۵،۰۵ ملیارډ ډالره تعهد کړی چه د هغه جملې څخه یی نږدې ۴،۳۰ ملیارډ ډالره مصرف شوي دي. [41] برتانیا او د امریکا متحده ایالات د ARTFسره تر ټولو دوه ستر مرسته کوونکي هیوادونه دي، چه په ګډه نږدې ٪۴۳ د مرستو چمتو کوي. ۳.۱۶ شمیره انځور. د نړیوال بانک په وینا نړیوالې ټولنې د ۱۳۹۰ لمریز کال لپاره د ARTF سره د مرستې په موخه د ۸۰۷،۳۸ میلیون ډالرو تعهد کړی دي.[42] ۳.۱۷ شمیره انځور په مخامخ پاڼه کې د ۱۳۹۰ لمریز کال لپاره د ARTF سره لس ستر مرسته کوونکي ښایی.

مرستې په دوو چنیلونو باندي ویشل شوې دي – راجعه لګښتونو چینل ((Recurrent Cost (RC)) او پانګې اچولو چینل [43] (Investment Window) د نړیوال بانک په وینا د ۲۰۱۱ کال د جون د ۲۱مې سره سم د ARTF د فنډ څخه ۲،۲۹ ملیارډ ډالره د افغان دولت سره د راجعه لګښتونو له لارې لکه د دولتي کارکوونکو د معاشاتو ورکول لګول شوې دي.[44] RC مرستې اوس هم د افغان دولت سره د عملیاتي لګښتونو د مصرف ګاللو په موخه ترسره کیږي ځکه د افغان دولت عایدات اوس هم د نوموړي دولت لګښتونه په یوازې ډول نشي بسنه کولای. د دې لپاره چه د ستنیدونکي لګښت RC فرصت وکړای شي په کافي اندازه مرستې ترلاسه کړي، د ARTF سره مرسته کونکي شاید په کلني ډول د" ترجیح" ورنکړي چه په کلني ډول د دې نوموړي پروګرام سره د خپلو مرستو تر نیمایی ډیره مرسته ترسره کړي.[45]

د نړیوال بانک په وینا د ۲۰۱۱ کال د جون د میاشتې د ۲۱ نیټې سره سم د پانګه اچونې د چینل سره د پروژو د تمویل په موخه ۱،۷۶ ملیارډ ډالره تعهد شوي، چه د هغه ډلې ۱،۳۵ ملیارډ ډالره مصرف شوي دي.[46] د پانګونې دریچه یا چینل د انکشافي پروګرامونو د لګښت د تمویل په موخه کارول کیږي. ۱۹ پروژو باندي کار روان دي؛ چه په ټولیز ډول یی لګښت ۷۹۳،۱۵ میلیون ډالره دي او د هغه جملې څخه ۳۹۱،۵۱ میلیون ډالره مصرف شوي دي.[47]

## د افغانستان لپاره د قانون او نظم د باوري فنډ سره تعهدونه

د ملګرو ملتونو پراختیایی اداره یا (UNDP) د افغانستان لپاره د نظم او قانون د باوري فنډ (LOTFA) چارې

### د سیګار پلټنې

د ARTF په اړه د سیګار لخوا د ۲۰۱۱ کال د جولای په میاشت کې په ترسره شوې پلټنې کې سیګار ته معلومه شوه چه د نوموړي مرستو څخه د څار په موخه د نړیوال بانک او افغان دولت لخوا رامنځ ته شوي میکانیزمونه یو شمیر محدودیتونه لري. برسیره پردې، افغان دولت د نوموړو مرستو څخه د حساب ورکولو او تنظیم په برخه کې د اړینو مسلکي کارکوونکو په ډګر کې هم د ننګونو سره مخامخ دي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړي ۱ برخې، ۹ پاڼې ته ستانه شي.

3.16 انځور

د ARTF د فنډ سره د (فیصدۍ) په اساس د 1381 کال راپدیخوا، د 2011 کال د جون د میاشتې تر 21 مې نیټې پورې د مرسته کوونکو په اساس د هغوی ونډه

ټولې مرسته شوې پیسې: 4،3 ملیارډ ډالره




یادونه: د مرستو څخه د اغیزمنو شوو شمیره. 1381 لمریز کال = 3/21/2002-3/20/2003. "نور" کې 26 مرسته کوونکي شامل دي.

سرچینه: نړیوال بانک، "ARTF: د 2011 کال د جون د 21 نیټې مالي حالت په اړه اداري راپور،" 4 پاڼه

3.17 انځور

د 2011 کال د جون تر 21 نيټې پورې د مرسته کوونکو لخوا د ARTF سره ترسره شوو مرستو کچه
(د ميليون ډالرو په اساس)




يادونه: د چارو څخه د اغيزمنو شميره:

سرچينه: نړيوال بانک، " د 2011 کال د جون په 21 نيټې سره سم د مالي حالت په اړه د ARTF اداري راپور" 1 پاڼه

تنظيم او پرمخ وړي – نوموړی فنډ هغه ميکانيزم دي چه د افغان ملي پوليسو د معاشاتو د ورکولو په موخه د نړيوالو مرستو د همغږی چارې پرمخ وړي.[48] د ۲۰۰۲ کال راپديخوا نړيوالې ټولنې د (LOTFA) د پرمخ وړلو لپاره ۱،۹۷ مليارډ ډالره تعهد کړی او د۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱ نيټې پورې د دغه شمير مرستو۱،۴۷ مليارډ ډالره مصرف شوي دي.[49]

د (LOTFA) د ملاتړ شپږمه مرحله د ۲۰۱۱ کال د جنوري په لومړی نيټه پيل شوه، او د ۲۰۱۳ کال د مارچ تر ۳۱ نيټې پورې به دوام وکړي. په VI مرحله کې LOTFA افغان دولت ته د ۲۰۱۱ کال د لومړی نيمايی لپاره د افغان ملي پوليسو د معاشاتو د ورکولو په موخه ۱۱۷،۶ ميليون ډالره انتقال کړي دي. د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مې نيټې پورې نړيوالې ټولنې د LOTFA د شپږمې مرحلې لپاره د ۵۷۲،۶۷ ميليون ډالرو تعهد کړي دي. د نوموړي شميرې څخه يوازې د امريکا متحده ايالاتو د ۲۵۶،۷۲ ميليون ډالرو او د جاپان هيواد ۲۴۰ ميليون ډالرو تعهد کړی دي د نوموړو دوو هيوادونو د شپږمې مرحلې لپاره د ټولو تعهداتو ٪۸۷ برخه جوړوي.[50] د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مې نيټې پورې د امريکا متحده ايالاتو د LOTFA د پيل څخه چه د نوموړي پروګرام د شپږمې مرحلې لپاره يې د ۲۱۸ ميليون ډالرو اضافي تعهد راپديخوا نږدې ۵۸۵،۱۰ ميليون ډالره مرسته کړې.[51]

## د سيګار پلټنې

د ۲۰۱۱ کال د اپريل په مياشت کې سيګار ته معلومه شوه چه د افغان ملي پوليسو د معاشاتو د لګښت معلومول ستونزمن کار دي ځکه کوم سيستمونه چه افغان ملي پوليسو د پيسو د ليږد او ويش لپاره کاروي نيمګړي، غير مرکزي او غير نهايی دي. د افغان ملی پوليسو معاشات په ابتدايی ډول د LOTFA له لاری ورکول کيږي. د لا زياتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړي دې پټې www.sigar.mil مراجعه وکړي

# امنيت

لکه څرنګه چه د B په ضميمه کې ښودل شوي دي د امريکا کانګرس د افغان ملي امنيتي ځواک د پياوړتيا او ملاتړ په موخه د ۲۰۱۱ کال د جون تر ۳۰مې نيټې پورې ۴۱ مليارډ ډالره تخصيص کړي دي. د دغه مرستو ډيرى برخه (نږدې ۳۹،۵ مليارډ ډالره) د افغان امنيتي ځواک د فنډ (ASFF) له لارې تخصيص شوې او د افغانستان د امنيتي چارو د انتقال ګډې قومندې (ASFF) له طريقه د افغان ملي امنيتي پوځ ( چه په هغه کې افغان ملي پوليس او افغان ملي اردو شامل دي) د رغونې، روزنې، تجهيز او ثبات په موخه کارول شوي دي. د افغان ملي امنيتي ځواک (ASFF) لپاره د ځانګړ شوو ۳۹،۵ مليارډ ډالره څخه نږدې ۳۱،۲ مليارډ ډالره منل شوي او د منل شوو ۲۷،۶ مليارډ ډالره د ۲۰۱۱ کال د جون تر درشيمې نيټې پورې مصرف شوي دي.[52]

د ملګرو ملتونو د عمومي منشي په وينا په افغانستان کې د روان کال پدې ربع کې د امنيتي پېښو شميره د تيرکال د همدې مودې په پرتله ۵۰ سلنه زياتوالى موندلاى دي. د دې پېښو ډيرى برخه وسلوالې نښتې او د پرمخ تللو چاوديدنکو توکو پېښې جوړوي. د ملګرو ملتونو سرمنشي همدا ډول په ويلې چه د ټولو پېښو نږدې ٪۲۵ او د لوړ پوړو چاراواکو د وژلو نږدې ٪۵۰ پېښې د کندهار ولايت شا اوخوا ترسره شوي دي.[53]

## د افغان ملي امنيتي پوځ ارزونه

د امريکا د مرکزي قومندې يا CENTCOM په وينا د دې ربع په ترڅ کې افغان ملي اردو په خپل عملياتي چمتوالى کې پرمختګ کړي دي. د ۲۰۱۱ کال د جون تر ۹ نيټې پورې ايساف د افغان ملي اردو ۳ واحدونه په يوازې او مستقل ډول د عملياتو د ترسره کولو جوګه بللي وو. هرکله چه د ايساف د ګډې قومندې (IJC) لخوا باوري وپيرندل شي د هغه افغان ملي اردو د واحدونو شمير چه په "مستقل" ډول کولاى شي عمليات ترسره کړي به څلورو ته اوچت شي – دا تر ټولو لوړه ممکنه کچه ده.[54] د افغان ملي پوليسو ډيرى واحدونه اوس هم د قومندان لخوا د واحد د توکو د ارزونې (CUAT) سره سم په خپل حال پاتې شوي دي، البته د پوليسو يو شمير واحدونو لوړه درجه موندلې ده. د افغان ملي پوليسو د دريو برخو- افغان متحد المال پوليس، افغان سرحدي پوليس او د عامه نظم ساتونکي ملي پوليسو - څخه يوې برخې هم په "مستقل" ډول د عملياتو د ترسره کولو وړتيا نه ده تر لاسه کړې.[55]

ايساف د ۲۰۱۰ کال د اپريل په مياشت کې وروسته تر هغه چه د وړتياو د اندازه کولو اصلي سيستم (CM) يې د چارو څخه بهر کړ د افغان ملي امنتيي پوځ د وړتياو د ارزولو لپاره د CUAT څخه ګټه اخيستل پيل کړل. (د (CM) د ارزونې سيستم اوس هم د وزراتخانو د چمتوالي د کچې د ارزونې او سنجش لپاره کارول کيږي.) د CENTCOM په وينا CUAT د افغان ملي پوليسو او افغان ملي اردو د چمتوالي د ارزونې لپاره ۵ درجې کاروي:[56]

- مستقل يا خپلواک:هغه واحد چه خپل ماموريت په خپله طرحه او عملي کړاى شي، د جزوتامونو قومنده او کنترول حفظ کړاى شي، د بيړى عکس العمل ځواک (واکنش سريع) او روغتيايى مسولين د اړتيا په وخت کې سيمه ته راوغوښتل شي او چارې ورسره تنظيم کړاى شي، د فرصت څخه په ګټې اخيستلو استخباراتي معلومات ترلاسه او د پراخو استخباراتي معلوماتو د سيستم ترچتر لاندې عمليات ترسره کړاى شي.

- د سلاکارانو په شتون کي اغيزمن:دا شمير واحدونه په اغيزمنه توګه پلان جوړولو، همغږی، لاربښوني او د عملياتو او حالاتو په اړه د راپور ورکولو چاري پرمخ وړای شي. د ايتلاف سرتيري يوازي محدود، او پيښي ته په کتو دغه شمير پرسونل ته لاربښوني ورکوي او د اړتيا په وخت کي د چارو د شونتيا امکانات ورکول کيږي. ايتلافي سرتيري يوازي د پيښي د تقاضا سره سم الحاقي چاري پرمخ وړي او ورسره يوځای کيږي.
- د مرستي په صورت کي اغيزمن:نوموړی واحد د پلان جوړولو، همغږی، لاربښوني او د عملياتو او حالاتو په اړه د راپور ورکولو، د نورو واحدونو سره د همغږی او ارتباطاتو او د اغيزمني چمتوالي په اړه د راپورونو په برخه کي په منظم ډول سلامشورو ته اړتيا لري. د واحد توان ورکوونکي د نوموړو واحدو سره مرسته کوي البته د اړتيا په وخت کي ايتلافي سرتيري هم د هغوی مرستي ته وردانګي.
- پرمختګ کوونکي:دا ډول واحدونه د پلان جوړولو، همغږی، لاربښوني او د عملياتو او حالاتو په اړه د راپور ورکولو، د نورو واحدونو سره د همغږی او ارتباطاتو او د اغيزمني چمتوالي په اړه د راپورونو په برخه کي همکاری او مرستي ته اړتيا لري. يو شمير توان ورکوونکي حاضر، اغيزمن او د ملاتړ لپاره چمتو وي. اتيلافي قوه توان ورکوونکی او د مرستو ډيری برخه پر غاړه لري.
- تاسيس شوي:دا شمير واحدونه د تنظيم په درشل کي دي او ان د مرستي او د همکاری د ډلي په شتون کي په سختی سره د پلان جوړولو، همغږی، لاربښوني او د عملياتو او حالاتو په اړه د راپور ورکولو چاري پرمخ وړای شي. يادشوي واحدونه په ندرت سره د نورو واحدونو سره د همغږی او ارتباطاتو د ټينګولو چاري ترسره کولای شي. د دا ډول واحدونو ډيری توان ورکووني موجود نه وي او په ډير کم اغيزمن تماميږي. دغه توان ورکونکي لږ او يا هم هيڅ ملاتړ نشي ورکولای. ايتلافي قوه د مرستي او ملاتړ اکثره برخه پرغاړه لري.

د ۲۰۱۱ کال د جون د ۳۰ مي نيټي سره سم د ۳۳ هيوادونو څخه تر ۱۵۰۰ زياتو روزنکو افغان ملي امنيتي پوځ ته د روزني چاري ترسره کولي. د امريکا د دفاع وزارت په وينا دغه شمير روزنکي د تير ربعي په پرتله چه د ۷۷۰ روزنکو کمبود احساس کيدولو اوس دغه تشه ۴۹۰ روزنکو ته راټيټه کړې ده. اوس هم ۴۹۰ نورو روزنکو ته اړتيا ليدل کيږي.[57]

## د دفاع وزارت او کورنيو چارو وزارت ارزوني

د افغانستان لپاره د ناټو د روزني ماموريت (NTM-A) د افغان دولت د دفاع او کورنيو چارو وزارتونو د وړتياو د ارزولو لپاره د CM د درجه بندی د سيستم څخه ګټه اخلي. دغه سيستم د دفاع وزارت او د کورنيو چارو د وزارت د ننه د کارکوونکو د برخو( لکه هغه دفترونه چه د وزارتونو د مرستيالانو لخوا پرمخ وړل کيږی) او د متقابلو فعاليتونو سيمي (لکه د لوی درستيز) لپاره د درجه بندی د څلورو لومړنيو او دوو ثانوي معيارونو څخه ګټه اخلي:[۵۸]

- CM-1A: په خپلواکه توګه د عملياتو د ترسره کولو توان لري
- CM1-B: د فعاليتونو د اجرا توان لري د ايتلافي قوي لخوا يوازي څار او نظارت ته اړتيا لري
- CM2-A: د ايتلافي قوي لخوا د ډير لږ مرستي په ترلاسه کولو سره د فعاليتونو د ترسره کولو توان لري
- CM2-B: کولای شي خپل ماموريت ترسره کړی خو د ايتلافي قوي محدودي مرستي ته اړتيا لري
- CM-3: د ايتلافي قوي لخوا د ستري مرستي پرته نشي کولای خپل ماموريت ترسره کړي
- CM4-: موجود دي خو نشي کولای خپل ماموريت ترسره کړي

د ۲۰۱۱ کال د مارچ د ۳۱مي سره سم، د دفاع وزارت د مالي، عامه اړيکو او جلب او جذب د څانګو په ګډون د دغه وزارت د کارکوونکو او د متقابلو فعاليتي سيمو د پنځمي برخي څخه زياتو ادارو (د ۳۷ څخه ۸)

د CM-2A درجه ته رسيدلي وو. د کارکوونکو دوو برخو پرمختګ کړی، د کارکوونکو او متقابلو فعاليتونو برخو(سيمو) ۳۵ څانګې په خپل حالت پاتې او هيڅ يوې برخې په شاتګ نه دي کړي.[59]

پدې ربع کې د افغان کورنيو چارو وزارت د کارکوونکو د ۲۷ څانګو څخه ۱ څانګې (د عامه اړيکو) د CM-1B درجه ترلاسه کړه، او دوو نورو څانګو ( د کورنيو چارو وزارت د پاليسو د انکشاف او د نوموړي وزارت د امنيتي عملياتو او پلان جوړولو) د CM-2A درجه ترلاسه کړه. NTM-A هيله مند وو چه په راتلونکي ربع کې هغه دوې څانګې چه اوس يې د CM-2A درجه ترلاسه کړې په راتلونکي ربع کې د CM-1B درجه ترلاسه کړي. د کورنيو چارو وزارت د کارکوونکو ډيرې څانګې (۱۲ څانګې) CM-3 او يا هم د (۸ څانګو) د CM-2B درجې ترلاسه کړې وې؛ څلور څانګې تر ټولو ټيټه درجه يعني د CM-4 مستحق ګڼل شوې وې. په وروستيو څلورو څانګو کې د افغان محلي پوليسو او د افغان عامه خونديتوب پوځ شاملي دي.[60]

## د امنيت موخې

پدې ربع کې د افغان امنيتي پوځ شميره ۲۹۸۶۵۹ (چه د هغه ډلې څخه ۱۶۸۰۳۷ يې افغان ملي اردو او ۱۳۰۶۲۲ افغان ملي پوليس جوړوي) رسيږي. د ۲۰۱۱ کال د جون په ۲۷مه، د څار او همغږۍ د ګډ هيئت(JCMB) امنيتي کميټې د افغان ملي امنيتي پوځ شميره ۳۵۲۰۰۰ ته د اوچتولو پر سر هوکړه وکړه.[61] ۳.۱ شميره انځورد تيرو دريو مياشتو په پرتله په ټولو موخو کې د رامنځ ته شوي تغير ښکارندوی کوي.

## د امنيت مهم ټکي

د ۲۰۰۷ کال راپديخوا چه يونما د افغان ملکي وګړو د تلفاتو د ثبت چارې پيل کړې د ۲۰۱۱ کال د مې مياشت د ملکي تلفاتو له نظره تر ټولو خونړۍ مياشت بلل شوې ده. يونما پدې ترڅ کې د ۳۶۸ ملکي وګړو د وژلو او ۵۹۳ نورو د ټپي کيدو خبر ورکړی دي. پرمختللي چاوديدونکي توکي (IEDs) د نوموړو تلفاتو ډيرۍ برخه يعني ٪۴۱ برخه جوړوي پداسي حال کې چه متقابلې ډزې د ۶ سلنه مرګ ژوبلې لامل دي. وسلوال مخالفين د ۸۲ ٪ مرګ ژوبلې مسول ګڼل شوي او ٪۱۲ نورو ملکي وګړي د دولت د طرفدارو ځواکونو لخوا په نښتو کې وژل شوي دي.[62]

د ملګرو ملتونو سرمنشي د ۲۰۱۱ کال د اپريل په مياشت کې په خپل خپاره شوي راپور کې ذکر کړي چه د ۲۰۱۱ کال د اپريل په مياشت کې ۱۷ ځانمرګي حملې ترسره شوې دي، دا شميره د ۲۰۱۰ کال د بلې هرې

3.1 جدول

**د امنيت لپاره ستراتيژيک لومړيتوبونه**

| لومړيتوب | اوسنی هدف | حالت | د تيرو درو مياشتو په نسبت رامنځ ته شوي تغيرات |
|---|---|---|---|
| افغان ملي اردو | تر 10/2010 پوري 134,000 ځواکونه<br>تر 10/2011 پوري 171,600 ځواکونه<br>تر 12/2012a پوري 198,000 ځواکونه | ( تر 5/2011 پوري)<br>168,037 پرسونل | +8,674 |
| افغان ملي پوليس | تر 10/2010 پوري 109,000 ځواکونه<br>تر 10/2011 پوري 134,000 ځواکونه<br>تر 12/2012a پوري 154,000 ځواکونه | ( تر 6/2011 پوري)<br>130,622 پرسونل | +5,033 |

يادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي.
a. په 6/27/2011 د ګډې همکارۍ او څار هيئت د رواني امنيتي کميټې لخوا منظور شوي.
سرچينې: د سيګار د 7/19/2011 پوښتنې ته د امريکا د دفاع وزارت او 7/7/2011 پوښتنې ته د ISAF-IJC او د 6/2011 پوښتنې ته د PERSTAT ځواب.



د روان کال د جولای په شلمه نیټه افغان امنیتي ځواکونو د هلمند ولایت د لشکرګاه ښار د امنیتي چارو مسولیت پرغاړه واخیست. پدې ربع کې افغانانو ته د امنیت د مسولیت انتقال لړۍ د لومړنیو ولایتونو او ولسوالیو په سپارلو سره پیل شوه. (د ایساف انځور، همیش بروک)

میاشتي په پرتله لوړه ده. برسیره پردې د ملګرو ملتونو سرمنشي ته معلومه شوې چه د ملکي افغان مسولینو وژل او د منځ ته وړل هم پدې دریو میاشتو کې زیات شوي دي.[63]

## د امنیت د انتقال په برخه کې پرمختګ

د امریکا د دفاع وزارت په وینا افغان ملي امنیتي پوځ ته د امنیتي چارو د مسولیت لږد په ترځ کې د لومړنیو ولایتونو او ولسوالیو د انتقال بهیر د ۲۰۱۱ کال د جولای په ۲۰ نیټه په پام کې نیول شوی وو.[64]د امریکا د دفاع وزارت ته معلومه شوه چه د امنیتي مسولیت د انتقال پدې لړۍ کې به د بامیان، بلخ، پنجشیر او کابل( د سروبي ولسوالی پرته) ولایتونه او د مزارشریف، هرات شارونه او په هلمند ولایت کې د لشکرګاه او په لغمان ولایت کې د نوموړي ولایت مرکز مهترلام مسولیت افغان امینتي ځواک ته وسپارل شي. د امریکا د دفاع وزارت په وینا پدې سیمو کې نږدې د ٪۲۰ څخه بیا تر ٪۲۵ افغان وګړی ژوند کوي.[65]

د ناټو او افغان انتقال ګډ هیئت د مسولیت د انتقال د چارو څخه څار او نظارت کوي. نوموړی هیئت یا بورډ افغان ولسمشر حامد کرزی ته راپور ورکوي او د افغان ملي امنیتي سلاکار، د ناټو د ملکي استازي او د ایساف د قومندان لخوا یې د نایب مشری چارې پرمخ وړل کیږي. د امریکا د دفاع وزارت په وینا، د امنیتي مسولیت د انتقال د لړۍ لپاره باید دري حالاته ترلاسه شي:[66]

- افغان ملي امنیتي ځواک د امنیتي چارو د مسولیت د اخیستلو جوګه دي.
- امنیتي چارې هغه کچې ته ورسیږي چه افغانانو ته د ورځنی چارو د ترسره کولو فرصت او امکان ورکړي
- ځایي یا محلي حکومتداري باید یقیني کړي چه ایساف د حضور د کمیدلو په صورت کې امنیتي چارې ټکنی نشي.

د امریکا د دفاع وزارت په اند د دغه حالاتو ارزونه او جاج اخیتسل د یوه ولایت څخه تربل ولایت پورې توپیر

### د سیګار پلټنې

د ۲۰۱۱ کال د جون په ۲۲مه سیګار د امریکا کانګرس ته " په افغانستان کې د بیارغونې د قراردادونو په برخه کې د ترسره شوو سپارښتنو د ارزوني او تحلیل په اړه چه د ۲۰۱۱ مالي کال د NDAA د ۱۲۱۹ برخې په اساس ترسره شوې وه. " یو ځانګړی راپور وراندې کړ. پدې راپور کې سیګار د خصوصي امنیتي کمپنیو یا PSC څخه افغان محافظتي پولیسو یا APPF ته د مسولیتونو د لیږد په موخه رامنځ ته کیدونکي ستراتیژی په اړه بیاکتنه ترسره کړې، د دې ستراتیژی په اساس به غیر ډیپلوماتیکي خصوصي امنیتي کمپنی د دفاع وزارت او د بهرنیو چارو وزارت او د امریکا د پراختیایی اداري یا USAID د تطبیق کوونکو همکارانو لپاره وراندې کیدونکې ټول امنیتي خدمتونه او مسولیتونه APPF ته انتقال کړي. د لازیاتو معلوماتو لپاره ۱ برخې،۱۳ پاڼه ته ستانه شي.

3.2 جدول

| په افغانستان کې د امريکا دفاع وزارت لپاره کارکوونکي پرسونل | ۵/۲۰۱۰ پورې | | ۴/۶/۲۰۱۱ پورې | | ۱۱ مياشتې توپير | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | د PSC قراردادیان | ټول قراردادیان | د PSC قراردادیان | ټول قراردادیان | د PSC قراردادیان | ټول قراردادیان |
| امریکايي وګړي | 140 | 16,081 | 250 | 20,413 | +110 | +4,332 |
| د دريم هيواد وګړي | 980 | 17,512 | 732 | 23,537 | +248 | +6,025 |
| افغانان | 15,613 | 78,499 | 17,989 | 46,389 | +2,376 | -32,110 |
| **ټول** | **16,733** | **112,092** | **18,971** | **90,339** | **+2,238** | **-21,753** |

سرچينه: CENTCOM، "په عراق او افغانستان کې د CENTCOM د ماموريت په اړونده سيمو کې د امريکايي عملياتو لپاره د قراردادیانو خدمتونه، "4/6/2011 چه د ۷/۱۰/۲۰۱۱ لاس رسۍ ورته شوی دي؛ CENTCOM، "په عراق او افغانستان کې د CENTCOM د ماموريت په اړونده سيمو کې د امريکايي عملياتو لپاره د قراردادیانو خدمتونه، "5/2010 چه د ۷/۱۰/۲۰۱۱ لاس رسۍ ورته شوی دي

3.18 انځور

د خصوصي امنيتي کمپنيو په اړه د افغانستان د ستراتيژۍ مهال ويش




a.د 2012 کال د مارچ د مياشتي وروسته به دغه ستراتيژۍ د هرې دريو مياشتو په فاصله سره بياوکتل او ارزول شي.

سرچينه: سيګار، SP-11-1 پلټنه، " د 2012 مالي کال د 1219 برخې NDAA په اساس په افغانستان کې د بيارغوني په اړه د قراردادونو اړوند سپارښتنو ارزونه او تحليل، "6/22/2011. 14 پانه

لري. د امنيت د تضمين او ثبات په موخه اټکل کيږي چه افغان ملي امنيتي پوځ او د ايساف پرسونل د هغه سيمو څخه چه امنيت يې افغانانو ته سپارل شوی څارنه او نظارت وکړي.[67]

## خصوصي امنيتي قراردادیان او د عامه حفاظت افغان پوځ

د CENTCOM په وينا د ۲۰۱۱ کال د اپريل تر ۶ نيټې پورې د ۱۸۹۷۱ خصوصي امنيتي قراردادیانو په ګډون ټول ټال ۹۰۳۳۹ قراردادیان په افغانستان کې د امريکا د دفاع وزارت لپاره کار کوي. دغه شميره د ۲۰۱۰ کال د دويمي ربع په پرتله د ۲۲۳۸ اضافي خصوصي امنيتي قراردادیانو پرسونل هم شامل دي.[68] د قراردادي پرسونل شميره په ټولو کټګوريو کې د تير کال د همدې مودې په پرتله زياتوالي مونډلی په استثنا د افغان قراردادیانو کټګورۍ چه ۳۲۱۱۰ کموالی پکې راغلی دي. دغه معلومات په ۳.۲ شميره جدول کې ښودل شوي دي.

لکه څرنګه چه د ۲۰۱۱ کال د سيګار داپريل په درې مياشتني راپور کې اشاره ورته شوې وه د ۲۰۱۱ کال د مارچ په مياشت کې افغان حکومت د خصوصي امنيتي کمپنيو څخه د عامه حفاظت افغان پوځ (APPF) ته امنيتي مسوليتونو د ليږد په اړه خپله ستراتيژۍ اعلان کړه. د نوموړي ستراتيژۍ په اساس هغه امنيتي خصوصي کمپنۍ چه د کورنيو چارو لخوا يې د فعاليت جواز ترلاسه کړی وي کولای شي ډيپلوماتيکي او د ايساف اړوند ماموريت او پروژو لپاره امنيتي خدمتونه ترسره کړي، لکن هغه کمپنۍ چه په پرمختيايي او يا هم بشري برخه کې يې کار

کاوه بايد د ۲۰۱۲ کال د مارچ تر ۲۰ مي نيټي پورې خپل ټول مسوليتونه د عامه حاظفت افغان پوځ ته وسپاري.. د خصوصي امنيتي کمپنيو د پرسونل شمير د افغان کورنيو چارو وزارت لخوا ۵۰۰ تنو ته محدود شوی او په استثنايي حالاتو کي کولای شي چه تر ۱۰۰۰ پورې پرسونل ولري. هغه کمپنۍ چه نوموړي او نور شرايط پوره نشي کړای ممکن د جريمي، د وسايلو د ضبط او نورو مجازاتو سره مخامخ شي.[69] د امريکا د دفاع وزارت ته همدارنګه جوته شوې چه افغان ولسمشر حامد کرزي پدې شرط د کمپنيو لخوا د ټاکلي حد څخه د زيات پرسونل استخدام، تجهيز او روزني ته اجازه ورکړې چه تر ټاکلي مودې وروسته نوموړي پرسونل د عامه حفاظت افغان ځواک په ليکو کي ګډه ورڅخه واخيستل شي.[70]

د ۲۰۱۱ کال د اپريل د مياشتي په پرمختيايي راپور کي د امريکا د دفاع وزارت ويلي چه NTM-A او USAID د نوموړي افغان بديل پوځ لپاره د رامنځ ته شوي ستراتيژۍ څخه ملاتړ کوي او د APPF سره مرسته کوي ترڅو د ايساف او نړيوالو معيارانو او غوښتنو سره سم امنيتي خدمتونه وړاندي کړي. برسيره پردې، په افغانستان کي امريکايي پوځ (USFOR-A) د APPF د خدمتونو د ميکانيزم د ترسره کولو په موخه د يوې نړيوالي هوکړې په هڅو او درشل کي دي. د امريکا د دفاع وزارت په وينا APPF په هره مياشت کي د ۱۰۰۰ محافظينو د روزني د يو مرکز د رامنځ ته کولو په درشل کي دي.[71]

## افغان ملي اردو

3.19 انځور

د افغان ملي اردو حاضر پرسونل ، 2011 کال د جون په 20مه غوره شوي برخي يا اجزاوي (فيصدي)




يادونه: د چارو څخه د اغيزمنو شميره. PDY د دندې لپاره حاضر. موظف شوي اما PDY= په طبي، روزنيز او يا هم مجوز رخصتى باندي او يا هم د هيڅ ډول رخصتى پرته غير حاضر.

سرچينه: ISAF-IJC, ANA PERSTAT, 6/20/2011.

د افغان ملي اردو د پرسونل تقويه، د 2011 کال د جون په 20مه غوره شوي اجزاوي




يادونه: SOF= ځانګري عملياتي ځواک. PDY د دندې لپاره حاضر. موظف شوي اما PDY= په طبي، روزنيز او يا هم مجوز رخصتى باندي او يا هم د هيڅ ډول رخصتى پرته غير حاضر.

سرچينه: ISAF-IJC, ANA PERSTAT, 6/20/2011.

د ۲۰۱۱ کال د جون تر ۳۰مې نېټې پورې د امریکا متحده ایالاتو د افغان ملي امنیتي پوځ د فنډ څخه د افغان ملي اردو د رغونې او ثبات په موخه ۲۲،۷ ملیارډ ډالره تخصیص کړي، ۱۹،۷ ملیارډ ډالره منلي او ۱۷،۶ ملیارډ ډالره مصرف کړي دي.[72] د امریکا متحده ایالات په ۲۰۰۲ کال کې د افغان ملي اردو د رغونې لپاره د مرستو ورکوونکو تر ټولو ستر ونډه لرونکی دي. د حکومتي حسابدارۍ د دفتر (GAO) لخوا په ترسره شوې یوې پلټنې کې راغلي چه د امریکا مرستې پدغه پرمختیایي برخو کې لګول کیږي:[73]

- سمبال یا تجهیز او د سلاح، موټرو او د مخابراتي الاتو د اخیستلو په ګډون د ترانسپورت اسانتیاوې
- زیربنایي پروژې، لکه د قرارګاوو، تحویلخانو او د روزنیزو اسانتیاوو رامنځ ته کول
- روزنه او عملیات، لکه د روزنیزو مرکزونو جوړول او همدا ډول د ځانګړو خصوصي روزنې د ورکولو په موخه د مجربو کسانو په دندو ګمارنه
- پایښت، د افغان ملي اردو د معاشونو ورکول او د موټرو او اسانتیاوو څخه ساتنه

## د افغان ملي اردو توان

پدې ربعه کې د افغان ملي اردو شمیره ۱۶۸۰۳۷ چه د تیرو دریو میاشتو په پرتله ۸۶۷۴ زیاتوالی ښایي.[74] د اټکل سره سم د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر د میاشتې تر پایه پورې باید ۱۷۱۶۰۰ سرتیرو ته ورسیږي.[75]

د افغان ملي اردو ډیری سرتیري د نوموړي اردو شپږمي قطعې ته ورپیږندل شوي دي، نوموړې قطعه د ځانګړو عملیاتي ځواک برخه ده او لکه څرنګه چه د سیګار په دریو میاشتنیو راپورونو کې ورته اشاره شوې وه د ۱۱۱ مرکزي فرقه اړوند ده. د IJC د ارزونو سره سم نوموړو پوځ ته د ۲۰۱۱ کال د جون تر ۲۰ نیټې پورې ۹۹۰۳۵ سرتیري ورپیږندل شوي وو.[76] چه دا شمیر د ۲۰۱۱ کال د مارچ د میاشتې د ۲۰مې نیټې په نسبت د ۸۸۶۹ سرتیرو زیاتوالی ښکاره کوي. البته دا باید وویل شي لکه څرنګه چه د سیګار په پخوانیو راپورونو او په ۳.۱۹ شمیره انځور کې ورته اشاره شوې، چه د دندو ته د ورپیږندل شوو سرتیرو شمیر په دنده باندې د حاضرو سرتیرو په معنی نه ده.. د ۲۰۱۱ کال د جون د ۲۰ سره سم، AWOL د نوموړو سرتیرو د ډلې څخه د ۸٪ څخه بیا د ۱۴٪ پورې تشکیلولو، ۳.۱۹ شمیره انځور د همدې خبرې څرګندونه کوي. .

افغان ملي اردو د افغانستان د ټولو مهمو قومونو استازیتوب کوي. د CENTCOM په وینا پښتانه او تاجک

3.3 جدول

**د ۲۰۱۱ کال د جون د ۳۰ مې نیټې سره سم د افغان ملي اردو قومي جوړښت (٪)**

| | پشتون | تاجک | هزاره | ازبک | نور |
|---|---|---|---|---|---|
| افسران | 42.53 | 40.84 | 7.38 | 4.07 | 5.18 |
| NCOs –افسر کادر | 51.42 | 37.51 | 6.93 | 2.82 | 1.31 |
| سرتیري | 42.92 | 28.70 | 11.87 | 9.09 | 7.42 |
| **ټول پوځ** | **45.18** | **32.53** | **10.00** | **6.79** | **5.49** |
| د قومي شیوع ارتیا | 44.00 | 25.00 | 10.00 | 8.00 | 13.00 |
| **ډیلټا** | **+1.2** | **+7.5** | **0.0** | **-1.2** | **-7.5** |

یادونه: شمیرې په ګردي کولو اغیزمنې شوې.
a. په نورو کې ترکمن، بلوچ، نورستاني، بیات، سادات، پشه یی، عرب او قزلباش شامل دي.
b. د ملي دفاع وزارت د 0517, 3/18/2010 حکم په اساس
سرچینه: د سیګار د 7/1/2011 نیټې غوښتنې ته د CENTCOM ځواب.

3.20 انځور

د پروګرام په اساس د روزنې څخه فارغ شوي افغان ملي اردو سرتيري




يادونه: HMMWV = لور تحرک، د زياتو موخو لپاره کاريدونکي څلور تيره موټر
سرچينه: د سيګار د 7/1/2011 معلوماتي پوښتني ته د CENTCOM ځواب.

د نومړي اردو ٪۷۸ برخه جوړوي او ٪۸۳ افسران هم د همدې دوو قومونو سره اړيکي لري. په اردو کې د لږه کيو چارو اړيکي د هزاره، ازبک، ترکمن، بلوچ، نورستاني، بيات، سادات، پشه يی، عرب او قزلباش قومونو استازي دي.[77] MoI په افغان ملي اردو کې د قومي جوړښت په اړه د نسبي تمثيل په اساس ځانګړي معيارونه لري. لکه څرنګه چه په ۳.۳ شميره انځور کې ښودل شوي تاجک افسران د تاجک سرتيرو د ونډې په تناسب په غيرنسبي ډول ډير دي..

## د افغان ملي اردو روزنه

د ۲۰۱۱ کال د جون مياشتي تر ۳۰ مې نيټي پورې د امريکا متحده ايالاتو د افغان امنيتي پوځ فنډ يا ASFF له لارې د افغان ملی اردو د روزني او عملياتو لپاره نږدې ۲ مليارډ ډالره تخصيص کړي، ۱،۷ مليارډ ډالره منلي او ۱،۷ مليارډ ډالره مصرف کړي دي.[78]

د CENTCOM په وينا پدې ربع کې د افغان ملي اردو ۲۶۸۸۷ سرتيري د ASFF لخوا تمويل کيدونکي روزنيزو پروګرامونه څخه فارغ شوي دي چه د تيري ربع په نسبت د ۴۴۴۱ سرتيرو زياتوالی ښکاره کوي. د پورته ذکر شوي شميره څخه ۴۳۸۰ د درجه دارو افسرانو د روزني او پرمختيا د کورسونو او ۱۳۱۵ تنه د افسرانو د روزني د پروګرم څخه فارغ شوي دي. دا هرڅه په 3.20.79 کې ښودل شوي دي..[79]

## د افغان ملي اردو د سواد کچه

د CENTCOMپه وينا، د دې دريو مياشتو په ترڅ کې د افغان ملي اردو ٪۱۵،۸ پرسونل د فعاليتي نظره باسواد( د دريم ټولګي د ليک او لوست معادل) او ٪۴۸ نورو د ۱ ټولګی د ليک لوست د ورتياو قابل پيرندل شوي وو. د ۲۰۱۰ کال د نومبر په مياشت کې د افغان ملي اردو عمومي قومندان د ۲۰۱۲ کال د مارچ تر مياشتي د ٪۸۰ افغان ملي اردو د سرتيرو لپاره د دريم ټولګي د معادلو زده کړو هدف وټاکه. د ۲۰۱۱ کال د مارچ د مياشتي سره سم د ابتدايی جنګي زده کړو د ترلاسه کولو په ترڅ کې د افغان ملي اردو ټول پرسونل موکلف وو چه د – لومړی

ټولګی معادل زده کړې- ترلاسه کړي.[80]

CENTCOM ته معلومه شوې چه امریکایی او د ایتلاف قواوې هڅه کوي چه په سیمه کې د افغان ملي اردو د پرسونل د زده کړې کچه لوړه کړي. د دې ربع په ترڅ کې، په سیمه کې د ملي اردو اړوندو قطعاتو کې د سواد د زده کړې په کورسونو کې د ګډون کوونکو کچه ان تر ٪۴۰ که وه. دغه روزنې د NTM-A نوښت د یوې برخې په توګه ترسره کیږي. د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر څخه بیا د ۲۰۱۱ کال د مې تر میاشتې پورې، NTM-A د افغان ملي اردو د سواد په برخه کې ۸،۹ میلیون ډالره مصرف کړې دي.[81]

## په افغان ملي اردو کې د ښځو ونډه

د CENTCOM په وینا د ۲۰۱۱ کال د جون د ۳۰ مې سره سم، ۳۲۴ ښځې د افغان ملي اردو په لیکو کې دنده ترسره کوي – ۲۱۵ افسرانې او ۱۰۹ درجه دارې منسوبینې- نومورې شمیره په تیره ربعه کې ۳۰۰ تنه وه. د نومورې افسرانو ٪۷۰ روغتیایی برخو کې دنده ترسره کوي او ٪۵۰ درجه دار منسوبین په لوژیستکي برخه کې دنده پر مخ وړي. ښځینه افسرې همدا شان په هوایی، اطلاعاتي، سیګنال، مالي، د جنګي وسایلو د خدمې او په کلتوري او مذهبي برخه کې دندې ترسره کوي.[82]

د ۲۰۱۰ کال د جنوري په میاشت کې افغان ملي دفاع وزارت اعلان وکړ چه د افغان ملي اردو ٪۱۰ برخه باید ښځینه سرتیرې تشکیل کړي اما د دې هدف د ترلاسه کولو لپاره یې کوم مهال ویش ونه ټاکه. د CENTCOM په وینا د افغان ملي اردو یوازې ۰،۲ برخه ښځینه سرتیرې جوړوي، دا هغه فیصدي ده چه اټکل کیږي چه د ملي اردو د اصلي شمیر ته د نږدې کیدو سره سم نوره هم راټیټه شي. په لنډ مهالي توګه د افغان ملي اردو د استخدام هدف دا دې چه د ښځینه نوماندو افسرانو په ښوونځی یا OCS او روغتیایی روزنې په ډګر کې د ښځو ونډه زیاته کړي. د ښځو لپاره د OCS صنفونه په څلورو یا پنځو میاشتو کې یو ځل په لاره اچول کیږي. هر صنف د ۱۵۰ میرمنو ګنجایش لري اما په لاره اچول شوو لومړیو دوو صنفونو کې تر ۲۹ ډیرې چوکۍ نه دي ډکې شوې. د OCS دریم صنف د ۲۰۱۱ کال د جون په میاشت کې پیل شوو.[83]

د CENTCOM په وینا، افغان ملی اردو په نیت کې لري چه د څلور کلنې مودې لپاره لومړۍ ښځینه سرتیرې د افغانستان په ملي نظامي اکاډمی یا NMAA کې د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر په میاشت کې استخدام کړي – اته کاله وروسته تر هغه چه NMAA خپل کار د سره پیل کړ. افغان ملي اردو پلان لري چه د صنف د ٪۱۰ - ٪۲۰ ښځې تشکیل کړي ( د ۶۰۰ ټولګی والو څخه د ۶۰ – ۱۲۰ ښځې).[84]

پدې ربع کې د NMAA د پیوستون او بشري منابع دفتر د NMAA عملیاتي مقرراتو لپاره یو ضمیمه طرحه کړه چه د افغان ملي امنیتي پوځ په لیکو کې د جنسي مساواتو او د NMAA په ورځني ماموریتونو کې د جنسي اړه د چارو د سمون او همغږۍ په اړه تفصیل ورکړل شوی دي. د ۲۰۱۱ کال د جون په میاشت کې NTM-A/ CSTC-A د وزارتونو په سطح یو داسې پلان وړاندې کړ چه د افغان ملي اردو په لیکو کې د ښځو د وړاندې د زیاتولو د اغیزمنتیا لارې چارې په ګوته شوې دي.[85]

## د افغان ملي اردو زیربنا

د ۲۰۱۱ کال د جون تر ۳۰مه پورې د امریکا متحده ایالاتو د افغان امنیتي پوځ د فنډ یا ASFF څخه د افغان ملي اردو د زیربنا لپاره ۴ ملیارډ ډالره تخصیص کړې، ۳،۸ ملیارډ ډالره منلي او ۲،۶ ملیارډ ډالره مصرف کړې دي.[86]

د CENTCOM په وینا، پدې ربع کې د افغان ملي اردو اړوند ۳۳ زیربنایی پروژې تسلیم/ورکړل شوي دي (د ۵۵۸،۷ میلیون ډالرو په ارزښت)، پر ۷۵ نورو پروژو کار روان وو (د ۱۲۶۲،۸ میلیون په ارزښت) او

جدول 3.4

**په سیمه کې دافغان ملي اردو د توکو ځای پرځای کول**

| | د ۲۰۱۱ کال لومړی ربع | | د ۲۰۱۱ کال دویمه ربع | |
|---|---|---|---|---|
| | شمیر | لګښت (په میلیون ډالرو) | شمیر | لګښت (په میلیون ډالرو) |
| وسلې | 9,448 | 20.0 | 1,513 | 10.8 |
| ټرانسپورټي وسایل | 1,163 | 390.8 | 726 | 199.4 |
| مخابراتي توکي | 6,617 | 37.3 | 2,708 | 10.1 |
| **مجموعه** | **17,228** | **448.1** | **4,847** | **220.2** |

یادونه: شمېرې په ګردې کولو اغېزمنې شوې.
سرچینه: د سیګار د 7/1/2011 او 4/1/2011 معلوماتي پوښتنې ته د CENTCOM ځواب

دريي پروژې بشپړې شوې دي ( د ۱۰۷ میلیون ډالرو په ارزښت). د نویو پیل شوو پروژو له ډلې، د تر ټولو لویه په غزني ولایت کې د ۲۰۳مې قطعې لپاره د یو لشکرکوټ (چاونۍ) جوړول دي چه مجموعي لګښت یې ۷۰،۱ میلیون ډالره اټکل شوی او د پلان سره سم باید د ۲۰۱۳ کال د جنوري تر ۲۰مې نیټې بشپړ شي. دې ته ورته یو لشکرکوټ په فراه ولایت کې د ۲۰۷مې قطعې لپاره رغول کیږي چه ۶۹،۸ میلیون ډالره لګښت لري او د پلان سره به د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۲۶مې نیټې بشپړ شي.[87]

## د افغان ملي اردو تجهیزات

د ۲۰۱۱ کال د جون تر ۳۰مې نیټې پورې د امریکا متحده ایالتونو د ASFF د فنډ څخه د افغان ملي اردو د تجهیزاتو او ټرانسپورټیشن لپاره ۹ ملیارډ ډالره تخصیص کړي، ۸،۴ ملیارډ ډالره منلي، ۸،۳ ملیارډ ډالره مصرف کړي دي.[88]

د CENTCOM په وینا پدې ربع کې، افغان ملي اردو ۱۵۱۳ وسلې (د ۱۰،۸ میلیون ډالرو په ارزښت)، ۷۲۶ موټر(د ۱۹۹،۴ میلیون ډالرو په ارزښت) ۲۷۰۸ مخابراتي وسیلې(د ۱۰،۱ میلیون ډالرو په ارزښت) ترلاسه کړي دی.[89] لکه څرنګه چه په ۳.۴ شمیره جدول کې ښودل شوي دي د تیره ربع په پرتله پدې ربع کې د ورکړل شوو تجهیزاتو او وسیلو شمیره خورا ټیټه ده.. لکه څرنګه چه د سیګار د ۲۰۱۱ کال د اپریل په درې میاشتني راپور کې ورته اشاره شوې وه د افغان ملي اردو د یو وصفي سرتیري پر سر ټول لګښت ۲۹۹۵ ډالرو ته رسیږي.[90]

د ۲۰۱۱ کال د جون تر ۳۰ پورې افغان هوایی ځواک د ۵۸ الوتکو څخه جوړ شوی دي:[91]

- Mi-17s 35
- Mi-35s 9
- AN-32s 3
- C-27s 11

د CENTCOM په وینا افغان هوایی ځواک په پلان کې لري چه د افغان هوایی ځواک د اړتیاو په اړه د ۲۰۱۰ کال د فبروري په میاشت کې ترسره شوي ارزونې سره سم ۸۷ الوتکې خپل هوایی ځواک ته ورزیاتې کړي. د دې دریو میاشتو په ترڅ کې د افغان ملي اردو او افغان ملي پولیسو ترمنځ (کارس لیولنګ) لخوا ترلاسه شوي تجهیزات تر ډیر حده د امریکا لخوا د افغان امنیتي پوځ فنډ یا ASFF له لارې د غیررسمي- FMS خریداری له لارې ترلاسه کړي دي.[92]

**کارس ـ لیولنګ:** په صحنه کې په عملیاتي او ستراتیژیکه کچه، د یوې نظامي برخې څخه د قومندان د لوژیستکي صلاحیتونو سره سم د سترو لوموړیتوبونو د ترسره کولو لپاره د وسایلو او توکو جهت ګرځول. په متقابلو کچو پلانونه باید د ځان سره د ځانګړو لګښتونو په اړه تګ لارې د ځانه سره ولري.

**سوډو د بهرنیو نظامي خرڅلاو:** د بهرني نظامي خرڅلاو د پروګرام (FMS)، د یو حکومت څخه پر بل حکومت باندې د امریکا د دفاعي توکو د خرڅولو، خدمتونو او روزنې لپاره د دفاع وزارت تګ لارو سره تطابق کول. د بهرنیو نظامي خرڅلاو(FMS) قراردادي ډول نه په توپیر، د متحده ایالاتو د دفاع اداری(DoD) د افغان ملي امنیتي ځواکونه (ANSF) د روزنې او تجهیز لپاره د کانګرس لخوا د افغان امنیتي ځواک تجهیز ته تخصیص شوي مالی منابعو څخه وسله اخلي. د محلي بهرني نظامي خرڅلاو په پرتله سوډو بهرني نظامي خرڅلاو چارې د دفاع د امنیتي همغږي کونکې اداري لخوا ځارل کیږي.

سرچینه: د دفاع وزارت، "د نظامي اصلاحاتو قاموس"، په 7/12/2010 لاس رسی ورته شوي دی؛ د حسابداری عمومي دفتر یا GAO، " د افغانستان د سلاحو په اړه حساب ورکول "،GAO-09-267، په 10/14/2010 لاس رسی ورته شوی؛ DSCA، "بهرني نظامي خرڅلاو، " په 10/16/2010 لاس رسی ورته شوی دی.

3.5 جدول

| د ۲۰۱۱ کال د جون د میاشتې په اساس د افغان ملي پوليسو ورتيا | منظور شوی (تشکيل) | د تشکيل پوستونو ته ګمارل شوي | د تشکيل پوستونو ته نه دي ګمارل شوي |
|---|---|---|---|
| د افغان ملي پوليس ( ټول ټال ځواک : 130,622) | 140,398[a] | 125,619 | 5,003[c] |
| **د افغان ملي پوليسو پر اجزاو ويشنه** | | | |
| AUP | 80,275 | 72,731 | — |
| ABP | 23,086 | 20,018 | — |
| ANCOP | 13,678 | 11,766 | — |
| نور واحدونه | 23,359[b] | 21,104[b] | — |

يادونه: --- = موجود ندي يا په اختيار کې نشته.
a. د کورنيو چارو وزارت د مرکز، جرمونو پر وړاندي د مبارزې، روزني، د مخدره توکو پروړاندي د مبارزې، ترافيکو، روغتيايي مسولينو، استخباراتو او اطفايي لپاره د ځانګړو شوو مسولينو په ګډون د AUP، ABP او ANCOP پرسونل په کې شامل دي.
b. د کورنيو چارو وزارت د مرکز، جرمونو پر وړاندي د مبارزې، روزني، د مخدره توکو پروړاندي د مبارزې، ترافيکو، روغتيايي مسولينو، استخباراتو او اطفايي مسولين پکې شامل دي، شميرې د مقرر شوو او د افغان ملي پوليسو جزتامونو ته تفويض شوو تر منځ ته تفاوت په اساس رامنځ ته شوي دي.
c. د زده کوونکو لومړی ځل دخول

سرچينه: ISAF-IJC, ANP PERSTAT, 6/2011.

## د دفاع وزارت سره د امريکا د متحده ايالاتو مرستې

پدې ربع کې NTM-A د دفاع وزارت سره د " ثابت" او د "مسير د تعقيب" په برخه کې مرستې کړې او داسې هيڅ څه نه دي شوي چه پرمختګ تيګنی کړي.[93] د امريکا دفاع وزارت په وينا افغان دفاع وزارت د NTM-A/ CSTC-A لخوا د ورکړل شوو سلامشورو څخه په ګټه اخيستلو د افغان اردو د مسلکي کولو او د شمير د زياتولو په برخه کې د پرمختيايي سيستمونو رامنځ ته کولو ته دوام ورکړی دی. کاري ډلو او د سلاکارانو ګروپونو د مشرتابه سره د اړيکو ټينګولو، د وزارتونو ترمنځ ته همغږی رامنځ ته کولو، او د وزارتي پرمختيايي هيئت د رامنځ ته کولو له لارې د نومړو هڅو سره مرسته کړې ده. د امريکا، بريتانيا او کاناډا هيواد پوري اړه درلودونکو نږدې ۲۷۲ نظامي پرسونل، په ملکي برخه کې دولتي کارکونکو، او قراردادیانو د نومړو هڅو سره مرسته کړې ده. هڅوی د چارو د تنظيم، د عملياتو د ملاتړ، پرسونل او لوژيستک په ګډون په يو زيات شمير سيمو کې د افغان دولت سره د ظرفيتونو د ارتقا او د ورتياو د لوړولو په برخه کې مرستې کړې ده.[94]

د NTM-A په وينا د افغان ملي دفاع وزارت د ورتياو د لوړولو پر وړاندې لاندې ننګونې پرتې دي:

- د دندو څخه د کړو او فاسدو چارواکو د ليرې کولو په برخه کې د دفاع وزارت دوامدار مقاومت
- د پريکړو مرکزيت – په ټولو سيمو کې د صلاحيت ورکول
- د لوژيستکي سيستم په طي مراحل/ او طرزالعمل کې ګونګتيا

3.21 انځور

د 2011 کال د جولای د لومړی نيټه سره سم د افغان ملي پوليسو په ليکو کې د قومونو استازيتوب




يادونه: د چارو څخه اغيزمنو شوو شميره " نور " کې (د نزولي ترتيب په اساس) پشه يی، ترکمن، نورستان، بلوچ، سادات، عرب، بيات، قزلباش.

سرچينه: د سيګار د 7/1/2011 پوښتنې ته د CENTCOM ځواب.

## عامه درک/ قبولتيا

د ۲۰۱۱ کال د جون په ۱۵مه CENTCOM د افغان ملی امنيتي پوځ لخوا د وړاندې شوو خدمتونو په اړه په مخامخ ډول او د ګروپي سرو له لارې د خلکو د نظرونو د معلوملو په موخه د قرارداد کولو په موخه د داوطلبی د راټولو چارې ترسره شوې. د مسولينو په وينا دغه سروېګانې به د هر عمر، هر ټولنيز، قومي، قبيلې، مذهبي، تحصيلي او جغرافيايي ګروپ څخه معلومات راټول کړي. پدې اړه د درخواستيو د قبولو وروستی نيټه د ۲۰۱۱ کال د جولای ۱۳مه ده.[95]

**تشکیل:** د کورنیو چارو وزارت او د ملي دفاع وزارت لخوا د افغان ملي پولیسو او افغان ملي اردو لپاره د اړینو توکو او پرسونل په اړه لیستونه. دا کلمه په دری کې د "تشکیل" په معنې ده.

سرچینه: GAO, GAO-08-661، " د افغانستان امنیت"، 6/2008, p. 18.

## افغان ملي پولیس

د ۲۰۱۱ کال د جون تر ۳۰مې پورې د امریکا متحده ایالاتو د افغان ملي پولیسو د ثبات او رغونې په موخه د ASFF د فنډ څخه ۱۲،۹ ملیارډ ډالره تخصیص، ۱۱،۳ ملیارډ ډالره منلي او ۹،۸ ملیارډ ډالره مصرف کړي دي.[96]

## د افغان ملي پولیسو توان

د IJC په وینا، پدې ربع کې د افغان ملي پولیسو شمیره ۱۳۰۶۲۲ تنه وه.[97] د دې شمیر پولیسو له ډلې ۷۲۷۳۱ د افغان یونیفورم پولیسو(۲۰۰۱۸ ،(AUP تنه د افغان سرحدي پولیسو (ABP) او ۱۱۷۶۶ د ملي عامه نظم پولیسو (ANCOP)په لیکو کې ځای پر ځای شوي دي، دغه معلومات په ۳.۵ شمیره جدول کې هم بیان شوي دي..

د افغان ملي پولیسو پرسونل د مختلفو قومونو څخه جوړ شوی دي. د CENTCOM په وینا د ۲۰۱۱ کال د جولای تر لومړۍ نیټې پورې د افغان ملي پولیسو ٪۸۵ تشکیل د پښتـنو او تاجکانو څخه جوړ دي.[98] او پاتې فیصدي د نورو قومونو لکه ازبک (٪۵) او هزاره (٪۴) څخه جوړ شوی دي. دغه معلومات په ۳.۲۱ شمیره انځور کې هم ښودل شوي دي.. د افغان ملي پولیسو په لیکو کې د تاجکانو (٪۴۲) حضور په افغانستان کې د هغوی د (٪۲۵) نفوس په پرتله غیر متناسب دي.[99]

## د افغان ملي پولیسو معاشات او د افغانستان لپاره د قانون او نظم باوري فنډ

د ۲۰۰۲ کال راپدیخوا نړیوالې مرسته کوونکي ټولنې د افغانستان د قانون او نظم باوري فنډ (LOTFA) سره د ۱،۹۷ ملیارډ ډالرو مرستې کړې چه د هغې ډلې۱،۴۷ ملیارډ ډالره د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱ نیټې پورې ورکړل شوي دي. د دغه مرستو ډیری برخه د افغان مالیې وزارت لخوا د معاشاتو د الکترونکي سیستم له لارې مصرفیږي. LOTFA د افغان کورنیو چارو وزارت لخوا د منظور شوي ۱۲۲۰۰۰ افغان ملي پولیسو د تشکیل لپاره د معاشاتو د ورکولو په موخه د ۲۰۱۱ کال د لومړۍ ربع لپاره ۱۱۷،۶ میلیون ډالره او د دویمې ربع لپاره ۱۲۰ میلیون ډالره ترانسفر کړي دي. د تازه معلوماتو پر بنسټ د امریکا متحده ایالاتو د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۰ نیټې پورې د LOTFA سره د ۵۸۵،۱ میلیون ډالرو مرستې کړې او د ۲۰۱۳ کال د مارچ تر ۳۱ پورې یې د ۲۱۸ میلیون ډالرو نورو مرستو ژمنـــــــــــه کړې ده.[100]

لکه څرنګه چه د سیګار د اپریل په درې میاشتني راپور کې اشاره شوې وه اوس مهال LOTFA د باوري فنډ د تنظیم په موخه د خپل هغه روایتي رول څخه تیر شوی دي.[101] د افغان ملي پولیسو په اړه د VI مرحلې فعالیتونه په دریو هڅو باندې متمرکزې دي:[102]

- د پولیسو، د زندان د چاروکو او د افغان ملي پولیسو د اړوندو زیربناو لګښتونه LOTFA د افغان کورنیو چارو وزارت سره په ګډه کار کوي ترڅو د افغان ملي پولیسو، د مرکزي زندان ریاست د اړوند پرسونل او د افغان ملي پولیسو د زیربنایی فعالیتونو لپاره چه د تحرک، ځواب ورکولو او کاري حالاتو په ښوالي کې رغنده رول لري لګښتونه تمویل او معاشونه پداسي ډول ورکړل شي چه په اړه یې د اړتیا په وخت کې کره حساب ورکړل شي.
- د افغان دولت د کورنیو چارو په وزارت کې د پالیسی، ادراې او په انفرادي سطحه باندې د ظرفیتونو ارتقا او د اړین اصلاحات. د پروژې کارکوونکي د کورنیو چارو وزارت د کارکوونکو سره په مستقیم ډول کارکوي ترڅو د چارو د تنظیم او په مالي برخه کې خپلې وړتیاوې لوړې او ظرفیتونه اوچت کړي.
- د دیموکراتیکو پولیسو جوړولد " مردمي پولیسو " د ابتکار تر چتر لاندې LOTFA د ټولنو د مشرانو، خلکو، پولیسو او ځایی دولتي شوراګانو سره د معلوماتو او اندیښنو د شریکولو په موخه ګډ کار کوي. د کابل ولایت په اړوندو اته ولسوالیو کې به نوموړي فعالیتونه د دې مرحلې په ترڅ کې وغزول شي.

پدې ربع کې د ملګرو ملتونو پراختیایي اداري یا UNDP چه د افغان مالیي وزارت سره د افغان ملی پولیسو د حق الزحمي د ورکولو په برخه کې د مالي ثبات او د LOTFA د پروسس لپاره د اړین باثباته پرمختګ په برخه کې د لومړیو ګامونو پر سره موافقه ته رسیدلي دي. د افغانستان د مالیي وزارت به د ۸۲۰۰۰ افغان ملي پولیسو د ۳٪ پرسونل ته د معاشاتو د ویش مسولیت چه په ۱۳۹۰ کال کې پیل کیږي پر غاړه واخلي.[103]

## د افغان ملي پولیسو ځاي نوښتونه

د افغان محلي پولیسو(ALP) نوښت افغانستان د کورنیو چارو وزارت د ټولني د دید پروګرام دي. نوموړي پولیس په هغه سیمو کې چه په کافي اندازه ایساف او افغان ملي امنیتي پوځ حضور نلري د امنیت د خوندي کولو په برخه کې مرسته کوي. د امریکا دفاع وزارت ته معلومه شوي چه ALP په یادو شوو سیمو کې د مخالفینو لخوا د ځایی وګړو څخه په خپله نفعه د ګټي اخیستلو توان مختل کړی دي.

ALP د ولسوالی د امنیي قومندان تر لارښوني لاندي کارکوي. د امریکا د دفاع وزارت په وینا، هغوی د شورا لخوا نومول کیږي، د افغان استخباراتي ادارو لخوا یی په اړه تحقیق کیږي اود افغان ملي پولیسو، ملي اردو او د ځانګړو امریکایي پوځ د چاراواکو لخوا روزل کیږي.[104] پدې ربع کې په ۴۳ سیمو کې د افغان محلي پولیسو شمیره ۶۹۳۸ تنه ته رسیدله. [105] البته دا پداسي حال کې د چه د امریکا د دفاع وزارت په دې اړه ننګوني او ستونزې هم په ګوته کړي دي. د بیلګي په توګه:[106]

- د ALP د پروګرام بریا ممکن د ایتلافي منابعو څخه د ناوړې ګټي اخیستلو لامل شي. په ټولنو کې د ALP مخ پر زیاتیدونکي غوښتني د پوره کولو لپاره زیات شمیره جنګي تجهیزاتو او ځانګړو عملیاتي ځواک ته اړتیا شته ده.
- د کورنیو چارو وزارت نوی پر پینو دریدونکی لوژیستکي او اداري ظرفیتونه ALP ته د الکترونیکي لاري په وخت سره د هغوی د معاشاتو د ورکولو په برخه کې ستونزي رامنځ ته کوي.
- ALP په عمومي ډول د یونیفورم، وسلو، موټرو، مخابرو او نورو تجهیزاتو په برخه کې د کمبود سره مخامخ دي.
- مخالفینو ALP او د هغوی د کورنی غړو ته تهدید کړي او د هغوی د منځه وړلو په موخه یی عملیات ترسره کړي.

د امریکا د دفاع وزارت په وینا، د مخالفینو بریدونه د ALP د مسولینو او یا هم د هغه ټولنو چه په خپله د ځان څخه دفاع کوي د ډار او ویري سبب نه دي ګرځیدلي. ځایی او محلي مشران د لا زیاتو ALP سرتیرو د ځای پر ځای کولو په اړه خپلو غوښتنو ته ادامه ورکوي. د امریکا د دفاع وزارت ته همدا شان معلومه شوي چه د ALP په اړه ترسره شوي نظرپوښتني د هغوی څخه د ملاتړ ښکارندوی کوي.[107]

## د افغان ملي پولیسو روزنه

د ۲۰۱۱ کال د جون تر ۳۰مي نیټي پورې د امریکا متحده ایالاتو د ASFF د فنډ څخه د افغان ملي پولیسو د روزني او علیاتو لپاره نږدې ۲،۶ ملیارډ ډالره تخصیص کړي، ۲،۲ ملیارډ ډالره منلي او ۲،۱ ملیارډ ډالره مصرف کړي دي.[108]

د CENTCOM د معلوماتو پر بنسټ پدې ربع کې، 8,608 ملي پولیس د 46 روزنیزو پروګرامونو څخه فارغ شول. د نوموړي شمیر څخه ۴۲۴۰ د AUP، ۲۰۳۹ د ANCOP او ۱۸۳۴ پولیس د ABP د کورسونو څخه فارغ شول؛ نور پاتي د OCS چه (۲۶۰ کسه) او یا هم د روزني د ځانګړو ښوونځیو (۴۶۹) څخه فارغ شوي دي. د ایتلاف همکاران د نوموړو پروګرامونو څخه د ۳۶ پروګرامونو مسولیت پر غاړه درلود،

او امريکايی کمپنيو (ډاين کورپ او Xe Services LLC) د نورو ۱۰ پروګرامونو لپاره د مسوليت چارې پر غاړه درلودې.[109]

## د افغان ملي پوليسو سواد

د CENTCOM په وينا د افغان ملي پوليسو ٪۲۰ پرسونل تر يو حده سواد لري. د افغان ملي پوليسو په اړه د افغان کورنيو چارو وزارت هدف دادي چه ټول پوليس لږ تر لږه د دريم ټولګی په سطحه سواد ولري البته د دې اهدف د ترلاسه کولو لپاره کومه نيټه نه ده په ډاګه شوې. د NTM-A د هغې موخې چه غواړي ټول افغان پوليس ( د دريم ټولګی په سطحه ) ليک لوست وکړای شي ۲۰۱۴ کال دی. NTM-A افغان ملي پوليسو ته د زده کړو د ورکولو په موخه د ټول هيواد په کچه قراردادونه ترسره کړي دي. د CENTCOM په وينا د ۲۰۰۹ کال د نومبر څخه راپديخوا د NTM-A د روزني او لوست ورکولو هڅو د افغان ملي پوليسو ۸۰۰۰ پرسونل د دې جوګه کړی چه د ۳ ټولګی معادل سواد ترلاسه کړي. پدې ربع کې NTM-A نږدې ۳۰۰۰۰ افغان ملي پوليسو ته د سواد زده کړې ورکوي. د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر څخه بيا د ۲۰۱۱ کال د مې ترمياشتي پورې NTM-A د افغان ملي پوليسو د لوست په چارو نږدې ۸،۶ ميليون ډالره مصرف کړي دي.[110]

په تيرو ربعو کې NTM-A/CSTC-A د افغان ملي پوليسو لپاره د سواد ټيټه کچه ښودلې وه. د بيلګې په توګه، د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر د مياشتي په سيګار راپور کې راغلي وو چه د CSTC-A لخوا د افغان ملي پوليسو په ليکو کې د نمونه د اخيستلو وروسته د نوموړو پوليسو د سواد کچه ٪۴،۵ ښودل شوې وه. د ۲۰۱۱ کال د جنوري د مياشتي سيګار راپور ښايی چه د ۷۷۷۱ نويو افغان ملي پوليسو څخه يوازې ٪۲،۲۴ کې وتوانيدل چه د ۲۰۱۰ کال د نومبر د مياشتي د سواد د ازمويني څخه بريالي شي.

د CENTCOM په وينا، NTM-A د افغان ملي پوليسو د عمومي روزنې د قومنداني او د په سيمو کې د افغان ملي پوليسو د واحدونو سره په تماس کې دي ترڅو د NTM-A د قراردادينو لخوا د ترسره کيدونکو روزنيزو پروګرامونو له لارې د نوموړو پوليسو د سواد کچه لوړه شي. CENTCOM ته معلومه شوې چه د افغان ملي پوليسو لپاره د سواد د زده کړې په صنفونو کې د نوموړو پوليسو ګډون په بې ساري ډول زيات شوی دی – د افغان ملي پوليسو د استخدام سره سم – او دا چه د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر د مياشتي راپديخوا د ملي پوليسو د روزنې په مرکز کې د سواد زده کړې اجباري شوې دي. په راتلونکې کې د NTM-A ډير تمرکز پدې دي چه په سيمه کې د لومړی ټولګی برسيره د دويم او دريم ټولګی معادل ليک لوست زمينه برابره کړي.[111]

د ANCOP غړي – خانګړي، " لومړی خط " قطعه چه په بشپړ ډول د افسرانو او درجه لرونکو منصب لرونکو څخه تشکيل شوي بايد باسواده وي. په عين وخت کې لکه څرنګه چه د ۲۰۱۱ کال د جنوري په مياشت کې د سيګار په خپاره شوي راپور کې راغلي، چه NTM-A د هغو نويو سرتيرو د جلب او جذب په اړه چه د لږ سواد سره کولای شي جذب او وړاندې تر دې چه د عملياتي پوځ ليکو ته ورګډ شي روزنې ترلاسه کړي بياکته کړې ده.[112] د CENTCOM په وينا پدې ربع کې د ANCOP هدف دادي چه ټول پرسونل وکولای شي د دريم ټولګی معادل ليک لوست وکړي. CENTCOM ته معلومه شوې چه د ANCOP د سواد په اړه بشپړه پريکړه نه ده نيول شوې او په ټولو قطعاتو کې د ANCOP په ليکو کې د ترسره کوونکو سرتيرو د ليک لوست د کچې د ارزونې او ازموينې په موخه هيڅ ډول نوښت يا اقدام نه دي ترسره شوی. د ۲۰۰۹ کال د نومبر څخه بيا د ۲۰۱۱ کال تر فبرورۍ پورې د ANCOP د ۷۲۴۳ پرسونل څخه ازموينه اخيستل شوې چه د هغه ډلې څخه يوازې ۳۸۷ ګډونوالو چه د ټولې شميرې يوازې ٪۵،۳ کيږي د کاميابی نمبرې ترلاسه کړې وې.[113]

د CENTCOM په وينا ANCOP اوس هم د بې سوادو کسانو استخدام ته دوام ورکوي. نوي جذب شوي سرتيري د ۱ ټولګی معادل ليک لوست د پيدا کولو په موخه د يوې دوې اونيز پروګرام روزنې ترلاسه کوي. تر استخدام وروسته د ANCOP د روزنې مرکز ته د انتقال وروسته دغه سرتيري د ۴ اونيو يو بل روزنيز پروګرام پرمخ وړي ترڅو د دويم ټولګی معادل سواد ترلاسه کړي. د دريم ټولګی معادل سواد – يا فعاليتي سواد – د

جدول 3.6

| په سیمه کې د افغان ملي پولیسو د توکو ځای پرځای کول | د ۲۰۱۱ کال لومړی ربع شمیر | د ۲۰۱۱ کال لومړی ربع لګښت (په میلیون ډالرو) | د ۲۰۱۱ کال دویمه ربع شمیر | د ۲۰۱۱ کال دویمه ربع لګښت (په میلیون ډالرو) |
|---|---|---|---|---|
| وسلې | 7,240 | 5.3 | 11,050 | 12.2 |
| ټرانسپورټي وسایل | 1,170 | 99.2 | 1,514 | 92.5 |
| مخابراتي توکي | 2,938 | 1.5 | 1,746 | 3.6 |
| **ټول** | **11,348** | **106.0** | **14,310** | **108.3** |

یادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي.
سرچینه: د سیګار د 7/1/2011 او 4/1/2011 معلوماتي پوښتني ته د CENTCOM ځواب

ترلاسه کولو په موخه نوموړي کسان د ANCOP د۱۴ اونیو په اوږدوالي د روزنې یو پروګرام چه په هغه کې د سواد یو کورس شامل دی تعقیبوي.[114]

د ۲۰۱۱ کال د جون په څورلسمه د ملګرو ملتونو د یونیسکو او د جاپان حکومت د ۳ میلیون ډالرو په ارزښت یو قرارداد لاس لیک کړ چه د هغه د مخې به په کابل او ۷ نورو ولایتونو کې د ۳۰۰۰ افغان ملي پولیسو لپاره د ۲۰ راتلونکو میاشتو په ترڅ کې د سواد د ترلاسه کولو پروګرامونه ترسره شي.[115]

## په افغان ملي پولیسو کې د ښځو ونډه

د CENTCOM په وینا د ۲۰۱۱ کال د جون تر ۳۰مې پورې د افغان ملي پولیسو په لیکو کې ۱۱۱۲ ښځینه سرتیرو دنده ترسره کوله – ۱۸۳ افسران (په تیره ربع کې دغه شمیره ۱۶۴) وه او ۹۲۹ درجه لرونکي منصبداران. CENTCOM د هغه لیست کې شامل سرتیرو په اړه چه درجه داره افسران وو تازه معلومات نه دي ورکړي. د CENTCOM په وینا د ۱۳۹۰کال لپاره د افغان ملي پولیسو هدف په خپلو لیکو کې د ۱۷۵۳ ښځو درلود دی.[116]

## د افغان ملي پولیسو زیربنا

د ۲۰۱۱ کال د جون تر ۳۰مې پورې د امریکا متحده ایالاتو د ASFF فنډ څخه د افغانستان د زیربنا لپاره ۲،۷ ملیارډ ډالره تخصیص کړي، ۲،۵ ملیارډ ډالره منلي او ۱،۵ ملیارډ ډالره مصرف کړي دي.[117]

د CENTCOMپه وینا، ۳۶ زیربنایي پروژې تسلیم/ورکړل شوي دي (د ۳۵۳،۴ میلیون ډالرو په ارزښت)، پر ۱۶۱ نورو پروژو کار روان وو(د ۶۷۱،۶ میلیون په ارزښت) او ۱۳ پروژې بشپړې شوي دي ( د ۵۶،۵ میلیون ډالرو په ارزښت). د نویو ترلاس لاندې پروژو څخه په کندهار ولایت کې د پولیسو د روزنې سمیز مرکز(د ۶۱،۴ میلیون ډالرو په رازښت) او په ورته مرکز په هرات ولایت کې (۶۱،۶ میلیون ډالرو په ارزښت) دي، د پلان سره سم دواړې پروژې د ۲۰۱۲ په وروستیو کې بشپړې شي. د روانو ۱۶۱ پروژو له جملې تر نیمایي ډیرې(۹۱) د افغان یونیفورم پولیسو لپاره د ولسوالي مرکزونو جوړول دي.[118]

## د افغان ملي پولیسو تجهیزات

د ۲۰۱۱ کال د جون تر۳۰مې پورې، د امریکا متحده ایالاتو د ASFF فنډ څخه د افغان ملي پولیسو د تجهیز او ترانسپورټیشن لپاره ۳،۷ ملیارډ ډالره تخصیص کړي، ۳،۴ ملیارډ ډالره منلي او ۳،۲ ملیارډ ډالره مصرف کړي دي.[119]

د ۲۰۱۱ د اپریل د لومړۍ څخه بیا د جون تر ۳۰مې پورې، افغان ملي پولیسو ۱۱۰۵۰ وسلې(د ۱۲،۲ میلیون ډالرو په ارزښت) ۱۵۱۴ موټر(د ۹۲،۵ میلیون ډالرو په ارزښت) او د ۱۷۴۶ مخابراتي وسایلو څخه ( د ۳،۶ میلیون ډالرو په ارزښت) په سیمه کې کارولي دي.[120] لکه څرنګه چه په ۳.۶ شمیره جدول کې ښودل شوي د تیرو دریو میاشتو په پرتله د زیات شمیر وسلو څخه ګټه اخیستي ده..

د دې دریو میاشتو په ترڅ کې د افغان ملي پولیسو لخوا ترلاسه شوي تجهیزات تر ډیر حده د امریکا لخوا د افغان امنیتي پوځ فنډ یا ASFF له لارې د غیررسمي- FMS خریدارۍ له لارې ترلاسه کړي دي. CENTCOM ته معلومه شوې چه یو شمیر مخابراتي تجهیزات د ځایی قراردادونو له لارې ترلاسه شوي دي.[121]

## د کورنیو چارو وزارت څخه د متحده ایالاتو ملاتړ

د CENTCOM په وینا، د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر په میاشت کې د امریکایی پوځ تحقیقاتي، پراختیایی، او د انجینرۍ قومندې د پولیسو د پراختیا په موخه د افغان کورنیو چارو وزارت ته امریکایی او ایتلافي متخصصینو د وړاندې کولو په موخه د ډاین کورپ سره د ۲۰ میاشتو په اوږدو یو قرارداد لاس لیک کړ. د وزارتونو سلاکاران او د روزنې پروګرام په یو شمیر سمیو کې د متخصصینو خدمتونه وړاندی کوي: پرسونل، اطلاعات، لوژیستک، ارتباطات، د ځواک تشکـــــــــیل او تنظیم، مالي، روغتیایی، انجینري، هدف یابي، حقوقي، عامه اړیکې او ستراتیژۍ او پالیسی. نوموړی پروګرام د ۲۰۱۱ کال لپاره ۴۶ میلیون ډالره او د ۲۰۱۲ مالي کال لپاره ۴۶ میلیون ډالره لري. د CENTCOM په وینا پدې ربع کې د ټولو قراردادنو مجموعي لګښت ۶،۹ میلیون ډالره اټکل شوي دي.[122]

CENTCOM ته معلومه شوې چه د ۲۰۱۱ کال د جون تر ۳۰مې نیټې پورې د کورنیو چارو وزارت لپاره ۲۴۳ سلاکاران او مشاورین ورپیرندل شوي وو. د دې ډلې څخه ۱۳۵ د امریکا حکومت د پرسونل او ۳۵ نور د نړیوال او ایتلافي حکومتونو د پرسونل او ۷۳ نور د ډاین کورپ قراردادیان وو. CENTCOM ته معلومه شوې چه ۱۰۷ قراردادیان د اړوند قرارداد له مخې صلاحیت ورکړل شوی دي.[123]

## د متحده ایالاتو ځواکونه

د USFOR-A په وینا، د ۲۰۱۱ کال د جون د ۳۰مې نیټې سره سم ۱۱۰۳۲۵ امریکایی سرتیري په افغانستان کې خپلې دندې ترسره کوي – د تیرو درو میاشتو په نسبت ۹۳۴ زیاتوالی ښکاره کوي. دا ځواکونه په لاندې ډول ګمارل شوي دي:[124]

- 79,041 تنه په نړیوال امنیت مرستندویه ځواک (ISAF) کې
- 3,637 تنه د ناټو د روزنو ماموریت ـافغانستان(NTM-A)/ د امنیت د انتقال ګډ کومنده ـ افغانستان(CSTC-A) کې
- 16,555 تنه د متحده ایالاتو ځواک ــ افغانستان (USFOR-A) کې
- 11,092 تنه نورو(نامشخصو) دندو کې

د دې دریو میاشتو په ترڅ کې د امریکا ولسمشر په افغانستان کې د امریکایی سرتیرو وتلو د لړۍ اعلان وکړ. د ولسمشر په وینا د ۲۰۱۱ کال تر پایه به د افغانستان څخه ۱۰۰۰۰ امریکایی سرتیري ووځي او دا شمیره به د ۲۰۱۲ کال تر دوبي پورې ۳۳۰۰۰ سرتیرو ته ورسیږي.[125]

## د ناچاودېدلو موادو لیرې کول

د بهرنیو چارو وزارت سیاسي-نظامي چارو د وسلو د منع او د منځه وړلو دفتر (PM/WRA)په وینا د ۲۰۰۲ کال څخه بیا د ۲۰۱۱ کال د جون تر ۳۰ مې نیټې پورې د امریکا بهرنیو چارو وزارت د افغانستان سره تکثیر

3.7 جدول

**د معمولي جنګي توکو د منځه وړلو د پروګرام معيارونه، د ۲۰۱۰ کال د اپريل لومړی – د ۲۰۱۱ کال د مارچ ۳۱مه**

| د نيټي رينج يا لړۍ | د منځه وړل شوي AT/AP | د منځه وړل شوي UXO | د منځه وړل شوي SAA | پاکې کړل شوي پارچې | د ماينونو څخه پاکې کړل شوي سيمې(متر مربع) | د اټکل سره سم پاتې ناپاکه شوي سيمه (متر مربع) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 6/30/2010–4/1 | 2,853 | 249,946 | 217,901 | 968,887 | 4,464,926 | 659,770,000 |
| 9/30/2010–7/1 | 3,922 | 270,793 | 1,196,158 | 1,710,708 | 9,108,108 | 650,662,000 |
| 12/31/2010–10/1 | 2,219 | 100,866 | 1,204,036 | 3,549,023 | 5,704,116 | 641,000,000 |
| 3/31/2011–1/1 | 2,171 | 55,005 | 80,156 | 5,899,573 | 11,405,068 | 627,000,000 |
| **ټول** | **11,165** | **676,610** | **2,698,251** | **12,128,191** | **30,682,218** | **627,000,000 (پاتي)** |

يادوني: AT/AP = د ټانک ــضد / د پرسونل ــضد مهمات. UXO = نا چاودونکي مهمات. SAA = د وړو وسلو مهمات.

سرچينه: د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت، د بهرنيو چارو وزارت د سياسي ـ نظامي چارو ديوان د اسلحو د منځه وړلو او کمولو اداره (PM/WRA)، د افغانستان د بيارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی مالي پلټنه ډيټا کال ته ځواب، 7/5/2011.

د مخ نيوي، د تروريزم پر وړاندي د مبارزي، د ماينونو د منځه وړلو او اړوندو پروګرامونو د تطبيق په موخه ۱۸۶،۵ ميليون ډالره مرسته کړې ده.[126]

د PM/WRA په وينا، د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د پنځو غير حکومتي افغان مؤسسو، پنځو نړيوالو غيردولتي مؤسسو او يوې امريکايي کمپنی (ډاين کورپ انټرنيشنل) چاودېدونکو توکو د پاکولو عملياتو او د ممنوع او خطر څخه ډکه مهماتو د منځه وړلو او يا هم راکمولو په موخه نوموړي فعاليتونه په مستقيم ډول تمويلوي. برسيره پر دې، د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د افغان ملي امنيتي ځواک سره د اضافي، د غير قابل استفادې وړ او د نوموړي پوځ د هغه وسلو او ډيپوو د منځه وړلو په برخه کې چه د خطر سره مخامخ دي مرسته کوي او د افغان ملي امنيتي پوځ اړوند وسلو او ډيپوګانو څخه د ساتني لپاره د اړينو فزيکي امنيتي اداري په ګډون مرستي وړاندي کوي. PM/WRA ته معلومه شوې چه په افغانستان کې د امريکا پوځ USFOR-A او CSTC-A پرسونل د ماينونو او چاوديدونکو توکو د منځه وړولو په برخه کې د افغان ملي امنيتي پوځ د چاوديدونکو توکو د محوي- او د چاوديدونکي توکو د پرمختګ د پروګرام او په مزار شريف کې د افغان ملی اردو د انجينرانو د ښوونځی له لارې روزنه او د نظارت مرستي ترسره کوي.[127]

د PM/WRA په وينا، د ۲۰۱۰ کال د اپريل د لومړی څخه د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۳۱مي پوري د امريکا د بهرنيو چارو وزارت لخوا تمويل کيدونکي تطبيق کوونکو ادارو لخوا ۳۰،۶ ميليون متر مربع ځمکه د چاوديدونکي موادو څخه پاکه شوي ده.[128] او لکه څرنګه چه په ۳.۷ شميره جدول کې ښودل شوي پدې شميري سره اوس ۶۲۷ ميليون مترمربع نوره ځمکه بايد پاکه کړل شي..

## دمخدره موادو پر ضد مبارزه

د ۲۰۰۲ کال څخه بيا د ۲۰۱۱ کال د جون تر ۳۰مي نيټي پوري د امريکا متحده ايالاتو په افغانستان کې د مخدره توکو د محوې د نوښت لپاره تر ۵،۲ مليارډ ډالرو زيات تخصيص کړي دي. د دغه مرستو ډيری برخه د دوو فنډونو له لارې تخصيص شوي دي: د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د نړيوالو مخدره توکو پر وړاندي د مبارزي او د قانون د حاکميت (INCLE) فنډ (نږدې ۳،۳ مليارډ ډالر) او د امريکا د دفاع وزارت د مخدره توکو د محوې او د مخدره توکو پر وړاندي د مبارزي فعاليتونو (DoD CN) فنډ (تر ۱،۸ مليارډ ډالر) ترسره شوي.[129] د DoD CN فنډ مرستي د يو شمير موخو لپاره کارول کيږي؛ د امريکا د دفاع وزارت په وينا د ۲۰۱۱ کال د جون تر ۱۵مي سر سم د مرستو ډيری برخه د لاندي فعاليتونو لپاره ځانګړې شوي دي:[130]

- د امريکا د براعظم څخه بهر هوايي تحرک (۴۹۶،۲ ميليون ډالر) په افغانستان کې د مخدره توکو پر وړاندي د مبارزي ماموريت ته تجهيزات، زيربنا، عمليات او حفظ او مراقبت او د روزني په برخه کې مرسته

ترسره کوي.

- استخبارات او معلوماتي تیکنالوژي(388.7 میلیون ډالر): د امریکا/ برتانیا د اجنسیانو تر منځ د ګډو عملیاتو د همغږي د مرکز، د اجنسیانو تر منځ د ګډ قوې (CJITF) د شفافیت او د CJITF شبکه او د قضایی لین د مداخلې د پروګرام تجهیز، تحلیل، عملیاتي او د پاینت د برخې سره ملاتړ.
- د ABP لپاره د مخدره توکو د منځه وړولو په برخه کې مرسته( 201.3 میلیون ډالره): د جنګي تدابیرو اړونده روزنه، او د ABP او د ګمرکي پولیسو لپاره د سلاکارانو او مشاورینو په برخه کې مرسته.
- د افغانستان د مخدره توکو پروړاندې د مبارزې د پولیسو روزنه(157.7) (CNPA میلیون ډالره): د افغانستان د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د پولیسو او د هغه د ځانګړو واحدونو لپاره د سلاکارانو، مشاورینو او د تجهیز، زیربنا، عملیاتو او د پروګرام د پاینت په برخه کې مرسته او همکاري.
- د نورو پروګرامونو ملاتړ(121.5 میلیون ډالر): په افغانستان کې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د پروګرام د ملاتړ په موخه د ارزونکو، روزنکو، ترانسپورتیشن، عملیاتو او حفظ او مراقبت په برخو کې مرسته او د هغه څخه ملاتړ وکړي.
- د امریکا د براعظم د ننه هوایي خوزښت (116 میلیون ډالره): په امریکا کې میشت د انګلیسي ژبې او د افغان کورنیو چارو وزارت د هغه هوایي پرسونل لپاره چه د هوایي ممانعت واحد (AIU) ته ورپیژندل شوي د تجهیزاتو، زیربنا، عملیاتي او د حفظ او مراقبت په برخه کې مرسته او ملاتړ کوي.

## د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې لاس ته راوړنې

د امریکا د دفاع وزارت په وینا، پدې ربع کې، افغان دولت او امریکایي ځواکونو تر ۲۵۰ زیات عملیات ترسره کړي چه په پایله کې یې مرتکبین ګرفتار او د مخدره توکي ضبط شوي دي. د دغه عملیاتو ډیری برخه د هیواد په سویل او سویل لویدیځ کې کې ترسره شوې چیرې چه دافغانستان ډیری برخه کوکنار کرل، پروسس او د افغانستان څخه بهر لیګدول کیږي. افغان ملي امنیتي پوځ د تیرو دریو میاشتو په پرتله د هیواد په ختیځ او شمال کې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې اړوند عملیات را کم کړي دي. دغه عملیات د تاوتریخوالي، مخدره توکو او فساد پر وړاندې د مبارزې په برخه کې متمرکز شوي دي. د امریکا دفاع وزارت ته معلومه شوې چه د مخدره توکو او کیمیاوي توکو ضبط او نیول مخالفینو او وسلوالو ته د هغه مرستو د مخ نیوي سبب شوی چه کولای شوای ورڅخه په وسلوالو نښتو-IED کې ورڅخه ګټه واخلي.[131]

## د افغانستان د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې پولیس یا CNPA

د CNPA تازه ارزوني د هغوی کاري او مهارتي وړتیاوې د CM-3 درجه کټلي ده: نوموړو پولیسو د ایتلافي ځواک د ستر ملاتړ څخه پرته ماموریت نشو ترسره کولای. د CENTCOM په وینا ګمان نکیږي چه CNPA د ۲۰۱۲ کال تر لومړی ربع پورې د CM-2B درجې ته ورسیږي او اټکل نکیږي چه د ۲۰۱۳ کال د لومړی ربع څخه وړاندې CM-2B ترلاسه کړي. البته CENTCOM ته معلومه شوې چه د تیرو دریو میاشتو په ترځ کې CNPA د لمس وړ پرمختګ کړی دي. د CNPA قومنده او د کنترول وړتیاوې د تکتیکي عملیاتو مرکز/ د اطلاعاتو د یوځای کولو مرکز چه روزل شوي کارکوونکي پکې په دنده باندي ګمارل شوي وو لوړې شوي دي. د هغه د پرمختګ د یوې برخې په توګه، AIU د هوایي ماموریت پلان جوړولو تطبیق کړ کوم چه به CNPA ته دا توان ورکړي چه د کورنیو چارو وزارت د امنیت مرستیال څخه د ماموریت د پلان جوړولو مسولیت پرغاړه واخلي.[132]

CENTCOM ته معلومه شوې چه د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې په موخه د ساتنمن څخه د ډګروال

رتبه ته د CNPA پرسونل د لوړولو په موخه د روزنې او زده کړې لپاره پدې ربع کې یوه کره ستراتیژي طرحه شوې ده.[133]

## د عملیاتو مخ نیوی

د امریکا د دفاع وزارت په وینا، افغان امنیتي پوځ د ایساف په مرسته د ۲۰۱۱ کال د جنوري د لومړۍ څخه بیا د ۲۰۱۱ کال د جون تر ۱۳ پورې د مخدره توکو د محوې په موخه ۲۵۶ عملیات ترسره کړې دي. دغه عملیات چه په هغه کې تفتیش، توقیف او د عملیاتو څخه څار شامل دي د ۳۰۲ تنو د گرفتارۍ او د لاندې مخدره توکو د ضبط لامل شوي دي:[134]

- 93,285 kg چرس
- 36,625 kg تریاک
- 4,950 kg مورفین
- 5,322 kg هیروئین
- د مخدره توکو اړوند ۴۶۶۱۶ کیلو گرام کمیاوي مواد

د امریکا د دفاع وزارت ته معلومه شوې چه امریکایي ځواکونو د ترانسپورتیشن، اطلاعاتو، هوایی لیږد او بیرنی عکس العمل په برخه کې خپلو مرستو ته دوام ورکړې، او امریکایی قانون تطبیق کوونکو ادارو د مخدره توکو پر وړاندې د افغان وحدونو د کړنو څخه د څار چارو ته دوام ورکړې دي. برسیره پردې امریکایی اطلاعاتي ادارو د افغان قانون تطبیق کوونکو ادارو او د تکتیکي، عملیاتي او ستراتیژیک پرسونل سره خپلو تحلیلي مرستو په برخه کې خپل ملاتړ ته دوام ورکړې د ادارو تر منځ د همکارۍ گډ ځواک – شفافیت د بین الدارو د عملیاتي همغږۍ د مرکز سره په همکارۍ افغان قانون تطبیق کوونکو ادارو او نظامي پرسونل ته د مشکوکو سیمو یا چارواکو د په گوته کولو په برخه کې مرسته کړې ده. ټول عملیات په سیمه کې د امریکایی او ائتلافي پوځي قومندانانو سره په هغمږۍ او د هغوی د سلامشورو په پام کې ترسره شوي دي.[135]

د ۲۰۱۱ کال د جون د میاشتې په راپور کې د ملگرو ملتونو سرمنشي ویلي وو چه د ۲۰۱۱ کال د مارچ په میاشت کې افغان دولت د ایران د اسلامي جمهوري دولت سره په گډه د خپلو سرحدو په درېو برخو یعني فراه، نیمروز او هرات ولایت په سیمو کې گډ عملیات ترسره کړې دي. په پایله کې زیات شمیر قاچاق کوونکي نیول شوي، نږدې ۱۰۰۰ کیلو گرام تریاک او ۶۰۰ کیلو گرام هیروین د دواړو خواو پولیسو لخوا ضبط او ترلاسه شوي دي.[136]

# دولتداري

له ۳۰ ام جون ۲۰۱۱ را پدې خواه، د امریکا متحده ایالاتو په افغانستان کې د دولت دارۍ او پرمختګ ملاتړ لپاره له ۱۹.۱$ بیلیون ډالرو نه زیات چمتو کړي. په دې څلوریزه کې متحده ایالاتو [137] پروګرامونو سره مالي ملاتړ کړی، چې په فساد، مؤثره او مرستندویه عامه اداري، محلي حکومت دارۍ، د قانون پلي کولو، او بشر حقونو پورې تړلې تلپاتي ستونزو په نښه کولو لپاره بې ادامه درلوده. امینتي پرمختګونو په دولت دارۍ کې د ځینې حاشیه یي ګټو لپاره د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ((GIRoA په واسطه دوام درلوده یا لاینقطع وو. که څه هم، د دولت د کنټرول سطح په شمال او شرق کې په زیات سپک چاپیریال نازکه پاتې شوه.

”نو طالبانو ته زمونږ پیغام نه دی بدل شوی؛ نن هغې حتی شدت موندلی. هغوی نه شي کولای زمونږ وتلو ته په طمع شي، هغوی نه شي کولای مونږ ته ماتې راکړي؛ هغوی اړتیا لري چې سیاسي پروسي سره یوځای شي او له القاعدې سره خپلې اړیکې پریکړي او تاوتریخوالي ته نه ووایي او د افغانستان اساسي قانون ته غاړه کیږدي.“

د امریکا متحده ایالاتو بهرنیو چارو وزیره، هیلري کلنټن

سرچینه: DOS، د مقالو لیکونکو ملي کنفرانس کې دولت بهرنیو چارو وزیر یادونې، ۵/۴/۲۰۱۱.

## کلیدي حوادث

په دې څلوریزه کې، لکه څنګه چې، د GIRoA مقننه او اجرایه څانګې د سپتمبر ۲۰۱۰ پارلماني ټاکنو پایلو سره برخورد ته دوام ورکړی، ولسي جرګې د ۱۳۹۰ لمریز کال لپاره بودجه پاس کړه. د GIRoA په واسطه پلټنې د پخلاینې او بیا ځای پرځای کوونې د پرمختګ لپاره پرمخ تللې، په داسې حال کې چې له ۱۰۰۰ و نه زیات په تنها توګه د بیرته راتګ پروسې سره یوځای شوي او د سولې عالي شورا ډیرې پیښې د افغانستان په دننه او بهر کې پر مخ بیولې.

## د ځانګړې محکمې او ولسي جرګې شخړه

په ۲۳ ام جون ۲۰۱۱ کې ځانګړې محکمې چې د رییس جمهور حامد کرزي په واسطه جوړه شوې، خپله پریکړه د ولسي جرګې د سپتمبر ۲۰۱۰ ټاکنو په نتایجو کې د یواندازه بدلونونو په اړه، د ۶۲ چوکیو (وکیلانو) په خطر کې اچولو سره اعلان کړه. د ولسي جرګې غړو دغه عمل غیر قانوني وبوله او اعلان یې کړ چې د محکمې له خوا به هیڅ نتایج ونه مني. DoS په نښه کړې چې د GIRoA د اساسي قانون د پلي کولو نظارت کمیسون پر اساس محکمه غیر قانوني انګیرل شوې. [138] کله چې د متحده ایالاتو ملاتړ د قانوني پلټنو لپاره د ټاکنو د درغلیو موندلو او هغیو سره د لاس او ګریوان کیدلو لپاره تکراریده، DoS خپله اندیښنه څرګنده کړه چې شاید د GIRoA رسمي مقاماتو د ټاکنو د خپلواک کمیسیون (IEC) پر مشرانو فشار– په شمول د زور زیاتي او زنداني کولو ګواښونو، راوړی وي، تر څو هغوی دې ته اړباسي چې د محکمې سره مرسته وکړي. [139]

## د UN (ملګرو ملتونو) تصویب (رسمي) لست

په ۱۷ ام جون ۲۰۱۱ کې د ملګرو ملتونو امنیت شورا په جمعي توګې سره د ملګرو ملتونو د القاعدې لپاره تور لست په دوه برخو د جدا کولو لپاره حل پاس کړ، یو د القاعدې د غړو لپاره او بل د طالبانو لپاره. ملګرو ملتونو پرهغه طالبانو چې افغانستان یې اداره کاوه، د هغوی د اسامه بن لادن سره ملاتړ پر بنسټ تحمیل شوي فرمان د

سرته رسولو لپاره د القاعدې او طالبانو د ټاکلو کميټه په ۱۹۹۹ کې جوړه کړه. که څه هم، نړيواله ټولنه د اوسنۍ سولې او بيا يخلاينې لپاره، کوښښ کوي چې يو روښانه توپير د القاعدې او طالبانو منځ کې جوړ کړي. ملګرو ملتونو د هغو طالبانو لپاره چې له القاعدې څخه جلا شوي، هم يوه نوې کميټه جوړه کړې چې د GIRoA سره پرې د هغه لست شويو طالبانو په اړه چې په افغانستان کې سوله، ثبات او امنيت ګواښمن کوي، مشوره وکړي. GIRoA يو فعاله رول په هغه پريکړه کې لوبوي چې کوم افراد بايد له ټاکل شوي لست نه لرې شي. د ملګرو ملتونو امنيت شورا غړو مطابق، د افغانستان د اسلامي جمهوريت ونډه اخيستل په پروسه کې د بيا يخلاينې لپاره د هغې پريکړه بنيي.[140]

## بياپخلاينه او يوځای کيدنه

په مې ۲۰۱۱، کې د امريکا متحده ايالاتو بهرنيو چارو وزيرې وويل، چې د اسامه مرګ کولای شي پر طالبانو او د دولت نورو مخالفينو د بيا يخلاينې لپاره فشار زيات کړي.[141] د متحده ايالاتو ملکي او نظامي مقاماتو د بيا يخلاينې د هڅونې په مقصد، په افغانستان او منطقه کې په مختلفو سطحو ډيرو اړيکو ته لاسرسی موندلی. له ۳۰ ام جون ۲۰۱۱، څخه د دغو اړيکو څخه يوه هم د طالبانو سره کومه لويه برخه نه ده اخيستې، او DoS کوم داسې حرکات نه دي ليدلي، چې دا وښيي چې د بن لادن مرګ د طالبانو مشران دې ته اړايستلي وي، چې د بيا يخلاينې لپاره د دوی په اندونو کې کوم مانا لرونکی بدلون راغلی وي.[142]

## د سولې عالي شورا کړنې

د افغانستان اسلامي جمهوريت د بيا پخلاينې ټولې پلټنې رهبري کوي. هغې د بيا پخلاينې ملي پوهاوي لوړولو، د بلواګرو سره د مزاکراتو، او د پرمخ بيولو لپاره د نړيوال ملاتړ د زياتولو لپاره د سولې عالي شورا جوړه کړه. په دې دريو مياشتو کې د سولې عالي شورا د افغانستان په دننه او بهر کې د هغوی د اهدافو پلټلو لپاره يو څه شمير کړنې سرته ورسولې. د امريکا متحده ايالاتو د (ISAF ) ځواکونو د بيا ځای پر ځای کيدنو زندان، په زريعه شورا سره مرسته وکړه، کوم چې سفرونو ته پراخوالی ورکړ. د DoS مطابق شورا له ۳۰ ام جون را په دې خوا ۲.۸ مليونه ډالر بودجه درلوده.[143] مالي مرستې د بيا ځای پر ځای کيدنې مالي ميکانيزم په زريعه چمتو شوې وې، يو مشترکه هڅه د افغانستان اسلامي جمهوريت دولت او ډونرانو ترمنځ په کومه کې چې د افغانستان اسلامي جمهوريت، مالي مرستې د ولايتي ادارو او وزارتونو په واسطه مصرفوي.[144]

په مې ۲۰۱۱ کې شورا د بيا کتنې يو کنفرانس په کابل کې په لاره واچو، کوم چې د افغان سولې او بيا راتګ پروګرام (APRP) د چالشونو پيژندلو او د هغې نه وتلو د حل پيدا کولو لپاره مرسته وکړه. APRP د بلواګرو واقعي بيا راتګ پرمختګ او اداري لپاره د افغانستان د اسلامي جمهوريت دولت بنسټيز پروګرام دی.[145]

## د افغان سولې او بيا يوځای کيدنې پروګرام پرمختګ

د DoS مطابق، په دې ځلوريزه کې د سولې عالي شورا کار د بيا يوځای کيدنې ګام ګړينديتوب سره مرسته او کمک وکړ.[146] DoS په نبنه کړې، دغه ګام د برنامې وړاندې کول وو او APRP د هغې کمي او کيفي اهدافو ته رسيدلی.[147] لکه څنګه چې په ۳.۲۲ انځور کې ښکاري، له ۳۰ام جون ۲۰۱۱ تاريخ نه راپديخوا د ۱۸۵۰ شاه‌وخوا نفرو ځان يوځای کړی . دغه انځور د پروګرام لومړي کال لپاره طرحه شوی، بيا يوځای کيدنې تعداد دوه دومره ته نږدې دی. د بيا يوځای شويو نه تر ۲۰۰ و شاه‌وخوا يې د بيا يوځای کيدنې پروسې دريمې مرحلې ته

3.22 انځور

د هرو دريو مياشتو په اساس د APRP سره بيرته يوځای کيدونکی




سرچينه: د سيګار د 4/15/2011 ,7/1/2011 او 1/12/2011 پوښتنی ته د بهرنيو چارو وزارت ځواب.

رسيدلي دي، کوم چې د تولنې د محصول کړني دي. [148] د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د بيا يوځای کيدونکو لپاره د اقتصادي او نورو فرصتونو طرحي او تصويب ته ادامه ورکړي.[149]

د بيا يوځای کيدني فعاليتونه په دي دري مياشتو کې په ۱۵ ولايتونو کې لاربنود شوي وو. [150] د ISAF ځواکونو د بيا يوځای کيدني زندان مطابق، په بيا يوځای کيدني کې له ۱۵ نه تر ۲۰ سرو پوري ګروپونه شامل دي. قسما، لومړی يوځای کيدنه بيا بيرته د هغوی خپلې تولنې ته ستنيدل. [151] پروسه بې سرته رسولي، له هغوی څخه جرمونو ته د بيرته ستنيدو کومي نښي نه دي ليدل شوي.[152]

د DoS مطابق، له بيا يوځای شويو ډيری يې له شمالي او لويديزو ولايتونو څخه وو.[153] د امريکا متحده ايالاتو د دفاع رياست په نښه کړي چې د بلواګرو طالبانو د لوړ تمرکز له وجې دغه پلټني له بل کوم ځای په پرتله په سويلي ولايتونو کې ډيرې پخې پرمخ تللي.[154] په مې ۲۰۱۱ کې ايساف په افغانستان کې بلواګر له ۲۰۰۰۰ نه تر ۲۵۰۰۰ پوري تخمين کړي.[155]

د ايساف ځواک بيا يوځای کوونې زندان مطابق په دي څلوريزه کې، که څه هم پروګرام د انقباض لپاره پيل شوی و، خو هغه د زيرمو او پروګرامونو په لاره اچولو کې له څو چالشونو سره مخ شو. [156] هغه پروګرام چې د ۲۰۱۰ په جون مياشت کې پيل شوی و، طمع تري کيدله چې د خپل لومړي کال کړنې تر ۸ و شاوخوا ولايتونو ته متمرکزي کړي. په هر حال، په تول هيواد کې د APRP سره يوځای کيدني غوښتنه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ته اړتيا لري، چې په تول هيواد کې پروګرام، د هغې وړتيا کې زياتوالی او د زيرمي چالشونه اداره کړي.[157] د دغه چالشونو له جملې څخه:[158]

- د سولې نمايندګی کوونکو اضافي شورا ګانو جوړول
- له بيا يوځای کولو پروژو سره د بيا يو ځای کيدونکو نښلول
- د بيا يوځای کيدونکو لپاره د امنيت چمتو کول

د ايساف ځواک بيا يوځای کولو زندان ښيي چې د بيا يوځای کوونې پر پروسه د افغانانو باور او اعتماد لوړول هم د هغې برياليتوب لپاره ارزښتمند دي، او څرګندوي چې اوږدي جګړې افغانان د بيا يوځای کيدنې پر پريکړو هوښيار کړي. امنيت راوړل د دې لپاره اړين دي، چې تولنو ته د بيا يوځای کيدنې ملاتړ لپاره اعتماد ورکړي او داسي چاپيريال رامنځته کړي، چې په هغې کې د بلواګرو ګروپونه وکولای شي بيا يوځای شي. [159] د هغې يوه اندازه: د DoD مطابق، له ۳۰ جون ۲۰۱۱ را پدي خوا بلواګرو په ولايتي حکومتونو باندې د هغوی په APRP کې د برخې اخيستنې له امله بريد نه دی کړی.[160]

## د بيا يوځای کيدني لپاره د وړتيا پرمختګ

د DoD مطابق، په مې ۱۰-۱۱، ۲۰۱۱ په کابل کې د APRP بيا کتنې کنفرانس کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت وزيرانو خپل کلنی APRP کاري پلان د ولايتونو او ولسواليو واليانو او د ډونر هيوادونو نمايندګانو ته وړاندي کړ. واليانو د هغوی ستونزې په محلي سطح د بيا يو ځای کيدني پلټنو لپاره په حيث د دوی لوی چالش، د مالي مرستو د لاسته راوړلو لپاره ذکر کړې. [161] هغوی د زياتو پريکړو کولو وړتيا او زيرمي وغوښتلې، که څه هم هغوی د ولايتي کارمندانو د محدودې وړتيا تصديق وکړ. [162] د ايساف ځواک بيا يوځای کيدني زندان مطابق، د APRP تخنيکي اداري ملاتړ کولو لپاره، په شمول د اداره کوونکي حسابونو، هر والي به ۵ يا ۶ کارمندان وګماري. [163]

د DOS متركونه يا مقياس د بيا ځای په ځای کولو ټاکنې لپاره درلودونکي دي:

- د جوړو شويو شوراګانو تعداد او ځای د بيا ځای پر ځای کونې پرمختګ لپاره
- د بيا ځای پر ځای کونې واقعاتو تعداد او ځای
- په APRP کې د تيرو راجستر شويو بلواګرو تعداد
- په هغه ساحو کې چيرې چې بيا ځای پر ځای کوونې د مخې نه په لاره اچول شوي، د هغوی د امنيت کيفي پرمختګ
- په لاره اچول شويو د تولنو د بهبود پروژو تعداد او ډولونه
- په ملي او ولايتي سطحو باندې د APRP انبارول او مؤثريت
- د GIRoA او نورو دولتونو له طرفه د APRP سره د سياسي او مالي ملاتړ کيفيت او سطح

سرچينه: SIGAR د مالوماتو اړيکې ته ځواب، ۷/۱/۲۰۱۱.

له ۳۰ ام جون ۲۰۱۱، را پدې خوا د امریکا متحده ایالاتو او ۱۰ نورو هیوادونو ۱۵۰ ملیونه ډالر د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ته د هغوی د پلټنو لپاره د بیا ځای پر ځای کیدني مالي میکانیزم له لارې چمتو کړي. د DoS مطابق، د ۸۰ ملیونه ډالرو اضافي ژمن شوې مالي مرسته پاتي ده. [164] د APRP مشترک هییت، د مالیي وزارت، او د ملګرو ملتونو پرمختګ پروګرام (UNDP) په دې باندې موافق دي، چې څنګه به مالي مرستې د APRP بودجې لپاره ورکړي. [165] DoS DoS د APRP ورکوونکي مالي مرستې په ځمکه کې د ور اقتصادي فرصتونو رامنځته کولو لپاره بحراني اړتیاوې د وزارتي طرزونو پای ته رسولو لپاره څرګندې کړې. [166]

## د ولایتي بیا یو ځای کیدنې پرمختګ

په سویلي افغانستان کې ولایتونه د ځینې چالشونو سره مخ شول، مګر پرمختګ یې کړی. د DoS مطابق، په کندهار کې دغه پرمختګ د APRP ناکافي ورتیا د هغې په مشترک ملي هییت کې، او د مالي پروسې پوهې لرولي سره په ځینو مسلو کې وروسته پاتي شوی و. په دې ځلوریزه کې مشترک ملي هییت یو کانفرانس په لاره اچولی و، چې دغه مسلې یې په ډاګه کولې. DoS د لا زیات تفصیل سره په کندهار کې د جولای ۲۰۱۱ لپاره د درې ورځني روزنیز پروګرام څخه چې د اضافي چالشونو حل سرته رسولو لپاره جوړ شوی و، طمع درلوده. [167]

د DoS مطابق په هلمند کې د بیا یوځای کووني سیاسي ملاتړ ټینګ دی، کوم چې د چارواکو ژمنتوب ښیې. که څه هم بې دریغه سیاسي اړیکې د بیا یوځای کوني ملاتړ لپاره پرمخ تللي دي، DoS په نښه کړي چې له دې ځلوریزې نه را پدې خوا مرکزي دولت د ولایت لپاره تراوسه کافي توضیح شوی لارښود او ملاتړ نه دی چمتو کړی. په دې ځلوریزه کې په کابل کې د بیا یوځای کیدونکو تنو او د هغوی همکارانو سره په هلمند کې اړیکې ټینګې شوې وې او مرکزي دولت ولایتي هییت د روزنې سره چمتو کړ. د DoS مطابق، دغه ملاتړ او لارښود پروسه په ولایتي او ولسوالی سطح باندې پرمخ بوتله. له ۳۰ جون ۲۰۱۱ راپدې خوا ولایتي حکومت د امریکا د افغانستان بیا یوځای کووني پر پروګرام باندې تکیه کولو ته دوام ورکړ، افغاني چینلو د سرمایې خپرولو لپاره پیل کړی و، چې په محلي توګه بیرنګه و. [168]

د DoS مطابق، له ۳۰ جون ۲۰۱۱ را پدې خوا د ټول هیواد په ۳۳ ولایتونو کې د سولې ولایتي کمیټې جوړې شوې دي. د ولایتي مشترک هییت ټیمونو لپاره په ۱۵ ولایتونو کې کارمند نیونه مکمل شوې او طمع کیږي چې ۶ نور ټیمونه په دې اوړي کې مکمل شي. [169]

## منطقوي نماندتیا

د DoS مطابق، په نړیواله سطح، د امریکا متحده ایالاتو، افغانستان او پاکستان، په می۲۰۱۱ کې په افغانستان او پاکستان کې پر منطقوي مسالو د خبرو لپاره د غونډو یوه لړۍ پیل کړې. ګډون کوونکو پر بیا پخلاینې او د شورش سیاسي حل لپاره ملاتړ باندې خبرې وکړې، پرته له دې په تجارت او اقتصادي همکارۍ پورې تړلې نورو موضوعاتو باندې هم خبرې وشوې. راتلونکو غونډو کې به د بیا پخلاینې د پرمختګ په څرنګوالي، منطقوي اقتصادي اتحاد او نورې پلټنې چې هدف یې د امنیت او خوشبختۍ پرمختګ دی، خبرې وشي. [170]

**له ۱۹ ام می ۲۰۱۱ تاریخ نه، د ISAF ځواکونو د بیا یو ځای کوونې د زندان په مطابق، د افغانستان له ۳۴ ولایتونو نه ټول، مګر یو یا دوه ولایتونو کې د سولې ولایتي شوراګانې جوړې شوي دي. د سولې ولایتي شوراګانې قسما د ټولنې له ۲۰ نه تر ۳۰ و سپین ګیرو څخه جوړې شوي دي، چې یوازې د هغو ګروپونو څخه چې د دولت ملاتړ کوي یا هغه چې نه یې کوي، درلودنکې دي. دغه شوراګانې د سولې پروسه د دوی په محل کې پرمخ وړي.**

سرچینه: د DoD, "DoD لنډ خبر، د Maj.Gen.Jones سره له افغانستان څخه په تلویزوني کنفرانس کې،" ۵/۱۹/۲۰۱۱.

## ملي او نيمه ملي حکومت داري

په اپريل ۲۰۱۱، کې DoS د پرمختګ په ګزارش ښودلي دي چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ولايتونو ته د صلاحيت تمديدولو کې پرمختګ کړی و . د ۷۴٪ شاوخوا افغانان په دې عقيده وو، چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت له طالبانو څخه زيات نفوذ درلود ـــ وروسته له جنوري ۲۰۰۹ نه راپدې خوا خورا لوړه سلنه. ډيرې زياتې لاسته راوړني په هلمند او نيمروز کې وې، چيرې چې ۷۶٪ سلنه ځواب ورکوونکو ويل چې دولت له بلواګرو څخه زيات نفوذ درلود ـ له سپتمبر ۲۰۱۰ راپدی خوا د ۱۷٪ سلني په زيات والي سره. پرته له دې د دغې سرشميرنې ۷۱٪ سلنه په دې عقيده وه چې دا به درد لرونکې وي، که چيرې طالبان بيرته په قدرت کې شي، له سپتمبر ۲۰۱۰ را پدی خوا د ۱۸٪سلني په زيات والي سره.[171]

په جون کې د ملګرو ملتونو امنيت شورا ته په هغې ګزارش کې، د ملګرو ملتونو منشي هم په ډاګه کړه چې د نيمه ملي حکومت داری لومړيتوبونو په اجرا کولو کې پرمختګ و. که څه هم د ملګرو ملتونو منشي وړاندوينه وکړه چې مهم کار پاتي دی. هغې وويل چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت رول او مسؤليتونه په مرکزي، ولايتي، ښاري يا ښاروالی پورې تړلي او ولسواليو په سطحو بايد ټاکلي شي. هغه دا هم وويل، چې دا ډيره مهمه ده چې ولايتي بودجه يي طرز العمل ته د زغم وړ پرمختګ ورکړ شي او اطمينان ورکړي چې ولايتي او د ولسوالی چاروکي هغه سرمايه لاسته راوړي چې مرکزي حکومت يې تصويبوي.[172]

د GIRoA's هستوي بودجه د عملياتي او پرمختګ بودجو درلودونکې ده. دا له څو ځيرمو مالي مرسته او سرمايه لاسته راوړي؛ اماني پانګې د نړيوالی مرستي برخه ښيي. عملياتي بودجه په ځانګړې توګه د مزد او معاش لپاره ده. د پرمختګ بودجه په دولت داری، د قانون پلي کولو، زيرمو، زده کړې، درملنې، کرنې او کليو پراختيا، ټولنيزې ساتنې او خصوصي سيکتور د پرمختګ په موخو د مرکزي لګښت لپاره ده.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د خزانې ځواب، ۲۰۱۰|۵|۱۱.

## د بودجي لومړيتوب اجرا

د ۲۰۱۱ لومړی نيمي پرمهال، د متحده ايالاتو د کابل سفارت يو نړيوال کوښښ، د افغان حکومت داری وړتيا پرمختګ په واسطه د افغانستان د اسلامي جمهوريت د لا ښه کنټرول د انتقال لپاره په چمتو کولو باندې د دولت داری کوښښونو بيا توجه راګرځولو لپاره رهبري کړی. د DoS مطابق، د دغو کوښښونو توجه د ټول افغانستان اسلامي جمهوری دولت افغان مقاماتو د وړتيا پياوړي کولو باندې وه ـــ په کابل او نورو ولايتونو کې ـــ د بودجو لومړيتوب او اجرا لپاره. د متحده ايالاتو سفارت ملاتړ سره، د محلي حکومت لپاره خپلواک رياست (IDLG) او د مالیې وزارت (MoF) په ټول هيواد کې د ولايتي بودجې لپاره لارښود پروګرام پرمخ بيولی، د څو وزارتونو د ولايتي رياستونو سره مرستي په مقصد ـــ لکه معارف، عامه روغتيا، د کلو د پراختيا، او کرنې، اوبو، او مالداری ـــ د وزارتونو د بودجو لپاره په نورو نيمه ملي مصرف چمتو کولو کې.[173]

## ولسي جرګه

په ۱ مي ۲۰۱۱ کې ولسي جرګې د GIRoA د بودجي دريم پړاو (حواله) د ۱۳۹۰ لمريز کال لپاره تصويب کړه.[174] د مالیې وزارت ټوله عملياتي بودجه ۱۵۰.۷ بليونه افغانی (۳.۲ مليونه ډالر) وټاکله، د ۱۳۸۹ لمريز کال په پرتله ۲۵.۸٪ سلنه زياتوالي سره. د پرمختګ تصويب شوې بودجه ۷۴.۱ بيليونه افغانی شوه، د SIGAR د اپريل ۲۰۱۱ څلورمي ګزارش کې په نښه شوې د پرمختګ په اصلي توګه وړانديز شوې بودجې نه په ۸.۲ بيليونه افغانی زياتوالي سره.[175] د ولسي جرګې مطابق، په لومړيو دوه پړاونو کې د پرمختګ په بودجه کې زيات والی د کرنې، معارف، روغتيا، اداري، لوړو زده کړو، سړکونو او امنيت باندې د مصرف په مقدار کې و.[176] د پرمختګ اخرنی بودجه، د ۱۳۹۰ کال د پرمختګ بودجي ۱۱۱.۹ بليونه افغانيو نه ۳۴٪ سلنه لړه وه.[177] ولسي جرګې وويل چې فنډ تخصيص پورې تړلي مسالو، په پرمختيايي بودجه کې ناسم والي او د مخارجو ستونزو له امله يې د بودجي لومړی دوه حوالي رد کړې دي.[178]

د DoS مطابق، ولسي جرگه د قضايي او اجرايه څانگو پريکړو پر وړاندې کلکه ولاړه وه، چې د هغې صلاحيت يې متاثره کاوه. د څانگړې محکمې پر کړنو د نيوکو نه پرته، ولسي جرگې په جون ۲۰۱۱ کې د حامد کرزي د کابينې پاتې غړو د معرفي کولو لپاره د هغې نه حاضريدلو پر وړاندې تعصن وکړ. DoS په نښه کړه چې ولسي جرگې د کابينې ډيرى رسمي وزيران— په شمول د بهرنيو چارو، دفاع او د کورنيو چارو وزيران د پوښتنو او ځوابونو لپاره احضار کړل.[179]

## د افغانستان پارلماني مرستې پروگرام

له ۳۰ جون ۲۰۱۱ را پدې خوا د افغانستان پارلماني مرستې پروگرام (APAP) لپاره له ۳۰.۶ مليونه ډالرو نه ډير د متحده ايالاتو نړيوالې پراختيا لپاره اژانس (USAID) په واسطح مصرف شوي. USAID دغه پروگرام د ملي شورا د وړتيا پرمختگ سره مرستې لپاره پرمخ بيايي، کومې چې محدوده شوي مالي زيرمې او د جلبولو لپاره يې کوښښ او د کميټې مسلکي کارمندانو د لاسه نه ورکول، د قانون تصويبول، د اشتبها لاربنود او د نمايندگى چمتو کول لري. د USAID مطابق، پروگرام د غړو او د هغوى د اداري کارمندانو د چمتو کولو او هغوى ته په پاليسى او د بودجې انالیز، توسيعې او ستونزو په اړه روزنې ورکولو باندې متمرکز شوى و.[180]

USAID وويل دغې ملاتړ مرسته وکړه، ترڅو ملي شورا له يو ضعيف او بې اثره نهاد نه پر مجلس يا مقننه قوې بدله شي، چې هغه په زياتوالي سره له خپل صلاحيت په لاره اچولو ته حاضريږي. په دې درې مياشتو کې USAID پروگرام تر ۳۰ ام سپتمبر ۲۰۱۱ پورې تمديد کړى.[181]

له ۳۰ جون ۲۰۱۱ راپدې خوا APAP له ۲۰ نه ډير د روزنې پروگرامونه پرمخ بيولي، چې شورا له ٪۸۰ نه ډيرو غړو ترې گټه پورته کړې. APAP د پيژندني پروگرامونه هم لاربنود کړي وو، چې د غړو سره يې د دوى د دندو سرته رسولو لپاره مرسته وکړه، USAID مطابق. د کارمندانو خورا تازه سروې، چې اخرنى شورا په کې سرشميرنه شوې ده، وموندل چې د شورا د غړو ٪۶۴ سلنې وويل، چې دوى هغه مهارتونه چې په روزنه کې زده کړي وو، په خپلو دندو کې يې کارولي. د USAID مطابق، د مثال په توگه، په دې څلوريزه کې اکثره اساسي مقننې کميټې پر تعليم، روغتيا، د کابل بينک کړکيچ او نورو موضوعاتو د وزيرانو او د نورو مقاماتو نه د پوښتنې لپاره د APAP تخنيکي مرسته استعمالوي. برسيره پر دې د شورا ٪۸۸ سلنه غړو چا چې ځواب ويلى و، وويل چې د APAP ورکشاپونو او سيمينارونو له امله د دوى پوهه لوړه شوې.[182]

د APAP بودجې پروگرام بودجه يي او کوچني اقتصاد (وړې پانگې اچونې) انالیز چمتو کوي او تخنيکي مرستې چې شورا د بودجه يي بيا کتنې او ستونزو ته د رسيدلو لپاره وړ کړي. د USAID پر وينا، دغه تمرکز شورا باندې د دولت د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۱ بودجو سره مخ کيدو ته حاضريدو لپاره شوى، کوم چې وښودل، شورا په دغې روزنې د ۱۳۹۰ لمريز کال بودجې پاس کولو لپاره تکيه کوي چې بنستيز مقننه وړانديزونه يې يوځاى کړي.[183]

د USAID پر وينا، د APAP د روزنې له لومړيتوبونو يو هم د قانون گزاره ښځو د وړتيا لوړولو سره مرسته ده. اوسنيو ښځينه غړو د هغوى په کميټه ايي رول کې د هغوى رهبريت او مقننه يي مهارتونو لوړوالي لپاره د APAP په جنسيت متمرکزه پروگرام وکاروه. ځکه چې په شورا کې د ښځو کوم فعاله انجمن نشته، مقننه کميټې يوازينى لارې دي، چې ښځينه قانون جوړنکي په کې کولاى شي د رهبريت پوړو ته ځان ورسوي.[184]

## د ولايت او د ولسوالی په کچه حکمت

ډيرى ستونزې ادامه لري چې د ولايت او ولسوالی په کچه د مؤثره حکومت دارى پرمختگ مخه ونيسي. د

افغانستان د تحقیق او ارزیابۍ یون (AREU) د وينا پر اساس، په محلي کچه د قدرت تقسيم د اجراییه، قضايه او مقننه څانګو ترمنځ، په ځانګړې توګه د ولسواليو په کچه، روښانه کيدو ته اړتيا لري. د موجوده قانون تصويب محلي حکومت نهادونو او نورو مقاماتو ته مانا لرونکی قدرت يا مسؤليت ورکول نابرياليی دی، او پاليسي په محلي کچه په مکمله توګه مغشوشه او پيچيده پاتي ده. په داسي حال کي چي واليان وسيع ـ حلقوي قدرت لري، AREU په نښه کړي چي د ولسواليو اداري د ولاياتي ادارو لپاره اړين فرعي دفترونه دي او مرکزي وزارتونه په زيرمو مهم کنټرول لري.[185]

د شخړو حل په محلي سطح د يوې جدي ستونزې په توګه پاتي دی. د متحده ايالاتو د سولې نهاد پر بنسټ (USIP) د مؤثر، روښانه دولت داری چمتو کول او د قانون پلي کولو کي د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت او نړيوالي ټولني د پاتي راتلو په نتيجه کي د ليدلو وړ ټولني د بلواګرو سره يو شوي. نه ختميدونکي شخړې بې ثباتي او يو ډيريدونکی واټن د دولت او خلکو ترمنځ رامنځته کړی. په ځيني ساحو کي طالبان په مستقيمه توګه د دولت او ايساف پر وړاندې د ټولنو درولو په واسطه شخړې پرمخ بيايي. په بله، طالبانو د هغوی وړتيا او غوښتنه د قضايي ميکانيزم په چمتو کولو سره ډيره کړې چي د دولت له مکانيزم نه خورا ډير مؤثره کار کوي.[186]

د نړيوالو ډونرانو بدليدونکي پاليسي او د پروګرام اجرا کول د دولتي نهادونو ترمنځ د همکارۍ کموالي او د محلي حکومت د روښانه ليدنې کموالي لپاره ملاتړ شوي دي. د AREU مطابق، د ډونر پاليسيو د ولسوالۍ سيال نمايندو ملاتړ کړی دی او بين الوزارتي سيال بې روزلی، په ځانګړې توګه د کليو پراختيا وزارت او د محلي حکومت لپاره خپلواکي اداري (IDLG) تر منځ. دغه سيالي د ولايتي شوراګانو، ولسوالي ټولني شوراګانو، د ولسوالي پراختيا شورا ګانو او د ټولني پرمختګ شوراګانو ترمنځ د همکارۍ نه درلودلو لپاره په لاره اچول شوی دی.[187]




3.23 انځور

د کندهار ولايت اړوندې ولسوالۍ

سرچينه: " د افغانستان ولايتونو او ولسواليګانې 9/9/2009" ،

## سويلي افغانستان

په دې ورستيو کي په کندهار او هلمند کي د دولت د پرمختګ نښې په سترګو کيږي خو ډيری چالشونه لا تراوسه پر ځای پاتي دي. حکومت يو تعداد فکتورونه په ساحه کي زيات کړي، په شمول د دولتي چارواکو په آزاده تګ راتګ د ښه شوي امنيت له امله، د دولت او عام وګړو ترمنځ ښه توسعه او اړيکي او د ځينو قومي سپين ګيرو بيرته راتګ د هغوی کليو ته. که څه هم په دې ورستيو کي د امنيت ستونزو، د مقاماتو وژنې او د وړتيا ستونزو، د ولاياتو په مختلف ځاينو کي ادامه لرله.[188]

### د کندهار ولايت

په کندهار کي د ولايتي بيا جوړني ټيم (PRT) او د ولسوالي ملاتړ ټيم (DST) مرستي د ولسوالي او ولايتي مقاماتو سره د دولت زيربنا او خدمت وړاندې کولو ښه والي لپاره ادامه درلوده. د DoS مطابق، د متحده ايالاتو ملاتړ د حکومت منظم برنامه شوي غونډو لپاره، د ولايتي او ولسوالي مقاماتو ترمنځ ټينګي اړيکي جوړې کړي دي.[189]

په دې ورستيو کي په ټول ولايت کي د قومي سپين ګيرو او مخورو بيرته د هغوی ټولني ته بوازې (فردي) راتګ و.(۳.۲۳ ام انځور) DoS په نښه کړې، که څه هم ډيری نور بې احتمالا بيرته کورونو ته د راتګ غوښتونکي وو، هغوی په اوړي کي د جګړې سيزن پرمهال د امنيت راوړو ځرنګوالي ليدو ته په طمع وو. DoS په نښه کړې چي سپين ګيري خپلو ټولنو ته د بيرته راتګ لپاره بې ميله هم وو، ځکه چي ټول مکتبونه په مکمل توګه نه دي فعاله. د DoS مطابق، د سپين ګيرو بيرته راتګ پريکړې کي يوه لويه ملاحظه، د هغوی ماشومانو ته د ښوونې او روزنې شونتيا ده.[190]

## د سیګار پلټنې

په یوه دوامداره پلټنه کې، SIGAR د USAID د محلي حکومت او ټولنې پرمختګ پروژې ملاتړ د قراردادونو کړنې، ارزښتونه، او لاسته راوړنې ارزیابي کوي. هغه پروژه چې په دې ځلورمه کې بې پر کندهار تمرکز و، هدف یې د ثبات پرمختګ د ځانګړې ټولنیز خدمتونو وړاندې کولو په واسطه و. د لا زیاتو معلوماتو لپاره ۱ برخې، 16 پاڼې ته ستانه شي.

د DoS مطابق، په دې ورستیو کې د کندهار په ښار کې د نازک امنیتي حالت د دوام له امله د محلي چارواکو ګرځیدا محدوده شوې. په می ۲۰۱۱ کې بلواګرو څو چاروکي ووژل او په ډیری دولتي ځایونو یې برید وکړ. د DoS مطابق، د نتیجې له مخې محلي چاروکو پرته له ایساف د زریداره موټرو، د ښار له مرکز نه لرې ځاینو ته تګ رد کړی.[191]

په دې ورستیو کې په سویلي افغانستان کې د ډنډ (د کندهار ښار سویل) په ښار کې امنیت خورا ښه ټینګ و. د DoS وینا پر اساس، دا هلته والي ته د دولت د توسعیې لپاره کار کولو ته لاره هواروي. DST په ډنډ کې د ولسوال سره اوږه په اوږه د پروژو پرمختګ اجرا لپاره کار کړی، چې په کې په جون ۲۰۱۱ کې د ۸.۹ ملیونه ډالرو سړک پرانیستیا وه، چې د مارکټونو لپاره فارم جوړونې او عمومي بازار ته د ډیری کرنیزو محصولاتو تولید لاسرسي موندلو سره به مرسته وکړي. DoS په نښه کړې چې په ولسوالۍ کې د ګرځیدو آزادي ډیره په ښه توګه وه. ښوونځي خلاص وو، او ولسوال په ډیرې پلټنې سره کلي د ښوونکو لپاره کتل. په هر حال، DoS هوښیارته ورکړه چې د ملاتړ وروستي زریداره وسیلې چې د کاناډا حکومت چمتو کړې وه، د زیان له امله به په ولایت کې د واک دارانو (ولسوالانو او والیانو) د سفر وړتیا محدوده شي.[192]

د DoS مطابق په پنجوای کې ولسوال ډیری کلیوالي شورا ګانې لاربنود کړې. په ساحه کې د USAID د افغانستان ټولنیز پرمختګ پروګرام (ASOP) شورا په دولت کې د محلي وګړو برخه اخیستنه لوړه کړې چې په تاریخي توګه د بلواګر فعالیتونو په واسطح بیرول شوي وو. د دې نه علاوه، په ساحه باندې د افغانستان ملي امنیت قواو او ایساف ځواکونو د کنټرول له امله د تګ راتګ ازادي لا ښه پرځای ده، حتی د اوړي د جګړې سیزن پر مهال هم. DoS په نښه کړې چې په دې ورستیو کې د فعالیت زیاتولو له امله، بلواګر له تیر کال د همدې وخت په پرتله لږ فعاله او موثره وو. د نمایندګانو د سفرونو شمیر چې د پنجوای هارن څخه د ولسوالۍ شورا ته چې په رسمي توګه د طالبانو له خوا شوي، په روښانه توګه ډیروالی موندلی. DoS ویلي دغه پرمختګ د دولت سره د یوځای کیدنې لپاره د رضایت نښه ده.[193]

د ولسوالۍ ملاتړ ټیم د ولسوال او نورو مقاماتو سره په سپین بولدک د ځمکې په سر شخړې هوارولو کې هم اوږه په اوږه کار کړی دی. د ولسوالۍ د ویس پولې په یوې نوې نقطې کې د یوې لوېې پولې د جوړنې پروژې لپاره دولت د ځمکې مالکانو ته د ځمکې د معاوضې وړاندیز وکړ. اکثره مالکانو دغه وړاندیز ومانه، خو یو شمیر د ځمکو لوی مالکان لا تر د دې ځلوریزې پای پورې پرځای ولاړ وو.[194]

په دې ځلوریزه کې د ولسوالۍ ملاتړ ټیم د کندهار په نورو برخو کې هم د دولت د بهبود لپاره کار وکړ. په میوند کې د ولسوال سره د ولسوالۍ ملاتړ ټیم برخې اخیستنې د ولسوالۍ نه لرې پرتو کلیو سره راکړه ورکړه زیاته کړې.[195] په ارغنداب کې د ولسوالۍ کارمندانو د اداري او کړنو وړتیا لوړوالي لپاره د ولسوالۍ ملاتړ ټیم ولسوال د کړنو ملاتړ وکړ.[196]

### د هلمند ولایت

په هلمند کې په دې ځلوریزه کې PRT او DST د ولایتي او ولسوالۍ رهبري کوونکو سره منظم تعهد ته دوام ورکړی و. د DoS مطابق، د دولت لپاره د عام (وګړو) ملاتړ جوړنې لپاره افغان ملکي مشرانو په ولایت کې یوه فعاله توسعیې کوښښ ته دوام ورکړی.(۳.۲۴ ام انځور) دغه توسیعه په کلکه په سنګین ولسوالۍ کې اړینه ده، چیرې چې DoS په ګوته کړې چې دغه زغمل شوی تعهد د مرکزي دولت سره مخالف شوي، د GIRoA لپاره د زغملو وړ ملاتړ کې بهراني دي.[197]

3.24 انځور

د هلمند ولایت اړوندې ولسوالۍ




سرچینه: USAID، " د افغانستان ولایتونو او ولسوالیګانې، "9/9/2009

له جون ۲۰۱۱ راپدې خوا د GIRoA مقاماتو د سرک د لارې هلمند مرکزي ولايت ته د سفر کولو وړتيا درلوده؛ په داسي حال کي چي لرې پرتو ولسواليو لکه موسی قلعه، سنګين، کجکي، خان شين او نوزاد ته سفر کول ستونزمن پاتي وو. د می ۲۰۱۱ په ورستيو کي کله چي والي په شمالي هلمند کي د امنيت کچي مالومولو لپاره سنګين ولسوالی ته سفر وکړ، په کاروان بې بلواکرو بريد وکړ. د DoS وينا پر اساس، تر څو چي امنيت بيا جوړ شي، والي به شمالي هلمند ته د هوا له لارې سفر کوي.[198]

DoS په ګوته کړې ده چي په هلمند کي قومي مشرانو د دولت سره يوځای کيدني په دې ورستيو کي دوام درلود. DoS د قومي مشرانو کليو ته بيرته راتګ کوم ځانګړي شواهد نه دي په نښه کړي، په دې سره د ګرمسير ولسوالی ټولنيزې شورا ټاکنو (DCC) لپاره ۶۰۰ سپين ګيري راجستر شوي. په ۲۱جون ۲۰۱۱ کي د شورا پنځه نوي غړي په ټاکنو کي وټاکل شول. شورا د هرې لوی قصبې يا کلي نه نمايندګان درلوده او منظمي غونډې به يې کولي. ناد علي ولسوالی د ولسوالی ټولنيزې شورا ټاکني په ۲۸ جون ۲۰۱۱ کي سرته ورسولې. په سنګين کي د ۲۷ نفرو موقتي ولسوالی ټولنيزې شورا جوړول، په ۲۴ جون ۲۰۱۱ کي د سپين ګيرو او ټولني مشرانو د دولت سره يوځای کووني په برخه کي يو لوی ګام و.[199]

## ختيځ افغانستان

د DoS مطابق، په دې درې مياشتو کي دولتي کنټرول پر ختيځ افغانستان باندې وخيم پاتي شو (۳.۲۵ ام انځور)، په داسي حال کي چي بلواګر ګروپونو په ساحه کي د پياوړتيا لپاره کوښښونو ته دوام ورکړی و. د امريکا متحده ايالات د افغانستان اسلامي جمهوري دولت سره په ساحه کي د دولت داری پرمختګ لپاره يوځای توب ته دوام ورکوي.

3.25 انځور

د افغانستان ختيځ ولايتونه




په پکتيکا کي DoS په نښه کړي چي د افغانستان اسلامي جمهوري دولت مناسب کنټرول ساتي. د بلواګرو پټ حکومتونو په ډيری ولسواليو کي د دوی خپل قضايي سيستم په چمتو کولو سره د پياوړتيا لاسته راوړو لپاره د افغانستان اسلامي جمهوريت سره مؤثره رقابت ته دوام ورکړی دی. DoS په نښه کړې دي چي په پکتيکا کي PRT او DST لومړنی توجه د افغان مقاماتو په چمتو کولو باندې کړې چي د خدمت وړاندې کولو لپاره مسؤليتونه خپل کړي کوم چي د نړيوالي ټولني لخوا مخکي چمتو شوي و.[200]

د DoS مطابق، په خوست کي والي د PRT مرستي سره مؤثره توسعيي ابتکارات لاربنوود کړي وو او د کابل څخه ملاتړ ته يې زياتوالی ورکړی و. دغي کوښښونو په ولايت کي د دولت کنټرول ته تقويت ورکړی دی او د دولت بستونو لپاره يې کارمندان نيولي. برسيره پردې DoS په نښه کړي چي والي مذهبي او قومي مشران جذب کړي، چي اميت ته يې وده ورکړې او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت لپاره ملاتړ يې ډير کړی. DoS په ګوته کړې ده، چي PRT د خوست حکومت د کوښښونو ملاتړ کړی دی، د ولايتي پرمختيا پلان نوي کولو لپاره، د کاري ګروپونو يوځای کول د لومړيتوبونو او محفوظ مالي مرستي کولو لپاره.[201]

د DoS مطابق په ننګرهار کي د GIRoA کنټرول د تورخم جلال آباد او کابل سرک په اوږدو کي پر پرتو ولسواليو د منلو وړ و، په هر صورت د پاکستان پولي سره غرنيو سيمو باندې د دولت کنټرول نازک او په نږدې راتلونکي کي د ښه کيدو وړ نه دی، د DoS وينا پر اساس. جرم په ټولو ولسواليو کي پر ځای پاتي دی. PRT او DST په يوځای کووني باندې د GIRoA لاربنود پروګرامونو وړتيا جوړولو لپاره د متحده ايالاتو او ملکي کوښښونو باندې تمرکز درلود. له ۲۲ نه په ۸ ولسواليو کي د امريکا متحده ايالات په لويه کچه د GIRoA ولسوالی پرمختګ پروګرام مالي مرستي او پرمختګ ته رسيدلي، کوم چي د اړ خدمتونو چمتو کولو لپاره جوړ

شوی دی، چې د خلکو او دولت ترمنځ د باور او اړیکو ټیګولو په واسطه د پرمختګ لپاره اړین دی.[202]

د DoS مطابق، په پکتیا کې GIRoA د نفوس مرکزونه او محاصره سیمې کنټرولوي مګر په کلیوالو سیمو باندې لږ کنټرول لري. دولت شتون لري او د ګریز په ښار(مرکز) کې افغان امنیتي ځواکونه آماده دي او د ټول ولایت په نورو شپږو ولسوالیو (زرمت، احمدآباد، سیدکرم، میرزکا، څمکنی او ډنډ پټان) کې خپاره دي. د دولت وړتیا په درې شمالي ولسوالیو (ځاځي، لیژه، منګل او احمد خیل) کې ضعیفه ده. DoS په نښه کړې چې د پکتیا ولایت PRT او ملکي چارو ټیمونو د GIRoA سره اساسي لیډرانو یوځای کولو او محلي حکومت د وړتیا جوړولو لپاره د هغوی د کوښښونو توسیعي ودې لپاره کار کاوه. له ۳۰ جون ۲۰۱۱ راپدې خوا د ۲۵۰ GIRoA مشغولیتونو پې سره ملاتړ کړی دی او له جاني خیل نه پرته ټولو ولسوالیو کې پې د توسیعي کوښښونه لاربنود کړي.[203]

## د عامه یا ملکي اداري لپاره د وړتیا جوړول

د وزارتونو، محلي او ولایتي حکومتونو او ملکي خدمت د ودې لپاره د یوشمیر پروګرامونو له لارې د امریکا متحده ایالات په GIRoA کې وړتیا ته وده ورکوي.

### د والیانو د کړنو پربنسټ بودیجه

لکه څنګه چې د SIGAR په تیره برخه یې ګزارشونو کې په نښه شوي، د USAID د والیانو کړنو پر بنسټ مالي مرستې د دوی په دفترو کې د بنسټیزو کړنو اداره کولو لپاره د حکومت د وړتیا لوړوالي لپاره جوړې شوي دي او د ټولنې د توسیعي پروګرامونو د تمدیدولو لپاره. پروګرام د GIRoA د محلي حکومت خپلواکې ادارې سره د اسیا فاونډیشن او شریکانو په واسطه اداره شوی دی. USAID وویل چې له ۲۸ می ۲۰۱۱ راپدې خوا ۱۶.۳ ملیونه ډالر د پروګرام لپاره اړ شوي وو.

د USAID مطابق، له مارچ ۲۰۱۰ نه تر مارچ ۲۰۱۱ پورې، والیانو هره میاشت ۲۵۰۰۰ ډالر(۳۰۰۰۰۰ ډالر په یو کال کې) او د دغې بودجې ٪۹۰ سلنه ورکړل شوي.[204] په دې څلوریزه کې تر د ۳۱ جولای پورې پروګرام ۲.۱ ملیونه اضافي ډالر لاسته راوړي دي؛ په هر حال USAID وویل چې په پروګرام باندې یوه کنګره جوړه شوې؛ که چیرې په اوضاع کې د جولای نیمایي پورې کوم بدلون رامنځ ته نه شو نو پروګرام به وتړل شي.[205]

په دې څلوریزه کې د ۳۳ ولایتونو لپاره په بودجې کې د برخې اخیستنې د اسیا فاونډیشن د تشخیص یو پروګرام ۱۰ څخه د ۶.۷ په اوسط حساب چې په جنوري ۲۰۱۱ کې د حساب شوي ۶.۶۲ نه په لږ لوړوالي سره وښودلو. تشخیص یا پیژندنې د پروګرامولو کیفیت، ځواب ورکونه او شفافیت، او د بودجو په دفترونو کې پرمختګونه اندازه کول.[206]

### نیمه یا فرعه یې ملي دولتدارۍ پروګرام.

په دې څلوریزه کې، د USAID نیمه ملي دولت داری پروګرام، د ملي دموکراتیک نهاد په واسطه اجرا شوی، د مرکزي دولت او ولایتي شوراګانو تر منځ اړیکو په کیفیت او کمیت باندې متمرکز و. پروګرام نږدې د ټولو ولایتي شورا ګانو نمایندګیاني د کلیدي وزارتونو، د محلي حکومت خپلواکې ادارې، ملي شورا او نړیوالو ډونرانو سره د کتنې لپاره کابل ته راوړې. USAID په نښه کړې چې د مالیې وزارت او د محلي حکومت خپلواکې ادارې نوی ولایتي بودجې پروګرام به ولایتي شوراګانې د سنجش کې د لږ ډیر قدرت تمرینولو لپاره ورکړي. USAID وویل، چې د نیمه ولایتي حکومت پروګرام پلان لاندې راتلونکي تربیوي پروګرامونه به د اضافي وړتیا نه ګټې



**په ۱۶ ام جون، په خوست کې د سبريو ولسوالۍ حکومت قومي سپين ګيرو سره وکتل. د GIRoA رسمي مقامات په ټول هيواد کې د دولت د ملاتړ، همکارۍ او ملي يون ته د مرستې ژمنو لپاره محلي ټولنو ته لاسرسی وموند.** (د U.S (امريکا متحده ايالاتو) د هوای ځواک انځور، 1st Lt. Ken Scholz)

اخيستنې باندې متمرکز شي. پروګرام د ولايتي شوراګانو سره د هغوی د پوهاوي ظرفيت د ودې او محلي پروژو د ارزيابۍ لپاره هم کار کړی.[207]

له ۳۰ جون ۲۰۱۱ را پدې خوا USAID د نيمه ملي دولت داری پروګرام لپاره ۶.۳ مليونه ډالر اړين کړي و او ۵.۶ مليونه ډالر يې مصرف کړي. پروګرام د دې لپاره جوړ شوی و چې د ولايتي شورا بودجې وسيع کولو سره ډير نږدې د واليانو کړنو پر بنسټ بودجې په واسطه کار وکړي، مګر د واليانو پر بوديجو جوړې شوې کنګرې يې اجرا کول درولي و.[208]

### د افغانستان د ټولنيزې توسيعي پروګرام

له ۳۰ جون ۲۰۱۱ تاريخه، د USAID د افغانستان ټولنيزې توسيعي پروګرام (ASOP) لپاره اړين شويو نږدې ۲۳ مليونه ډالرو څخه ۲۰.۳ مليونه ډالر په مصرف رسيدلي دي. پروګرام د ولسواليو په کچه د ټولنيزو شوراګانو د پرمختګ لپاره، په ولسواليو کې چيرته چې دا ډول شوراګانې شتون نه لري د IDLG کوښښونو ملاتړ کوي. هغې پر اداري، ښه حکومت کووني، د شخړو حل، سولې رامنځته کولو او خطر کمولو باندې ۲۲۰ تربيوي تمرينونه لاربنود کړي دي.[209]

اګرچه پروګرام د حقوقو په تامينولو او روزنې مکملولو لپاره په ټاکلي وخت کې چالشونو سره مخ شوی و، USAID په نښه کړې ده چې د ځمکې کارمندانو او اردو همکارانو پروګرام ستايلی دی. له ۳۰ جون ۲۰۱۱ څخه پروګرام په ۱۱۸ ولسواليو کې په کار اچول شوی دی. د شورا ۴۹۳۴ شامل غړو څخه ۱۵۴ ښځې وې. پروګرام په دې ورستيو کې د ۳۰ نومبر ۲۰۱۱ پورې تمديد شوی و.[210]

### د افغانستان د ملکي خدمتونو ملاتړ

په دې ځلوريزه کې، د USAID افغانستان ملکي خدمت ملاتړ پروګرام (ACSS) د ۳۱ اکتوبر ۲۰۱۱ لپاره د ۱۹.۵ مليونو ډالرو اضافه والی لاسته راوړی. له ۳۰ جون ۲۰۱۱ را پدې خوا USAID د ACSS لپاره ۲۳۸ مليونه ډالر اړين کړي وو؛ چې د ۲۲۰.۹ مليونه ډالرو شاوخوا يې په مصرف رسيدلي دي.[211] د USAID مطابق پروګرام د درې اصلي چالشونو سره مخ شوی و:[212]

- امنيت په ځينو ولايتونو کې ملکي خدمت ته ستونزه جوړه کړې وه.
- د ښځو پر ګرځيدو بنديز او د هغوی ټيټې تعليمي سطحې له امله دولت سره د کار کولو وړ ښځو شميره يې محدوده کړې وه.
- د پروګرام اداري سيستم پلي کول په ځينو ولايتونو کې د ناکاره زيربناو له امله شاته پاتې شو.

**ACSS ځلور بنسټيز پروګرامي اهداف لري:**

- **په محلي خدمت کميسون کې د افغانستان د محلي خدمت نهاد ورتيا لوړول.**
- **د کميسون د ورتيا پرمختګ روزني سرته رسول، په پنځو عامو کاري ساحو کې او په منطقو کې د روزنې مرکزونو عملياتي کول.**
- **په کابل کې د مرکزي وزارتونو سره د ولاياتو رياستونو لينک يا ارتباط ورکول.**
- **د عامه اداري مؤثرې او روښانه اصلاح سرته رسولو لپاره د محلي خدمت کميسون ورتيا جوړول.**

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 7/4/2011.

## قضايی اصلاحات او د قانون حاکميت

په ۱۵ جون ۲۰۱۱ کې د AU.S. تشخيص کې ويل شوي دي چې د قانون حاکميت ټولې بنې بايد د دولت ښه کنټرول ته د انتقال لپاره پلان سره يوځای شي او د قانون حاکميت سره تړلې دغه پلان بايد تقويت کووني ته اهميت ورکړي. د DoS مطابق، دغه کړنې به د افغان لومړيتوبونو او افغان رهبريت سره په يوه رديف کې دغه پروګرامونو اطمينان ورکولو کې مرسته وکړي او اړينو بنسټيزو پانګه اچونو ته به دوام ورکړي.[213]

د AREU مطابق، د افغانستان رسمي عدالت سيستم غير عادي او معمولي کار، په دولت باندې د افغانانو د باور له لاسه ورکولو لوی لامل دی. په قضايي سيستم کې د خپور فساد شتون له امله، ډيری وګړي د دوی شخړې په ټولنيزه سطح حلوي: AREU په نښه کړې چې افغانان د ټولنې عدالت يا عدالتي سيستم ارزانه، ګړندی او لا شفاف ګڼي (ګوري).

د ټولنيزو شخړو حل د شريعت سره مخلوط رواجي قانون پر بنا کيږي. اګرچه د بشر په حقونو او ښځو سره رفتار باندې سوالونه پاتې کيږي، د AREU مطابق ډير افراطي رواجونو استعمال لکه بد (Baad) کموالی مومي.[214]

**Baad:** د اوسيدني يوه سنتي کړنه، ديری وخت د پيغلې انجلې ورکول د کوم جرم قرباني فاميل ته د شخړو لامل ګرځي.

په هغه سيمو کې چيرته چې رسمي قضايي سيستم شتون نه لري، د متحده ايالاتو ستراتيژي د محلي چارواکو سره د افغانستان رسمي قضايي سيستم بيا فعالولو لپاره کار شاملوي چې وکولای شي افغانانو ته عدالت يا قضا چمتو کړي. مقصد يې د نيمګړتيا پوره کول دي چې طالبان ترې ګټه وا نه اخيستلی شي. دا اړينه ده،ځکه چې په يوه ساحه د کنټرول تامينولو نه وروسته، د طالبانو لومړی لومړيتوب د قضايي ميکانيزمونو د کنټرول کوښښ دی. په ډيرو با ثباته سيمو کې ډيری جدي جرمنو د GIRoA رسمي قضايي سيستم ته راجع کيږي. د AREU مطابق، د رسمي قضايي سيستم دغه کارونه ښيي چې د خلکو سره قانوني کيدنې لاسته راوړل او ساتل پيل شوي دي.[215]

## د جنايي کړنلارو قانون

په تيرو درې مياشتو کې تقنين ـــ د عدليې وزارت مقننې اماده کولو غړي، د جنايي کړنلارو په قانون(CPC) يوه بيا کتنه مکمل کړه. د DoS ترياکو نړيوال او قانون اجراکولو چارو دفتر(INL) وروسته د CPC اماده کولو، د افغانستان اساسي قانون او نړيوال معيارونو په منځ کې مسله ای تناقض وموند. په ۲۹ـ۳۰ مارچ ۲۰۱۱ کې

په لاره اچول شويو سيمينارونو په جريان کې د حامد کرزي حقوقي مشاور په اماده کولو باندې د قانون اصلاح لپاره کار کولو ګروپ د جنايي قانون کميټي وړانديزونو يوځای کولو سره موافقت وکړ. د DoS وينا پر اساس، په دې ورستيو کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت يوه داخلي شخړه په دې باندې چې څه بدلون بايد راوستل شي، د تاخير سبب وګرځيده. د INL د عدالت سکتور ملاتړ پروګرام(JSSP) مسله له نږدې نه څارله او د تقنين په واسطه خبر ورکول شوی و چې موضوع به د سپتمبر ۲۰۱۱ نه مخکې حل شي.[216]

## قضايي امنيت

په دې څلوريزه کې امنيت د محکمې مقاماتو او قاضيانو لپاره يو مشکل پاتې دی، مګر متحده ايالات او افغان مقاماتو د حالاتو ښه والي لپاره کار کاو. د INL مطابق په کابل کې د محکمې مقاماتو او قاضيانو لپاره امنيت له جون ۲۰۱۰ راپدې خوا ښه شوی دی. د کورنيو چارو د قضايي امنيت يون(JSU) د قاضيانو او محکمې امکاناتو لپاره امنيت چمتو کې؛ له ۸ ام جون راهيسې دا د ستړې محکمې، د فساد ضد محکمې او د کوکنارو سره مبارزه کوني عدالت مرکز ته د امنيت چمتو کول و. ۷۱۳ JSU افسر لري، دوې ټول له ۳۰ جون ۲۰۱۱ راهيسې په کابل کې دې؛ هغوی ۶۹٪ سلنه هغوی ته اړيني وسلې، ۶۸٪ سلنه د اړيکو وسايل او خپل سهم نه ۳۰٪ سلنه د نقليې وسايل لاسته راړي دي. د INL مطابق، د JSU د ګواښ تحقيقونو يون د محکمې امنيت ته ګواښونو تحقيق سره ګمارل شوي، چې کارکوي. د کورنيو چارو وزارت په JSU کې ۸۸۰ پرسونلو زياتوالي او د څلورو ولايتي محکمو لپاره د هغوی د حضور په وسعت باندې بيا کتنه کوله ــ يوه محکمه د هر زون په سطح.[217]

INL وويل چې د ننګرهار ولايت قضايي امنيت ښه شوی، په ځانګړې توګه د مرکز ښار جلال آباد کې، چيرې چې د ولايت مرکزي محکمه، د هغې زندان او د قاضی القضاد دفتر موقعيت لري. د افغانستان د قانون حاکميت ځمکنی ځواک په محکمه او زندان کې د د امنيت ډيرې مهم ترفيعاتو ته ملاتړ چمتو کوي. د DoS مطابق، په دغه سيمو کې د امنيت مسلکي ساتونکو(ګارد) کم والی د فزيکي امنيت لپاره يو نابرياليتوب دی.[218]

د DoS مطابق په مزار شريف کې ټول قضايي امنيت ضعيف و. قاضيانو د اوسيدلو خوندي امکانات نه درلودل، او د محکمې امنيت کمين و. قاضيانو ادعا کړې وه چې دوی ته ګواښونه ورکول کيږي او د اضافي امنيت غوښتنه يې کړې وه. د DoS مطابق، په شمالي افغانستان کې ټول امنيتي اوضاع خرابې شوي دي او په محکمو کې ډير امنيت ته اړتيا ته.[219]

په دې څلوريزه کې په هلمند ولايت کې د کافي قضايي امنيت کمبود يوه ستونزه پاتې شوه. د DoS مطابق بلواګرو د افغان قضا مقاماتو په نښه کولو ته دوام ورکړی و؛ د لشکرګاه محکمه د ورستي بريد ساحه وه. DoS په نښه کړې ده چې قاضيانو او قانوني تعقيب کونکو اکثرا دندې يا د ولسواليو پريښودل د امنيت له امله ردکړې دي.[220]

## حقوقي سيستم ته لاسرسی

قضايي سکتور له دوه نورو دولتي څانګو نه د ښځو حقوقو ته په ودې کې شاته پاتې کيدو ته ادامه ورکړې، په دې سره DoS ځينې مثبت مقصدونه په دې ورستيو کې د ښځو شاملول په قضا کې په نښه کړې. د مثال په توګه په ۲۰۰۳ کې ۵۰ ښځينه قاضياني وې، مګر د ۳۰ جون ۲۰۱۰ راپدې خوا يې شميره ۱۲۰ تنو ته رسيدلې. DoS هيڅ داسې تجربي شواهد نه دي مشاهده کړې چې وښيې چې هغه کيسونه چې ښځې يې پر مخ بيايي له هغه کيسونو نه چې سړي يې پر مخ بيايي سست پرمخ ولاړ شي. په قضا کې سړي ــ په ځانګړې توګه هغوی چې د طالبانو

په دوران کې شریعت لوستی ــ په کلکه د ښځو د پرمختګ پر وړاندې ممانعت ته دوام ورکوي. دا ډول مقاومت د ښځینه قاضیانو، قانوني تعقیب کونکو، اووکیلانو د پرمختګ مانع ګرځي. له ۳۰ جون ۲۰۱۱ راهیسې سره له نړیوالي ټولني او د افغان ملکي ټولني اصرار سره، حامد کرزي تر اوسه کومه ښځینه قاضي ستري محکمي لپاره نه ده نومانده کړې. ښځینه قاضیاني د قضا یوازې ۳.۵٪ سلنه برخه جوړوي.[221]

په هر حال د عدلیې وزارت ځیني مقامات د ډونرو کوښښونو ملاتړ کوي چې ښځو سره مرسته وکړي ترڅو په حقوقي ډګر کې پرمختګ وکړي، په شمول د جنس عدالت روزني د عدلیې وزارت مقاماتو لپاره. DoS په نښه کړې چې د جنسیت عدالت روزنه اړینه ده، ځکه چې ښځې اکثره د محکمې تبعیض لرونکي حاکمیت سره مخ کیږي، په ځانګړي توګه د هیواد هغه برخې چې د شریعت قانون په کې حاکمیت لري.[222] د DoS مطابق، د مثال په توګه، حتی ولو د کور نه تختیدل غیر قانوني نه دي، ښځې او انجوني د دې کار لپاره بندي او پوښتل کیږي.

په تیر برخه اې ګزارش کې لکه څنګه چې SIGAR په نښه کړې دي، د قانون پلي کولو او قضایي مقاماتو د دولت په ټولو سطحو کې په قوي توګه د ۲۰۰۹ کال د ښځو پروړاندې تاوتریخوالي له منځه وړلو (EVAW) قانون په قوي توګه نه دی پلي کړی. د ملګرو ملتونو منشي وینا پر اساس له ۲۳ جون ۲۰۱۱ راپدې خوا دا قانون یوازې په ۱۰ ولایتونو کې پلي شوی دی.[223] برسیره پردې د قانون عامه پوهاوی ټیټ دی.[224]

**د EVAW قانون:** د ۲۰۰۹ EVAW قانون د جرمي تپوس، پلټني او د ښځو پر وړاندې د ۲۲ رټلو او تیریو، په شمول د ازارولو، فزیکي تیری، اجباري او د کم عمر واده او له جایداد یا میراث نه محرومتیا سزا ورکولو لپاره یو قانوني چوکاټ چمتو کوي.

سرچینه: DoS, د SIGAR د مالوماتو پوښتني ته خواب،۷/۱/۲۰۱۱.

## د قضایي سیستم سره دامریکا د متحده ایالاتو مرستې

د امریکا متحده ایالاتو د افغان قضایي سیستم ښه کولو لپاره یوشمیر پروګرامونه جوړ کړي دي. کوښښونه د وکیلانو، قاضیانو او قانوني تعقیب کونکو د روزنې درلودونکي دي، پرته له دې نه د رسمي او غیررسمي حقوقي پروسو د پرمختګ درلودونکي هم دي. د امریکا متحده ایالات د دې لپاره هم کار کوي چې مطمیین شي د ښځو شرعي حقونه پیژندل شوي او خوندي دي.

## د متحده ایالاتو لخوا د عدلي سکتور د ملاتړ پروګرام

په دې ځلوریزه کې د متحده ایالاتو عدلي سکتور ملاتړ پروګرام(JSSP)، د افغان جرمي عدلي سیستم ظرفیت لوړولو لپاره یوشمیر کانفرانسونه، سیمنارونه او روزنیزې غونډې لاربنود کړې. موضوعات د کیس اداري، EVAW قانون، د جرمونو تعقیب، د مدافع وکیلانو رول، او ډیری نور قضایي مسالو درلودونکي و. په دې ځلوریزه کې ۲۱۳ افغانان د ولسوالیو د قانون پرمختګ باندې متمرکزه پروګرامونو څخه هم فارغ شول او د ولسوالی په سطح د فساد په نښه کولو لپاره د متحده ایالاتو د کوښښ اداره کولو نه چې د فردي پولیسو تربیه کولو تیرو کوښښونه مانع شوي و. له ۱۶ جون ۲۰۱۱ راهیسې، JSSP خپل ۷۹٪ سلنه کارمندان د ۲۷۴، متحده ایالاتو، دریم هیواد ملي او افغان کارکونکو نه پوره کړي و.[225]

## د قانون د حاکمیت او ثبات پروګرامونه

په دې ځلوریزه کې، USAID د هغې د قانون حاکمیت او ثبات ــ رسمي پروګرام(RLS-F) لومړی انتخابي کال تمرین کړ او د هغې تمدیدول د می ۲۰۱۲ پورې. له ۳۰ جون ۲۰۱۱ راهیسې USAID د RLS-F لپاره ۱۸.۶ ملیونه ډالر اړین کړي و او د راتلونکي اړتیا لپاره ۱۵.۱ ملیون اضافي ډالره بې طرح کړي دي. پروګرام د DPK په مشورې پلي کیږي.[226]

په لومړي کال کې، RLS-F د قانون مکتبونو او قضا ظرفیت لوړولو باندې، د نوي درسي کتابونو، د بحث محکمې لاربنود په وړاندې کولو او د ستري محکمې نوي داخلیدو ښوونیز پروګرام ته تخنیکي مرستې په چمتو

کولو درونډ تمرکز وکړ. USAID په نښه کړي دي چې د دغو ښوونیزو کوښښونو یوه لاسته راوړنه د ښځو لپاره په حقوقي تعلیمي فرصتونو کې زیاد والی و: د سترې محکمې په فوق لسانس روزني پروګرام کې شامل ښځو تناسب د ۲۰٪(تل ثبت شویو خورا لوړه) شاوخوا پورې و، او د ۱۰ غوره فارغینو څخه ۸ یې ښځې وې. پروګرام د قانون پر حاکمیت د ۱۳۰۰۰ دقیقو د رادیو او تلویزیون خپروني تولید او خپرې کړې دي . برسیره پر دې، پروګرام په ټول هیواد کې یو د کیس اداري سیستم پلي کړ او سترې محکمې سره یې مرسته وکړه ترڅو د هیواد په کچې محکمو تفتیش لومړی ــ همیشنی دورې او د فساد کیسونو راسپړودل لارښود کړي.[227]

په افغان قضا باندې د متحده ایالاتو یوه وروستي تشخیص موندلې د چې د هستې وړتیاو پرمختګ، د کړنې اداري وده، او د عامه باور جوړنه اړینه ده. RLS-F په مالي اداري او بودجې، مالوماتي ټیکنالوژي، زیرمو، بشري منابعو، ستراتیژیکو اړیکو او کیس اداره کولو کې د قضا ظرفیت لوړولو کار په واسطه دغه مسالو ته ګوته ونیوله.[228]

له ۳۰ جون ۲۰۱۱ راهیسې د USAID د قانون حاکمیت او ثبات غیررسمي پروګرام(RLS-I) د ۱۴.۵ ملیونه ډالرو ټاکل شوې بودجې څخه ۱۲.۹ ملیونه ډالر مصرف کړي دي. RLS-I د چیکي او کمپنی مشورې سره اجرا کیږي.[229]

په غیر رسمي قضا، په وروستی څلوریزه کې د یوه تشخیص مطابق چې USAID ګمارلی وو، په دې ورستیو کې امن شوي سیمو کې د شخړو سنتي حل کولای شي په عدلي اداره کې یوه نیمګړتیا ژر پوره کړي، پدې سره کولای شو د طالبانو د عدلي سیستم بیا د پخو ځا ی موندنې نه مخنیوی وکړو. تشخیص په ګوته کړې ده چې RLS-I د رسمي او غیر رسمي عدلي سیستم په منځ کې منځګړتوب قوي کړی دی. د ختیځ واک لاندې ولسوالیو کې حکایتي شواهدو، په غیر اسلامي کړنو لکه بد کې کم والی په نښه کړی، د پروګرام یو بنسټیز هدف.[230]

د USAID د قانون قاعده او تثبیت(RLS) پروګرام دوه برخې لري ــ رسمي او غیر رسمي. د رسمي پروګرام اهداف د قضا وړتیا جوړول، د محکمې د اداري یون جوړول، د قانون او شریعت د فاکولټو وړتیا لوړول، او د رسمي قضایي سیستم په اړه د عامه پوهاوي لوړول دي. غیر رسمي پروګرام د سنتي شخړو د حل پیاوړتیا لپاره د کلي سپین ګیرو ته د شخړو حل، افغاني قانون او شریعت روزنې په ورکول سره کار کوي. غیر رسمي پروګرام د رسمي او غیر رسمي قضایي سیستم په منځ کې د اړیکو پیاوړتیا لپاره هم کار کوي.

سرچینه: USAID، د SIGAR د مالوماتو پوښتنې ته ځواب، ۷/۴/۲۰۱۱.



۲۴ می، د پنجشیر په ولایت کې د افغان پولیسو د جرم د تپوس پر محال شواهد او د ګوتو نښې راټولولو صنف، چې د قانون مسلکي پلي کولو په واسطه لارښود شوي. یو څلور ورځنی صنف چې د ISAF له خوا جوړ شوی، پولیس یې پر جرمي پروسې، د شواهدو راټولولو او ساتلو، او نورو مهارتونو چې د قانون پلي کولو لپاره اړ وو، روزلي. (د U.S د هوای ځواک انځور، SrA (Amber Ashcraft

## د توقيف او اصلاح کړنې

په دې ځلوريزه کې د افغان اصلاح کولو سيستم ډيرى ستونزو سره مخ و. د DoS مطابق، ازدهام، د تشريفي زندانيانو ودې، بې سواده کارمندانو، سياسي مداخلې، ټيټې زيرمې او امنيتي ګواښونو، دې ټولو د اصلاح سيستم باندې اثر کوي.[231]

INL د اصلاح سيستم ملاتړ پروګرام (CSSP) ته مالي مرسته چمتو کوي، چې د خوندي، محفوظ او با مروت دا صلاح سيستم پرمختګ لپاره د GIRoA سره ملګريتوب کوي. له ۲۰۰۶ نه ژر، په عمل کې CSSP له ۷۰ څخه زيات د قرارداد اصلاح امريکای مشاورين او له ۱۷۰ څخه زيات افغان کارمندان لري. د DoS مطابق، CSSP په اته ولايتونو کې تلپاتې شتون لري. په دې ځلوريزه کې په بغلان او وردګو ولايتونو کې د نوي ولايتي زندانونو جوړوني پرمختګ دوام درلود. برسيره پردې INL د امنيت لوړولو لپاره په کابل کې د مرکزي زندان رياست(CPD) ته بودجه چمتو کړه او د افسرانو اوسيدنځای بيا جوړونه او د بلخ ولايتي زندان د ښځو برخو لپاره د انسان دوستی لوړوالی مکمل شوی و.[232]

INL د زندانيانو درجه بندي کولو او د کيس اداري سيستم سره خپل ملاتړ ته هم دوام ورکړی دی. د درجه بندی او د کيس اداري سيستم اجرا کولو لومړی پړاو مکمل شوی و، چې په کابل کې د ښځو زندان او توقيف ځای، پولې چرخې، د کوکنارو پروړاندې عدلي مرکز او د کابل د نوجوانانو بيا د حيثيت ورکوني مرکز امکاناتو پوښل و او له دې سره د ننګرهار، هرات، بلخ او پکتيا ولايتي زندانونو کې هم. دوهم پړاو د کندهار، باميانو، کندوز، فارياب، جوزجان، بغلان، پروان او تخار ولايتونو ولايتي زندانونو کې په جولای ۲۰۱۱ کې د پيل کيدو لپاره چمتو شوی و.[233]

په اپريل کې د کندهار ولايت له سرپوزې زندان څخه د ۵۳۰ زندانيانو تيښتې فوري تعقيب کې INL د زندان د نيمګړتيا په نښه کولو لپاره يو پلان جوړ کړ. هغې د اصلاح سيستم(د زندان ساتونکو استعمال، د امنيتي زيرمو ښه کول او د شپې ساتنې ) مخې ته پرتو لوی چالشونو باندې هم بيا کتنه وکړه.[234] CSSP د ښووني او مشورتي ۱۰ نفره ټيم جوړ کړی چې په زندان کې کار او ژوند کوي. د جولای په نيمای کې د CPD ځلورځولينت سرتيرو د روزنې کورسونو، د زندانيانو د حساب طرزالعمل پوښښ، پلټنې او د کنټرول او دفاع تاکتيکونو لړی بې مکمل کړې. INL له CSSP نه طمع لري چې ورځني حساب او اونيزو پلټنو، عاجل تمرين اجرا او اجرايي پرمختګ روزنې شمير زيات کړي او په زندان کې پيشه ای او ښوونيز پروګرامونه پيل کړي.[235]

INL په نښه کړي چې GIRoA د سرپوزې واقعې ته د CPD له عدلې وزارت نه د کورنيو چارو وزارت ته په وړلو سره ځواب ورکړی دی. INL او CSSP به د GIRoA سره کارته د اطمينان لاسته راوړلو لپاره چې CPD د کورنيو چارو وزارت سره يو مستقل نهاد پاتې دی او دا چې انتقال د امکان حد پورې ښه واقع شوی، ادامه ورکړي.[236]

## د فساد پرضد مبارزه

په دې ځلوريزه کې د فساد اثراتو د GIRoA قانوني توب بې له بيخه خراب کړ. د AREU مطابق فساد په ټول محلي حکومت ترکيب کې دوام مومي او اکثرا لوړو مقامونو کې. د اړين خدمتونو وړاندې کولو پروسس د فساد له لوړو سطحو له امله رنزيږي. د مثال په توګه، د AREU مطابق، د WFP نړی غذای پروګرام تدارکات چې د غريبو افغانانو مرستې لپاره دي، اکثرا د محلي حکومت، وزارتونو او افغان ملي پوليسو له خوا منحرف کيږي.[237]

د انګلستان نړیوال شفافیت یوه ګزارش په دې درې میاشتو کې په ګوته کړي دي چې "فساد، ضعیف نهادونو او د اقتصادي ودې نه شتون د افغانستان ژوند کولو وړتیا ته وژونکې ګواښ ورکوي." [238] غیر دولتي نهادونو د فساد کم والي لپاره درې وړاندیزونه جوړ کړي.[239]

- د خلکو د قهر کنټرولول او ټولني پورې تړلې زیان چې په فساد کې منځ ته راځي او دوی د بدلون لپاره زور ته انتقالوي. افغان وګړي د وسنی بې عدالتی نه ښه پوهاوی لري او د بدلون لپاره په کوښښونو کې به برخه واخلي.
- د فساد پر وړاندې مبارزه کول د GIRoA انتقال ستراتیژي ده. په فساد کې د ودې درولو لپاره، په دې برخو کې کوښښونه زیات کړی (۱) نهادونه اصلاح کړی، (۲) امانت جوړ کړی، او (۳) او فساد ژر تر ژره کم کړی.
- د نړیوالي ټولني مالي طرزالعمل ریشه اي او ژر بدل کړی، په ځانګړې توګه هغه چې ده لوی امنیت عملیاتو او اجناسو او خدمتونو لپاره قرار دادونو پیسو پورې تړلي دي. نړیواله ټولنه باید لا ډیر کوښښونه د افغاني شرکتونو سره قرار دادونو کې لاربنود کړي.

## د شفافیت او ځواب(حساب) ورکوني پرمختیا

په ۱۱ می ۲۰۱۱ کې، د نظارت او ارزیابي کمیټي(MEC)ـ د فساد ضد مستقل غړي په کابل کې خپلې افتتاح مراسم په لیاره اچولي. د DoS مطابق MEC د فساد ضد ابتکارونه لپاره د روښانه او معقوله محکونو سره کار کړی دی. هغه د GIRoA ، لوی څارنوالی دفتر(AGO) او خلکو لپاره په ملي او نړیوالو فعالیت باندې راپور هم چمتو کړي. MEC د فساد ضد افغان او نړیوالو تجربه لرونکو نه جوړ شوی دی.[240]

## په قانوي تعقیب کې پرمختګ

په دې څلوریزه کې د فساد کیسونو قانوي تعقیب کې ستونزې: د DoS مطابق، ډیری په لوړ سطح د فساد کیسونه پرځای پاتي دي. په می ۲۰۱۱ کې، د فساد ضد یون(ACU) دوه تعقیب کونکو د کاپیسا تیر والي نه د اختلاس او قدرت نه په ناوړه ګټه اخیستني په تور تحقیق وکړ. د DoS مطابق، په دوه اونیو کې، دغه څارنوالان د ولایتو لیدلو لپاره منتقل شوي و، په کوم کې چې ښکاره شول چې د تحقیق لپاره باید جزای شي. د دې پیښي او د تیر کال د کرزي د مشاور محمد ضیا صالحي د غلا تحقیق په نتیجه کې، DoS په ښه کړي چې څارنوالان د لوړې سطحي مقاماتو تحقیق ته بی میله بریښي. له ۳۰ جون ۲۰۱۱ راهیسي د لوی څارنوالی د ۲۰ زړو مقاماتو څخه تحقیقات ــ چې د ۲۰۱۰ نومبر میاشت کې اعلان شوي و، کوم تحقیقات ندي اریه کړي.[241]

د DoS مطابق، په دې څلوریزه کې، د حمل و نقل(تراسپورت) تیر وزیر تورن شوی و او د ترانسپورت بل تیر وزیر تورن او نیول شوی و، او په ضمانت خوشي شو. دغه کیس د فساد ضد محکمې(ACT) ته راجع شوی و. برسیره پر دې د رییس جمهور تیر پخوانی مشاور او د پانګه اچوني ملاتړ اژانس رییس، د اژانس او تسهیل او تنظیم پانګه اچونو په تور تورن شوی و: کیس ACT ته راجه شوی و. دوه نور افغانان د ۷۰۰۰۰۰ ډالرو اختلاص په تور چې د GIRoA په تصرف کې و، تورن شوي و. د DoS مطابق، د هغوی څخه یو یې په انګلستان کې دی، او لوی څارنوالي یې بیرته افغانستان ته د تسلیمولو لپاره کار کوي.[242]

د DoS مطابق، په ټیټه سطح د فساد کیسونه پرته له کوم لوی ممانعت څخه د تحقیق وړ ښکاري. DoS په ښه کړې ده چې د ټیټ رتبه مقامات شاید کافي قدرت ونه لري چې په تحقیق کې د ستونزو لامل وګرځي.[243]

## د متحده ایالاتو د فساد ضد پروګرام مرسته

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت یوشمیر ریاستونه لري چې د فساد سره په مبارزې بې کار کړی دی. د امریکا متحده ایالات د دوې کوښښونو پروګرامي او قانوني ملاتړ کوي، که څه هم دغه کوښښونه د GIRoA د فساد نه مخنیوي او تحقیق لپاره پریکړو سره د مسالو له امله ضعیف و.

### د فساد ضد یون

د DoS مطابق ACU د تحقیقاتو او محکمه کولو د رهبریت ورتیا لري؛ په هر صورت د هغې د تحقیقاتو او محکمې چمتو کولو او وکالت تشکیلات د ودې لپاره خوني لري. د DoS مطابق، د امریکا متحده ایالاتو عدلي ریاست(DoJ) په دې اعتماد نه لري چې د ACU څارنوالان کولای شي په صحیح توګه د پیچلي یا لوي مالي جرمونو تحقیق وکړي.[244]

د تحقیقاتو رهبري کولو په خاطر د GIRoA د وړتیا تقویت د ودې لپاره، په دې څلوریزه کې د DoJ وکیلانو له ACU څخه قانون تعقیب کونکو او له لوی جرمونو کاري ځواک(MCTF) څخه تحقیق کونکو ته دوه بنسټیز کورسونو درس ورکړی دی. د DoS مطابق، DoJ غواړي چې د ACU تعقیب کونکو سره د ACU نیمګړتیاو پیژندلو او اصلاح کولو کې کار ته ادامه ورکړي. DoJ په ځانګړې توګه د هغه قانوني تعقیب کونکو پیژندنه غواړي چې وکولای شي د کورس کارونو درس ورکړي او پرمخ بې بوزي؛ د GIRoA کنټرول د ښه کولو لپاره مخکې او وروسته د انتقال نه. د DoS مطابق، څکه چې د ACU قانوني تعقیب کونکي نور د ازمویني کتنو ته موضوع نه دي، او نه مانا لرونکي سابقه بې کتل کیږي او دوره ای بیا تحقیات واقع کیږي، د هغوی اعتبار سوال لرونکی دی.[245]

لکه څنګه چې، د SIGAR د اپریل ۲۰۱۱ برخه اي ګزارش په نښه کړي ده، د DoJ وکیلانو ته یوځل بیا اجازه ورکړ شوي وه چې د ACU قانوني تعقیب کونکي په فبروري ۲۰۱۱ کې د صالحي غلا تحقیق سقوط تعقیب کولو کې د ۷ میاشتي توقف نه وروسته، لارښود کړي، کوم چې د ACU تعقیب کونکو سره د DoJ د ښوونکو کار کولو ممانعت لامل ګرځیدلی و. دغه لارښوونه اصلا د ټیټي کچې زړو کیسونو ته محدوه و. د DoS مطابق، د ۲۰۱۱ په مي او جون کې پیل کیدونکی، د DoJ ښوونکو یوځل بیا د ACU ځیني قانوني تعقیب کونکو ته مانا لرونکي لاسرسي اجازه تر لاسه کړي، کومو چې ځیني مهم کیسونو باندې کار کاوو. DoS په نښه کړې ده چې ACU د کیس اداري لپاره مناسب سیستم نه لري، او د DoJ ښوونکي د دې وړ نه وو چې تصمیم ونیسي چې کوم کیسونه نوي و او کوم د ۳۰ جون ۲۰۱۱ راهیسي د تحقیق لاندې و. DoJ د ACU قانوني تعقیب کونکو ښووني ته دوام لپاره طرح جوړوي.[246]

### د لویو جرایمو عملیاتي ځواک(MCTF)

د DoS مطابق، د تحقیق فدرال بیورو(دفتر) لارښووني او نورو نړیوالو اژانسونو د MCTF تحقیقي ظرفیت کې په سپتمبر ۲۰۰۹ کې د هغوې د پیل نه راهیسي د توجه وړ پرمختګ راوستی دی. د کورنیو چارو وزارت او ملي امنیت افغان تحقیق کونکو د تحقیق لوړې سطحې تخنیکونه کارولي دي، لکه د تیلفون مکالماتو کنټرو او نړیوال موقعیت موندني سیستم د منطقي تحقیقاتو پرمخ وړلو لپاره. برسیره پردې، DoS په نښه کړې ده چې د MCTF رهبریت د کیسونو په ادراه کولو، تحقیق کونکو او زیرمو کې وړتیا ښودلي ده. د افغانستان د امنیت انتقال ترکیب شوې فرماندهي، INL او د متحده ایالاتو مرکزي فرماندهي د کار ځواک لپاره بودیجه اماده کوي.[247]

### د کنترول او پلټنې دفتر یا CAO

په مې ۲۰۱۱ کې د بودیجې محدودیت د دې لامل شو چې USAID د افغان کنټرول او پلټنې دفتر(CAO) سره د تخنیکي مرستې بودیجه ودروله، مګر متحده ایالاتو د CAO کمک لپاره د UNDP ځواب ویني او شفافیت پروژې له لیارې ملاتړ ته ادامه ورکړې. د DoS مطابق، په مارچ ۲۰۱۱ کې، GIRoA د CAO لپاره یو نوی قانون تصویب کړ چې یو پرمختګ و، اګرچه ډیرې مهمې ستونزې يې لرلې او له نړیوال معیار سره برابر نه و.[248]

### د څارنې او د فساد ضد لوی ریاست

د DoS او USAID مطابق، په دې څلوریزه کې د څارنې او فساد ضد لوی ریاست(HOOAC) په قانون وضع کوني باندې چې د HOOAC استقلالیت به کم کړي، د بیا کتنې وړاندیز شوی و. د USAID مطابق، بیا کتنه به د HOOAC قانوني تعقیب صلاحیت ته پراخوالی ورکړي، چې شاید د اساسي قانون خلاف وي. USAID اندیښنه څرګنده کړه، چې د قانوني تعقیب منبسط قدرتونه، په لوړه د تعصبي لاسونو کې کولای شي د جدي ناوړه ګټې اخیستنې لامل شي. د HOOAC اوسنی تعین شوی رییس، چې وړاندیزونه وړاندې کوي، د متحده ایالاتو سفارت ته وویل چې HOOAC کافي استقلالیت درلوده. USAID په نښه کړې چې GIRoA مکررا متعصب، د نوي جوړو شویو نهادونو په رهبري مقامونو کې ځای پر ځای کوي.[249]

په دې څلوریزه کې HOOAC هم یو شکایتي مکانیزم معرفي کړ. DoS د مکانیزم مؤثریت "شکي" مشخص کړ، مګر په نښه کړې يې دي چې USAID به به د میکانیزم کار جوړولو هڅه وکړي. د DoS مطابق، برسیره پردې، د HOOAC نوي رهبریت د ساده کوني له لیارې د پانګې تایید پروګرام ته اهمیت ورنکړ. USAID په نښه کړې چې د پانګې ضعیف تایید به فساد شواهدو د کلیدي برخو قانون پلي کول بې ګټې کړي. USAID به د HOOAC پانګې تایید له سپتمبر ۲۰۱۱ ملاتړ کړي.[250]

## بشري حقوق

یوشمیر د بشر حقونو مسالو د افغانستان ازارولو ته دوام ورکړی. دا برخه په نیونې او زندانیانو، بې ځایه شویو وګړو، مهاجرینو او ښځو حقونو پورې تړلې، د ټاکلي بشري حقونو پر مسالو تازه مالومات چمتو کوي.

### نیونې او زندانیان

په دې څلوریزه کې یوناما د ۲۱ ولایتونو د ۲۴ توقیف مرکزونو نه لیدنه وکړه. دوی د ناروغی درملنې، برته له محکمې اوږد توقیف او دفاع شورا ته د لاسرسي نه شتون ادعاوې وموندلې.[251]

په کابل کې په دې څلوریزه کې، د افغان ښځو لپاره غیردولتي ښځو سازمان او INL د ښځو پرینبوودلو زندانونو لپاره لومړی فوق خوشیکیدو خونه جوړه کړه. INL د خونې لپاره بودیجه چمتو کړه. اوسیدونکي به خدمتونه ترلاسه کړي چې د بنسټیز لیک لوست او ژوند مهارتونو صنفونو، مسلکي روزنو او کارموندنې مرستې، مشورت او صحت ساتنې درلودونکې دي.[252]

### بې ځایه شوی وګړی

د UNHCR او نړیوال بانک یوې مطالعې مطابق، له ۱ جون ۲۰۱۱ راهیسې، په افغانستان کې له ۴۳۰۰۰۰ نه ډیر داخلي بې ځایه شوي وګړي و. له جون ۲۰۰۹ څخه اپریل ۲۰۱۱ پورې، په افغانستان کې د رواني جګړې

### د سیګار پلټنې

د MCTF په یوه پلټنه کې چې په دې درې میاشتو کې خپره شوې، SIGAR فنډ کولو او بیا ورکونې مسلې پیژندلې چې د U.S. سرته رسولو اژانسونه یې نښه کولو ته اړ دي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ ۱ برخه، 6 پاڼې ته ستانه شئ.

له امله ۲۲۰۰۰۰ وګړي بې ځايه شوي و. د امنيت د نه شتون له امله داخلي بې ځايه کيدنه احتمالا دوام لري.[253]
مطالعات ښيي چې اقتصادي ښه والی او د غذا امنيت ډيری IDP ښاري مرکزونو ته راباسي.[254]

سروې ښودلې دي چې ښاري سيمو ته بې ځايه کيدنه په ندرت موقتي ده، ځکه چې ډيری IDP له هغوې کليوالي منطقو څخه د دوې په اصلي ځايونو کې د کاري فرصتونو نه شتون له امله وځي. IDP عموما د ښار (غريب، اکثرا د کارونو نه شتون، معياري کورونو ته لاسرسی او غذا) څخه ډير زخم پزيره اوبې بهره دي. د دوې مهارتونه هميشه په ښاري چاپيريال کې نه قبليږي، او د دوې سواد کچه د ښار غريبو نه ټيټه ده. په ښاري سيمو کې له ٪۷۰ سلنې څخه ډير IDP بيښنا يا کافي اوبو او روغتياي امکاناتو ته لاسرسی نه لري. ۶۰ سلنه شا او خوا يې په خيمو او موقتي خوندي ځاينو کې اوسيږي.[255]

مطالعات ښيي چې GIRoA او نړيوالې ټولنې يو شمير ابتکارات د ښاري IDP ژوند پرمختګ لپاره پرمخ وړي، د لاندې درلودنکي:[256]

- په ښاري سيمو کې د بې ځايتوب لپاره د زغم وړ، مجتمع، او وسيع حل ليارو په کار اچول.
- د موجوده نظارت او همکارئ کوښښنو پياوړي کول چې د ښار IDP فوري اړتياوې په نښه کوي، په ځانګړې د بې ځای کيدنې لومړئ برخو کې.
- په محلي کچه IDP ته د لومړيو توکو اماده کول، ځکه چې ډيری يې خپلو اصلي سيمو ته بيرته د تګ نه ناخوښوالی ښيې.

## مهاجرين

د يوناما مطابق، په فبروري مياشت کې د ملګرو ملتونو په خوښه د بيرته راستنيدو پروګرام بيا پيل له ۲۴ ام اپريل ۲۰۱۱ راهيسي له ۵۵۰۰ نه ډير افغان مهاجر کورته راوړي. پروګرام د يوې پروسې له مخې پر مخ وړل کيږي چې د بيرته راستنيدو فارمونو تصديق، د ماينونو په پوهاوي ښوونه(ډيری راستنيدونکي هغه ځمکه استعمالوي چې په دې لسيزو کې په کې اوسيدل نه و شوي)، د شيري ګوزن پر وړاندې د ماشومانو واکسين کول، او هر راستنيدونکي ته د ۱۵۰ ډالرو تخصيص درلودونکی دی. په دې سره چې راستنيدونکي شايد د هيواد په مرکز کې ځمکې د لاسته راوړو لپاره راجستر شي، خو د ملګرو ملتونو وينا پر اساس، د منتظرو لست اوږد دی. ځکه چې ډيری راستنيدونکي خپلو زړو ځمکو ته ځې چې نور د اوسيدنې مناسب ځای نه لري، UNHCR پلان لري چې په ۲۰۱۱ کې، د راستنيدونکو لپاره ۲۰۰۰۰ کورونه جوړ کړي. دغه شميره به له ۲۰۰۲ راهيسي راستنيدونکو ته د جوړو شويو کورونو شميره ۲۲۰۰۰۰ ته ورسوي.[257]

## د جيندر يا جنسيت مساوات

د يوناما مجتمع منطقوي مالوماتو شبکې(IRIN) مطابق، د واده نه مخکې په جنسي اړيکو تورن شوې افغان ښځې داسې مجازاتو سره مخ دي چې د جزا قانون نه بهر دي، په شمول د وګړو د تحقير، شکنجه او مرګ. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسون په نښه کړې چې دغه مجازاتو په هيواد کې ژورې ژرړې کړې.[258] د واده نه د مخې روغتيا کارکونکې اکثرا د ښځې د بکارت ثابتولو لپاره کار کوي. د يوناما مطابق، هغوی چې د بکارت ټيسټ کې پاتې رازې، اکثرا د جنسي تيريو قرباني شوي يي. د هغوی خپلوان څوک چې د بکارت په ټيسټ کې پاتې راځې، شايد د شرم احساس وکړي او شايد په مجازاتو کې يې د وژنې پريکړه وکړي.[259]

د واده نه پرته جنسي مقاربت د اسلام قانون پر اساس ګناه ده. د يوناما مقالې د افغانستان سترې محکمې جزای

دفتر يو غړی ذکر کړی چې ووايي غير مشروع جنسي اړيکي بايد مجازات شي، او هغه نيول کيدونکي چې د واده نه پرته بې جنسي اړيکي لري د زناکارانو لپاره د سختو مجازاتو سره له دريو نه تر پنځه کالو پورې په زندان محکوميدای شي. د ښځو حقوقو فعاليتونو IRIN ته وويل چې د واده نه پرته جنسي اړيکو پر ضد قانونو اکثرا ښځې په نښه کړې دي.[260] له ۹ام مارچ څخه تر ۲۳ام جون پورې ستری محکمې د ښځو لپاره، هغوی چې جنسي تيری پرې شوی و، د زنا محکوميتونو ملاتړ وکړ، د ملګرو ملتونو منشي مطابق؛ دغو محکوميتونو تر ۱۵ کالو پورې د بندي کيدو دورې درلودې.[261]

### د ښځو خونديتوب

په دې ځلوريزه کې د ښځو چارو وزارت د ښځو خونديتوب په غاړه اخيستلو لپاره د هغې د فبرورې ۲۰۱۱ مباحثه اې قانون څخه عدول شوی دی. په ۱۹ می ۲۰۱۱ کې وزارت د وزراو شورا ته په لويه کچه اصلاح شوی قانون اريه کړ، چې د MoWA ، غير دولتي نهادونو چې خونديتوب چمتو کوي او د ملکي ټولني نهادونو له طرفه په منځ کې اينودل شوې پيسو باندې انعکاس درلود. د لاسرسي اړتياو په اړه ډيری مباحثه اې مقررات او د دولت مداخلې له فبرورې پيښ ليکونکي نه حذف شوې و. DoS په نښه کړی دی چې طمع کيږي دغه وړاندې شوی قانون د وزيرانو شورا نه ژر پاس او وروسته له هغې نه ژر عملي شي.[262]

# اقتصادي او ټولنيزه پرمختيا

له ۳۰ ام جون ۲۰۱۱ را پدې خواه، د امريکا متحده ايالاتو په افغانستان کې د دولت دارۍ او اقتصادي پرمختيا کوښښونو ملاتړ لپاره له ۱۹.۱$ بيليون ډالرو نه زيات چمتو کړي.[263] د SIGAR تير برخه اي ګزارشونو په نښه کړي چي، د نړيوالو ډونرانو په واسطه چمتو شوي، اقتصادي وده په افغانستان کې په اوږه کچه نظامي او بيا جوړوني مصرف پورې تړلي پاتي ده. په دې څلوريزه کې د افغان کنټرول لوړوالي لپاره انتقال د ريس جمهور اوباما د عسکرو ايستلو اعلان سره د ليدلو وړ ګام پر مخ ويوړ. اعلان په افغانستان کې په اردو او بيا جوړوني مصرف کې د بالفعل کموالي فشار په اړه انديښني زياتي کړي.

د متحده ايالاتو د دولت رياست(DoS) مطابق، د متحده ايالاتو ستراتيژي د مصرف کمولو لپاره بالفعل منفي فشار ممانعت دی چي په واسطه يې د افغانانو د کرني اقتصاد کافي سطحي ته بدلون مرسته کيږي چي د داخلي او بهرني بازارونو پرمختګ ته کافي توليد وکړي، پرته له دې څخه منطقوي تجارت لوړ کړي. د دغي ستراتيژي يوه کليدي برخه د افغانستان د معدن سکتور وده ده ــــ د قانوني او منظم کاري چوکاټ استعمال چي د معدن راتلونکی استخراج به د دې وړ کړي چي ټول هيواد ته ګټه ورسوي او د ژوند معيار لوړ کړي.[264] دغه برخه په دې کوښښونو کې د نوي والي درلودونکې ده.

په دې څلوريزه کې دغه برخه د افغانستان په اقتصاد کې د دې نورو کليدي پرمختګونو نوی والی چمتو کوي:

- د متحده ايالاتو ضمانت د ۹۰ مليونه ډالرو چمتو کولو لپاره د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په مستقيمي مرستي کې.
- د افغان دولت په واسطه د کابل بانک بحران لاميلينو د تحقيق لومړی ګام اخيستل شوی دی.
- افغانستان د منطقوي تجارت شبکو سره يوځای کولو لپاره کوښښونه
- د حمل و نقل مهم زيربنا بيا جوړونه
- د بريښنا توليد پراختيا لپاره کوښښونه

## اقتصادي وده

د نړيوال بانک جون ۲۰۱۱ نوي کوني مطابق، اقتصادي وده په افغانستان کې مثبت پاتي ده. که څه هم، د بانک لومړی براورد ښيي چي وده ورو پر مخ ځي ـ د ۲۰۰۹/۲۰۱۰ مالي کال له ٪۲۰.۴ سلني نه ٪۸.۲ سلني په کم والي سره په ۲۰۱۰/۲۰۱۱ مالي کال کې. تير کال د ودې کچه لومړی وه، د غنمو محصولاتو او ډونر مصرف کولو لوړ ډيروالي ثبتولو ته.[265]

په يوه مثبت مالي پرمختيا کې، GIRoA د هغې عايدي کلکسيون ودې ته دوام ورکړی دی. د ماليې وزارت مطابق، د ۲۰۱۰/۲۰۱۱ کال عايدات تقريبا ۱.۵ بليونه ډالر وو. په دې سره دغه پاتې به د GIRoA هستوي

بوديجي فنډ ته اړين عايداتو رقم لوړ کړي، دا په تير مالي کال کې زيات والی ښيي.[266] ۳.۸ ام جدول د GIRoA عايدات او مخارج د ۲۰۱۰ــ۲۰۱۱ لپاره پټله کوي. د نړيوال بانک مطابق، په تيرو درې کلونو کې د افغان مالياتي عايداتو د ٪۲۰ سلنې کلنې اوسط شا او خوا وده کړې، د ګمرکونو او مالېې راټولو د پرمختګ درلودلو سره.[267]

نړيوال بانک دا هم په نښه کړي چې د متوسطو دورو اقتصادي دورنما په افغانستان کې ښه دی، د معيينو اهدافو چمتو کول پر ځای شي دي: GIRoA بايد د دې وړتيا ولري چې افغان ځواکونو ته د امنيت مسؤليتونه په بريالیتوب انتقال کړي، سياسي ثبات تغذيه کړي او د مالي تقويت څخه اطمينان ورکړي. بانک نتيجه ګيري کړې ده چې اوږد مهاله اقتصادي وده په قوي توګه د معادن سکتور پرمختيا او د کرنې د پرمختګ او خدمت سيکتورونو ملاتړ پورې تړلې ده.[268]

3.8 جدول

| فبروري ۲۰۱۰ـ۲۰۱۱ GIROA هستوي بوديجه: عايدات او مخارج(بيليونونه) | افغانۍ | د متحده ايالاتو ډالر |
|---|---|---|
| کورني عايدات | 71.1 | 1.5 |
| د ډونر اهدا ورکوني | 145.5 | 3.0 |
| مخارج(هستوي بوديجه) | 231.7 | 4.8 |

يادونه: ۴۸.۵ افغانۍ= ۱ ډالر.
الف. يوازې روښانه بوديجه په کې شامله ده؛ د بهرنيو ډونرانو په واسطه چمتو شوې د پرمختګ مرستې بنده بوديجه په کې نه شامليږي.
سرچينه: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د مالېې وزارت د " ۱۳۹۰ ملي بوديجې پيښ ليک اعلاميه"، pp 2, 12.

## د عايداتو راټولولو لپاره د ګمرکو سهم او مرسته

د افغان دولت په جدي توګه د عايداتو راټولونې وړتيا ته وده ورکوي. د GIRoA اخرني خپور شوي ګزارش پر اساس، د افغان ګمرکونو رياست(ACD) د دولت د ټولو عايداتو تقريبا ٪۵۰ سلنه راټول کړي.[269] په خورا اخرني افغان مالياتي کال کې، ACD د عايد راټولول د تير کال په پرتله ٪۲۱ سلنه ډير کړي.[270] د DoS مطابق، دا د دې له امله ده چې ډيری سرحدي او داخلي ګمرکوکات په افغانستان کې د ASYCUDA کمپيوټري شوی سيسټم په کاروي.[271]

DoS په نښه کړې دي، په هرحال، ACD ورقي اسنادو ته هم د مالوماتو لپاره چې د ASYCUDA سيسټم له لیارې بې لاسته راوړي اړه لري. دغه دوه نسخه ايي اړتياوې د ګمرکو مقاماتو ته د يوه فرصت منځته راوړلو په واسطه فساد اسانوي، د رشوتونو غوښتنه په بيرته تګ کې د پاڼي لاسليک کار لپاره، د DoS مطابق.[272]

د افغاني ګمرکاتو عايد يو څرګند سهم په نقليه وسايلو د تعرفو وصولي نه لاسته راځي. د ۲۰۱۰/۲۰۱۱ مالياتي کال په خلورمه برخه کې، دولت، پر وسايلو تعارفي لوړکړي دي. د يوې نتيجې د مخې، د نقليه وسايلو تعرفو د ۲۰۱۰ /۲۰۱۱ ACD مالي کال د عايداتو راټولونه ٪۲۵ سلنه حسب شوی.[273] د ACD ګزارش له مخې، افغانستان ته وارد شوي ډيری موټرې بې په جاپان، جرمني، چين او متحده ايالاتو کې جوړې شوي.[274] د ACD ګزارش پراخوالی هم ښيي چې په افغانستان کې په سوداګرۍ نابرنتياو ټينګار کوي: د وارداتو له ٪۸۰ سلنې ډير بې د لوړ ارزش لرونکي صنعت توليدات دي، په داسې حال کې چې له ٪۷۰ سلنې ډير صادرات د ټيټ ارزش لرونکي کرنيز محصولات دي.[275]

ASYCUDA (د ګمرکو مالوماتو لپاره اوتومات شوی سيستم) په ټوله نړۍ کې د ګمروکونو نوې جوړنې لپاره رهبري کونکی سيسټم دی. د ملګرو ملتونو د سوداګرۍ او پرمختګ کانفرانس(UNCTAD) په واسطه بې وده کړې ده، دا سافټ وير له ۸۰ څخه زياد هيوادونو د مکمل شويو ګمرکونو د پوهې هستوي ترکيب کونکی دی. دا د ګمرکونو ترخيص ته ګړندی توب ورکوي او د ګمرکونو طرزالعمل ساده کوي.

سرچينه: UNCTAD، ASYCUDA څه شی دی، پر مخ تللی دی ۷/۸/۲۰۱۱.

## مستقيمې مرستې

په دې پړاو کې USAID اعلان کړ چې د افغانستان دولت وزارتونو ته به د روښانه بوديجې مرستې لپاره ۹۰ مليونه ډالر په مستقيم توګه چمتو کړي. دغه مالي مرسته به د افغان دولت په واسطه لومړی شوی اته پروژې ملاتړ کړي، چې د ملي شورا په واسطه تصويب شوي او د دولت وزارتونو په واسطه اداره کيږي. دغه مالي مرسته به د روغتيا وزارت، معارف وزارت، د ټولنيز کار وزارت، د مخابراتو او مالوماتي ټيکنالوژۍ وزارت او د معدنو وازرت ته ورکړل شي. USAID دغه حرکت په بيا جوړني پروسې کنټرول او افغان مالکيت انتقال کې د کليدي وړتيا پرمختګ په حيث توصيف کړ.[276] د USAID مطابق، په تيرو درې کلونو کې، د عامې روغتيا وزارت او مالېې وزارت د مالي طرزالعمل او تدارک مؤثريت دوام داره ودې لپاره يوځای کار کړی دی، د نورو وزارتونو منلو لپاره بې يو ماډل يا نمونه جوړه کړې ده.[277]

## عامه مالي تخمين

د مستقيمي مرستي د کامياب پلي کولو يوه کلي به د افغان وزارتونو ، په مسؤل او شفاف کرنه کي د مالي مرستو اداري لپاره ظرفيت وي. د متحده ايالاتو د خزاني رياست پر اساس، نړيوالي ټولني او افغان دولت د افغان وزارتونو براور لپاره يو يوځای کوښښ په لپاره اچولی دی، چي په دوه راتلونکو کلنو کي د مستقيمي مرستي لاسته راوړنه به وي. دغه براوردونه، عامه مالي اداره او د عامه داخلي مالي کنټرول(PFM) بيا کتنه غواړي، چي د PKF LLP (په انګلستان کي د حسابداری نړيوال شرکت) په واسطه به لاربشود شي. ډونرانو د PKF تخمين پلان تصويب کړی دی، او د مالېي وزارت په رسمي توګه د دغه براوردو لاربشود ټرون لپاره په ۲۵ اپريل ۲۰۱۱ کي مقرر شو.[278] د دغه براوردو لاربشود ټيم د ۱۰ نړيوالو او ۳ افغان مشاورينو درلودنکی دی. د خزاني مطابق، له ۲۹ جون ۲۰۱۱ راهيسي د مالېي وزارت يو براورد مکمل شوی چي نه و خپور شوی. د معدنو وزارت براورد په لپاره کي دی او د معارف او عامي روغتيا وزارتونو براورد به تعقيب شي. د PMF پروژې دوهمه برخه به د وه(۷) نورو وزارتونو براورد وکړي؛ دا د ۱۲ سپتمبر ۲۰۱۱ شا او خوا پيل کيدو ته برنامه شوی دی.[279]

## نوري تخنيکي مرستي

خزانه د مالېي وزارت سره د مخارجو او عايداتو د مناسب کتني پرمختيا لپار دوه اړخيز کار ته هم دوام ورکوي. هدف يې د هر وزارت موجوده داخلي پلټني دندو تقويت يا د دې ظرفيت جوړول په وزارتونو کي چيرته چي شتون نه لري. دا طرزالعمل د بيا کتنو نوري دستي لري، د وزارتونو داخلي پلټني رياست په واسطه د PFM خپلواک براوردونه پورته په نښه شوي. خزانه د دې بياکتنو لپاره د مالېي وزارت ته تخنيکي مرسته چمتو کوي. له ۳۰ جون ۲۰۱۱ راهيسي درې يې بشپړ شوي او څلور نوري يې د بشپړيدو په حال کي وي.[280]

## څو اړخيزه باوري پانګي

پرته له دې متحده ايالات او نور نړيوال ډونران به د افغانستان بيا جوړوني لپاره ، د نړيوالو نهادونو په واسطه اداره شوي څو اړخيزه باوري پانګو له لياري دوه اړخيزه مرستي لاربشود لپاره پانګي د مهم مقدار چمتو کولو ته دوام ورکړي. د خورا مهم څخه دوه يې، لکه څنګه چي د دې ګزارش د پانګو برخې درېځ کي تشريح شوي، د افغانستان د بياجوړوني باوري پانګه(ARTF) او د افغانستان لپاره د قانون او نظم باوري پانګي(LOTFA) دي.[281]

لکه څنګه چي د افغان کنټرول زياتولو لپاره انتقال سپارل نږدي کيږي، دغه څواړخيزه باوري پانګي د ډيروالي سره اړين کيږي. دوی افغان دولت ته د نوري مستقيمي پانګي ورکوني ميکانيزمونه چمتو کوي، په کوم چي ډونران( د متحده ايالاتو په شمول) په لندن کنفرانس کي د ربنتيا کولو سره موفق دي. لکه څنګه چي د SIGAR په ARTF پلټني کي په نښه شوي، نړيوالو سازمانونه چي دغه باوري پانګي اداره کوي، د ځيني سطحو خپلواکه حساب ورکونه او کتنه چمتو کوي. په هر صورت، SIGAR پلټني نتيجه ګيري کړې ده چي د نړيوال بانک نظارت ځيني نواقص درلوده، او د ARTF له لياري محدود شويو پانګو د اداري لپاره د GIRoA ظرفيت. د توضيحاتو لپاره ۱ برخه وګورئ.

په جون کي، د مالېي وزير زوړ مشاور رسنيو ته وويل چي ARTF د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ته د برنامه شويو ۷۰ مليونه ډالرو مصرف په ورکولو کي ناتوانه و، ځکه چي دولت ونه شو کولای د کابل بانک بحران حل لپاره يو رضايت بخش پلان توليد نه کړ. هغې په نښه کړي دي که چيرې مسله حل نشوه، د ملکي کارکونکو

د USAID مستقيمي مرستي د دې څلوريزې اعلان، د افغانستان حکومت وزارتونو سره د اژانس کوښښونو باندې تفصيل ورکوي. په ۲۰۰۸ کي USAID د روغتيا خدمتونو وراندې کولو ټرونونو پلي کولو لپاره د عامې روغتيا او مالېي وزارت سره د يوی مستقيمي مرستي توافق ته ننوت. په دې کال کي هغې د پاليسي ابتکار اجرا لپاره د مخابراتو او مالوماتي ټيکنالوژی وزارت سره يو د مرستي مستقيم قرارداد لاسليک کړ.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د USAID خواب، 7/19/2011.

### د سيګار پلټني

په ANP شخصي سيستمونو د هغې پلټني کي، SIGAR موندلي ده چي پرته له پرمختګونو، اضافي کړنو ته اړتيا ده چي د ANP صورت ورکوني قيمتونو او کاري ځواک ورتيا په مکمله توګه تصديق کړي. د ANP صورت ورکوني مصرفونو ته د LOFTA له لياري فنډ ورکول شوی دی. د توضيحاتو لپاره، د SIGAR پلټنه ۱۰-۱۱ وګورئ(www.sigar.mil).

معاشاتو ورکولو او عملياتو دوام لپاره، دا د افغان دولت وړتيا باندې تاثير کولای شي.[282] د SIGAR د ۲۰۱۱ په بر خه ايي ګزارش کې په نښه شوي، د وړتيا ناکامي ښيي چې د کابل بانک بحران د نړيوال پولي پانګې (IMF) چې افغانستان ته د کريډيټ اسانتياو(ECF) پروګرام تمويلوي، تجدد لوړ نيسي. ARTF ته ځينې ډونران (د متحده ايالات په کې نه دي شامل) د هغه هيوادونو ته چې د ECF پروګرام په ساحه کې نه لري، بهرنی مرستي چمتو کولو نه په شرعي توګه مانع شوي.[283]

## مالي خدمتونه

په دې څلوريزه کې په کابل بانک پورې تړلې مسله مالي سکتور حاکميت ته دوام ورکوي. د مې په اخره کې، د بانک سقوط تحقيق لپاره د رييس جمهور کرزي په واسطه مقرر شوي کميسون د هغې د بياکتنو ټاکل شوي پايلې اعلان لپاره مطبوعاتي کانفرانس په لياره واچاوه. د ناتو په خپرونو کې په نښه شوي لنډيزونو مطابق، بيا کتني پايلې کړي چې د څو سونو قرضونو، د کرزي کابينې غړو او ملي شورا په شمول، له بانک څخه پرته له مناسب اسنادو، متوازي او بياورکوني قرضونه اخيستي. په حقيقت کې، کميسون بيان کړي چې د کابل بانک څخه اخيستل شويو قرضونو ۱۰٪ يې بيرته ورکول شوې وه. د کميسون ګزارش، کوم چې عام شوی نه و، رييس جمهور کرزي او لوی څارنوالی ته چې څرنګه د هغوی پروړاندې چا چې بانک ته فريب ورکړی د پريکړې کولو لپاره وړاندې شوی و.[284]

د دغو اعلانونو په تعقيب سره، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د کابل بانک سقوط پورې تړلې په لويه کچه فساد تحقيق لپاره لومړي ګامونه واخيستل. د DoS مطابق، د افغانستان لوی څارنوال وويل چې شيرخان فرنود(د بانک پخوانی رييس) او خليل الله فروزي(د بانک پخوانی اجرايوي رييس) به ونيول شي. دواړه په ۲۹ ام جون نيول شوي او بنديان و مګر يو يې هم په کوم جرم مجازات شوی نه دی. د لوی څارنوالی دفتر اعلان کړ چې هغوي پلان کړی چې دغه سرې د پيسو لپاره يوه مياشت ونيسو، ورروسته له دې به کيسونه قضا ته مراجع شي.[285]

د افغانستان بانک پخوانی رييس عبدالقدير فطرت، د امريکا متحده ايالاتو ته وتښتيده، او رسنيو ته يې وويل چې د هغې ژوند ته خطر وو. د DoS مطابق، وروسته د افغانستان لوی څارنوالی انټرپول(INTERPOL) او د متحده ايالاتو کابل سفارت ته د هغې د نيولو په اړه يو د مطالبې سند(وارنټ) جاري کړ. فطرت د کابل بانک فساد او اختلاص په اړه د افغان استخباراتو او نورو نهادونو له په خوا ګواښونو د اقامې نابرياليتوب سره تورن شوی و. DoS په نښه کړي چې افغان دولت اعلان کړ چې که چيرې هغه بيرته رانغی نو د هغې په غياب کې به فيصله وکړي.[286]

## کابل بانک

د خزانې مطابق، په دې څلوريزه کې افغان دولت اعلان کړ چې کابل بانک به په دوه نهادونو وويشي ـ يو يې د قرضونو برخه او بل يې د پاتې ژوندی پانګو لاس کې نيولو برخه.[287] د ماليې وزارت هم اعلان کړ چې د افغان دولت باور لري چې هغې د کابل بانک بحران حل IMF ارتياوې ټولې مګر دوه يې پوره کړي. د وزير مطابق، د IMF غوښتنه د ملي شورا څخه د تکميلي بوديجې تصويب و، چې د مرکزي بانک (DAB) بيا پانګې اچونې لپاره غوښتل شوي وه، چې لاتر وسه عالي ده. بله غوښتنه ـ د يوه بل افغان بانک(د SIGAR د اپريل ۲۰۱۱ برخه اي ګزارش پر اساس د عزيزي بانک په نامه دی) خپلواکه قانوني پلټنه، چې دا هم خورا ښه پاتې ده. د

### د سيګار پلټنې

په دې څلوريزه کې SIGAR په افغان بيا جوړونې باور فنډ(ARTF) باندې يوه پلټنه خپره کړه، کومه چې د نړيوال بانک په واسطه اداره شوي او د دولت عملياتي مصرفونو په ورکړه کې مرسته کوي، په شمول د غير نظامي ملکي کارکونکو معاشات. د تيرو درې مالياتي کلونو لپاره، د افغانستان د بوديجې ۱۱-۲۵٪ سلنه د ARTF له لياري ورکړل شوې. د لا زياتو معلوماتو لپاره ۱ برخې، 9 پاڼې ته ستانه شي.

### د سيګار پلټنې

په دې ځلوريزه کې په افغانستان کې د بانک داری او پيسو کنټرول سيستمونو باندې SIGAR يوه پلټنه خپره کړه. د پيسو کنټرول په ځانګړي توګه اړين دی ځکه چې اقتصاد په لويه کچه د نغدي بنسټ لري. پلټنه د متحده ايالاتو په فنډونو د متحده ايالاتو د دولت کنټرول تشخيصوي چې د افغانستان مالي سکتور پرمختګ او قانون ملاتړ لپاره د افغانستان اقتصاد ته د متحده ايالاتو کومېښونه دننه کوي. د لا زياتو معلوماتو لپاره ۱ برخې، 7 پاڼې ته ستانه شي.

مالبې وزارت اعلامېې پر اساس، د دوهم بانک قانوني پلټنه کيدای شي په دې دری مياشتو کې پيل شي.[288] د انګلستان پرمختګ اژانس، DFID چمتو شو چې د کابل بانک او عزيزي بانک قانوني پلټنو لپاره د ۷ مليونه ډالرو پانګه اماده کړي.[289] په جولای کې، منځنيو رسنيو د بالفعل مالي اختلالاتو په اړه ګزارش ورکړ چې د افغانستان ملي شورا غړو غوښتلي و چې د مرکزي بانک اوسنی رييس دې دوی ته د عزيزي بانک مالي درېځ باندې نوې کوونه ورکړي.[290]

د SIGAR برخه اې د اپريل ۲۰۱۱ ګزارش پر اساس، GIRoA د مرکزي بانک نوې پانګه اچونې او د کابل بانک ماتو پوښلو لپاره بايد عايد په څرګنده توګه لوړ کړي.[291] ملي شورا په دې ورستيو کې د مرکزي بانک نوې پانګه اچونې لومړي پړاو مالي مرستې لپاره د ۷۳ مليونه ډالرو غوښتنه رد کړې. نړيوالو ډونرانو، د متحده ايالاتو په شمول، تاکيد درلود چې د کابل بانک ماتې پوښلو لپاره هر ډول پانګه د دولت له عايداتو څخه رازې، نه دا چې د ډونر د بيا جوړونې مرستې سهم څخه.[292]

## کوچنی پانګه اچونه يا اقتصاد

لکه څنګه چې د کابل بانک په اړه مزاکرې دوام لري، د امريکا متحده ايالات د يوه نوي پروګرام سره د افغان مالي سکتور نورو برخو پياوړي کولو لپاره پر مخ ځي. په دې ځلوريزه کې، د مثال په توګه، USAID د کوچنی سوداګريو مالي توليداتو او خدمتونو لاسرسی ملاتړ لپاره د پنځه کالو لپاره د ۷۴ مليونه ډالرو پروژه په لپاره واچوله.[293] د افغانستان پرمختګ پروژې(FAIDA) کې د پانګه اچونې لپاره مالي لاسرسی په ځانګړي توګه د کوچنۍ او منځنيو سطحو شرکتونو سره مرستې مقصد د لاندې کړنو په کولو سره دی:[294]

- د کوچنيو او منځنيو سوداګريو لپاره اړين مناسب نوي مالي توليدات او خدمتونو برنامه کولو مرستې لپاره د سيمي ـ ځانګړي ارزښت زنجيري پلټنې لاربنود کول
- د مالي معاملو مصرفونو او خطر راکمول، د کوچني پلورلو مالي نهادونو اړيکې کول د کرنې شبکو او نورو سره
- د جامع خدمتونو چمتو کولو په واسطه د افغان مالي نهادونو لپاره ګټو لوړول او خطراتو راکمول

USAID په نښه کړي چې د اپريل ۲۰۱۱ راهيسې، رسمي مالي خدمتونو په کوچنی پانګې اچونې سکتور کې ۱۵٪ نفوز کړی او تقريبا ۱٪ وړوکې او متوسطه پانګې اچونې سکتور کې. د USAID مطابق، په کرنې سکتور کې رسمي پانګه اچونې، په ځانګړي توګه نه وی.[295]

USAID د کوچنی پانګه اچونې نهادونو تشويق يوه سابقه لري، په شمول د کريډټ مرستو، کريډټ يونونو، د کوچنی پانګې کلي بانکونو، او نور هم ډوله نهادونو. USAID وويل چې له جون ۲۰۱۱ راهيسې، هغې نږدې ۱۸۵۰۰۰ پوروونه ورکړي او ۶۰ مليونه ډالر په پور راسي کې د وه (۷) کوچنی پانګې شراکتيانو لپاره په افغانستان کې د هغې د اجرايي شراکتيانو له لياری. برسيره پردې، هغې په افغانستان کې ۴۰ د اسلامي پانګه اچونې مالي تعاونونه جوړ کړي، ۷۳۰۰۰ زره غړو ته خدمتونه، د ۵۴ مليونه ډالرو ته نږدې ورکړې سره.[296]

## کارموندنه

د سيګار تير برخه اې ګزارشونو پر اساس، دا امکان نه لري چې د کرنې په سکتور او نورو سکتورونو کې د

متحده ایالاتو د کارنیوني لوړولو هدف راتلونکی پرمختګ په قطعیي ډول اندازه شي.  په دې سره، په دې څلوریزه کې USAID د هغې د کار پروګرام لپاره د نغدو له لیارې ایجادې شویو دندو شمیرې تخمین کړې، کومې چې د ستونزمن افغان فامیلونو لپاره لنډ مهاله کار چمتو کوي، لکه څنګه چې په ۳.۹ جدول کې ښودل شوي.

## د پولې نه تیریدو همکاري

د SIGAR جنوري او اپریل میاشتو برخه اې ګزارشونو پر اساس، په ۱۱ جنوري ۲۰۱۱ کې افغانستان او پاکستان ټرانزیټ سوداګرۍ تاریخي تړون وکړ، کوم چې به د افغاني تولیداتو ترانسپورت لپاره د افغان ټرکنو د پاکستان له لیارې هندوستان ته تګ اسان کړي. تړون د تصویب څخه ۳۰ ورځې وروسته د پلي کولو لپاره برنامه شوی و، خو د کارګو(دریایی بار) او نورو مسالو لپاره په ګمرکو او مالي ضمانتونو پورې تړلي مسالو باندې د مخالفت اجرا سرته ورسیده.[297] د ناټو خپروني ګزارش مطابق، یو کلیدي ممانعت د پاکستان ټینګار و چې افغاني سوداګر دې د افغان کارګو لپاره مالي ضمانتونه په پاکستاني یا نړیوال بانکونو کې ذخیره کړي.[298]

په دې څلوریزه کې رییس جمهور حامد کرزي اعلان کړ چې پرمختګ شوی دی او د تړون مکمل پلي کول به په ۱۲ جون ۲۰۱۱ کې پیل شي.[299] متحده ایالاتو د تړون په اسانولو کې کلیدي رول ولوباوه، چې په ۱۹۶۵ کې مزاکره شوی بې بدل کړ.[300] د اعلان کولو برسیره هم، ګزارشونه و چې د پاکستان دننه او بهر، افغاني سوداګر د دوی د توکو په وړلو راړلو کې تر اوسه هم ستونزو سره مخ وو. د مثال په توګه د افغانستان د سوداګریو او صنعت خوني اجرایوي رییس د جون په میاشت کې وویل، چې د کارګو لپاره بانکي ضمانتونو په سر شخړو له امله ۷۰۰ افغاني کانتینرې د کراچۍ په بندرونو کې نښتي وې او ۶۰ نورې بې د تورخم پولې عبور څخه منع شوې وې.[301]

په دغې پورې تړلي پرمختګونو کې په دې څلوریزه کې، هندوستان اعلان کړ چې د افغاني توکو څخه تعرفې به وانخلي او ځینې افغاني توکو ته به اجازه ورکړي چې وریا وارد شي. د ناټو یوې خپروني مطابق، د افغانستان سوداګریو او صنعت خوني نمایندګانو وویل چې دغه حرکت به هیواد سره مرسته وکړي تر څو هند ته لا ډیرې تازه او وچې میوې صادره کړي.[302]

د تاجکستان او افغانستان ترمنځ سوداګرۍ اندیښنې په دې څلوریزه کې ډیرې شوې. د اروپا ازادې راډیو ګزارش مطابق، د اپریل ۲۰۱۱ په پیل کې، تاجکستان د تاجک دولت په ورګاړي لیکي سیستم باندې ترانسپورت

3.9 جدول

**د USAID نغدي پیسې د کار پروګرامونو لپاره په ۲۰۱۱ Q3 کې لنډ مهاله دندې جوړې شوې دي**

| پروګرام | موقعیت | د دندو شمیر | د دندو یا کار ډول | پاداش |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| د تولني پرمختګ پروګرام | شمال | 23,846 | لاسي کار د سرکونو بیا جوړونه، د بریښنا ستنو نالول، د استنادي دیوالونو جوړول، د قالینو کنډل(ښځې)، د ښځو مارکیټ جوړول | ۵ ډالر د ورځې |
| د تولني پرمختګ پروګرام | کابل | 77,497 | لاسي کار د بدرفت کنالونو ، عامه پارکونو، نالیو، د بدرفت خندقونو، آبیاری سیستمونو بیا جوړونه؛ د کرکټ میدان جوړونه؛ د سرکونو پخول؛ د ونو نرسریانو تاسیسول؛ د ښځو لپاره لاسي صنایع:  د برستنو(کمپلو) او خلتو(بیګونو) جوړل | ۵ ډالره د ورځې |
| د تولني د پرمختګ پروګرام | سویل، ختیځ او لویدیځ | 64,303 | لاسي کار ترکاني، بنایي، سرک پخوونه، د بدرفت کانالونو بیا جوړونه، نالی، د بدرفت خندقونه، آبیاری سیستمونه | د مهارتونو او موقعیت پر اساس، معاشات له ۶ نه تر ۱۴ ډالر د ورځې ټاکل شوي. |
| د افغانستان د تحکیم ابتکار | | 1,821 | لاسي کار د بنستونو لپاره کار، نجاران، برقیان، روزونکي، او فورمین | په اوسطه توګه، ۷.۵۸ ډالره د ورځې |

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID خواب، 7/4/2011.

شوي افغاني توکو تعارفي لوړې کړي.[303] د ناټو خپروني مطابق، په دې ځلوریزه کې تاجکستان ځلور د ترانزیت افغان شرکتونه په هغه هیواد کې په ګرځېدو تحریم کړي.[304]

## کرهنه

لکه څنګه چې د SIGAR تیر برخه ای ګزارشونو په نبنه کړې، غنم په افغانستان کې خورا لوی خرمني(ذخیروي) محصول او د هیواد بنسټیز خوراکي توکی دی. د USAID مطابق، دا د افغان خوراک رژیم له ٪۷۰ سلنې څخه ډیره برخه جوړوي.[305] د متحده ایالاتو د کرهني ریاست مطابق، افغانان د پسرلي غنمو انبارول(جمع کول) په مي کې پیلوي او د اګست ۲۰۱۱ په لومړیو کې به بې پای ته ورسوي.[306]

په افغانستان کې د غنمو د ډیر انبار دوه پرله پسې کلونو راهیسې، USDA د یو کموالي وړاندوینه کړې: په دې کال کې له تیر کال څخه ۱پر۳ لږ تولید په ژمي ۲۰۱۰ او پسرلي پیل کې ډیر رطوبت او واورې وریدل د تیرې وچکالی جبران کې پاتې راغلل چې د تخمونو شنه کیدلو باندې بې منفي اثر وکړ. د یوې نتیجې پر اساس، د USDA سپوږمکی تازه انځورونو په خرمن شوي هر جریب محصول کې ٪۷۰ کموالی ښیې چې د باران وریدو او په یوجریب حاصل کې د ابیاري لاندې ٪۵ـ۱۰ ځاځکي پورې اړه لري.[307]

د USAID مطابق، خورا ډیر کموالی به د افغانستان په شمال، د غنمو حاصل خیزه سیمو کې راشي، چې د هیواد ٪۷۰ تولید کوي. غنم په شمال کې په لومړی توګه باران وریدو پورې اړه لري؛ د اوبه شویو رقبو ډیرې بې په نورو سیمو کې موقعیت لري، لکه څنګه چې په ۳.۲۶ انځور کې ښودل شوي..[308]

د USDA مطابق، نږدې ـنورمال غنمو تولید په پاتې منځنی آسیا درآمد کې چې افغانستان به احتمالا وکولای شي د هغې کورني مصرف اړتیاو ته د سوداګریزو وارداتو سره ورسیږي. په سیمو کې خورا غریب افغانان چې للمي غنمو پورې تړلې دي به په نغدي شکل، خوراک مصرف یا وارده شوي خوراکي مرستې ته د هغوی

## د سیګار پلټنې

په دې ځلوریزه کې SIGAR د ساتنې(CARE) سره په کابل کې د ستونزمن افغانانو ته د کاري فرصتونو لپاره نغدو پیسو چمتو کولو لپاره د USAID په تعاوني قرارداد یوه پلټنه خپره کړه. د دې پلټنې په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره ۱ برخې،۴ پاڼې ته ستانه شي.

3.26 انځور

د اوی او للمي غنمو د حاصلاتو ویش (میلیون هیکټاره)




سرچینه: USDA/FAS "د محصولاتو په اړه اطلاعاتي راپور"، 5/11/2011.

مصرف اړتیاو لپاره اړ وي. د مثال په توګه هندوستان، افغانستان ته د مخه د ۲۵۰۰۰۰ متریک ټن غنمو صادرولو تضمین کړی دی چې په دې کال کې د انساني مرستو لپاره د افغانستان ستراتیژیک دانو ساتل او د غلې نشتوالي سپکولو پرمختګ سره مرسته وکړي[309] پاکستان چې په دسمبر ۲۰۱۰ کې د غنمو په صادراتو بې تحریم لګولی و یو ځل بیا افغانستان ته د غنمو اولیه صادرکونکی دی.[310] قازقستان هم افغانستان ته غنم صادروي.[311]

لکه څنګه چې د SIGAR تیر برخه اي ګزارشونو په نښه کړي، USAID د بزګری نوي میتودونو، وسایل او توکو ته د افغان بزګرانو لاسرسی لوړ والي لپاره ډیری پروګرامونه لري. د مثال په توګه USAID افغان بزګرانو ته دوه او څلور تیره تراکتورې چمتو کړي دي، لکه څنګه چې په ۳.۱۰ انځور کې ښودل شوي.. برسیره پردې، په دې څلوریزه کې USAID افغان بزګرانو ته د کرهنې لاسته راوړنو ودې لپاره لاندې ګیډی ویشلې دي:[312]

- ۲۴۰۰ ورکړې د ژیر میز (۲۰۰۰) او د وریجو (۴۰۰) ګیډی په ننګرهار، لغمان او کنړ ولایتونو کې(IDEA-NEW)
- ۵۸۶۳ ورکړې د خربوزو، ترکاریو او وابنو تخمونو او سرې ګیډیو لپاره په کندهار کې(AVIPA-Plus)
- ۳۱۱ د غنمو تخم او سرې ګیډی په کندهار او ارزګان کې(AVIPA-Plus)

## د خصوصي سکتور پرمختګ

د دې څلوریزې په خصوصي سکتور څرګند پرمختګ کې، پیپسیکو ــ د نړۍ د خورا لوی خوراکي او نوشابو شرکتونو څخه یوــ د الکوزي ګروپ سره د ۶۰ ملیونو په ارزښت په کابل کې د بوتلو کارخاني جوړولو شراکت اعلان کړ. کارخانه به افغان مارکیټ ته سوډا، معدني اوبه او د انرژي څښل توکي تولید کړي. د شرکت اعلان مطابق، د دغې کارخانې څخه هیله کیږي چې په مارچ ۲۰۱۲ کې کار پیل کړي او له ۳۰۰۰ څخه ډیرې مستقیمې او غیر مستقیمې دندې د افغانانو لپاره چمتو کړي.[313]

## اړین خدمتونه

په دې څلوریزه کې په اړین خدمتونو غوره کوني د افغانستان امریکایي پوهنتون(AUAF) د فارغیدو محصلینو لومړی صنف، د عاجلو بیا جوړونو ریاست په افغانستان کې د لویو لیارو په خورا مهم اوړدالی، د متحده ایالاتو کوښښونه د کلیدي انرژي زیربنا ترمیم لپاره او د افغانستان کان کنستلو سکتور پرمختیا لپاره ضروري او نوي

3.10 جدول

**له ۳۰ جون ۲۰۱۱ راهیسې دهقانانو ته د USAID له خوا چمتو شوي تراکتورونه**

| پروګرام | د تراکتورو شمیره/ ډول | خدمت شوی جغرافیایي سیمه | خدمت شوي بزګرانو شمیره |
|---|---|---|---|
| AVIPA-Plus | د مرسته کونکو په واسطه ۹۰۶ څلور تیره تراکتورونه اخیستل شوي | کندهار، هلمند | 24,097 |
| AVIPA-Plus | ۴۰۹۶ دوه تیره تراکتورونه د فردي بزګرانو په واسطه اخیستل شوي | لوديځ، شمال، شمال لوديځ او مرکزي افغانستان | 4,096 |
| AFSA | ۲۷ څلور تیره تراکتوري د اجاري لپاره فارم ذخیره کوني مرکزونو په واسطه اخیستل شوي | کندهار، هلمند، غزني، لغمان، کنړ، زابل، کابل، وردک، ننګرهار، لوګر | 2,990 |
| IDEA-NEW | ۹۲ دوه تیره تراکتوري | بلخ، جوز جان، سرې پل، فاریاب، سمنګان | .n.a |

یادوني: AVIPA = په کرني کې د تولید زیاتولو لپاره د افغانستان هزیني AFSA= د افغانستان فارم خدمت پیوستون IDEA-NEW= شمال، ختیځ او لوديځ لپاره د اقتصاد بدیلونو پرمخ وړلو انګیزی
سرچیني: د SIGAR مالوماتو غوښتني ته د USAID ځوابونه، ۷/۱۶/۲۰۱۱ او ۷/۴/۲۰۱۱

اوزار. برسيره پردې، دغه برخه په رقابتي ګټو باندې خبرې کوي چې د دولت خپل شرکتونه له افغانستان د معدني زيرمو پرمختيا د حقونو لپاره وړانديز څخه خوند واخلي او د اړيکو زيربنا پر وړاندې يو بريد باندې تازه.

## ښوونه او روزنه (معارف)

لکه څنګه چې SIGAR په تير برخه اې ګزارشونو کې په نښه کړې، چې د افغانستان لوړې زده کړې د ښو کالو لپاره د توجه او پانګې اچونې نشتوالي له امله رنځ وړي. د دغې اندېښنې ښودلو لپاره د ستراتيژۍ يوې برخې په حيث، په ۲۰۰۸ کې USAID د پنځه کالو، ۴۲ مليونه ډالرو تعاوني تړون د AUAF اوږد مهاله پرمختګ ملاتړ سره مرستې لپاره اعلان کړ. په دې ځلوريزه کې، AUAF يوې د ليدلو وړ مرحلې ته ورسيد، کله چې يې د لومړي فراغت لمانځنه وکړه؛ ۳۲ محصلين د ۸ ښځو په شمول تري فارغ شول. محصلينو په تجارت، مالوماتي ټيکنالوژۍ، کمپيوټر ساينس، سياسي علومو او عامه اداري کې د لسانس سندونه تر لاسه کړل. د USAID مطابق، د AUAF نوم ليکنه په دې ځلوريزه کې ۷۸۹ تنو ته رسيدلې؛ دغه شميره د هغه محصلينو په شمول ده چې په خپلو اساس تعليمي پروګرام کې د انګلسي ژبې مشتاقي(intensive) کورسونه پرمخ وړي.[314]



**۳۲ نوي فارغ شويو**، د اته ښځو په شمول، د متحده ايالاتو پخواني سفير کارل ډبليو څخه د مې په ۲۶ مه په کابل کې د افغانستان امريکاى پوهنتون لومړى فراغت لمانځنې کې ډيپلومونه تر لاسه کړل. د ۲۰۰۸ راهيسي، USAID دغه پوهنتون د پنځه کالو همکارى تړون لپاره د ۴۲ مليونه ډلرو سره ملاتړ کړى دى.

په دې ځلوريزه کې، د متحده ايالاتو د کابل سفارت، د USAID افغان تقدير وړشاګرد پروګرام(AMSP) کې افغان وړشاګرد برخه اخيستنې ته بې وياړ ورووبخښه. د USAID تعاوني تړون ۳۴ مليونه ډالرو سره، پوردو پوهنتون دکرهنې کالجونو تازه محصلين د روزنې سره چمتو کوي چې دا به په کرنې کې د دوې د ماسترۍ سند ترلاسه کولو ته لاربنود کړې.[315] د افغان نهادونو پنځه برخه اخيستونکي يې د کابل، ننګرهار، بلخ، هيرات او کندهار پوهنتونونه دي. پروګرام کې د زيربناو بيا جوړنې او د کرهنې د علم تحصيلي دورې نوي کول او په افغانستان کې د کرهنې لابرتوارونو مرستې لپاره پانګه ورکونه هم شامله ده.[316]

## د حمل و نقل زيربنا

په دې ځلوريزه کې، USAID په پروان ولايت کې د سالنګ تونل بيا رغوني کار سرته پيل کولو لپاره د ټولنيز کار وزارت سره مشارکت اعلان کړ. د DoS مطابق، د هندوکش له لياري ۲.۶ کيلومتره تونل په افغانستان کې د لوى لياري خورا مهم ټکى دى، څکه چې دا د شمالي افغانستان او کابل تښلولو اصلي ټرانزيټ لپاره ده. هره ورځ ۷۰۰۰ موټرې د هندوکش د غرونو نه تيريدو لپاره د شمالي افغانستان او کابل تر منځ دغه تونل استعمالوي. له دې پرته د هر موسم لپاره د جنوبي او شمالي افغانستان نښلونکي ټرانزيټي لپاره نشته. ټولې نورې لياري غرونه په ځګو ځاينو کې پرې کوي او د خوړونو او سيندونو نه په تيريدو سره ناپاکې(نه دي اسفالت شوې) برخې لرې، چې په سخت ژمي کې تړلې وي.[317]

په ۱۹۶۲ کې د تير شوروې رژيم په واسطه تعمير شوى دغه تونل به له تيريدو د وړتيا څخه ووځي که چيرې عاجل بيا رغونه يې ژر ونه شوه. USAID د وزارت سره يوځاى د عاجل بيا رغوني کار لپاره په پلان، ډيزاين او وړانديزونو جوړولو باندې کار کوي. وزارت به د تونل څخه ۱.۲ کلومتره پوخ کړې؛ USAID به پاتې ۱.۴ کلومتره پوخ کړي. د DoS مطابق، نړيوال بانک به د تونل دايمي بياجوړنې لپاره پانګه ورکړي. طمع کيږي چې دايمي بيا جوړنه په ۲۰۱۴ کې پيل شي، وروسته د يوه بديل باپياس د مکمل کيدو څخه(د دوشي، باميان ـ پروان لويه لياره).[318]




**د ترميم کار د هندو کوش په غره کې د سالنګ تونل ته ځانګړی شوی، په ټول کال کې د کابل سره شممالي افغانستان نښلونکی.** هغه پروژه چې د ټولنيز کار وزارت او USAID په واسطه لاربنود کيږي، اطمينان به ورکړي چې ۷۰۰۰ موټرې په ورځ کې دغه تونل استعمالولی شي. (CJTF-101 photo, SGT Scott Davis)

## انرژي

له ۲۰۰۵ څخه جولای ۲۰۱۱ پورې، USAID په افغانستان کې د انرژي په زيربنا کې ۶۷۰ مليونه ډالرو پانګه اچونه کړې و.[319] سره د دې پانګه اچونې ، GIRoA د داخلي اړتيا پوره کولو لپاره په وارده شوې بريښنا باندې تکيه کولو ته ادامه ورکړې. متحده ايالات په دې ځلوريزه کې د داخلي بريښنا توليد لوړولو لپاره کوښښ کوي، لکه څنګه چې د متحده اياالتو سفير آيکن بيري د مزار شريف کود برق سرې او بريښنا کارخانې محصول بيا لاسته راوړلو لپاره ۴۰ مليونه ډالرو ضمانت اعلان کړ. دغه کارخانه د ۴۸ ميګاواټ بريښنا توليد لپاره جوړه شوې وه مګر کارخانې او د ګاز پيپ خط(پايپ لاين) په قوي توګه تنزيل کړی. نن ورځ کارخانه د هغې د ډيزاين شوي ظرفيت ٪۲۰ سلنه توليدوي. د سفير مطابق، چې يوځل ترميم شو، دغه کارخانه به د ۳۰ ميګاواټ په زياتوالي سره به افغانستان د بهرنيو تدارکاتو پورې تړلو کې کم والی راولي. کارخانه ۲۵۰۰ افغان کارمندان لري.[320]

لکه څنګه چې د SIGAR جنوري مياشتې ۲۰۱۰ برخه اي ګزارش کې په نښه شوي، د بلې انرژي پروژې کليدي برخه ـ د کجکي په بند کې د دريم ټوربين نصبول دي ـ چې په دسمبر ۲۰۰۹ کې د کاره لويدلی و. د USAID مطابق، په ډيم باندې کار، په ساحه کې د بلواګرو فعاليتونو تقويت او د قرارداد کونکو ته د شخصي امنيت ناتوانی په واسطه درول شوی و. دا اړينه ده څکه چې د کجکي بند لوی زيربنا وړاندې کولو ته د ټرکونو اساسي کاروان اړين دی او د فرعي وردين ځای ته نږدې، USAID مطابق، او د فرعي وردين ځای او توزيع کار مکملول. USAID په دې ځلوريزه کې ګزارش ورکړی چې د شخصي امنيت قرارداد کونکو مسله اوس حل شوې ده، او د يوې نوې جواز شوې امنيت شخصي قرار داد کونکو سره تړون لاسليک شوی. د USAID مطابق،

### د سيګار پلټنې

د افغانستان بريښنا په تامينولو د SIGAR يوې پلټنې تخمين وهلی چې په سپتمبر ۲۰۰۹ کې نصب شوی ظرفيت ۱۰۲۹ ميګا واټ وه؛ توليد د دغه رقم نه اوس هم ټيټ پاتې دی. د لازياتو مالوماتو لپاره، SIGAR پلټنه ۴-۱۰ وګوری، " د افغانستان بريښنا تامينول زيات شوي مګر يو نوی شوی ماسټر پلان اړين دی، او تاخير او تقويت اهميتونه پاتې دي" (www.sigar.mil).

دريم ټوربين به ۱۸.۵ ميګاواټ بريښنا زياته کړي.[321]

د کجکي بند درې ټوربينونو څخه دوه يې اوس مهال د هلمند ولايت ته بريښنا چمتو کوي. په دې ځلوريزه کې، د سويل ـ لويديځ ساحوي قوماندانۍ ګزارش ورکړ چې د متحده ايالاتو نظامي انجينرانو د وسايلو يوه نوې قطعه نصب کړې(د سويچ کولو مرکز) د سخت بندولو له امله د اوسنيو توليد کونکو د خرابۍ څخه مخنيوي سره مرستې لپاره. د قوماندانۍ مطابق، عملي تاثير به يې د بريښنا پرې کيدو څخه چې د شارټ او زيات مصرف(بارولو) له امله منځ ته راځي کم کړي، او په بنه توګه د بريښنا پرې کيدو د مهال يا وخت کمول.[322]

برسيره پردې د هايډرو اليکټريک بريښنا، افغانستان د طبيعي ګاز ذخيرې څخه د بريښنا توليد استعداد لري. لکه څنګه چې د SIGAR د جنوري ۲۰۱۰ په برخه اې ګزارش کې په نښه شوي، په ۱۹۸۰ کې د افغانستان ګاز صادراتو له ۳۰۰ مليونه ډالرو څخه زيات يې کلنيو عايداتو ته چمتو کول. مزار شريف ته د هغې ليدلو پرمهال ښاغلي سفير ايکن بيري په نښه کړي چې د متحده ايالاتو دولت به د کانونو وزارت سره په شبرغان کې د نوي طبيعي ګاز ذخيرې پيژندلو، مقدار مالومولو او پرمختګ لپاره مرسته وکړي. دا د مشترک کوښښ يوه برخه ده، په کوم کې چې به وزارت، د اسيا پرمختيايي بانک(ADB) او نور ډونران د ګاز ښه اسانتيا، د ګاز نوې پيپ لاين او د بريښنا انتقال زيربنا لپاره پانګه اچونه وکړي. هدف يې ، په شبرغان کې د ۲۰۰ ميګاواټ بريښنا کارخانې شخصي جوړولو لپاره د ۳۰۰ مليونه پانګه اچونې جلبول دي؛ دا پانګه اچونه د متحده ايالاتو بهرنۍ شخصي پانګه اچونې شرکت په واسطه ملاتړ شوي ده.[323]

ضمننا په دې ځلوريزه کې د ترکمنستان ـ افغانستان ـ پاکستان ـ انډيا(TAPI) طبيعي ګاز پايپ لاين پلي کول يوځل بيا وروسته کړى شو. DoS وويل چې ځلور برخه اخيستونکي هيوادونو مزاکرې د ګاز قيمتونو په اړه رواني دي، اميد لرو چې وروسته په دې اوړي کې پريکړې ته ورسي. دوې په پروژې د پانګه اچونې لپاره يو نړيوال د انرژۍ شرکت په لټه هم دي چې اطمينان ورکړي کافي زيرمې او فني نظر ورکول اماده دي.[324]

لکه څنګه چې د ۲۰۱۰ د SIGAR په پلټنه کې په نښه شوې دي، د افغانستان په لاملونو کې چې د بهرنيو انرژۍ تدارکاتو پورې تړلې پاتې دى، يو يې د انرژۍ سکتور ماسټر پلان نه شتون دى چې لومړيتوبونه، د وخت درستول، او د انرژۍ سکتور اهدافو سره تړلې قيمتونه په کې شامل دي. د DoS مطابق، برسيره پردې، افغانستان د داخلي بريښنا توليد لپاره ابتداي فزيکي زيربنا نه لري.[325]

په اپريل ۲۰۱۱ کې، ADB د بريښنا او اوبو(MEW) وزارت سره د ۱.۵ مليونه ډالرو تخنيکي مرستې د هيواد انرژۍ ماسټر پلان تازه کولو مرستې تضمين لپاره تړون لاسليک کړ. د پروژې مقصد په ټول هيواد کې د لوړ لوی مرکزونو پيژندل دي، په راتلونکي ۲۰ کلنو کې د هغوی ودې وړاندوينه، او د اړتياو پوره کولو لپاره د کافي داخلي او بهرنيو تدارکاتو د پرمختګ لپاره د پلان جوړول. برسيره پردې، پروژه به د بريښنا توليد اسانتياوې د دې لوړونو سره تړلو لپاره د انتقال شبکې پيژندل وي. تصديق د بريښنا سکتور مالوماتو اناليز لپاره د MEW مقاماتو روزلو ته ترکيب کونکي ظرفيت جوړنه هم شامل ده. ADB خورا لوی نړيواله اژانس دی چې د افغانستان بريښنا (انرژي) سکتور ملاتړ کوي. هغه د USAID، نړيوال بانک او نورو ډونرانو سره مشوري څخه وروسته موافقه وکړه چې د افغانستان لپاره يو آژانس سکتور ماسټر پلان په پرمختګ کې لارښود وکړي.[326]

## د معدنونو د رايستلو پروګرام

لکه څنګه چې د SIGAR تيرو برخه اى ګزارشونو کې په نښه شوي، افغانستان په معدني زيرمو کې د کتلو وړ ناپرمختګ يا وروسته پاتې لري، او متحده ايالاتو دغه سکتور د ودې لپاره په نښه کړی دی. د دې هدف ملاتړ

لپاره، د متحده ایالاتو دولت د یو نوي لوړې ټیکنالوژۍ جیولوژیکي مالوماتي مرکز تاسیس ته فنډ ورکړی، چې په دې ځلوریزه کې د کانونو وزرات په واسطه خلاص شو. دا به د افغانستان په معدني زیرمو د مالوماتو مرکزي ذخیره وي. نوي مرکز ته، د سوداګرۍ ثبات عملیاتو باندې کاري ځواک(TFBSO) په واسطه پانګه ورکړل شوه او د IBM، متحده ایالاتو جیولوژیکي سروې(USGS) او TFBSO ماهرینو په واسطه ډیزاین شوی.[327]

د وزارت مطابق، په افغانستان کې د USGS په واسطه تازه مکمل شوي کار خورا ډیر معدني مالوماتو مجموعه راټوله(پیدا) کړې چې هرکله د یوه یووستوي هیواد لپاره تالیف شوي. د TFBSO مطابق، دغه مالوماتي مجموعه کولای شي د بالفعل پانګه اچونکو سره د اقتصادي پرمختیا فرصتونو پیژندلو کې مرسته وکړي.[328] په دې سره امنیت د افغانستان معدني زیرمو پرمختګ ته یو لوی چالش پاتې شو، ځیني شخصي سکتور شرکتونو ځخه خوښوالی لیدل شوی. د رسنیو ګزارش مطابق، تیر کال TFBSO د JP Morgan او شراکتیانو په واسطه ېې په افغانستان کې د سرو زرو کان پرمختیا لپاره پانګه اچونه ساده کړه. په دې ځلوریزه کې، TFBSO وویل چې د وړاندیز پروسې او ټاکلي قیمت ودې سره مرستو لپاره د نړیوال تخنیکي او حقوقي ماهرینو ټیمونه د کانونو په وزارت کې ځای پرځای شوي و.[329]

د نوې مالوماتي مجموعي آنلاین لیدو له امله ډیرې د سیمي هیوادونو د هغوې خپل اړین پرمختګ ته رسیدلو لپاره د افغانستان معدن سکتور پرمختګ ته خوښوالی څرګند کړ. د مثال په توګه هندي کمپنۍ، د حاجي ګګ وسپني کان راسپړودلو حقوقو لپاره وړاندیزونه کوي، د نړۍ د خورا لوی پاتې کانونو څخه یو دی. د ناټو خپرونې پر اساس، وسپنه د پولاد جوړلو لپاره یو کلیدي عنصر دی، او هند د خپل پرمختګ لپاره په لوی مقدار پولادو ته اړتیا لري. له ۲۲ شرکتونو څخه ۱۵ یې، چا چې د حاجي ګګ حقوقو لپاره خوښوالی ښودلی هندي کمپنۍ دي، او ډیری یې دولتي دي. برسیره پردې، خپرونې په ګوته کړې چې د هند دولت د ټرون پانګه کونې سره موافق دی، که چیرې د هندي کمپنۍ وړاندیز ومنل شو.[330]

د زیاتیدو په طور، دولتي کمپنۍ د خصوصي سکتور کمپنیو په پرتله د معدن سکتور پرمختګ حقوقو لپاره وړاندیز کولو کې د اړتیاو له امله ښه والی(ګټه) لاسته راوړي، ځکه چې بریالي وړاندیزونه په افغانستان کې د زیربنا جوړولو پریکړو درلودونکي دي. د مثال په توګه، د حاجي ګګ داوطلبی اعلان کې وویل شول چې ګټونکي وړاندیز کونکي څخه به طمع کیږي چې د افغانستان زیربنا ابتکاراتو کې برخه واخلي، په شمول د اور ګاړي خط بیاپاکول یا جوړول او د بریښنا قوي تولید امکانات. په اعلان کې دا هم وویل شول چې لومړیتوب به هغه کمپنۍ ته ورکړل شي چې کولای شي خامه وسپنه راوباسي او په افغانستان کې د پولادو تولیدولو لپاره امکانات هم چمتو کړي.[331] د ناټو یوې خپرونې په نښه کړې چې د دغه شرکتونو څخه یو دولتي شرکت ېې د حاجي ګګ معدن کې، په افغانستان کې د پولادو تولید لوی امکان جوړولو په وړاندیز سره علاقه وښودله.[332] لکه څنګه چې SIGAR په تیر برخه اې ګزارشونو کې په نښه کړې، د چین دولتي شرکت چې د مس عینک زیرمې کنسټلو حقوق یې ګټلي، د ورګاړي خط جوړولو چې کابل پاکستان او اوزبکستان نښلوي پریکړه کړې ده.[333]

په نورو کان کنسټلو پرمختګونو کې، پر افغان مرمرینو ډبرو دریم نړیوال کنفرانس د جون په میاشت، هیرات کې تر سره شو. د کانونو وزارت له خوا کوربه توب او د USAID له خوا مالي ملاتړ شوی و، کنفرانس له ایټالیا، هند، متحده ایالاتو، ترکیه او ترکمنستان څخه ۲۴ کمپنۍ جلب کړې وې. کنفرانس د دوست ماربل کارخانې لپاره د فیتې پریکولو په مراسمو سره پیل شو، په هرات کې د مرمرینو ډبرو پروسس لپاره یوه نوې د ۶ ملیونه ډالرو کارخانه چې د USAID ملاتړ او نورو نړیوالو ډونرانو مرستې سره جوړه شوې وه. د USAID مطابق، افغانستان د مرمرینو ډبرو له ۱۰۰ څخه ډیر د لوړکیفیت ډولونه لري، کوم چې د موجوده ماربلو صادرات ۱۵

"کان کنسټل او هایدرو کاربنونه د افغانستان د ځان ساتنې اقتصادي ودې لاسته راوړلو بهترین امید دی، او موږ د افغان دولت او وزیر شهراني سره د دې سکتور بنیادونو جوړولو لپاره اوږه په اوږه کارکوو."

د متحده ایالاتو سفیر کارل ډبلیو ایکن بیري

سرچینه: DoS، د متحده ایالاتو د کابل سفارت، "ښاغلي سفیر آیکن بیري د شمال سري او بریښنا په کارخانه کې تری یادونه وکړه،" ۶/۱۲/۲۰۱۱.

**متحده ایالات د کانونو وزارت د ظرفیت لوړولو لپاره څو کلني ستراتیژۍ ته وده ورکوي. دا به د جیولوژیکي مالوماتو د یوځای کولو مشورې لپاره خصوصي سکتور په کاروانچوي او د داوطلبی یوه لړۍ به چمتو کړي. هدف یې دا دی چې مطمیین شو، وزارت له دریو څخه تر پنځه کلنو پورې د استخراجي صنعت سکتور اداره کولو ظرفیت ولري.**

سرچینه: DoS، د متحده ایالاتو د کابل سفارت، "ښاغلي سفیر آیکن بیري د شمال سري او بریښنا په کارخانه کې تری یادونه وکړه،" ۶/۱۲/۲۰۱۱.

مليونه ډالر کلني تخمين کړي. USAID په نښه کړي چې د ښه شوي توليد او زيربنا پانګه اچونو سره، د افغان مرمرينو ډبرو صنعت د ۴۵۰ مليونه ډالرو پورې کلنۍ ودې استعداد لري.[334]

## مخابرات

لکه څنګه چې د SIGAR د جنوري ۲۰۱۱ برخه ای ګزارش کې په نښه شوي، د ليرې ليارې اړيکو وده د افغانستان د پرمختګ کيسو څخه يوه ده. د افغان کورنۍ له نيم څخه ډير غړي لرترلړه يو ګرځنده تلفون ته لاسرسى لري، او نړيوال بانک وړاندوينه کړي چې د ګرځنده تلفون شراکت به د ۲۰۱۱ ورستيو پورې په افغانستان کې ۱۹ مليونو ته ورسيږي.

`د دغه صنعت پرمختګ د بلواګرو توجه راګرځولي، کوم چې کوښښ کوي ګرځنده تلفون ته لاسرسى پرې کړي(انټني قطع کړي). د متحده ايالاتو د دفاع رياست په نښه کړي چې د دې کال په لومړيو دوه څلوريزو کې، د ګرځنده تلفون په برجونو ۵۲ بريدونه شوي او زيربنا د لاندې شرکتونو په واسطه چمتو شوي:[335]

- د افغانستان د ګرځنده تلفون شبکې: 12
- د افغان بيسيم مخابراتي شرکت: 16
- اتصالات: 2
- روشن: 11
- واصل: 1
- ناپيژندل شوي: ۱۰(ګزارش ورکونه مشخص نه ده)

په ۲۰۱۱ کې، د دفاع رياست په افغانستان کې د سلولي اړيکو ساتلو او ملاتړ لپاره پر درې جاري کوښښونو ګزارش ورکړ: (۱) د ايساف ۶۸ مليونه ډالرو پروګرام ـ د خارجي قواو سلولي مخابراتو سيسټم ـ د سويل او سويل لويديځ په ټولې ساحوي قومندانی کې د ۲۴/۷ ساعته ګرځنده تلفون پوښښ چمتو کولو لپاره؛ (۲) د ۲ مليونه ډالرو کلي ثبات/ عاجل سلولي سيسټم پروګرام د د ځانګړي عملياتو قوماندانی ترکيب ځواکونو لاندې؛ او (۳) په شرق - سيمه ايزې قوماندانی لپاره د ۱۳ مليونه ډالرو ګرځنده تلفون ستني(برج) نصبول. د متحده ايالاتو د کابل سفارت ټولنيزو چارو برخې تشريح ورکړه چې دا د وه(۷) اضافي ۸۰ متره خپله ملاتړي ګرځنده تلفون ستنو لپاره د ټرون په پروسه کې وو.[336]

**په دې څلوريزه کې، نړيوال بانک GIRoA سره د طيعي منبع وړانديز او داوطلبۍ پروسې رقابتي او شفاف پرمختګ ملاتړ لپاره د ۵۲ مليونه ډالرو ضمانت چمتو کولو ټرون لاسليک کړ، او په دې برخه کې د افغان دولت د تنظيمي او قبول ظرفيت جوړولو لپاره.**

سرچينه: د نړيوال بانک مطبعي خپور کړ، "د افغانستان دولت د نړيوال بانک سره ، د هغې په نالاس وهل شويو طبيعي زيرمو د شفاف او مؤثره اداره کولو لپاره د ۵۲ مليونه ډالرو ټرون لاسليک کړ،" ۷/۱۶/۲۰۱۱.

**د سرحداتو ساتل**

د جون په ځلورمه یو امریکایی هلیکوپټر د پولیسو د نوي ۱ سرحدي زون په مرکز ته روغتیایی کمکونه ورسول. د امریکا متحده ایالات ۳۷ زیربنایی پروژې ترلاس لاندي لري ترڅو د افغان حکومت وتوانیږي چه په خپلواکه توګه د خپلو پولو او سرحداتو څخه ساتنه وکړي. ( د امریکایی پوځ انځور، کیم براون)

# 4

# د نورو ادارو
# نظارت



# د نورو ادارو نظارت

د سیګار حقوقي مقررات دغه اداره موکلفه ګرځوي چه د امریکا د بهرنیو چارو وزیره او همدا ډول د امریکا د دفاع وزیر په افغانستان کې د بیارغوني پروګرام د اداري پورې اړوندو ستونزه څخه په پوره ډول خبر او مطلع وساتي. سیګار خپلې چارې د زیات شمیر عمومي پلټونکو او پلټنیزو ادارو سره همغږي کوي په هرو درو میاشتو کښې سیګار د نورو اجنسیو څخه د بشپړ شوو او روانو څارنیزو فعالیتو په اړه د معلوماتو غوښتنه کوی. د هغوی تفصیل یوازې د راپور د نورو برخو سره د همغږۍ په موخه (مخففات، تخلیصات، په لویو حروفو معیاري لیکنه، د اتصال د نښو، نقطه ګذارې، غوره املا او دریم-کس سمونې) پرته په تسلیم شوي څیر ښکاري.

دا اجنسیانې په افغانستان کښې د څارنې فعالیتونه تر سره کوی او پایلې د سیګار سره شریکوی:

- د امریکا د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر (DoD OIG)
- د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د عمومي پلټونکي دفتر (DoS OIG)
- د دولت د حساب ورکولو دفتر (GAO)
- د متحده ایالاتو د پوځ د پلټنې اداره (USAAA)
- د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو اداره د عمومي پلټونکی دفتر (USAID OIG)

4.1 جدول

**د ۲۰۱۱ کال د جون تر ۳۰مې نیټې پورې د نورو امریکایی ادارو په اړه بشپړ شوي د څار فعالیتونه**

| اداره | د راپور شمیره | د خپریدلو نیټه | د پروژې عنوان |
|---|---|---|---|
| DoD OIG | D-2011-073 | 6/16/2011 | د افغان ملي اردو د تجهیزاتو د ترمیمي خدماتو د روزنې پروګرام قرارداد |
| DoD OIG | D-2011-063 | 5/6/2011 | (U)په کندهار هوایی ډګر، بګرام هوایی ډګر، کمپ ایګرز، او په د کابل په نوي مرکز کې د امریکا د تروریزم پروګرامونه ښوالي او پرمختګ ته اړتیا لري |
| GAO | GAO-11-355 | 6/8/2011 | افغانستان: د غیرامریکایی خرځونکو په اړه د امریکا د بررسی هڅې ښوالي او پرمختګ ته اړتیا لري |
| GAO | GAO-11-561 | 6/3/2011 | د تروریز پر وړاندې مبارزه: د امریکا حکومت باید د تروریستانو د خوندي ځایونه په اړه د راپور ورکولو په برخه کې ښوالی او پرمختګ رامنځ ته کړي |
| GAO | GAO-11-456 | 5/26/2011 | نظامي روزنه: د بحري قطعې او اردو د ژبې او کلتوري زده کړې په برخه کې پلان جوړولو او همغږۍ په برخه کې بهبود ته اړتیا شته |
| GAO | GAO-11-580 | 4/25/2011 | د احتمالي پیبنې له پاره قرار داد کول: د سیستمیکو ستونزو او ننګونو په اړه د ترسره شوو ګامونه څخه څار او نظارت |
| USAID OIG | F-306-11-003-P | 6/19/2011 | د افغانستان لپاره د USAID د هغه پروګرام چه د ټاکنیزو پروسې څخه ملاتړ کوي(STEP) او همدا شان د د افغانستان په ټاکنو کې د ګډون د زیاتوالی څخه د ملاتړ پروګرام(IEP) څارنه او نظارت ترسره کول. |
| USAID OIG | F-306-11-004-S | 6/9/2011 | په افغانستان کې د USAID د سفارت د هوایی برخې پروګرام ته بیاکتنه |

سرچینې: د سیګار 6/24/2011 معلوماتي پوښتنې ته د DoD OIG ځواب؛ د سیګار د 6/29/2011 معلوماتي پوښتنې ته د GAO ځواب؛ او همدا شان د سیګار د 6/20/2011 معلوماتي پوښتنې ته د USAID OIG ځواب.

## د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه

۴.۱ شمیره جدول د هغه اتو پروژو څخه د نظارت او څارني چارې بیان وي چه د بیارغوني په اړه دي او پدې ربع کې اړوندو ادارو له قولي بشپړې شوې وې.

## د امریکا د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر

### د افغان ملي اردو د تجهیزاتو د ترمیمي خدماتو د روزنې پروګرام قرارداد

(راپور نمبر D-2011-073 چه د ۲۰۱۱ کال د جون په ۱۶ خپور شوی)

په افغانستان کې د کابل د قراردادکولو سمیز مرکز (KRCC-A)، د دفاعي قراردادونه د تنظیم اداره(DCMA)، د شمالي اتلانتک سازمان د روزنې ماموریت- افغانستان/ د امنیت د انتقال ګډه قومنده- افغانستان (/NTM-A CSTC-A) اړین ګامونه اوچت کړل ترڅو معلومه کړي چه په قراردادونو کې اړین شرایط مراعات شوي دي او همدا شان معلومه کړي چه د پلټنې وړاندي او د هغه په ترڅ کې د قرارداد څخه په مناسب ټول مراقبت ترسره شوی دي. په ځانګړې توګه KRCC-A پرسونل د مصرف شوو برخو په اړه د مناسب تطابق په اړه د قراردادي غوښتنه رد کړي او د DCMA پرسونل د قراردادي هغه غوښتنه چه د ګدام د توسع په اړه یې کړې وه مسترد کړه. برسیره پردې، د پلټنې د دلې لخوا د ځانګړو شوو ستونزو د ځواب په برخه کې د DCMA پرسونل د IX کلاس توکو لپاره د قراردادي خریداری ټول فعالیتونه وځنډول ځکه چه د امریکا د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر د IX کلاس د موجودی په لیست کې په بیساری ټول اختلافات لیدلي وو او قراردادي ته یې هدایت کړی وو چه د مرکزي ساتنې د اسانتیا څخه ٪۲۰ د موجودی لیست وګرځوي ځکه چه د امریکا د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر د موجودیو په لیست کې ډېرې غلطۍ موندلې وې.

د NTM-A/CSTC-A مسولینو ویلي چه هغوی د دې پلټنې د پایلو څخه په افغانستان کې د تخنیکي تجهیزاتو د ساتنې د پروګرام (A-TEMP) کې د فعالیت د ارزونې لپاره ګټه اخیستې چه د ۲۰۱۰ کال د دیسمبر د میاشتې په ۳۰ تاریخ ورکړل شوی وو او همدا ډول یې د تجهیزاتو د ساتنې د پروګرام د زده کړې او خدمتونه د پروګرام قرارداد تغیر کړ. پدې بیاکتنه کې د افغان ملي اردو د تجهیزاتو د اصلي زنځیر د مدیرت د منځه وړل شامل دي ځکه چه د هغه قراردادي چه فعالیتونه یې ترسره کول د قراردادي د مشاوراو سلاکار په مرسته د دې کار پېره د افغان ملی اردو پر لوژیستکي امریت باندې واچوله. د A-TEMP قرارداد همدا ډول د قراردادي څخه غواړي چه د افغان ملي اردو د هغه سرتیرو او پرسونل لپاره چه د سواد کچه یې ټیټه وي د روزنې پروګرامونه طرحه کړي او د اړتیا په صورت کې د ملي اردو د سرتیرو لپاره د سواد د پروګرامونه دپلي کولو لپاره د هغوی د روزنې مرکزونه لاړ او خدمتونه وړاندي کړي، د EMAS قرارداد خلاف چه د قراردادي څخه یې غوښتل په روزنیز مرکز کې د سواد پروګرام په لاره واچوي باید هرې روزنیز مرکز لپاره ګرځنده د سواد ورکولو ډلې ولري.

### (U)په کندهار هوایی ډګر، بګرام هوایی ډګر، کمپ ایګرز، او په د کابل په نوي مرکز کې د امریکا د تروریزم پروګرامونه ښوالي او پرمختګ ته اړتیا لري

( د راپور شمیره D-2011-063 چه د ۲۰۱۱ کال د مي په ۶مه خپور شوی دي)

دغه راپور طبقه بندي شوی دي.

## د بهرنيو چارو وزارت د عمومي پلټونکی دفتر- د منځنی ختيځ ساحوی دفتر

د DoS OIG د منځني ختيځ سميز دفتر راپور ورکړي چه د افغانستان د بيارغوني د چارو څخه د پلټني په اړه د دي دريو مياشتو په ترڅ کي هيڅ بشپړ راپور نه لري.

## د حکومت د احتساب اداره

په تيره ربع کي GAO په افغانستان کي د بيارغوني په اړه څلور راپورنه خپاره کړي وو.

### افغانستـــــــــــان د امريکا هغه هڅي چه د غيرامريکايي بايع په اړه بررسي ترسره کوي ښوالي ته اړتيا لري

( د راپور شميره GAO-11-355، چه د ۲۰۱۱ کال د جون په۸ خپور شوی دي)

د امريکا د دفاع وزارت مرکزي امريت(CENTCOM) په افغانستان کي د غيرامريکايي بايعو د فعاليت په اړه د بررسي يوه خونه جوړه کړي ترڅو مخالفينو او وسلوالو ته د دي مرستو ته جريان او لاس رسی مخه ونيسي، د دی خوني اوسنی کړني او طرز د فعاليت يو شمير خلاوي لري. د بيلګه په توګه هغه قراردادونه چه مجموعي لګښت يي تر ۱۰۰۰۰۰۰ ډالرو کم وي په منظم ډول نه بررسي کيږي. د دويم لاس قراردادیانو په اړه هم په منظم ډول بررسي نه ترسره کيږي. د ۲۰۱۱ کال د جنوري په مياشت کي USAID داسي يوه پروسه رامنځ ته کړه چه په اساس به يي په افغانستان کي د غير امريکايي ادارو د کړنو په اړه بررسي وشي، البته ممکن دغه اداره هم د CENTCOM په څير د محدوديتونه سره مخامخ شي. د بهرنيو چارو وزارت په افغانستان کي د قراردادي شرکتونو څخه د بررسي په موخه کومه پروسه نه ده رامنځ ته کړي. د امريکا د دفاع وزارت او USAID په غير رسمي ډول د بررسی په اړه معلومات شريکوي، اما د بررسي اړوند معلوماتو د شريکولو په موخه د يو رسمي ميکانيزم د نشتونه پصورت کي د دواړو اداري نشي کولای دغه چارې په منظم او اړين ډول پرمخ يوسي. برسيره پردې هرڅومره چه د بهرنيو چارو وزارت په قراردادیانو باندي خپله اتکا زياتوي په همغه اندازه د د دفاع وزارت او USAID سره د معلوماتو شريکول اړين او الزامي ګرځي. GAO وړانديز وکړ چه DoD او USAID بايد د بررسی په پروسه او معلوماتو د شريکولو په برخه کي پرمختګ او ښوالی راولي او دا چه د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د غيرامريکايي بايعو د فعاليت په اړه د بررسی په برخه کي مرسته او کمک وکړي. DoD او USAID د GAO وړانديزونو سره موافقت وکړ. د بهرنيو چارو وزارت په عمومي ډول موافقت وکړ

### د تروريزم سره مبارزه د امريکا حکومت بايد د تروريزم د خوندي ځايونه په اړه د راپور ورکولو په برخه کي ښوالی راولي.

( د راپور شميره GAO-11-561، چه د ۲۰۱۱ کال د جون په ۳ خپور شوی دي)

د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د تروريزم د خوندي ځايونه په اړه اوس مهال د هيواد په سطح د تروريزم په اړه په خپل کلنی راپور کي معلومات ورکوي اما دغه ځايونه په اړه هغومره معلومات چه کانګرس يی وړانديز کړی نه ورکول کيږي. د بيلګه په توګه، د ۲۰۱۰ کال د اګوست د مياشتي په راپور کي راغلي چه په نړی کي ۱۳ هيوادونه د تروريستانو لپاره خوندي سيمه دي چه په هغه کي افغانستان هم شامل دي. خو پدې معلوماتو کي د هغه هيوادو لخوا چه د تروريزم د خوندي سيمو په توګه نومول شوي دي هغه اقداماتو او تدابيرو ته چه دغه

هیوادو د خپلې خوارۍ څخه د دست جمعي وژنو د وسلو د قاچاق د مخ نیوي په اړه ترسره کړي هیڅ اشاره نه ده شوې او په اړه یې معلومات نه دي ورکړل شوي. همدا ډول د امریکا حکومت د راپور ورکولو په شرایطو کې هغه غوښتنه په اړه دقیق پاملرنه نه ده کړې چه امریکایی د تروریستانو د خوندي سیمو د مخ نیوي په برخه کې ترسره کوي. د بېلګه په توګه، د امریکا د دفاع وزارت اړوند د تجهیز او روزنې یو شمیر فعالیتونه چه د نومورې وزارت د نړیوال روزنې او تجهیز د " ۱۲۰۶ برخې" او د هیوادونو لپاره ځانګړي شوي فنډونه لکه د افغانستان او عراق د امنیتي پوځ لپاره ځانګړي شوي فنډونه د تروریستانو د خوندي سیمو د په نښو کولو په برخه کې ونډه درلودلې ده. خو د امریکا د متحده ایالاتو دغه هڅې د ۲۰۱۰ کال د اګوست د میاشتې په کلني راپور کې نه دي راغلې. GAO وړاندې کوي چه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت او ملي امنیت شوار د دې امریکا د هغه هڅو په اړه چه د تروریستانو د خوندي ځایونه په اړه یې ترسره کوي د راپور ورکولو په برخه کې ښوالي او پرمختګ رامنځ ته کړي. د بهرنیو چارو وزارت د مرستې په اړه د DoD OIG د وړاندیزونو سره هوکړه او موافقت وکړ. د تروریستانو د خوندي سیمو په اړه د امریکا د هڅو په برخه کې د بهرنیو چارو وزارت د ترسره شوو وړاندیزونو سره په قسمي ډول هوکړه او موافقت وکړ او هغه یې د تروریزم سره د مبارزې په اړه د نورو ورکړل شوو راپورونه په وړاندې کولو سره بیان کړل.

### نظامي روزنه: د بحري قطعې او اردو د ژبې او کلتوري زده کړې په برخه کې پلان جوړولو او همغږۍ په برخه کې بهبود ته اړتیا شته

( د راپور شمیره GAO-11-456 چه د ۲۰۱۱ کال د مې په ۶مه خپور شوی دی)

اردو او بحري قطعې د خدمتونو اړوند د ژبې او کلتور په اړه ستراتیژي طرحه کړې دي، خو د هغوی د روزنې د یو شمیره اړینو تماس په اړه یو شمیره مهم او کلیدي عناصر نه دي شامل کړي، لکه د روزنې د پروګرام د طرحې او تطبیق وړاندې د مسولیتونه تقسیم او د اړوندو کسانو موکلف ګرځول. برسیره پردې د دفاع وزارت لخوا د ژبې او کلتور په برخې کې اړتیاوې او د روزنې شرایط د اردو او بحري قطعې ترمنځ توپیر لري. د بېلګې په توګه، د ۲۰۱۰ کال د جولای په میاشت کې اردو د ټولو سرتیرو هغه سرتیرو څخه چه افغانستان او یا هم عراق ته لیږدول کیږي د ۴ څخه بیا تر ۶ ساعتونو پورې د نومورو هیوداونو د ژبې او کلتور په اړه یو انلاین روزنیز پروګرام تعقیب کړي. د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر په میاشت کې، د بحري قوې یو لوړ رتبه مسول ورکړ چه هغه واحدونه چه افغانستان ته تګ لپاره چمتو کیږی باید یو ۲ ورځنی کلتوري کورس تعقیب کړي. GAO وړاندیز کوي چه اردو او بحري قطعې باید د مسولینو ترمنځ فعالیتونه تقسیم او د روزنې سرمایه ګذاري او همدا ډول شرایط مشخص کړي؛ د DoD وزارت د داخلي میکانیزمونو سره د پلان جوړولو یو پروسه تاسیس کړي د بېلګه په توګه د طرزالعملونو او اهدافو تعینول ترڅو د روزنې په برخه کې ترسره کیدونکي هڅې همغږی شي؛ او همدا ډول وړاندیز کوي چه د امریکا مرکزي قومنده د روزنې د اړتیاو او غوښتنو د معلومولو لپاره یوه پروسه رامنځ ته کړي. د DoD وزارت په عمومي ډول د دې وړاندیزونو سره هوکړه وکړه.

### د احتمالي پیښې له پاره قرار داد کول: د سیستماتیکو ننګونې څخه د ځارنې په موخه اړین ګامونه

(د راپور شمیره GAO-11-580 چه د ۲۰۱۱ کال د اپریل په ۲۵ مه خپور شوی دی)

د امریکا دفاع وزارت د قراردادونو او هدف موندنې څخه د ښه او په زړه پورې پایلو د ترلاسه کولو په برخه کې د اوږدو مهالو او سیستمیک ننګونو سره مخامخ دی. په افغانستان او عراق کې د قرادادونو اړوند موضوعات د

دغه سیستمک ننګونو سره تر ډیر حده تړوا لري، البته دا پداسي حال کې ده چه ورته موضوعات په داسي احتمالي او سیمو کې تر خپلې اندازې ډیر اغیزه لري. د دفاع وزارت د نویو پالیسو، لاربښونو او روزنیزو نوښتونو اعلان وکړ. که څه هم د دفاع وزارت فعالیتونه په سم مسیر کې روان دي خو بیا هم نوموړی وزارت باید(۱) د خپلو خوښو اهدافو او موخو په ګډون باید د اهداف موني چارې په ستراتیژیک ډول تنظیم کړي؛ (۲) باید په مناسب ډول د قراردادیانو، فدرال ملکیانو او نظامي پرسونل دندې، مسولیتونه او ترکیب مشخص کړي؛ (۳) د قراردادونو د تنظیم په برخه کې د پخوانیو کمزورتیاو ته په اشاره کولو د چارو لا زیاتي اغیزمنتیا په برخه کې مرسته وکړي؛ (۴) باید ډاډه شي چه د نوموړي وزارت د اهداف موندني کاري ډله په منظم او اړین ډول روزل شوې، د اړین شمیر او جوړښت درلودنکي او په سمه توګه سمبال شوی ده؛ او (۵) او د ټول وزارت په کچه د زده کړې او وړاندې استخدام روزني څخه په ګټې اخیستلو ټول عملیاتي قراردادونه منظم او همغږي کړي. د بهرنیو چارو وزارت او USAID هم د دفاع وزارت په څیر د قرارداد کولو په برخه کې د ننګونو او ستونزو سره مخامخ دي؛ په ځانګړي توګه د قراردادیانو د رول او ونډې په اړه د پلان جوړولو په برخه کې ستري ستونزې موجودې دي. GAO ټولو ادارو ته د قرارداد کولو او کاري ځواک ته د وړاندې ننګونو په اړه زیات شمیره وړاندیزونه کړي دي. دغه اداري په عمومي ډول د دغه وړاندیزونو سره موافقت کړی او د هغوی د تطبیق په برخه کې یی یو شمیر ګامونه اوچت کړي دي.

## د متحده ایالاتو د پوځ د پلټني اداره

د امریکایی پوځ د پلټني اداري د دې ربع په ترڅ کې د افغانستان د بیارغوني په اړه کوم راپور نه بشپړیږي.

## د امریکا د نړیوالي پرمختیا د عمومي پلټونکي دفتر او USAID OIG په افغانستان کې دبیارغوني په اړه دوه راپورنه خپاره کړل.

### څخه ملاتړ کوي(STEP) او همدا شان د د افغانستان په ټاکنو کې د ګډون د زیاتوالی څخه د ملاتړ پروګرام(IEP) څارنه او نظارت ترسره کول.

(د راپور شمیره F-306-11-003-P چه د ۲۰۱۱ کال د جون په ۱۹ خپور شوی دي)

د USAID OIG پدې اړه یوه پلټنه په لار اچولې ترڅو معلومه کړي چه د IEP او STEP پروګرامونه د قوي، جامع، هراړخیزو او باورمندو ټاکنو او سیاسي پروسې د رامنځ ته کولو په برخه کې خپلې ټاکلې موخې ترلاسه کوي او که څنګه.

د STEP پروګرام د ټاکلو اهدافو او موخو د ترلاسه کولو په برخه کې ښه فعالیت کړي دي – په ځانګړې توګه د عامه پوهاوي، روزني او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون لپاره د کارکوونکو د برابرولو په برخه کې یی چارې په غوره توګه پر مخ وړې دي. نوموړي پروګرام د دواړو کمیسیونونو سره د ټاکنو د چارو د غوره تنظم او مدیرت په موخه د ظرفیت د ارتقا په برخه کې رغنده رول لوبولای دي او په خپله یی د باورمندو ټاکنو په رامنح ته کولو کې ونډه درلودلې ده دا پداسي حال کې دي چه د لوړې کچې د برياو په اړه د اسناد شتون ګډ ترکیب او جوړښت لري.

د IEP پروګرام هم اړوندې چارې په ځانګړي توګه د هغو زرګونو افغانانو د روزني په برخه کې چه په ټاکنو کې یی د سیاسي ډلو او یا هم ایتلافي غړو او د ټاکنو د څارګرو په توګه دنده ترسره کولو په خورا ښه توګه پرمخ وړې دي. برسیره پردې IEP د رایه ورکوونکو او عامه پوهاوي او روزني پروګرامونه په لاره واچول

چه په سلهاو زره افغانانو ورڅخه برخمن شول. البته د وګړو ترمنځ د ټاکنو او د اړوندو پروسو په اړه د لوړ پوهاوي او د قوي ديموکراتيکو سياستي حذبونو د سيستم په برخه کې د برياليتوب په اړه کره او قوي شواهد په اختيار کې نشته.

د پلټنې راپور د STEP د پروګرام د اهدافو په اړه هغه ډول چه پورته بيان شول نتيجه ګيري کړې ده. همدا ډول يو شمير اوږد مهالو موضوعاتو ته د چه د باورمندو ټاکنو لپاره اړينې دي اشاره کړي چه د هغه ډلې څخه د ټاکنو د خپلواک کيمسيون او ټاکنو د شکايتونو د کيمسيون د خپلواکي د ساتنې په برخه کې قانونو اصلاحات، د واحد غير قابل انتقال رايې د سيستم په برخه کې اصلاحات، او د رايه ورکوونکو د ثبت له نظره د افغان ټاکنو د سيستم د لا زيات باورمند کولو په برخه کې د اصلاحاتو د اړتيا په اړه موضوعات شامل دي. برسيره پردې د STEP پروګرام لپاره د قراردادیانو د فعاليت په اړه چارې د بياکتنې لپاره نه وې چمتو، يو محلي راډيويی پروګرام نه وو تطبيق شوی، د غيرموجه امنيتي لګښتونه پر USAID حواله شوي وو، د يوه پروګرام تطبيق کوونکي داسي فرصت ته لاسه ورکړی چه ممکن د چارو په لګښت کې کمی راغلي وای او تطبيق کوونکي په مناسب ډول د USAID لخوا تمويل کيدونکي فعاليتونه نه وو علامت ګذاري کړي.

د پلټنې دغه راپور د پورته ذکر شوو ستونزو د حل په موخه ۹ وړانديزونه کړي دي، او په افغانستان کې د USAID اداره په عمومي ډول د دې وړانديزونه سره موافقه ده.

### په افغانستان کې د USAID د سفارت د هوايی برخې پروګرام ته بياکتنه

( د راپور شميره F-306-11-004-S چه د ۲۰۱۱ کال د جونه په ۹مه خپور شوی دي)

USAID OIG دغه بياکتنه پدې موخه ترسره کړه ترڅو معلومه کړي چه د په افغانستان کې د USAID لخوا تمويل کيدونکي د سفارت هوايی خدمتونه د ولايتي بيارغونو ډلو اوکط په افغانستان د نورو امريکايی پرمختيايی مرستو د پروګرامونو لپاره د حساسو توکو د هوايی ليږد په اړه خپل ټاکلي موخې او اهداف ترلاسه کوي. په دې بياکتنه کې معلومه شوه چه په افغانستان کې د USAID د سفارت هوايی پروګرام په افغانستان کې امريکا د

4.2 جدول

**د ۲۰۱۱ کال د جون تر ۳۰ پورې د نورو امريکايی ادارو د فعاليتو ترسره شوی څيرنې**

| اداره | د پروژې نمبر | د پيل نېټه | د پروژې عنوان |
|---|---|---|---|
| DoD OIG | D2011-D000JA-0240.000 | 6/15/2011 | د افغان ملي امنيتي پوځ د روغتيايی سيستم د ننه د درملو مديرت او ساتنه |
| DoD OIG | D2011-D00SPO-0234.000 | 5/20/2011 | د افغان هوايی ځواک د روزنې، تجهيز او ځای پرځای کولو په موخه د امريکا او ايتلافي پلانونه ارزونه |
| DoD OIG | D2011-D000AT-0222.000 | 4/29/2011 | د افغان ملي اردو د انفرادي تجهيز د اړتياو انکشاف |
| DoD OIG | D2011-D000AT-0221.000 | 4/29/2011 | د افغان ملي امنيتي پوځ لپاره د شپې لخوا د ليدو د اسانتياو او تجهيزاتو د اخيستلو په اړه حساب ورکول |
